الجواب: که خاوند له واده څخه وروسته په همدغه ښار کي مستقل سکونت غوره کړ نو اوس به دغه دده په حق کي وطن اصلي شمېرل کيږي او دلته به اتمام کوي که په خپله خاوند په دغه ښار کي نه اوسيږي مګر د ښځي وغيره مستقل سکونت يې هم هلته وي نو هم به دغه کس اتمام کوي او که د واده څخه وروسته يې په کوم بل ښار کي سکونت غوره کړ نو اوس که خاوند د خسرګنی کره راسي او ښځه د مور او پلار کره راسي نو که يې د پنځلسو ورځو څخه کم نيت کړی وي نو قصر به کوي او صحيح قول همدغه دئ چي يوازي په واده کولو سره د اتمام حکم نه ورته متوجه کيږي چي تر څو هغه خپل وطن ونه ګرځوي.

وګورئ په فتاوی قاضي خان کي راځي:

إذا جاوز عمران مصره ...... إن كان ذلك وطنًا أصليًا بأن كان مولده وسكن فيه أو لم يكن مولده ولكنه تأهل به وجعله دارًا. (فتاوى قاضى خان على هامش الهندية:۱/ ۱۶۵، باب صلاة المسافر – وكذا فى خلاصة الفتاوى:۱/ ۱۹۸، رشيدية).

ځيني حضرات فرمايي، چي يوازي په واده کولو سره خسرګنی وطن اصلي ګرځي او دی به هلته مقيم وي او د حضرت عثمان ﷺ له حديث څخه استدلال کوي.

وګورئ په مسند احمد کي راځي:

حدثنا أبو سعيد يعنى مولى بني هاشم حدثنا عكرمة بن إبراهيم الباهلى حدثنا عبد الله بن عبد الرحمن بن أبي ذباب عن أبيه : ان عثمان بن عفان ﷺ صلى بمنى أربع ركعات فأنكره الناس عليه فقال: يا أيها الناس انى تأهلت بمكة منذ قدمت وإني سمعت رسول الله ﷺ يقول: من تأهل في بلد فليصل صلاة المقيم ...... (مسند احمد:۱/ ۳۵۱).

د دې روایت جواب دا دئ چې د ځینو نورو عبارتونو څخه معلومیږي چې د حضرت عثمان ﷺ یو څه اهل په مکه کې اوسېدل له دې امله یې اتمام کاوه.

وګورئ د هدایې په شرحه کفایه کې فرمایي:

ولو كان له أهل ببلدة فاستحدث فى بلدة أخرى أهلاً آخر كان كل واحد منهما وطنًا أصليًا له روى أنه كان لعثمان ﷺ أهل بمكة وأهل بالمدينة وكان يتم الصلاة بهما جميعًا .(كفاية شرح الهداية:۲/ ۱۷).

که یوازې واده کول د اتمام له پاره کافي وي نو نبي کریم ﷺ په مکه مکرمه کې واده کړی وو له دې سره سره یې د حجة الوداع پر موقع قصر کاوه.

وګورئ په بخاري شریف کې راځي:

قال : حدثنا يحيى بن أبي إسحاق قال : سمعت أنسًا ﷺ يقول: خرجنا مع النبي ﷺ من المدينة إلى مكة فكان يصلي ركعتين ركعتين حتى رجعنا إلى المدينة قلت: أقمتم بمكة شيئًا قال: أقمنا بها عشرًا. (رواه البخارى:۱/ ۱٤۷).

په کفایه کې راځي:

ألاترى أن مكة كانت وطنًا أصليًا لرسول الله ﷺ ثم لما هاجر منها إلى المدينة بأهله وتوطن ثمة انتقض وطنه بمكة حتى قال عليه الصلاة والسلام عام حجة الوداع أتموا صلاتكم يا أهل مكة فإنا قوم سفر. (كفاية:۲/ ۱۷).

حضرت مولانا ظفر احمد عثماني رحمه الله لیکي:

په یوه ښاره کې یوازې د نکاح په کولو سره هغه وطن اصلي نه ګرځي بلکې خپل اهل هلته ساتل او له هغه ځایه څخه یې نه منتقل کول شرط دي او د حضرت عثمان ﷺ په قصه کې هم د هغه د

اتمام سبب يوازي د هغه تزوج نه وو بلكي سبب دا وو چي څه اهل يې هلته اوسېدل. (امداد الاحكام:۱/ ٦٩٦).

او همدا ډول پر دغه حديث محدثينو جرح هم كړي ده.

وګورئ حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي:

فهذا الحديث لايصح لانه منقطع وفى رواته من لايحتج به. (فتح البارى:۲/ ٥٧٠، باب يقصر اذا خرج من موضعه). والله سبحانه وتعالى اعلم.

که د واده ښځه وروسته ښځه د خپل مور او پلار کره د لسو ورځو له پاره راغله نو د قصر حکم

سوال: که ديوې انجلۍ نکاح په يوه داسي ښار کي وسي چي د انجلۍ د مور او پلار څخه له (۸۱) کيلو متره زياته مسافه وي او هغه نجلۍ والدينو ته د لسو ورځو تيرولو له پاره راسي نو قصر به کوي او که اتمام؟

الجواب: د واده څخه وروسته نجلۍ خپله خسر ګنی وطن اصلي وګرځول او هلته يې سکونت غوره کړ بيا که د پلارني کره لس ورځي راسي نو قصر به کوي.

وګورئ په البحر الرائق کي راځي:

والوطن الأصلي هو وطن الإنسان في بلدته أو بلدة أخرى اتخذها دارًا وتوطن بها مع أهله وولده، وليس من قصده الارتحال عنها بل التعيش بها وهذا الوطن يبطل بمثله لا غير، وهو أن يتوطن في بلدة أخرى وينقل الأهل إليها فيخرج الأول من أن يكون وطنًا أصليا حتى لو دخله مسافرًا لا يتم. (البحر الرائق:۲/ ۱۳٦، باب المسافر، الماجدية – وكذا فى حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح: ص ٤۲۹، باب صلاة المسافر، قديمى – وكذا فى شرح منية المصلى:ص ٥٤١، سهيل اكيدمى).

په امداد الاحكام کي راځي:

که ښځه په خپل وطن کي نه اوسيږي بلکي له خاوند سره اوسيږي نو ښځه او خاوند به دواړه د سفر په حالت کي هلته قصر کوي. بدليل قصره ﷺ وأهله بمكة. (امداد الاحكام:۱/ ۷۱۹، فصل فی صلاة المسافر).

همدا ډول وګورئ؛(فتاوی دار العلوم دیوبند:٤/ ٤٨٣ – واسلامی فقه از مولانا مجیب الله ندوی:۱/ ۲۹۵، آپ کی مسائل اور ان کا حل:۲/ ۳۸۳ – وبہشتی زیور:۲/ ۵۰). والله ﷻ اعلم.

که خاوند ښځي ته په کوم بل ښار کي سکونت ورکړ نو کله چي خاوند هلته ورسي نو حکم به يې د قصر وي او که نه؟

سوال: يو څوک بل ځای اوسيږي او ښځه يې بل ځای ساتلي ده، دی اکثره خپلي ښځي ته ورځي نو په دغه رفت او امد کي که له پنځلسو ورځي څخه د کم اوسېدو نيت وکړي نو قصر به کوي او که اتمام؟

الجواب: په دې صورت کي به خاوند د ښځي وطن کي اتمام کوي ځکه دا د ده وطن اصلي دئ او وطن اصلي له يوه څخه زيات کېدلای سي.

وګورئ په فتاوی سراجيه کي راځي:

إذا دخل المسافر بلدة له فيها أهل صارمقيمًا نوى الإقامة أو لا. (الفتاوى السراجية:ص ۱۲، ارام باغ كراچى، باب صلاة المسافر).

په البحر الرائق کي راځي:

قيدنا بكونه انتقل عن الأول بأهله ؛ لأنه لو لم ينتقل بهم ، ولكنه استحدث أهلًا في بلدة أخرى فإن الأول لم يبطل ويتم فيهما. (البحر الرائق:۲/ ۱۳٦، باب المسافر، الماجدية).

په مراقي الفلاح کي راځي:

وإذا لـم ينقل أهله بل استحدث أهلًا في أيضًا بلدة أخرى فلا يبطل وطنه الأول وكل منهما وطن أصلي له. وفی الطحطاوی: وكذا لواسحدث أهلًا فی ثلاث مواضع فالحكم واحد فيما يظهر. (مراقی الفلاح مع حاشية الطحطاوی:ص ٤٢٩، قديمی).

دزيات تفصيل له پاره وګورئ:(امداد الاحکام:۱/ ۷۱۹، فصل فی صلاة المريض والمسافر، دار العلوم کراچی). والله ﷻ اعلم.

مقيم به په مسافر پسي پاته سوي لمونځ په قرائت اداء کوي

سوال: که مقيم په مسافر پسي دوه رکعته وکړل بيا د پاته دوو رکعتونو له پاره ولاړ سو نو اوس به په دغو دواړو رکعتونو کي قرائت کوي او که نه؟

الجواب: د فقهي له ځينو کتابونو څخه معلوميږي چي دی د سفر په شان دئ لهذا په قرائت کولو کي يې څه حرج نه سته بلکي قرائت يې مستحب دئ، البته په ځينو نورو کي د عدم قرائت قول ذکر سوی دئ.

وګورئ په بدائع الصنائع کي راځي:

ولا قراءة على المقتدي في بقية صلاته إذا كان مدركًا أي : لا يجب عليه ؛ لأنه شفعأخيرفي حقه ، ومن مشايخنا من قال : ذكر في الأصل ما يدل على وجوب القراءة فإنه قال : إذا سها يلزمه سجود السهو . (بدائع الصنائع:۱/ ۲۷۷، صلاة المسافر، سعيد).

په شرح النقايه کي راځي:

إذا سلم المسافر أتم المقيم منفردًا لأنه التزم الموافقة فی الركعتين فصار کما لمسبوق فی التزام بعض الصلاة مع الإمام وأداء باقيها منفردًا فيقرأ وقيل: لايقرأ لأنه لاحق أدرک أول الصلاة.(شرح النقاية:۱/ ۲۸٤، صلاة المسافر).

په طحطاوي على الدر کي راځي:

(قوله في الأصح) وقال الحلواني: يقرأ، قهستاني. (طحطاوی علی الدر:۱/ ۳۳۵).

د دوهم قول دلائل وګورئ: (فتاوی قاضي خان علی هامش الهندية:۱/ ۱۶۹ – والهندية:۱/ ۱۴۳ – والشامي:۲/ ۱۲۹، سعيد – والبحر الرائق:۲/ ۱۳۵ – وهدايه مع الفتح:۲/ ۴۰). والله ﷻ اعلم.

که مسافر شافعي اتمام وکړ نو د مسافر حنفي د لمانځه حکم

سوال: يوه حنفي مسافر په شافعي مسافر پسي د ماپښين په لمانځه کي اقتداء وکړه شافعي اتمام وکړ نو د حنفي لمونځ وسو او که نه؟

الجواب: د امام نيت ته اعتبار ورکول کيږي د حنفي لمونځ به صحيح وي ځکه د شافعي په اند قصر کول رخصت دئ او د څلورو اجازه هم سته خو عام فقهاء ليکي چي د مقتدی مذهب ته اعتبار دئ نو د دغه قول په رڼا کي بايد د مقتدی لمونځ صحيح نه وي خو حضرت تهانوي رحمه الله فرمايي، چي د مقتدی د مذهب د اعتبار خلاصه دا ده چي د مقتدی په اند امام فرائض پوره کړي او د مفسداتو څخه ځان وژغوري که د مقتدی په اند واجبات پريږدي نو دغه اقتداء د لمانځه د صحت له پاره کافي ده.

په پورتنی صورت کي د فرائضو اداء ينه سوي ده، البته نوافل له فرائضو سره خلط سوی دي چي د فرائضو د پرېښودلو لاندي نه راځي لهذا لمونځ يې صحيح دئ.

وګورئ په بخاري شريف کي راځي:

عن إبراهيم قال: سمعت عبد الرحمن بن يزيد يقول: صلى بنا عثمان بن عفان رضي الله عنه، بمنًى أربع ركعات فقيل ذلك لعبد الله بن مسعود رضي الله عنه، فاسترجع ثم قال صليت مع رسول الله ﷺ بمنًى ركعتين وصليت مع أبي بكر رضي الله عنه، بمنًى ركعتين وصليت مع عمر بن الخطاب رضي الله عنه، بمنًى ركعتين فليت حظي من أربع ركعات ركعتان متقبلتان. (رواه البخاري:۱/ ۱۴۷/ ۱۰۷۳، باب الصلاة بمنى، يفيصل).

حضرت مولانا يوسف بنوري رحمه الله په معارف السنن کي ليکي:

قال شيخنا (مولانا أنور شاه الكشميرى رحمه الله) : والحق أنه لاعبرة لرأى المأموم بل للإمام حيث توارثت عن السلف والقدماء كلهم الاقتداء خلف أئمة مخالفين لهم فى الفروع. فالصحابة والتابعون وكذا أئمة المتبوعين كانوا يصلون خلف إمام واحد مع أنهم مجتهدون أصحاب المذاهب والآراء فى الفروع مع كثرة الاختلاف والتباين فى آرائهم واقوالهم، ولم ينقل عن أحد منهم نكير أو خلاف فى ذلک و نعم هم إذا صلوا منفردين كانوا يتبعون مذاهبهم إن كانوا أهل مذهب أو يتبعون أهل المذاهب إن كانوا مقلدين لهم. (معارف السنن:١/ ١٦٠، سعيد).

حضرت شاه صاحب رحمه الله هم په فيض الباري كي فرمايي، چي اقتداء روا ده او لمونځ صحيح دئ وګورئ:

قلت: هذه المسألة مجتهدفيها، والاقتداء في جنس هذه المسائل يجوز من واحد لآخر، كما في «الدر المختار» عند تعديد الواجبات، فصرح في ضمنه: أن المتابعة تصح عندنا في الاجتهادات كلها. وأوضحه الشافعي رحمه الله، ونقله الحافظ ابن تيمية رحمه الله عن الأئمة الأربعة. قلت: فهذا باب عندنا وسيع ...... وقد قدمنا الكلام فيه مبسوطًا. ويدل عليه أن الخليفة هارون الرشيد افتصد مرةً فقام إلى الصلاة ولم يتوضأ، فاقتدى به أبو يوسف رحمه الله وما ذلك إلا ليكون الاقتداء جائزًا، ولولا ذلك لما كان أبو يوسف رحمه الله ليقتدي به فإنه أورع من ذلك........ (فيض البارى على صحيح البخارى:٢/ ٣٩٦، باب الصلاة، بمنى، المكتبة العزيزية).

د اقتداء بالمخالف د سوال په جواب كي په امداد الفتاوى كي ذكر سوي دي:

امر اول: په دغه مسئله كي په مختلفو اقوالو كي زما په اند هغه تفصيل داحتياط سره موافق دئ چي په درمختار كي له بحر څخه نقل سوى دئ بقوله ان تيقن المراعت لم يكره او عدمها لم يصح وان شك كره چي د هغه ترجيح ردالمحتار له حلبى څخه نقل كړي ده بقوله هذا هو المعتمد لان المحققين جنحوا اليه وقواعد المذهب شاهدة عليه الخ. البته د دي تفصيل دريم جزء زه مأول او مقيد گنم تاويل دا دئ چي له كراهت څخه خلاف اولى مراد دئ تقييد دا چي د خپل مذهب امام بيله ارتكابه كوم ممنوع اعراض عن الجماعة وغيره ورته ميسر وي.

ومبنى التأويل ما نقله فى رد المحتار عن حاشية الرميلى على الأشباه الذى يميل إليه خاطرى القول بعدم الكراهة إذا لم يتحقق منه مفسد ووجه التقييد ظاهر . همدارنگه د مراعت ځاى يوازي فرائض دئ. كما فى ردالمحتار أى المراعات فى الفرائض من شروط وأركان فى تلك الصلاة وإن لم يراع فى الواجبات والسنن كما هو ظاهر سياق كلام البحر وظاهر كلام شرح المنية أيضا حيث قال وأما الاقتداي بالمخالف فى الفروع كالشافعى فيجوز مالم يعلم منه ما يفسد الصلاة على اعتقاد المقتدى عليه الإجماع إنما اختلف فى الكراهة.

قلت: فى التمثيل بالشافعى الذى الأصل فيه عدم التعصب...... والله اعلم. (امداد الفتاوى:١/ ٢٥١).

مسافر كه د مقيم په اقتداء كي اتمام وكړي؟

سوال: كه مسافر په مقيم پسي څلور ركعته وكړل او د امام لمونځ فاسد سو بيا مسافر خپل لمونځ كوي نو څلور به كوي او كه به دوه كوي؟

الجواب: په پورتنى صورت كي كه د امام د لمانځه د فساد له امله كه مسافر يوازي لمونځ كوي نو دوه ركعته به كوي.

وگورئ په فتاوى شامي كي راځي:

ولو أفسده صلى ركعتين لزوال المغير. (شامي:۲/ ۱۳۰، سعيد).

په فتاوی هنديه کي راځي:

وإن اقتدى مسافر بمقيم أتم أربعًا وإن أفسده يصلي ركعتين. (الفتاوى الهندية:۱/ ۱٤۲، باب صلاة المسافر – وكذا في بدائع الصنائع:۱/ ۹۳، سعيد).

په عمدة الفقه کي راځي:

د مسافر اقتداء په مقيم پسي په وخت کي درسته ده نو که مسافر په وخت کي په مقيم پسي اقتداء وکړه نو څلور رکعته به د امام د متابعت له امله پوره کوي او که يې هغه فاسد کړه يا د کوم سبب له مخي فاسد سوه نو اوس که يې يوازي اداء کوي يا په مسافر پسي اقتداء وکړي نو دوه رکعته دي وکړي ځکه د کوم لامل څخه چي څلور لازم سوي وه هغه ليري سو او که يې بيا په مقيم پسي اقتداء وکړه نو څلور به کوي. (عمدة الفقه: ۲/ ٤۲۲، او فتاوی رحيميه:۵/ ۱۳). والله ﷻ اعلم.

که يې په واپسي کي اوږده لاره اختيار کړل نو د قصر حکم

سوال: يو څوک د اسپرنګ څخه لينس ته پر داسي لاره ولاړي چي شرعي مسافه يې نه ده طی کړي نو په لينس کي يې قصر ونه کړ خو کله چي واپس راتلی پر بله لاره راغی چي د شرعي مسافي په اندازه ده نو په واپسي کي قصر کولای سي او که نه؟

الجواب: په پورتنی صورت کي به دغه کس په واپس راتلو کي قصر کوي.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

قال في البحر: وعلى هذا قالوا: أمير خرج مع جيشه في طلب العدو ولم يعلم أين يدركهم فإنه يتم وإن طالت المدة أو المكث، أما في الرجوع فإن كانت مدة سفر قصر. (شامي:۲/ ۱۲۲، باب صلاة المسافر، سعيد – وكذا في الطحطاوي على الدر:۱/ ۳۳۰ – والبحر الرائق:۲/ ۱۲۸). والله اعلم.

وطن اصلي ته له داخلېدو مخکي مسافر دئ

سوال: یو کس له څو کلونو څخه په مدرسه کي مقیم دئ او په پیل کي به له دوو، درو هفتو څخه وروسته کور ته تلی اوس هره هفته ځي کور يې په روښني کي دئ ښکاره خبره ده چي دی دلته مسافر نه دئ خو دی په یو کار پسي دیوې ورځي له پاره ډربن ته تللی وو او بیا راغی اوس به کور ته له تللو مخکي دی مسافر وي او که مقیم؟

الجواب: چا چي شرعي سفر کړی وي مسافر به ګڼل کیږي تر داسي بریده چي دی خپل ښار ته ننوځي یا یو ځای د پنځلسو ورځو او یا زیاتو د اوسېدو نیت کوي بیا به اتمام کوي.

وګورئ په فتاوی هندیه کي راځي:

ولا یزال علی حکم السفر حتی ینوی الإقامة في بلدة أو قریة خمسة عشریومًا أو أکثر کذا فی الهدایة. (الفتاوی الهندیة:۱/ ۱۳۹، باب صلاة المسافر).

په فتاوی شامي کي راځي:

قوله: حتی یدخل موضع مقامه إن سارمدة السفر أی إنما یدوم علی القصر إلی الدخول إن سار ثلاثة أیام. (شامی:۲/ ۱۲٤، باب صلاة المسافر).

همدا ډول وګورئ: (فتح القدیر:۲/ ۳٤، دار الفکر- والبحر الرائق:۲/ ۱۳۱، الماجدیة). والله ﷻ اعلم.

که مقیم امام لمونځ مات کړ نو د مسافر مقتدی د لمانځه حکم

سوال: مسافر په مقیم پسي اقتداء وکړل مقیم امام د دوهم رکعت په ناسته کي په قصده لمونځ پرېښود اوس به مسافر دوه رکعته کوي او که به د مخکني تحریمي له مخي څلور رکعته اداء کوي؟

الجواب: په پورتنی صورت کي که مسافر د فرضي لمانځه اقتداء کړي وه نو دوه رکعته به اداء کوي او که يې د نفلو نیت کړی وي نو څلور به کوي.

وګورئ په فتاوی هندیه کي راځي:

وإن اقتدى مسافر بمقيم أتم أربعًا وإن أفسده يصلي ركعتين بخلاف ما لو اقتدى به بنية النفل ثم أفسد حيث يلزم الأربع ، كذا في التبيين . (الفتاوى الهندية:١/ ١٤٢، باب صلاة المسافر).

په البحر الرائق کي راځي:

فلو أفسده صلى ركعتين لزواله بخلاف ما لو اقتدى بالمقيم في فرضه ينوي النفل حيث يصلي أربعًا إذا أفسده ؛ لأنه التزم اداء صلاة الإمام وهنا لم يقصد سوى إسقاط فرضه. (البحر الرائق:٢/ ١٣٤، باب المسافر، الماجدية – وكذا فى الشامى:٢/ ١٣٠). والله ﷻ اعلم.

که يې د اقامت له وطنه سفر وکړ او بيا ورباندي تيرېدئ نو د قصر کولو حکم

سوال: که يو چا ديو ملک سفر وکړ هلته شپږ مياشتي پاته سو بيا يې دوهم ځای سفر وکړ چي تقريبا شپږ سوه کېلو متره ليري وو بيا چي کله لومړی ځای ته راوګرځېدئ نو د ېنځو ورځو د پاته کېدو نيت يې وکړ نو قصر به کوي او که اتمام؟ او که يې امامت ورکاوه نو څه به کوي؟

الجواب: وطن د اقامت په شرعي سفر سره باطلېږي چي سامان وغيره يې نه وي او د واپسي اراده يې هم نه وي لهذا په دې صورت کي چي کله دوباره راوګرځېدئ او د پنځلسو ورځو څخه يې کم نيت وکړ نو قصر به کوي که امام وي بيا هم قصر لازم دئ.

وګورئ په بدائع الصنائع کي راځي:

(ووطن) الإقامة ينتقض بالوطن الأصلي ...... وينتقض بالسفر أيضًا ؛ لأن توطنه في هذا المقام ليس للقرار ولكن لحاجة ، فإذا سافر منه يستدل به على قضاء حاجته فصار معرضًا عن التوطن به ، فصار ناقضًا له دلالةً . (بدائع الصنائع:١/ ١٠٤، مطلب فى ان الاوطان ثلاثة،سعيد).

په فتاوی شامي کي راځي:

قوله وبإنشاء السفر أي منه وكذا من غيره إذا لم يمر فيه عليه قبل سير مدة السفر قال في الفتح: إن السفر الناقض لوطن الإقامة ما ليس فيه مرور على وطن الإقامة أو ما يكون المرور

فیه به بعد سیر مدة السفر، أقول: ویوضح ذلك ما في الكافي والتاتارخانية: خراساني قدم بغداد ليقيم بها نصف شهر ......وأفاد أن انشاء السفر من وطن الإقامة مبطل له وإن عاد إليه ولذا قال فی البدائع: لو أقام خراسانی بالكوفة نصف شهر ثم خرج منها إلى مكة فقبل أن يسير ثلاثة أيام عاد إلى الكوفة لحاجة فإنه يقصر لأن وطنه قد بطل بالسفر. (شامی:۲/ ۱۳۲، باب صلاة المسافر، سعيد). والله ﷻ اعلم.

که مسافر مقتدي په مسافر امام پسي د اتمام نیت وکړي نو د لمانځه حکم يې

سوال: یو مسافر کس مسجد ته راغی او د غالب گمان مطابق يې په هغه پسي د ماپښین د څلورو رکعتونو اقتداء وکړه وروسته معلومه سوه چي امام هم مسافر دي اوس يې لمونځ صحیح دئ او که نه؟

الجواب: د رکعتونو په تعداد کي غلطي د لمانځه سره منافات نه لري لهذا په پورتنی صورت کي يې لمونځ صحیح دئ البته یوه شبه کېدای سي هغه دا چي د امام حال چي معلوم نه وي بیا لمونځ څنګه صحیح سو؟ د دې له پاره جواب دا دئ چي په پیل کي يې معلومول ضروري نه وي بلکي په منځ کي یا د لمانځه څخه وروسته متصل معلومېدل د لمانځه د صحت له پاره کافي دئ.

وګورئ په عالمګیري کي راځي:

ولايشترط نية عدد الركعات هكذا فی شرح الوقاية، حتی لونواها خمس ركعات وقعد على رأس الرابعة أجزأه وتلغونية الخمس كذا فی شرح منية المصلی لابن أمير الحاج.

(الفتاوی الهندية:۱/ ٦٦ – وشرح منية المصلی:ص ٥٤٣، سهيل – وشرح النقاية:۱/ ۱٤٧).

په الدر المختار کي راځي:

وندب للإمام أن يقول أتوا صلاتكم فإنی مسافر، هذا يخالف الخانية وغيرها أن العلم بحال الإمام شرط لكن في حاشية الهداية للهندي الشرط العلم بحاله في الجملة لا في حال

الابتداء...... وفی الشامی: قوله ان العلم...... ثم وجه المخالفة أنه إذا كان يشترط لصحة الاقتداء العلم بحال الإمام من كونه مسافرًا أو مقيمًا لا يكون لقول الإمام أتموا صلاتكم فائدة لأن المتبادر أن الشرط لا بد من وجوده في الاقتداء واتفاقهم على استحباب قول الإمام ذلك لرفع التوهم ينافي اشتراط العلم بحاله في الابتداء قوله لكن ...... أورد ذلك سؤالًا في النهاية والسراج والتاتارخانية ثم أجابوا بما يرجع إلى ذلك الجواب وحاصله: تسليم اشتراط العلم بحال الإمام ولكن لا يلزم كونه في الابتداء فحيث لم يعلموا ابتداء بحاله كان الإخبار مندوبًا وحينئذ فلا مخالفة فافهم ...... والحاصل أنه يشترط العلم بحال الإمام إذا صلى بهم ركعتين فى موضع الإقامة وإلا فلا. (الدر المختار مع الشامي:۲/ ۱۲۹، سعید).

قوله فى الجملة أى فى الابتداء أو الانتهاء وعليه يحمل ما فى الخانية. (حاشية الطحطاوی على الدر المختار:۱/ ۳۳۵). والله ﷻ اعلم.

که مسافر په سهو سره د دریم رکعت له پاره ولاړ سو بیا ورپه یاد سو نو څه به کوي؟

سوال: یو مسافر کس د ماپښین لمونځ کاوه په سهو سره دریم رکعت ته ولاړ سو بیا ورته یاد سوه چي زه مسافریم نو اوس باید څه وکړي؟

الجواب: په پورتنی صورت کي که مسافر اوله ناسته کړي وه بیا د دریم رکعت د سجدې څخه مخکي ورپه یاد سوه نو د ناستی طرفته دي راوګرځي او لمونځ دي پوره کړي او که د سجدې څخه وروسته ورپه یاد سوه نو څلور رکعته دي پوره کړي اخرني دوه رکعتونه به یې د ماپښین سنت وي او په هر صورت کي به سجده سهو وربادي واجب وي د سلام د تاخیر له امله او که یې اوله ناسته کړي نه وه او د دریم رکعت سجده یې هم وکړه نو لمونځ یې فاسد له سره یې قصر کول ضروري دئ.

وګورئ په فتاوی تاتار خانیه کي راځي:

مسافر صلى الظهر ركعتين وقام إلى الثالثة ناسيًا بعد ما قعد قدر التشهد ثم تذكر ذلک فی قيام الثالثة أو فی ركوعها فإنه يعود ويقعد، وإن تذكر بعد ماقيد الثالثة بالسجدة يتم صلاته أربعًا وكانت الثالثة والرابعة له سنة الظهر، وإن لم يكن قعد على رأس الركعتين إن تذكر فی قيام الثالثة عاد، وإن لم يعد حتى قيدها بالسجدة فسدت صلاته. (الفتاوی التاتار خانية:۲/ ۳، ادارة القرآن – وكذا فی فتاوی قاضيخان على هامش الهندية:۱/ ۱٦۸). والله ﷻ اعلم.

وطن اصلي په بل وطن اصلي سره باطليږي

سوال: ديو چا اصلي وطن بينوني دئ دی له هغه ځايه بيلفور ته منتقل سو او هغه يې خپل وطن وګرځاوه له واده ښځه ورسته دوهم ځل بينوني ته سره له اهله او عياله واپس راغی او يوازي بينوني يې خپل اصلي وطن وګرځاوه نو اوس چي کله دی بيفلور ته ځي مسافر به وي او که مقيم؟

الجواب: که يې اصلي وطن پرېښود بل وطن يې اصلي وګرځاوه نو لومړی وطن اصلي يې باطليږي لهذا اوس به د سائل وطن اصلي بينوني شمېرل کيږي بيفلور يې وطن اصلي نه دي هلته که ولاړ ي مسافر شمېرل کيږي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

الوطن الأصلی هو موطن ولادته أو تأهله أو توطنه ويبطل بمثله إذا لم يبق له بالأول أهل.

وفی الشامی: قوله أو توطنه أی عزم على القرار فيه وعدم الا رتحال وإن لم يتأهل، فلو كان له أبو ان ببلد غير مولده وهو بالغ ولم يتأهل به فليس ذلک وطنًا له إلا إذا عزم على القرار فيه وترک الوطن الذی كان له قبله شرح منية. قوله ويبطل بمثله، سواء كان بينهما مسيرة سفر أولا، ولا خلاف فی ذلک كما فی المحيط قهستانی. (الدر المختار مع ردالمحتار:۲/ ۱۳۱، باب صلاة المسافر، سعيد – وكذا فی حاشية الطحطاوی على مراقی الفلاح:ص ٤۲۹، باب صلاة المسافر، قديمی – وكذا فی الفتاوی الهندية:۱/ ۱٤۲). والله ﷻ اعلم.

د والدینو د اقامت په ځای کي د قصر حکم

سوال: یو څوک د خپل مور او پلار سره اوسېدئ بیا له هغه ځایه بل ځای ته انتقال سو چیري چي یې ملازمت وغیره کاوه اوس د دې کس له پاره دا صحیح ده چي د ملازمت ځای وطن اصلي وګرځوي په لومړی وطن اصلي کي خپل ځان مسافر وبولي؟

الجواب: په دې صورت کي چي سائل له خپل اهل او عیال او سامان سره د ملازمت ځای ته نقل سو او هلته یې د اوسېدو اراده وکړه نو د ملازمت ځای د ده له پاره وطن اصلي دئ اوس که لومړی ځای ته راسي نو مسافر شمېرل کیږي ځکه نو یوازي د والدینو هلته کېدل د وطن اصلي لپاره کافي نه دي.

وګورئ په هدایه کي راځي:

ومن كان له وطن فانتقل عنه واستوطن غيره ثم سافر فدخل وطنه الأول قصر لأنه لم يبق وطنًا له ألا ترى أنه عليه الصلاة والسلام بعد الهجرة عد نفسه بمكة من المسافرين.

(هداية:١/ ١٦٧).

په بدائع الصنائع کي راځي:

فالوطن الأصلي ينتقض بمثله لا غير وهو : أن يتوطن الإنسان في بلدة أخرى وينقل الأهل إليها من بلدته فيخرج الأول من أن يكون وطنًا أصليا ، حتى لو دخل فيه مسافرًا لا تصير صلاته أربعًا ، وأصله أن رسول الله ﷺ والمهاجرين من أصحابه رضي الله عنهم كانوا من أهل مكة وكان لهم بها أوطاناأصلية، ثم لما هاجروا وتوطنوا بالمدينة وجعلوها دارًا لأنفسهم انتقض وطنهم الأصلي بمكة ، حتى كانوا إذا أتوا مكة يصلون صلاة المسافرين ، حتى قال النبي ﷺ حين صلى بهم] : أتموا يا أهل مكة صلاتكم فإنا قومسفر] .(بدائع الصنائع:١/ ١٠٣، سعيد، - وكذا فى الفتاوى الهندية:١/ ١٤٢ - والبحر الرائق:٢/ ١٣٦، باب المسافر، الماجدية). والله ﷻ اعلم.

د یو کس دا خبره چې د مور او پلار وطن زما له پاره هم وطن اصلي دئ

سوال: یو څوک سره د خپله اهله او عیاله د ملازمت ځای ته منتقل سو خو والدین یې کوم بل ځای اوسیږي دا کس د والدینو وطن هم د ځان له پاره اصلي وطن ګڼی ایا دغه درسته ده؟

الجواب: په دې صورت کي دغه کس د ملازمت ځای خپل اصلي وطن نه دئ ګرځولي بلکي یوازي د اقامت نیت یې کړی دئ او د والدنیو د اقامت ځای وطن اصلي ګڼي نو دا صحیح ده ځکه وطن اصلي په وطن اقامت سره نه باطلیږي او که دواړه خپل وطن اصلي شمېري نو بیا څه شرائط لري مثلا دا چي دوهم ځای به یې واده کړي وی ښځه به یې هلته مقیمه وي یا به یې کور دواړه ځایه وي او سامان وغیره به یې هم موجود وي همدارنګه د اوسېدو عزم به یې هم وي منتقل سوی به نه وي وغیره خو د مسئلي له ظاهري صورت څخه دا معلومیږي چي د دې یاد کس له پاره د ملازمت ځای د وطن اصلي درجه نه لري او د والدینو ځای وطن اصلي به دئ ځکه یوازي د والدینو موجودیت د وطن اصلي له پاره کافي نه دئ.

وګورئ په بدائع الصنائع کي راځي:

ثم الوطن الأصلي يجوز أن يكون واحدًا أو أكثر من ذلك بأن كان له أهل ودار في بلدتين أو أكثر ولم يكن من نية أهله الخروج منها . (بدائع الصنائع:١/ ١٠٣، سعيد).

ومن كان له وطن فانتقل عنه واستوطن غيره ثم سافر فدخل وطنه الأول قصر لأنه لم يبق وطنًا له ألا ترى أنه عليه الصلاة والسلام بعد الهجرة عد نفسه بمكة من المسافرين.

(هداية:١/ ١٦٧).

په بدائع الصنائع کي راځي:

فالوطن الأصلي ينتقض بمثله لا غير وهو : أن يتوطن الإنسان في بلدة أخرى وينقل الأهل إليها من بلدته فيخرج الأول من أن يكون وطنًا أصليا ، حتى لو دخل فيه مسافرًا لا تصير صلاته أربعًا ، وأصله أن رسول الله ﷺ والمهاجرين من أصحابه رضي الله عنهم كانوا من

أهل مكة وكان لهم بها أوطاناًأصلية، ثم لما هاجروا وتوطنوا بالمدينة وجعلوها دارًا لأنفسهم انتقض وطنهم الأصلي بمكة ، حتى كانوا إذا أتوا مكة يصلون صلاة المسافرين ، حتى قال النبي ﷺ حين صلى بهم] : أتموا يا أهل مكة صلاتكم فإنا قوم سفر] . (بدائع الصنائع:۱/ ۱۰۳، سعيد، - وكذا فی الفتاوی الهندية:۱/ ۱۴۲ - والبحر الرائق:۲/ ۱۳۶، باب المسافر، الماجدية).

په امداد الاحکام کي راځي:

له فقهي نصوصو څخه څو امور مستبنط کيږي:

۱_ وطن اصلي هغه دئ چي په هغه کي دی له خپل اهل سره اوسيږي او له هغه ځای يې د ارتحال او نقل قصد نه وي.

۲_ چي کله يې په بل مقام کي د وطن نيولو اراده وي نو د اهل د نقل کولو پر ته يې لومړی وطن نه باطليږي.

۳_ څو ځايه وطن اصلي متعدد کېدای سي حتی که يو څوک څلور ودونه په څلورو ښارونو کي ولري نو د ده له پاره به وطن اصلي څلور وي.

۴_ په کوم ښار کي چي د چا اهل او عيال اوسيږي که يې د کرايې مکان وي او که يې ذاتي مکان وي هلته چي کله دی مسافر وي نو قصر به يې پاته نه وي بلکي اتمام ضروري دئ.

۵_ په يوه ښار کي يوازي په نکاح کولو سره هغه وطن اصلي نه ګرځي بلکي خپل اهل ساتل او له هغه ځای څخه يې نه منتقل کول شرط دي. (امداد الاحکام:۱/ ۶۹۵، فصل في صلاة المسافر).

خلاصه: له دغو امورو څخه معلوميږي چي که کوم څوک بېله اهله او عياله يو ځای ته وطن اصلي ووايي نو په ظاهره به هغه وطن اصلي نه وي او والدين په اهل کي نه شمېرل کيږي بلکي له اهل څخه مراد ښځه او زامن دي. والله ﷻ اعلم.

د خپل ښار پر شاوخوا د سفر د مسافي له طی کولو څخه د قصر حکم

سوال: که يو څوک (۹۰) کيلو متره د خپل ښار پر شاو خوا سفر وکړي مثلا لينيشياځ ايلدورا دوپارک، ډکسينا ته ولاړ سي نو ايا دی به قصر کوي او که نه؟

الجواب: په عرف عام کي څنګه چي لينيشيا او ډکسينا يوه علاقه شمېرل کيږي له دې امله به قصر نه کوي د ده سفر د ښار په حدودو کي سو او شرعي مسافر هغه وخت ګڼل کيږي چي د شرعي سفر په نيت سره د ښار له حدودو تجاوز وکړي.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

وأشار إلى أنه يشترط مفارقة ما كان من توابع موضع الإقامة كربض المصر وهو ماحول المدينة من بيوت ومساكن فإنه في حكم المصر وكذا القرى المتصلة بالربض في الصحيح.

(فتاوى شامى:۲/ ۱۲۱، سعيد – وكذا في شرح منية المصلى:ص ۵۳۷، سهيل – والبحر الرائق:۲/ ۱۲۸، الماجدية – وفتح القدير:۲/ ۳٤، دار الفكر – واحسن الفتاوى:٤/ ۷۳). والله تعالى اعلم.

مسافر امام څلور رکعته لمونځ ورکړ او سجده سهو يې وکړه نو حکم يې څه دی؟

سوال: که مسافر امام په غلطي سره څلور رکعتونه ورکړه او په اخر کي يې سجده سهو وکړه نو لمونځ يې صحيح دئ او که يې را ګرځول ضروري دي؟

الجواب: د احنافو د مذهب مطابق د مسافر له پاره قصر واجب دي د اتمام ګنجائش نه سته، البته که يې اوله ناسته وکړه نو فرض يې له ذمي ساقطيږي خو داسي کول مکروه دي او که يې په قصده داسي وکړه نو سخت ګناه کار دئ او په وخت کي يې راګرځول واجب دي په هر صورت د مقيمو مقتديانو لمونځ نه دئ سوی دوهم ځل يې کول ضروري دي.

وګورئ په البحر الرائق کي راځي:

قوله فلو أتم وقعد في الثانية صح وإلا لا أي ، وإن لم يقعد على رأس الركعتين لم يصح فرضه ؛ لأنه إذا قعد فقد تم فرضه وصارت الأخريات له نفلًا كالفجر وصار آثمًا لتأخير السلام. (البحر الرائق:۲/ ۱۳۰ وكذا في الهداية مع الفتح:۲/ ۳۲، دار الفكر – والفتاوى الهندية:۱/ ۱۳۹).

په درمختار کي راځي:

فلو أتم مسافر إن قعد في القعدة الأولی تم فرضه و لکنه أساء لو عامدًا لتأخير السلام وترك واجب القصر وواجب تکبيرة افتتاح النقل وخلط النفل بالفرض وهذا لا يحل کما حرره القهستاني. وفی الشامی: قوله: بعد ان فسر أساء بإثم، فعلم أن الإساءة هنا کراهة التحريم. (الدر المختار مع الشامی: ۲/ ۱۲۸، سعيد).

په فتاوی محموديه کي راځي:

د شرعي مسافر له پاره اتمام روا نه دي بلکي څلور رکعاته به دوه کوي که مسافر اتمام وکړ نو دده فرض اداء سوه خو دا مکروه ده او سجده سهو واجب ده که يې په قصده داسي وکړه نو گناه کار به وي او راګرځول به يې واجب وي، او که امام د امامت په حالت کي اتمام وکړ او مقيمو مقتديانو په اخيرنيو دوو رکعتونو کي هم د امام اقتداء وکړه نو د مقتديانو فرض اداء نه سوه. (فتاوی محموديه: ۷/ ۵۰۹). والله تعالیٰ اعلم.

د سفر په دوران کي موټر چلول او د نوافلو اداء کولو حکم

سوال: يو څوک ښځي پر سيده لاره موټر چلوي او د ډېر څه کولو ضرورت هم نه وي مثلاً د کيپ ټاون پر لاره وي او ګاډي په خپله ځي نو ايا دغه کس نفلي لمونځ کولای سي؟

الجواب: فقهاوو د ښار څخه دباندي د سپارلۍ د روانولو په حالت کي د نوافلو اجازه کړې ده که څه هم چلاخه يې په لاس کي وي حيوان چابکوي خو دا ټول يې عمل قليل شمېرلي دي لهذا پر دې صورت په قياس کولو سره که په يوه لاس استرنګ ونيسي نو نوافل اداء کولای سي، البته که يې په دواړو لاسونو کار کاوه نو بيا عمل کثير دي او لمونځ يې فاسدېږي خو دا خبره به يې په فکر کي وي چي لار به خلاصه وي او د موټرو ډېر تګ او راتګ به نه وي که نه بيا به پر تسبيحاتو اکتفاء کول زياته بهتره وي ځکه د ځان حفاظت له نوافلو څخه زيات هم دي.

وګورئ په حاشية الطحطاوي کي راځي:

ويتنفل المقيم نص على المتوهم فالمسافر من باب أولى راكبًا خارج المصر محل القصر فائد ته شمول خارج القرية وخارج الأخبية، انتهى، حلبى. (حاشية الطحطاوى على الدر المختار:۲/ ۲۹۳).

(ويتنفل أي جاز له التنفل) لأن الصلاة خير موضوع فلو اشترط ما يشق من نحو النزول يلزم الإنقطاع عن الخير قال في المبسوط لو لم يكن في التنفل على الدابة من المنفعة إلا حفظ اللسان من فضول الكلام لكان كافياً في جوازه (بل ندب له) لفعله ﷺ كثيرًا ...... وإذا حرك رجله أو ضرب دابته فلا بأس به إذا لم يصنع شيئًا كثيرًا (وإذا حرك) أشار به إلى أن تسييره لايضر إذا كان بعمل قليل وهو المعتمد. (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح:ص ٤٠٥، فى الصلاة على الدابة، قديمى).

په فتاوی شامي کي راځي:

إذا حرك رجله أو ضرب دابته فلا بأس به إذا لم يكن كثيرًا. قلت: ويدل له أيضًا ما في الذخيرة: إن كانت تنساق بنفسها ليس له سوقها وإلا فلو ساقها هل تفسد؟ قال: إن كان معه سوط فهيبها به ونخسها لا تفسد صلاته. (شامى:۲/ ۳۹، سعيد – وكذا فى الفتاوى الهندية:۱/ ۱۴۳).

په سفر کي جمع بين الصلاتين

سوال: موږ اکثره په سفر کي يو سامان وغيره هم راسره وي په لاره کي موټر درول له خطري څخه خالي نه وي نو ايا جمع بين الصلاتين کولای سو؟ حال دا چي په نورو مذاهبو کي روا دي؟

الجواب: د احنافو د مذهب مطابق جمع بين الصلاتين حقيقة روا نه دي، البته جمع صوري روا ده هغه داسي چي د مثل اول په اخر کي دي د ماپښين لمونځ او د مثل ثاني په اول کي دي د مازديگر لمونځ اداء کړي نو ديوه قول مطابق درسته ده، يا يې د مثل ثاني په اخر کي ماپښين او د مثل ثالث په اول کي مازديگر اداء کړي نو د دوهم قول مطابق به جمع صوري وي، همدا ډول مغرب او عشاء هم دي

يعنى د شفق له لوېدو څخه مخکې دي د ماښام لمونځ وکړي او د شفق له لوېدو څخه وروسته دي د ماخستن لمونځ وکړي نو دغه درسته ده.

وګورئ په بخاري شريفي کې راځي:

عن أنس بن مالك رضي الله عنه، قال كان رسول الله ﷺ إذا ارتحل قبل أن تزيغ الشمس أخر الظهر إلى وقت العصر ثم يجمع بينهما، وإذا زاغت صلى الظهر ثم ركب. (رواه البخارى:١/ ١٥٠/ ١١٠٠، باب يؤخر الظهر الى العصر اذا ارتحل قبل ان تزيغ الشمس).

په شرح معاني الاثار کې راځي:

عن نافع قال: أقبلنا مع ابن عمر رضي الله عنه حتى إذا كنا ببعض الطريق استصرخ على زوجته بنت أبي عبيد فراح مسرعًا حتى غابت الشمس فنودي بالصلاة فلم ينزل حتى إذا أمسى فظننا أنه قد نسي فقلت : الصلاة فسكت حتى إذا كاد الشفق أن يغيب نزل فصلى المغرب وغاب الشفق فصلى العشاء وقال : " هكذا كنا نفعل مع رسول الله ﷺ إذا جد بنا السير " . (شرح معانى الاثار:١/ ١١٣، باب الجمع بين الصلاتين كيف هو).

په فيض الباري کې راځي:

واعلم أن المصنف رحمه الله إما جنح إلى الجمع صورةً أو الجمع فعلًا على اصطلاحنا .....

وقد مر أن عنوان تأخير صلاة إلى صلاة أقرب بنظر الحنفية...... ومذهب الحنفية أن الجمع عندهم فعلفقط، كما عرفت وقد مر معنا أن الجمع عندي محمولعلى اشتراك الوقت فإن المثل الأول للظهر خاصة، والثالث للعصر كذلك، والثاني مشتركيصلح لهما، إلا أن المطلوب هو الفصل، ويرتفع ذلك في السفر والمرض. (فيض البارى:٢/ ٤٠٠، باب الجمع بين الصلاتين).

په درمختار کي راځي:

ولا جمع بين فرضين في وقت بعذر سفر ومطر خلافاً للشافعي وما رواه محمول على الجمع فعلًا لا وقتًا فإن جمع فسد لو قدم الفرض على وقته وحرم لو عكس أى أخرى عنه وإن صح بطريق القضاء. وفى الشامى: وقال أبو داود: ليس في تقديم الوقت حديث قائم وقد أنكرت عائشة رضي الله عنها على من يقول بالجمع في وقت واحد وفي الصحيحين عن ابن مسعود رضي الله عنه والذي لا إله غيره ما صلى رسول الله ﷺ صلاة قط إلا لوقتها إلا صلاتين جمع بين الظهر والعصر بعرفة وبين المغرب والعشاء بجمع ويكفي في ذلك النصوص الواردة بتعيين الأوقات من الآيات والأخبار وتمام ذلك في المطولات كالزيلعي وشرح المنية.(الدر المختار مع الشامى:۱/ ۳۸۱- ۳۸۲، سعيد). والله تعالیٰ اعلم.

جمع بين الصلاتين د شوافعو په اند روا ده احنافو یې ولي نه کوي؟

سوال: د مسافر له پاره د شوافعو په اند جمع بين الصلاتين روا دئ يو څوک دا سوال کوي چي د حنفي له پاره ولي روا نه ده؟ د پوهولو سره سره یې نه مني او دا کس سلفي دئ؟

الجواب: ټولو امامانو په پوره دیانت او امانت سره د شرعي دلائلو په رڼا کي د شرعي مسائلو استنباط کړی دئ او کومه مسئله چي بیله د دلائلو او نصوصو په رڼا کي ثابته موندلي ده هغه یې راجح ګڼلې ده اوس زموږ له پاره ضروري ده چي څوک چي د کوم امام مقلد وي د هغه امام پیروي دي وکړی په خواهشاتو پسي دي نه ځي که نه دین به دین پاته نه سي اتباع هوا به ورځخه جوړ سي، لهذا په دې مسئله کي هم احنافو د دلائلو او قطعي نصوصو په رڼا کي دغه لوري ته ترجیح ورکړې ده چي جمع بين الصلاتين روا نه ده او چیري چي د جمع بين الصلاتين روايات موندل کیږي له هغو ځخه جمع حقیقي مراد نه ده بلکي جمع صوري مراد ده یعني دا چي یو لمونځ یې په اخر کي د وخت اداء کړ او بل لمونځ یې په اول کي د وخت وکړ چنانچه د داسي روایاتو پر حقیقي جمع د حمل کولو ځخه ډېر دلائل مانع دي مثلاً په قرآن کریم کي راځي:

۱ _ ﴿ حافظوا على الصلوات والصلاة الوسطى ﴾. (سورة البقرة: الآية: ۲۳۸).

۲_ ﴿ إن الصلاة كانت على المؤمنين كتابًا موقوتًا ﴾. (سورة النساء:الآية:۱۰۳).

تر دغه آیت لاندي مفسرينو او محققينو علماوو دغه ليكلي دي چي د هر لمانځه له پاره ځانګړي وخت سته دیوه لمانځه کول په بل وخت کي درست نه دي.

وګورئ په احادیثو کي په بخاري شريف کي راځي:

۳_ قال : سمعت أبا عمرو الشيباني يقول ، حدثنا صاحب هذه الدار وأشار إلى دار عبد الله بن مسعود رضي الله عنه، فقالت: سألت النبي ﷺ أي العمل أحب إلى الله قال: الصلاة على وقتها.

(رواه البخاری:۱/ ۷٦).

له دې حديثه ځخه معلوميږي چي لمونځ په خپل وخت کي کول د الله ﷻ په نزد هغه خوبن عمل دئ .

۴_ په بخاري شريف کي راځي:

عن عبد الله بن مسعود رضي الله عنه، قال: ما رأيت النبي ﷺ صلى صلاةً بغير ميقاتها إلا صلاتين جمع بين المغرب والعشاء (بالمزدلفة) وصلى الفجر (يومئذ) قبل ميقاتها. (بخارى شريف:۱/ ۲۲۸).

د جمع صوری دلائل:

علامه شوكاني رحمه الله فرمايي:

ومما يدل على تعيين حمل حديث الباب على الجمع الصوري ما أخرجه النسائي عن ابن عباس رضي الله عنهما بلفظ : « صليت مع النبي ﷺ الظهر والعصر جميعًا والمغرب والعشاء جميعًا أخر الظهر وعجل العصر وأخر المغرب وعجل العشاء » فهذا ابن عباس رضي الله عنهما راوي حديث

الباب قد صرح بأن ما رواه من الجمع المذكور هو الجمع الصوري .(نيل الاوطار:۳/ ۲۳۰، باب جمع المقيم المطر أو غيره).

دې په تائيد کې يو بل روايت نقل کوي وګورئ:

ومما يؤيد ذلک ما رواه الشيخان عن عمرو بن دينار أنه قال: « يا أبا الشعثاء أظنه أخر الظهر و عجل العصر، وأخر المغرب وعجل العشاء؟ قال: وأنا أظنه، وأبو الشعثاء هو راوى الحديث عن ابن عباس رضي الله عنه كما تقدم.(نيل الاوطار:۳/ ۲۳۰، باب جمع المقيم المطر أو غيره).

حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه هم په جمع صورى سره قول كاوه كه نه بيا به يې په رواياتو كې تعرض وي څكه فرمايي، چې نبي كريم ﷺ د عرفات او مزدلفي څخه علاوه هيڅ كله هم دوه لمنځونه جمع كړى نه دي.

علامه شوكاني ليكي:

فنفى ابن مسعود رضي الله عنه مطلق الجمع وحصره في جمع المزدلفة مع أنه ممن روى حديث الجمع بالمدينة كما تقدم، وهو يدل على أن الجمع الواقع بالمدينة صوري، ولو كان جمعًا حقيقيًا لتعارض رواياته. (نيل الاوطار:۳/ ۲۳۰، باب جمع المقيم لمطر أو غيره).

حافظ ابن حجر رحمه الله چې شافعي المسلک دی په خپله فرمايي، چې د جمع صورى ترجيح زياته قوي ده.

قال الحافظ أيضًا : ويقوي ما ذكر من الجمع الصوري أن طرق الحديث كلها ليس فيها تعرض لوقت الجمع، فأما أن يحمل على مطلقها فيستلزم إخراج الصلاة عن وقتها المحدود بغير عذر وأما أن يحمل على صفة مخصوصة لا يستلزم الإخراج ويجمع بها بين متفرق الأحاديث، فالجمع الصوري أولى والله أعلم . (نيل الاوطار:۳/ ۲۳۰، باب جمع المقيم لمطر أو غيره).

همدا ډول حضرت انس رضي الله عنه له اثر څخه معلوميږي چي صحابه كرامو رضي الله عنهم جمع صوری په جمع سره تعبيرول:

وګورئ په مجمع الزوائد كي راځي:

وعن أنس رضي الله عنه أنه كان إذا أراد أن يجمع بين الصلاتين في السفر أخر الظهر إلى آخر وقتها وصلاها وصلى العصر في أول وقتها ويصلي المغرب في آخر وقتها ويصلي العشاء في أول وقتها، ويقول : هكذا كان رسول الله ﷺ يجمع بين الصلاتين في السفر. (مجمع الزوائد:٢/ ١٦٣، دار الفكر).

همدا ډول د حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه د روايت څخه هم معلوميږي چي نبي كريم ﷺ په سفر كي جمع صوري كول.

وګورئ په شرح معانی الآثار كي راځي:

عن نافع قال: أقبلنا مع ابن عمر رضي الله عنه حتى إذا كنا ببعض الطريق استصرخ على زوجته بنت أبي عبيد فراح مسرعًا حتى غابت الشمس فنودي بالصلاة فلم ينزل حتى إذا أمسى فظننا أنه قد نسي فقلت : الصلاة فسكت حتى إذا كاد الشفق أن يغيب نزل فصلى المغرب وغاب الشفق فصلى العشاء وقال : " هكذا كنا نفعل مع رسول الله ﷺ إذا جد بنا السير " . (شرح معانی الاثار:١/ ١١٣، باب الجمع بين الصلاتين كيف هو).

حضرت مولانا خليل احمد سهار نپوري رحمه الله ليكي:

استدل الحنفية على عدم جواز الجمع حقيقة فی غير عرفات والمزدلفة بقوله تعالى: ﴿حافظوا على الصلوات﴾ أی أور دوها فی أوقاتها وبقوله تعالى: ﴿ إن الصلاة كانت على المؤمنين كتابًا موقوتًا ﴾ أی لها وقت معين له ابتداء لايجوز التقدم عليه وانتهاء لايجوز التأخر عنه، وحملوا الروايات التی فيها الجمع فی السفر على الجمع الصوری لأنه صلى الله


عليه وسلم صلى أول الصلاة فى آخر وقتها وثانيها فى أول وقتها لئلا يعارض خبر الواحد الآية القطعية». (بذل المجهود فى حل ابى داؤد: ٦/ ٢٨٣، المكتبة الامدادية).

همدا ډول له محدثينو څخه هم څو حضراتو د جمع حقيقي څخه صراحةً انكار كړي دئ.

وګورئ:

حدثنا يزيد بن هارون ، عن هشام ، عن الحسن ومحمد ، قالا : ما نعلم من السنة الجمع بين الصلاتين في حضر ولا سفر إلا بين الظهر والعصر بعرفة وبين المغرب والعشاء بجمع.

(مصنف ابن ابى شيبة:٢/ ٤٥٩). والله ﷻ اعلم.





قال الله تعالى:

﴿ يا أيها الذين آمنوا إذا نودي للصلاة من يوم الجمعة فاسعوا إلى ذكر الله وذروا البيع ﴾.

(سورة الجمعة:الآية:٨).

قال رسول الله ﷺ: ﴿ من كان مؤمن بالله واليوم الآخر فعليه الجمعة يوم الجمعة ﴾.

(مصنف ابن ابی شيبة)

شپاړلسم .... باب

د جمعې د لمانځه بيان

د جمعې د خطبې څخه مخکې د تقرير حکم

سوال: د جمعې د لمانځه او خطبې څخه مخکې تقرير کيږي د دې له پاره اصل سته او که نه؟ بيا په ځينو ځايو کې د خطبې څخه وړاندې د سنتو له پاره وخت ورکول کيږي او په ځينو ځايو کې د تقرير په دوران کې خلک سنت کوي کومه طريقه يې ښه ده؟

الجواب: د لمونځ کونکو په خوښه او رضا سره د اول اذان څخه وروسته د خطبې او لمانځه څخه مخکې په تقرير کولو کې څه باک نه سته لکه څنګه چې د مستدرک حاکم په روايت کې راځي چې حضرت ابو هريره رضي الله عنه د خطيب له خطبې څخه مخکې وعظ کاوه او احاديث به يې بيانول وګورئ:

كان أبو هريرة رضي الله عنه يقوم يوم الجمعة إلى جانب المنبر فيطرح أعقاب نعليه في ذراعيه ثم يقبض على رمانة المنبر يقول: قال أبو القاسم ﷺ قال محمد ﷺ قال رسول الله ﷺ قال الصادق المصدوق ﷺ ثم يقول في بعض ذلك: ويل للعرب من شر قد اقترب فإذا سمع حركة باب المقصورة بخروج الإمام جلس. (المستدرک للحاكم:١/١٠٨، كتاب العلم).

همدا ډول علامه زبيدي د جمعې په ورځ د ديني مجلسونو د جوړېدو مشوره ورکوي د ابن ابی شيبه په حواله سره دلاندي حضراتو څخه د دغو مجالسو جواز نقل کوي:

« قد روى ابن أبي شية جواز ذلک عن السائب ﷺ وعبد الله بن بسر ﷺ وابن عمر ﷺ وأبي هريرة ﷺ. (اتحاف سادة المتقين شرح احياء علوم الدين: ۳/ ۲۷۷).

همدا ډول زموږ په زمانه کي د دين څخه ليري والی راغلی دئ د علمي د مسائلو پوهېدو او علمي مجالسو ته د راتلو شوق پاته نه دئ د دې امله خلکو ته د دين د معلوماتو د رسولو له پاره د جمعې څخه مخکي تقرير ډېر مفيد دئ لکه څنګه چي کله د حضرت مفتی کفايت الله صاحب څخه پوښتنه وسوه چي خلک د عربي ژبي څخه بې برخي او ناخبره دي د دوی د فائدي له پاره په اردو ژبه د خطبې ترجمه څنګه ده؟ حضرت په جواب کي وفرمايل، د هغه يو ښه صورت دا دئ چي خطيب دي په مورنی ژبه د خطبې ويلو څخه مخکي تقرير وکړي او ديني ضرورتونه دي بيان کړي. (کفايت المفتی: ۳/ ۲۱٤).

همدا ډول وګورئ (امداد الاحکام: ۱/ ۲۷۷، د خطبې څخه مخکې د وعظ کولو حکم، او فتاوی محموديه: ۸/ ۲٥٦، او فتاوی رحيميه: ۱/ ۲٦٤).

د سنتو له پاره د خطبې څخه بېل وخت مناسب دي د تقرير په منځ کي سنت کول مناسب نه دي يو خوله دې امله چي په خپله د سنت کونکي په لمانځه کي خلل راځي دوهم دا چي دا د ادب خلاف هم ده چي ديني اجتماعي خبره نه اورېدل کيږي او په يوه انفرادي عمل کي مشغول وي. والله ﷻ اعلم.

د خطبې څخه مخکي پر وعظو کولو اعتراض او د هغه جواب

سوال: څه فرمايي علماء کرام په دې مسئله کي چي د يوه مسجد متوليان د جمعې څخه وړاندي پر وعظ او بيان اعتراض کوي او وايي چي د نبي کريم ﷺ په زمانه کي يوه خطبه په عربي ويل کېده لهذا د وعظ کولو ضرورت نه سته او دغه په دين کي نوې طريقه ده حال دا چي دا مسجد په ښار کي تر ټولو لوی دئ او لمونځ کونکي يې هم زيات دي؟

الجواب: د عربي خطبې څخه مخکي چي کوم وعظ او بيان د هغې علاقي په ژبه کيږي د دې ثبوت د صحابه کرامو په عمل سره کيږي لهذا دغه ته نوې طريقه ويل صحيح نه ده او موږ دغه سنت نه بلکي مصلحت يې ګڼو.

وګورئ په مستدرک حاکم کي راځي:

أخبرنا أحمد بن سلمان الفقيه حدثنا إسماعيل بن إسحاق القاضي ثنا أحمد بن يونس ثنا عاصم بن محمد بن زيد عن أبيه قال: كان أبو هريرة رضي الله عنه يقوم يوم الجمعة إلى جانب المنبر فيطرح أعقاب نعليه في ذراعيه ثم يقبض على رمانة المنبر يقول: قال أبو القاسم ﷺ قال محمد ﷺ قال رسول الله ﷺ قال الصادق المصدوق ﷺ ثم يقول في بعض ذلك: ويل للعرب من شر قد اقترب فإذا سمع حركة باب المقصورة بخروج الإمام جلس هذا حديث صحيح و لم يخرجاه. (المستدرک للحاکم: ۱/۱۰۸، کتاب العلم).

د دې روايت خلاصه دا ده چي حضرت ابو هريره رضي الله عنه به د جمعې په ورځ د ممبر سره دريدئ په احاديثو سره به يې وعظ وکاوه بيا چي کله به يې د امام اواز واوريدئ نو دی به کښيناستی حاکم دغه روايت صحيح بللي دئ ملا علي القاري رحمه الله په موضوعات کبير کي د حضرت عمر رضي الله عنه او حضرت عثمان رضي الله عنه د خلافت په دوره کي د حضرت تميم داري رضي الله عنه دغه طرز نقل کړی دئ چي هغه د حضرت عمر رضي الله عنه څخه د جمعې د خطبې څخه مخکي د وعظ اجازه وغوښتنه حضرت عمر رضي الله عنه د اول انکار کولو څخه وروسته ديوې ورځي اجازه ورکړه او ويې وفرمايل، چي د جمعې له پاره زما له راوتلو څخه مخکي وعظ کوه.

وګورئ په موضوعات کبير کي راځي:

وأخرج ابن عساكر رحمه الله عن حميد بن عبد الرحمن أن تميمًا الداري رضي الله عنه استأذن عمر رضي الله عنه في القصص سنين، فأبى أن يأذن له فاستأذنه في يوم واحد، فلما أكثر عليه، قال له ما تقول؟ قال: أقرأ عليهم القرآن، وآمرهم بالخير، وأنهاهم عن الشر، قال عمر رضي الله عنه ذلك

الذبح ثم قال: عظ قبل أن أخرج في الجمعة. فكان يفعل ذلك يومًا واحدًا في الجمعة.

(موضوعات کبیر: ص ۲۰، میر محمد کتب خانه کراچی).

شاید لومړی به یې له دې امله انکار کړی وي چې د وعظ نوعیت به ورته معلوم نه وو بیا چې کله حضرت تمیم داري رضی الله عنه د قرآن کریم حواله ورکړه نو ده اجازه ورکړه.

مولانا عبد الحی رحمه الله د حضرت عثمان رضی الله عنه په زمانه کې د حضرت تمیم داري رضی الله عنه وعظ د یوې ورځې پر ځای دوې ورځې نقل کړی دئ چې له دې څخه معلومیږي چې په شروع کې به یې یوازې د جمعې له خطبې څخه مخکې بیان کاوه بیا چې کله یې فائده زیاته محسوسه کړه نو یوه بله ورځ یې هم اضافه کړه. (مجموعة الرسائل اللکنوی، اقامة الحجة علی ان الاکثار فی التعبد لیس ببدعة: ص ۱۳).

حضرت مفتي محمود صاحب گنگوهي هم د تمیم داري رضی الله عنه روایت له موضوعات کبیر څخه نقل کړی دئ، فرمایي، چې له دغه روایت څخه معلومیږي چې حضرت عمر رضی الله عنه د حضرت تمیم داري رضی الله عنه په بیا بیا غوښتنه د جمعې د لمانځه څخه وړاندې د وعظ اجازه ورکړې وه. (فتاوی محمودیه: ۸/ ۲۵۴). **او همدا ډول وګورئ:** (امداد الاحکام: ۱/ ۲۷۷، او فتاوی رحیمیه: ۱/ ۲٦٤، او کفایت المفتی: ۳/ ۲۱٤). والله تعالی اعلم.

په کلي کې د جمعې د لمانځه کولو حکم

سوال: د وینډا له ښار څخه تقریباً پر (۴۵) کیلو متره فاصله یوه محله ده چیرې چې د مسلمانانو ابادي ډېره لږ ده خو د غیر مسلمو کورونه تقریبا لس زره ته نژدې دي او دلته په یوه کور کې پنځه شپږ کسان سره یو ځای کیږي او جماعت کوي او همدا ډول د وینډا څخه هره ورځ د تجارت له پاره خلک راځي او ماښام خپل ځای ته ځي د میاشتې په اخري تاریخونو کې د مصروفیاتو د زیات والي له امله دوی په دغه محله کې د جمعې لمونځ اداء کول غواړي، البته په دغه محله کې مسجد نه شته نو ایا په دغه کور کې د جمعې لمونځ درست دئ او ایا د څلوېښتو افرادو موجودېدل ضروري دي او که نه؟

الجواب: په پورتنی صورت کي د دې محلي ابادي څنګه چي لس زره ته نژدې ده او د ژوندانه ضرورتونه پکښي پوره کيږي لهذا جمعه اداء کول صحيح دي د احنافو د مذهب مطابق د جمعې د صحيح والي له پاره د ځلوېښتو افرادو کېدل ضروري نه دي.

وګورئ په بخاري شريف کي راځي:

عن ابن عباس رضي الله عنهما أنه قال إن أول جمعة جمعت بعد جمعة في مسجد رسول الله ﷺ في مسجد عبد القيس بجواثی من البحرين.(رواه البخاری:۱/ ۱۲۲/ ۸۸۲، باب الجمعة فی القری والمدن).

د دې حديث په شرح کي علامه عينی رحمه الله فرمايي، چي په جواثي کي به خلکو زيات تجارت کاوه ګويا که تجارتي منډي وه او چيري چي تجارت زيات وي دا د ښار ګرځېدو علامه ده له دې امله هلته جمعه روا ده.

وګورئ په عمدة القاري کي راځي:

قوله جواثی وهی قرية من قری البحرين وفي رواية عثمان شيخ أبي داود: قرية من قری عبد القيس ..... وقال أبو عبيد البكري وهي مدينة بالبحرين لعبد القيس قال امرؤ القيس:

ورحنا كأنا من جواثی عشية نعالی النعاج بين عدل ومحقب

يريد كأنا من تجار جواثی، لكثرة ما معهم من الصيد، وأراد كثرة أمتعة تجار جواثی. قلت: كثرة الأمتعة تدل غالبًا على كثرة التجار، وكثرة التجار تدل على أن جواثی مدينة قطعًا، لأن القرية لا يكون فيها تجار كثيرون غالبا عادة ...... ومذهب أبي حنيفة رحمه الله لا تصح الجمعة إلا في مصر جامع أو في مصلى المصر، ولا تجوز في القرى ...... ثم اختلف أصحابنا في المصر الذي تجوز فيه الجمعة فعن أبي يوسف رحمه الله هو كل موضع يكون فيه كل

محترف، ويوجد فيه جميع ما يحتاج إليه الناس من معايشهم عادة وبه قاض يقيم الحدود، وقيل: إذا بلغ سكانه عشرة آلاف . (عمدة القاري:٥/ ٣٩/ ٨٩٢، باب الجمعة فى القرى والمدن).

په فتاوى شامي كي راځي:

عن أبي حنيفة رحمة الله عليه أنه بلدة كبيرة فيها سكك وأسواق ولها رساتيق وفيها وال يقدر على إنصاف المظلوم من الظالم بحشمته وعلمه أو علم غيره يرجع الناس إليه فيما يقع من الحوادث وهذا هو الأصح . (شامى:٢/ ١٣٧، الجمعة، سعيد).

په فتاوى محموديه كي ليكي:

په محله او يا غټ كلي كي داحنافو په اند جمعه روا ده په كوچني كلي كي روا نه ده غټ كلي هغه دي چي په هغه كي كوڅي وي بازار وي دژوندانه ضرورتونه پكښي پوره كيږي دري يا څلور زره آبادي وي مسلمانان كه پكښي اقليت وي يا برابر وي او يا زيات وي. (فتاوى محموديه:٨/ ٩٨). **او همدا ډول وګورئ:** (فتاوى رحيميه:٥/ ٥٤، إمداد المفتين:١/ ٢٧٨، امداد الاحكام:١/ ٧٥٦). والله تعالى اعلم.

غټ كلي او د هغه په ملحقاتو كي د جمعې حكم

سوال: په زكريا پارک او يا د هغه سره په نښتي ابادي كي جمعه كولاى سي او كه نه؟

الجواب: په زكريا پارک او د هغه سره په نښتي ابادى كي جمعه كېداى سي بلكي كول يې ضروري دي ځكه په هغه كي اكثره ضرورتونه پوره كيږي او د هغه ابادي د درو زرو تر منځ ده فقهاء كرامو د ښار او غټ كلي مختلف تعريفونه كړي دي.

علامه عيني رحمة الله عليه د هدايې په شرحه بنايه كي فرمايي:

وهذا تفسير المصر الجامع وقد اختلفوا فيه فعن أبى حنيفة رحمة الله عليه مايجمع فيه مرافق أهله. وعن أبى يوسف رحمة الله عليه كل موضع فيه أمير وقاض ينفذ الأحكام ويقيم الحدود وهكذا روى الحسن رحمة الله عليه عن أبى حنيفة رحمة الله عليه فى كتاب صلاته وفيه عن سفيان الثورى رحمة الله عليه

المصر الجامع ما يعد الناس مصرًا عند ذكر الأمصار المطلقة كبخارى وسمرقند وقال الكرخي رحمه الله هو ما أقيمت فيه الحدود ونفذت فيه الأحكام وهو اختيار الزمخشري رحمه الله وعن أبي عبد الله البلخي رحمه الله أنه قال: أحسن ما سمعت أنه إذا اجتمعوا في أكبر مساجدهم لم يسعوا فيه فهو مصر جامع وعن أبي حنيفة رحمه الله هو بلدة كبيرة فيها سكك وأسواق ويرجع الناس إليه في ما وقعت لهم من الحوادث .... (البناية للعلامة العيني:٢/ ٩٨٢).

د دې عبارت خلاصه دا ده چې د مصر شو تعريفونه دي:

١ـ چې په هغه کې د ضرورت شيان موندل کيږي.

٢ـ چې په هغه کې امير او قاضي وي چې اسلام قوانين او حدود برپايه کوي.

٣ـ چې عام خلک ورته ښار وايي.

٤ـ چې په هغه کې د شريعت احکام او حدود اجراء کيږي.

٥ـ چې د دې ځاى په غټ مسجد کې يې خلک جمع سي نو په مسجد کې نه ځاييږي.

٦ـ چې په هغه کې کوڅې او بازار وي چې د ضرورت په وخت کې خلک ورته رجوع کوي له دې څخه علاوه نور تعريفونه هم د فقهاوو څخه منقول دي خو محققين علماء فرمايي، چې دغه ټول د ښار علامې دي چې هر مجتهد او فقيه د خپلې رايې مطابق بيان کړې دي حضرت شاه صاحب کشميري رحمه الله فرمايي، والحاصل ان تفسير المصر محول على العرف والله.

مفتي عزيز الرحمن صاحب رحمه الله فرمايي، د دوو زرو په ابادۍ کې جمعه که دواړه کلي په عرف کې يو شمېرل کېدي او ټوله ابادي د دواړو کلو دوه زره وه او غټ کلي ګڼل کېدئ نو هلته جمعه صحيح ده کما في الشامي: وتقع فرضًا في القصبات والقرى الكبير التي فيها اسواق. (فتاوى دار العلوم ديوبند:٥/ ٥٦). والله تعالى اعلم.

که په غټ کلي او محل کي د مسلمانانو ابادي کمه وي نو د جمعې کولو حکم

سوال: داحنافو د مذهب مطابق که په غټ ښار او یا محل کي د غیر مسلمو ابادي زیاته وي او مسلمانان ډیر لږ وي نو جمعه واجب ده او که نه؟

الجواب: په پورتنی صورت کي په غټ ښار او یا کلي کي چیري چي د جمعې شرائط موجود وي نو جمعه کول فرض او ضروري دي که څه هم د مسلمانانو ابادي کمه وي ځکه داحنافو په اند د څلورو ښځو افرادو موجودېدل ضروري نه دي.

وګورئ په البحر الرائق کي راځي:

قوله: والجماعة وهم ثلاثة أي شرط صحتها أن يصلي مع الإمام ثلاثة فأكثر لإجماع العلماء على أنه لا بد فيها من الجماعة كما في البدائع، وإنما اختلفوا في مقدارها فما ذكره المصنف رحمه الله قول أبي حنيفة رحمه الله ومحمد رحمه الله وقال أبو يوسف رحمه الله: اثنان سوى الإمام؛ لأنهما مع الإمام ثلاثة، وهي جمع مطلق؛ ولهذا يتقدمهما الإمام ويصطفان خلفه، ولهما أن الجمع المطلق شرط انعقاد الجمعة في حق كل واحد منهم وشرط جواز صلاة كل واحد منهم ينبغي أن يكون سواه فيحصل هذا الشرط ثم يصلي، ولا يحصل هذا الشرط إلا إذا كان سوى الإمام ثلاثة. (البحر الرائق:۲/ ۱۵۰، باب صلاة الجمعة، الماجدية – وكذا فى الشامى:۲/ ۱۵۱، باب الجمعة، سعيد، وحاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح:ص ۵۱۱، قديمى).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

په کوم کلي کي چي د جمعې شرائط موجود وي هلته دا ضروري نه ده چي د مسلمانانو اکثریت به وي بلکي که څلور پنځه مسلمانان وي هم ورته د جمعې کولو حق حاصل دئ هغوی ته په کار ده چي جمعه اداء کړي.(فتاوی محمودیه:۸/ ٤٦، باب صلاة الجمعة).

همدا ډول وګورئ: (فتاوی دار العلوم دیوبند:۵/ ٦۵/ ۱۰۹). والله تعالی اعلم.

په محبس کي د جمعې د اداء کولو حکم

سوال: ايا په محبس کي د جمعې لمونځ کېدای سي؟

الجواب: که د حکومت له لوري ممانعت نه وي بلکي اجازه وي نو جمعه کولای سي پاته سو، د عامو خلکو پر ورتللو پابندي هغه انتظامي پابندي ده د جمعې څخه د منع کولو له پاره نه ده لکه د يوې کلا دروازه د دښمنيو او يا د مخکنی عادت له امله بنده وي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

والسابع الإذن العام...... فلا يضر غلق باب القلعة لعدو أو لعادة قديمة لأن الإذن العام مقرر لأهله وغلقه لمنع العدو لا لمصلي...... وفي الشامية: والذي يضر إنما هو منع المصلين لامنع العدو. (الدر المختار مع الشامي:۲/ ۱۵۲، باب الجمعة، سعيد کمپني – وکذا في مراقي الفلاح مع حاشية الطحطاوي:ص ۵۱۰، باب الجمعة، قديمي). همدا ډول وګورئ: (فتاوی محموديه:۸/ ۱۸۳، مبوب ومرتب، جامعة فاروقيه – واحسن الفتاوی:۴/ ۱۱۲). والله ﷻ اعلم.

په فيکټري او کارخانه کي د جمعې کولو حکم

سوال: کارخانې چي دباندي خلک نه سي ورتلای د جمعې کولو حکم څه دئ؟ همدا ډول په مکتبونو او پوهنتونو کي هم دغه کيفيت دئ نو د جمعې کولو حکم به يې څه وي؟

الجواب: په پورتني صورت کي په کارخانو مکتبونو او پوهنتونو وغيره کي چي په داسي ښار کي وي چي هلته د جمعې شرائط پوره وي يا د ښار په پناه کي وي نو په هغو ټولو کي جمعه قائمول درست دي او له دباندي څخه د خلکو نه راتګ مانع نه دئ.

وګورئ په درمختار کي راځي:

والسابع الإذن العام...... فلا يضر غلق باب القلعة لعدو أو لعادة قديمة لأن الإذن العام مقرر لأهله وغلقه لمنع العدو لا لمصلي...... وفي الشامية: والذي يضر إنما هو منع

المصلين لامنع العدو. (الدر المختار مع الشامی:۲/ ۱۵۲، باب الجمعة، سعید کمپنی – وکذا فی مراقی الفلاح مع حاشية الطحطاوی:ص ۵۱۰، باب الجمعة، قدیمی).

همدارنګه وګورئ:

فلو دخل أمير حصناً أو قصره وأغلق بابه وصلى بأصحابه لم تنعقد...... وفی الشامية: قلت: وينبغي أن يكون محل النزاع ما إذا كانت لا تقام إلا في محل واحد، أما لو تعدد فلا لأنه لا يتحقق التفويت كما أفاده التعليل تأمل (قوله لم تنعقد) يحمل على ما إذا منع الناس فلا يضر إغلاقه لمنع عدو أو لعادة كما مرط. قلت ويؤيده قول الكافي وأجلس البوابين الخ فتأمل. (الدر المختار مع الشامی:۲/ ۱۵۲، باب الجمعة، سعید).

په احسن الفتاوی کي ليکي:

په کار خانه کي د جمعې کول: دلته د غلو څخه حفاظت مقصد وي د لمونځ کونکو منع کول مقصد نه وي او دباندي خلک په نورو مسجدونو کي جمعه کولای سي لهذا که اذان عام نه وي جمعې ته ضرر نه رسوي د جمعې لمونځ پکښي صحيح دئ. (احسن الفتاوی:٤/ ۱۲۰، باب الجمعه). **همدا ډول ګورئ:** (امداد الفتاوی:۱/ ٦۱۱، او فتاوی دار العلوم ديوبند:۵/ ۹۷) والله ﷻ اعلم.

په پارک کي د جمعې کولو حکم

سوال: موږ د جمعې لمونځ په يوه پارک وکړ چي د ګراهمستون له ابادی څخه تقريبا څلوېښت کېلو متره ليري دئ په هغه پارک کي مسجد نه سته، البته د جماعت کولو له پاره ځای پکښي سته چي تقريبا اتيا (۸۰) کسان پکښي ځايېږي په دغه پارک کي تقريباً پنځلس مزدوران او سيږي ايا په دغه پارک کي زموږ د جمعې لمونځ درست دي او که نه؟ چي په عامه توګه دلته د جمعې لمونځ نه کيږي؟

الجواب: داحنافو د مذهب مطابق د جمعې د صحت له پاره ښار یا غټه محله شرط ده هر ځای جمعه صحیح نه ده، په پورتنی صورت کې دا شرط موجود نه دئ بلکې په اطرافو کې یې هم کوم ښار نه سته، لهذا په دغه پارک کې د جمعې لمونځ نه دئ صحیح سوي.

وګورئ په مصنف ابن ابی شیبه کې راځي:

عن أبي عبد الرحمن، قال: قال علي رضي الله عنه: لا جمعة، ولا تشريق إلا في مصر جامع. عن الحارث، عن علي رضي الله عنه، قال: لا جمعة، ولا تشريق، ولا صلاة فطر، ولا أضحى، إلا في مصر جامع، أو مدينة عظيمة. (مصنف ابن ابی شیبة:٤/ ٤٦، کتاب الصلاة، من قال لاجمعة. .....).

وفي الهداية: لاتجوز في القرى. (الهداية:١/ ١٦٨).

په فتاوی شامي کې راځي:

عن أبي حنيفة رحمه الله أنه بلدة كبيرة فيها سكك وأسواق ولها رساتيق وفيها وال يقدر على إنصاف المظلوم من الظالم بحشمته وعلمه أو علم غيره يرجع الناس إليه فيما يقع من الحوادث وهذا هو الأصح. (شامی:٢/ ١٣٧، باب الجمعة، سعید).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کې راځي:

چیرې چې ښځې ابادي موجوده نه وي او هغه ځای کومې غټې ابادی ته نژدې هم نه وي هلته بالاتفاق جمعه درسته نه ده. (فتاوی دار العلوم دیوبند:٥/ ٥٨) او همدا ډول وګورئ: (فتاوی محمودیه:٨/ ١٤٤). والله تعالیٰ اعلم.

د زوال څخه مخکي د جمعې کولو حکم

سوال: په امریکه کي په ځينو مسجدونو کي د جمعې لمونځ د زوال څخه مخکي کيږي ايا دغه د کوم مذهب سره مطابق دي او يا د بل مذهب خاوندان ورپسي اقتداء کولای سي؟

الجواب: د احنافو د مذهب مطابق او همدا ډول د حنابله وو پرته د نورو مذاهبو مطابق د جمعې لمونځ قبل الزوال درست نه دئ او د حنابله وو په اند هم افضل دا دي چي بعد الزوال وسي که يې حنابله قبل الزوال اداء کوي نو د نورو مذاهبو خاوندان ورپسي اقتداء کولای نه سي.

په الفقه الاسلامي کي راځي:

شروط صحة الجمعة: (١) وقت بالظهر .... ولا تصح عند الجمهور غير الحنابلة قبله، أي قبل وقت الزوال، بدليل مواظبة النبي ﷺ على صلاة الجمعة إذا زالت الشمس، قال أنس رضي الله عنه: «كان رسول الله ﷺ يصلي الجمعة حين تميل الشمس» وعلى ذلك جرى الخلفاء الراشدون رضي الله عنهم فمن بعدهم، ولأن الجمعة والظهر فرضا وقت واحد، فلم يختلف وقتهما، كصلاة الحضر وصلاة السفر وقال الحنابلة: يجوز اداء الجمعة قبل الزوال ...... وفعلها بعد الزوال أفضل. (الفقه الاسلامی وأدلته:٢/ ٢٧٢، دار الفكر – وكذا فی الفقه علی مذاهب الاربعة:١/ ٣٧٥، وقت الجمعة – ومنتهی الارادات مع شرحه:٢/ ١٢ – والمغنی لابن قدامة:٣/ ١٥٩).

په درمختار کي راځي:

وإنما تفسد لمخالفته فی الفروض وفی الشامی: وفی البحر المخالفة فيما هومن الأركان أو الشروط مفسدة لافی غيرها .(الدر المختار مع الشامی:١/ ٤٧٢، المراد بالمجتهد فيه، سيعد كمپنی).

که په يوه مسجد کي بدعات کيږي هلته د جمعې کولو حکم

سوال: يو څوک په داسي مسجد کي د جمعې له پاره کښېناستی چيري چي بدعات کيږي نو ايا په دغه مسجد کي د جمعې لمونځ کول صحيح دي او که نه؟

الجواب: په پورتنی صورت کي یې د جمعې لمونځ اداء کيږي د جمعې د پرېښودلو له پاره دغه عذر د قبول ور نه دئ البته افضله او ښه دا ده چي په بل داسي مسجد کي چي هلته بدعات او خرافات نه وي جمعه اداء کړل سي.

وګورئ په مراقي الفلاح کي راځي:

وإذا تعذر منعه ينتقل عنه إلى غير للجمعة وغيرها وإن لـم يقم الجمعة إلا هو تصلى معه.

(مراقی الفلاح:ص ۱۱۳، فصل فی الاحق بالامامة، مکة المکرمة).

په فتاوی هندیه کي راځي:

الفاسق إذا كان يؤم يوم الجمعة وعجز القوم عن منعه قال بعضهم يقتدى به في الجمعة ولا تترك الجمعة بإمامته . (الفتاوى الهندية:١/ ٨٦، من يصلح اماما لغيره).

وأيضًا: قال المرغيناني: تجوز الصلاة خلف صاحب هوًى وبدعة وحاصله إن كان هوًى لا يكفر به صاحبه تجوز الصلاة خلفه مع الكراهة وإلا فلا . هكذا في التبيين والخلاصة.

(الفتاوى الهندية:١/ ٨٦، من يصلح اماما لغيره). همدا رول وګورئ: (فتاوی رحمية:١/ ١٦٥). والله اعلم.

د جمعې لمونځ په جامع مسجد کي اداء کول ښه دي؟

سوال: په جامع مسجد کي د جمعې اداء کول زيات ثواب لري او که په کوچني مسجد يا جماعت خانه کي؟

الجواب: په جامع مسجد کي يې کول افضل او بهتر دي خو که يې د خپلي محلي په مسجد کي د جمعې لمونځ کيږي نو هلته يې هم اداء کول صحيح او درست دي.

وګورئ ملا علي القاري د مشکوة په شرح کي د يوه حديث لاندي ليکي:

« قال رسول الله ﷺ صلاة الرجل فی بيته بصلاة أی تحسب بصلاة واحد وصلاته فی مسجد القبائل بخمس وعشرين صلاة أی بالإضافة إلی صلاة فی بيته لامطلقًا وصلاته فی

المسجد الذی یجمع فیه بخمس مائة صلاة أی بالنسبة إلی مسجد الحی.....» (مرقات شرح مشکاة:۲/ ۲۲۸).

یعني نبي کریم ﷺ فرمایي، چي دیو چا لمونځ په خپل کور کي یو لمونځ دئ یعنی یو لمونځ حسابیږي او د محلي په مسجد کي پنځویشت لمنځونه دي یعنی د کور د لمانځه په مقابل کي او په جامع مسجد کي یې لمونځ په پنځوس دئ یعنی د ماقبل په نسبت نو که په یو ځای کي په جامع مسجد کي په اتفاق سره ټول ښاریان د جمعې لمونځ کوي نو په دې کي ډیر ښیګنې سته یو خو د امامانو له اختلاف څخه وژغورل سي او په غټ جماعت سره د لمانځه کولو ثواب به مومي او په خپل منځ کي به یې اتفاق او اتحاد زیات سي او د اسلام شوکت به زیات سي چا چي په دغه کار کي کوښښ کړی وي ثواب به مومي. د تفصیل له پاره وګورئ: (مجموعة الفتاوی:۱/ ۳۳۱). همدا ډول وګورئ: (فتاوی رحیمیه:۳/ ٦٦، او فتاوی دار العلوم دیوبند:۵/ ۱٦۲). والله تعالی اعلم.

د جمعې د اول اذان څخه وروسته د خوراک، څښاک او یا دوکان خلاصولو حکم

سوال: د جمعې له اول اذان څخه وروسته خوراک، څښاک یا دوکان خلاصول روا دي او که نه؟ په دغه کي د امام طحاوی مسلک څه دئ؟ او پر هغه یو چا فتوی ورکړی ده او که نه؟

الجواب: اکثره فقهاء دا وایي، چي د اول اذان څخه وروسته به هر ډول معاملي پرېږدي مګر امام طحاوی او صاحب د فتاوی عتابي وغیره دوهم اذان د معاملاتو د پرېښودلو له پاره معتبر ګڼلي دي احتیاط په لومړی قول کي دئ او د ضرورت په وخت کي په دوهم قول سره هم د عمل کولو ګنجائش سته.

وګورئ په عمدة القاري کي راځي:

وقال صاحب (الهدایة: قیل: المعتبر في وجوب السعي وحرمة البیع هو الأذان الأصلي الذي کان علی عهد النبي ﷺ بین یدي المنبر، قلت: هو مذهب الطحاوي فإنه قال: هو المعتبر في وجوب السعي إلی الجمعة علی المکلف، وفي حرمة البیع والشراء، وفي فتاوی

العتابي: هو المختار وبه قال الشافعي رحمه الله وأحمد رحمه الله وأكثر فقهاء الأمصار، ونص في المرغيناني رحمه الله: أنه الصحيح. (عمدة القاري شرح البخاري: ٥/ ٦٢-٦٣، باب المشي الى الجمعة، دار الحديث ملتان – وكذا في الدر المختار: ٢/ ١٦١، باب الجمعة، ...) والله تعالى اعلم.

د دوهم اذان د جواب ورکولو حکم

سوال: د جمعې په ورځ چې دوهم اذان د خطيب په وړاندې کيږي د هغه جواب بايد ورکول سي او که نه؟

الجواب: له صحيحو احاديثو څخه معلوميږي چې د مطلق اذان جواب ورکول سنت دي او د جمعې دوهم اذان هم په اذان کېدو کې برابر دئ لهذا جواب ورکول به يې سنت وي ځکه د دې خلاف کوم نص موجود نه دئ چې له امله يې ممانعت ثابت سي او د خطبې اوريدل خو واجب دي مګر تر اوسه شروع سوي نه ده، بيا به يې نو اوريدل څنګه واجب وي؟ په عامه توګه چې فقهاء کوم روايت نقل کوي «اذا خرج الامام فلا صلاة ولا كلام» دا پر حضرت علي رضي الله عنه حضرت ابن عباس رضي الله عنه او حضرت ابن عمر رضي الله عنهما موقوف دئ او علامه شامي رحمه الله ليکي چې د صحابي په قول عمل کول واجب دي چې سنت يې نفی ونه کړي، «ان قول الصحابی حجة يجب تقليده عندنا اذا لم ينفه شئ اخر من السنة»، او په دغه مسئله کې مرفوع روايات هم موجود دي همدا ډول د جليل القدر صحابي حضرت معاويه رضي الله عنه د روايت څخه هم د دوهم اذان جواب ورکول ثابتيږي، د دې پر خلاف يوازې پته خوله کېدل او جواب نه ورکول کوم ثبوت نه لري.

وګورئ په بخاري شريف کې راځي:

عن أبي أمامة بن سهل بن حنيف رضي الله عنه قال: سمعت معاوية بن أبي سفيان رضي الله عنه وهو جالسعلى المنبر أذن المؤذن قال الله أكبر الله أكبر، قال معاوية رضي الله عنه: الله أكبر الله، أكبر قال: أشهد أن لا إله إلا الله، فقال معاوية رضي الله عنه: وأنا، فقال: أشهد أن محمدًا رسول الله فقال معاوية

ﷺ وأنا، فلما أن قضى التأذين قال: يا أيها الناس إني سمعت رسول الله ﷺ على هذا المجلس حين أذن المؤذن يقول ما سمعتم مني من مقالتي. (رواه البخارى:١/ ١٢٥/ ٩٠٤، باب يجيب الامام على المنبر اذا سمع النداء، فيصل).

له نورو عمومي احاديثو څخه يې جواب ورکول ثابت دي.

وګورئ په بخاري شريف کي راځي:

عن ابن شهاب ، عن عطاء بن يزيد الليثي ، عن أبي سعيد ﷺ الخدري أن رسول الله ﷺ قال : « إذا سمعتم النداء فقولوا مثل ما يقول المؤذن ». (رواه البخارى:١/ ٨٦/ ٦٠٣، باب مايقول اذا سمع المنادى – ومسلم:١/ ١٦٦، باب استحباب القول مثل قول المؤذن لمن سمعه – والترمذى:١/ ٥١، باب مايقول اذا اذن المؤذن– وابن ماجة:ص ٥٣، باب مايقل اذا اذن المؤذن).

په فتاوى شامي کي راځي:

قوله إذا خرج الإمام هذا حديث ذكره في الهداية مرفوعًا لكن في الفتح أن رفعه غريب والمعروف كونه من كلام الزهري، وأخرج ابن أبي شيبة في مصنفه عن علي ﷺ وابن عباس ﷺ وابن عمر ﷺ: كانوا يكرهون الصلاة والكلام بعد خروج الإمام. والحاصل أن قول الصحابي حجة يجب تقليده عندنا إذا لم ينفه شيء آخر من السنة . (شامى:٢/ ١٥٨، باب صلاة الجمعة، سعيد).

که حديث مرفوع ومنل سي بيا هم په هغه کي دنيايې خبري منع دي نه ديني خبري او د اذان جواب ورکول په ديني خبرو کي شامل دي.

وګورئ علامه طحطحاوي رحمه الله فرمايي:

وفي البحر عن العناية والنهاية اختلف المشايخ على قول الإمام في الكلام قبل الخطبة فقيل: إنما يكره ما كان من جنس كلام الناس أما التسبيح ونحوه فلا وقيل: ذلك مكروه والأول

أصح . ومن ثمة قال في البرهان: وخروجه قاطع للكلام أي كلام الناس عند الإمام فعلم بهذا انه لا خلاف بينهم في جواز غير الدنيوي على الأصح . ويحمل الكلام الوارد في الأثر على الدنيوي ويشهد له ما أخرجه البخاري أن معاوية ﷺ أجاب المؤذن بين يديه. (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح:ص ٥١٨، باب صلاة الجمعة، قديمى).

علامه للكهنوي رحمه الله ليكلي دي چي د دوهم اذان جواب وركول صحيح دئ ځکه دنيايي خبري مكروه دي ديني خبري مكروه نه دي.

وګورئ په فتاوی لکهنوي کي راځي:

قال بعضهم: إنما يكره الكلام الذى هو من كلام الناس، وأما التسبيح واتباعه فلا، قال بعضهم: كل ذلک، والأول أصح، كذا فى مبسوط فخر الإسلام، وقال فى العون: المراد بالكلام إجابة المؤذن وأما غيره من الكلام فيكره إجماعًا، انتهى. وقال البرجندى: ذكر فى المصفى عن العون: أن المراد بالكلام فى هذين الوقتين أى بعد الفراغ من الخطبة قبل شروع الصلاة، وقبلها إجابة المؤذن أما غيره من الكلام فيكره إجماعًا، انتهى. (فتاوى اللكنوى:ص ٣٥٠، ما يتعلق بالجمعة، بيروت).

په معارف السنن کي راځي:

إنما يكره ما كان من كلام الناس، أما التسبيح ونحوه من إجابة المؤذن فلا يكره. (معارف السنن:٤/ ٣٤١، بحث جواب الاذان الذى بين يدى الخطيب، سعيد كمپنى).

په بل ځای کي راځي:

قال الشيخ: الأولى هو جواز الإجابة فإنه قد صرح فی حديث البخاری......(معارف السنن:٤/ ٣٨٣، سعيد). **همدا ډول وګورئ:** (حضرت مولانا قاضی محمد رحمت الله صاحب راندیری کا رساله: « العطر المعنبری فی حکم اجابة الاذان المنبری»). والله ﷻ اعلم.

که د جمعې د اذان څخه وروسته د سنتو موقع ونه موندل سي

سوال: د جمعې په ورځ د اذان او خطبې په منځ کي يوازي دومره وخت ور کول کيږي چي په هغه کي دوه رکعته وکړل سي بيا امام خطبه شروع کوي نو داحنافو د مذهب مطابق به څلور رکعته څنګه پوره کوي؟

الجواب: په پورتنی صورت کي که خطيب موقع ورنه کړي نو په لنډه توګه دي په قرائت سره څلور رکعته وکړي که د سنتو په منځ کي خطبه شروع سي نو د پوره کولو ګنجائش يې سته بايد مات يې نه کړي.

وګورئ په حاشيه الطحطاوي کي ليکي:

وأفاد أنه لا يكره الشروع قبل الخروج فيتم ما شرع فيه، ولو خطب الإمام من غير كراهة مطلقًا، إلا إذا كان في نفل فإنه يتم شفعًا، ثم يقطع ولو كان خروجه بعد القيام للثالثة أتم أيضًا لأنه وجب عليه الشفع الثاني بالقيام إليه، واختلف في سنة الجمعة فقيل: يقطع على رأس الركعتين كالنفل المطلق، والصحيح أنه يتمها لأنه كصلاة واحدة واجبة بحر، ولكن يخفف القراءة در يعني بقدر الواجب لإدراك الواجب، وهل يترك تسبيح الركوع والسجود والصلاة على البشير النذير في القعود الأخير لأنها سنة والإستماع فرض بحرر. (حاشية الطحطاوی علی مراقی الفلاح:ص ٥١٨، قديمی). **همدا ډول وګورئ:** (الدر المختار:٢/ ١٥٩، سعيد کمپنی – والبحر الرائق:٢/ ١٥٥ – وفتاوی محموديه:٨/ ٢٧٧، مبوب ومرتب، جامعه فاروقيه – واحسن الفتاوی:٤/ ١٢١). والله اعلم.

خطیب چي منبر ته وخیږي د سلام کولو حکم

سوال: خطیب چي منبر ته خیږي سلام کول څنګه دي؟

الجواب: په عامه توګه فقهي عبارتونه پر دې خبره دلالت کوي چي خطیب دي له خطبې څخه مخکي سلام نه کوي مګر په احادیثو کي یې یادونه سته، لهذا د روا والي څخه یې انکار کول ښه نه دئ، البته که د فتنې بېره وه نو پرېښودل یې اولی دي او که نه د خطیب سلام کول ښه دي.

په اعلاء السنن کي راځي:

عن جابر بن عبد الله رضي الله عنه « أن النبى ﷺ كان إذا صعد المنبر سلم» رواه ابن ماجة: ص ٧٩، روجاله ثقات الا ابن لهيعة مختلف فيه حسن الحديث، وقد صححه السيوطى فى الجامع الصغير(٢/ ٩٣).

وعن ابن عمر رضي الله عنه قال: كان رسول الله ﷺ إذا داخل المسجد يوم الجمعة سلم على من عند منبره من الجلوس، فإذا صعد المنبر يوجه إلى الناس فسم عليهم. رواه الطبرانى فى الاوسط: (مجمع الزوائد: ١/ ٢١٥، دار الفكر).

قال المؤلف رحمه الله: وفى مجمع الزوائد: أيضًا وفيه عيسى بن عبد الله الأنصارى وهو ضعيف ذكره ابن حبان فى الثقات ولكن فى التلخيص الحبير (١/ ١٣٦): أورده ابن عدى فى ترجمة عيسى بن عبد الله الأنصارى وضعفه...... فالحديث ضعيف، ولكن مجموع أحاديث الباب يدل على أن الحديث له أصل، وهذا الطرق يقوى بعضها بعضًا، ودلالته على الباب ظاهرة، وكذا دلالة المراسيل أيضًا عليه. وفى البحر الرائق (٢/ ١٦٨): فاستفيد منه (اى من قول البدائع) أنه لايسلم إذا صعد المنبر وروى أنه يسلم كما فى السراج الوهاج، قلت: والمختار عندى للأحاديث المذكورة القول بمشروعيته، وبالله التوفيق. (اعلاء السنن: ٨/ ٨٢/ ٢٠٦٧، سلام الخطيب على المنبر).

په فتاوی شامي کي راځي:

قوله وترك السلام ومن الغريب ما في السراج أنه يستحب للإمام إذا صعد المنبر وأقبل على الناس أن يسلم عليهم لأنه استدبرهم في صعوده اه بحر. قلت: وعبارته في الجوهرة ويروى أنه لا بأس به لأنه استدبرهم في صعوده.(شامی:٢/ ١٥٠، باب صلاة الجمعة، سعيد). والله ﷻ اعلم.

كه درايت له روايت سره موافق وو په هغه باندي بايد عمل وكړل سي

سوال: حنفي فقهاوو دا مسئله ليكلي ده او كه نه چي كومه مسئله چي د حديث موافق وي نو هغه بايد د فتوى له پاره اختيار كړل سي؟ مثلاً په پورتنى مسئله كي پر منبر د خطيب سلام كول؟

الجواب: د فقهاوو له تحريراتو څخه دا مسئله معلوميږي چي كله چي يوه فقهي مسئله له حديث سره برابره وي نو له هغه څخه بايد عدول ونه سي، يعني د فتوى له پاره همدغه روايت اختيار سي.

په فتاوى شامي كي ليكي:

قال في شرح المنية: و لا ينبغي أن يعدل عن الدراية إذا وافقتها رواية على ما تقدم عن فتاوى قاضيخان، ومثله ما ذكر في القنية من قوله: وقد شدد القاضي الصدر في شرحه في تعديل الأركان جميعها تشديدًا بليغًا فقال: وإكمال كل ركن واجب عند أبي حنيفة رحمه الله ومحمد رحمه الله. وعند أبي يوسف رحمه الله والشافعي رحمه الله فريضة، فيمكث في الركوع والسجود وفي القومة بينهما حتى يطمئن كل عضو منه، هذا هو الواجب عند أبي حنيفة رحمه الله ومحمد رحمه الله حتى لو تركها أو شيئًا منها ساهيًا يلزمه السهو ولو عمدًا يكره أشد الكراهة ...... والحاصل أن الأصح رواية ودراية وجوب تعديل الأركان وأما القومة والجلسة وتعديلهما فالمشهور في المذهب السنية وروي وجوبها وهو الموافق للأدلة وعليه الكمال ومن بعده من المتأخرين وقد علمت قول تلميذه إنه الصواب. (شامی:١/ ٤٦٤، مطلب لاينبغى ان يعدل عن الدراية اذا وافقتها رواية، سعيد).

څو مثالونه یې وګورئ:

١_ په تشهده کې په مسبحه ګوته اشاره کول:

په دغه مسئله کې د حنفي فقهاوو دوه قولونه دي خو راجح یې دا دي چې اشاره به کوي ځکه په حدیث سره ثابته ده امام محمد رحمه الله فرمایي:

أخبرنا مالک أنا مسلم بن أبی مریم عن علی بن عبد الرحمن المعاوی أنه قال: رأنی عبد الله بن عمرو أنا أعبث بالحصی فی الصلاة، فلما انصرف نهانی وقال: اصنع کما کان رسول الله ﷺ یصنع، فقلت: کیف کان رسول الله ﷺ یصنع قال: کان رسول الله ﷺ إذا جلس فی الصلاة وضع کفه الیمنی علی فخذه الیمنی وقبض أصابعه کلها وأشار بأصبعه التی تلی الإبهام ووضع کفه الیسری علی فخذه الیسری قال محمد رحمه الله: وبصنیع رسول الله ﷺ نأخذ وهو قول أبی حنیفة رحمه الله. (مؤطا للامام محمد:ص ١٠٨).

وقال الشامی رحمه الله: وهذا ما اعتمده المتأخرون لثبوته عن النبی ﷺ بالأحادیث الصحیحة، ولصحة نقله عن الأئمة الثلاثة. (شامی:١/ ٥٠٩، سعید – وکذا فی مراقی الفلاح مع حاشیة الطحطاوی:ص ٢٦٩، قدیمی – وامداد الفتاح:ص ٢٩٩، بیروت).

٢_ په لمر سره ګرمو سوه اوبو اودس کولو کې دوه قوله دي علامه تمر تاشي رحمه الله او علامه حصکفي رحمه الله فرمایي، چې بیله کراهته روا دي خو علامه شامي رحمه الله وایي، چې معمتد قول د کراهت دئ ځکه په حدیث کې راغلی دي:

أقول: وقدمنا في مندوبات الوضوء عن الإمداد أن منها أن لا یکون بماء مشمس، وبه صرح في الحلیة مستدلًا بما صح عن عمر رضي الله عنه من النهي عنه، ولذا صرح في الفتح بکراهته، ومثله في البحر. وقال في معراج الدرایة وفي القنیة: وتکره الطهارة بالمشمس لقوله ﷺ لعائشة رضي الله عنها

حين سخنت الماء بالشمس «لا تفعلي يا حميراء فإنه يورث البرص»...... فقد علمت أن المعتمد الكراهة عندنا لصحة الأثر. (شامي:١/ ١٨٠، باب المياه، سعيد).

روښانه دي وي چي د ماء مشمس حديث ضعيف دئ محدثينو ورباندي سخت كلام كړى دئ علامه نووي رحمه الله فرمايي:

وهذا الحديث ضعيف باتفاق المحدثين وقد رواه البيهقى من طرق وبين ضعفها كلها.(شرح المهذب:١/ ٨٧، كتاب الطهارة، دار الفكر).

علامه لكهنوى رحمه الله هم ورباندي كلام كړى دئ وګورئ:

قلت: الحديث المذكور لايحتج به، فقد رواه أبو نعيم فى الطب عن عائشة رضي الله عنها وقال: فى إسناده خالد بن إسماعيل لايحتج به. وقال الدار قطنى: متروك، ورواه الدار قطنى من طريق آخر فيها الهيثم بن عدى كذاب . وأخرجه ابن حبان من طريق فيها وهب بن وهب وهو كذاب، وله طرق لايخلو من كذاب أو مجهول. (فتاوى اللكنوى:ص ٦٠، باب مايجوزبه التوضؤ ومالايجوزبه، بيروت).

٣_ خطيب چي پر منبر سلام كوي د فقهي د كتابونو له عباراتو ښخه معلوميږي چي سلام دي نه كوي، البته حضرت مولانا ظفر احمد تهانوي رحمه الله فرمايي، په احاديثو كي يې ثبوت سته لهذا د مشروعيت قول زما په اند مختاره دئ.

په اعلاء السنن كي راځي:

قلت: والمختار عندى للأحاديث المذكورة القول بمشروعيته، وبا لله التوفيق. (اعلاء السنن:٨/ ٨٢/ ٢٠٦٧، باب سلام الخطيب على المنبر).

٤_ د نفلو جماعت مكروه دئ مګر كه بېله تداعى وي نو مكروه نه دئ بيا د تداعى په تفسير كي مختلف اقوال دي همدا ډول فقهاء ليكلي دي چي كه ښلور كسان وي نو بالاتفاق مكروه دي خو

حضرت تهانوي رحمه الله دې خبرې ته ترجيح ورکړې ده چې اصلي شی د خلکو په اهتمام سره رابلل دي که يې د رابللو اهتمام ونه کړل او همداسې جمع سوه نو کراهت نه سته، ځکه له احاديثو سره موافقه ده، د حضرت عتبان بن مالک رحمه الله په کور کې صحابه کرامو په نبي کريم ﷺ پسې نفلي لمونځ په جماعت سره کړی دئ خو ځنګه چې اتفاقاً جمع سوي وه ځکه نو مکروه نه دي.

په اعلاء السنن کې راځي:

قلت: وتفسير التداعى بالاهتمام والمواظبة أولى من تفسيرها بالعدد والكثرة كما لايخفى. (اعلاء السنن:٧/ ٩٣، حكم الجماعة بالتداعى فى غير المكتوبة، ادارة القرآن). والله تعالى اعلم.

دُ خطيب په وړاندې د ترقيي حکم

سوال: مؤذن چې خطيب ته د لکړې ورکولو څخه مخکې په لوړ اواز درود وايي او حاضرينو ته ترغيب ورکوی د دې حکم څه دئ؟

الجواب: په پورتنی صورت کې د مؤذن له پاره داسې کول درست نه دي دا طريقه نه د صحابه کرامو په زمانه کې وه او نه د تابعينو په زمانه کې او نه د سلفو څخه داسې کول منقول دي، لهذا په شريعت کې بنه نه ده بلکې پرېښودل يې اولی دي.

په الفقه على المذاهب الاربعه کې راځي:

ابتدع بعض الناس أن يتكلموا بين يدي الخطيب بقوله تعالى: ﴿ إن الله وملائكته يصلون على النبي ﴾ الآية، ويزيدون عليها أنشودة طويلة، ثم إذا فرغ المؤذن الذي يؤذن بين يديه يقول: « إذا قلت لصاحبك والإمام يخطب يوم الجمعة : أنصت فقد لغوت » الحديث، ثم يقول بعد ذلك : أنصتوا تؤجروا، وكل هذا بدعة لا داعي إليها ولا لزوم لها خصوصًا ما يعلنه ذلك المؤذن من الجهل بمعنى الحديث لأنه يأمر بالانصات وعدم الكلام، ثم يتكلم هو بعده بقوله : أنصتوا...... . وعلى كل حال فالترقية بهذه الكيفية بدعة مكروهة فى نظر الحنيفة وتركها أحوط على كل حال. المالكية قالوا : الترقية بدعة مكروهة لا يجوز فعلها . (الفقه

على مذاهب الاربعة:١/ ٣٩٧، الترقيه بين يدى الخطيب، دار الفكر). **همدا ډول وګورئ:** (الفقه الاسلامى وادلته:٢/ ٢٩٦، الترقية بين يدى الخطيب « وهى بدعة مكروهة» دار الفكر - والدر المختار مع ردالمحتار:٢/ ١٦٠، فى حكم الرقى بين يدى الخطيب، سعيد - والبحر الرائق:٢/ ١٥٦، باب صلاة الجمعة، الماجدية - وفتاوى اللكنوى:ص ٣٦٧، ما يتعلق بالجمعة، بيروت). والله ﷻ اعلم.

خطيب چي د خطبې په دوران کي راسته او چپه لوري ته ګورئ د هغه حکم

سوال: خطيب چي کله خطبه وايي مخامخ به ګورئ او که راسته او چپه لوري ته هم کتلای سي؟

الجواب: خطيب چي خطبه وايي، په دغه وخت کي مخامخ متوجه کېدل سنت دي راسته او چپه لوري ته کتل مکروه دي.

په حاشيه الطحطاوي کي ليکي:

ويكره التفاته يمينًا وشمالاً. (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح:ص ٥١٤، قديمى).

په فتاوى شامي کي راځي:

تنبيه: ما يفعله بعض الخطباء من تحويل الوجه جهة اليمين وجهة اليسار عند الصلاة على النبي ﷺ في الخطبة الثانية لم أر من ذكره والظاهر أنه بدعة ينبغي تركه لئلا يتوهم أنه سنة ثم رأيت في منهاج النووي قال: ولا يلتفت يمينًا وشمالًا في شيء منها قال ابن حجر رحمه الله في شرحه: لأن ذلك بدعة، ويؤخذ ذلك عندنا من قول البدائع ومن السنة أن يستقبل الناس بوجهه ويستدبر القبلة لأن النبي ﷺ كان يخطب هكذا. (شامى:٢/ ٩، باب صلاة الجمعة، سعيد - وكذا فى الفقه الاسلامى وادلته:٢/ ٢٩١، سنن الخطبة وكروهاتها، دار الفكر).

همدا ډول وګورئ: (فتاوى رحيميه:١/ ٢٦٣). والله ﷻ اعلم.

خطیب ته د خطبې په وخت کې لاسونه پورته کول او دعاء کول

سوال: د جمعې او اخترونو په لمنځونو کې په خطبه کې خطیبان دعاوي کوي نو ایا د سامعینو له پاره لاسونه پورته کول او دعاء کول روا دي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کې بېله لاس پورته کولو په زړه کې آمین ویل روا او درست دي، البته لاسونه پورته کول او په زوره امین ویل مکروه تحریمي دئ.

وګورئ په فتاوی شامي کې راځي:

وقال البقالي في مختصره: وإذا شرع في الدعاء لا يجوز للقوم رفع اليدين ولا تأمين باللسان جهرًا فإن فعلوا ذلك أثموا وقيل: أساؤوا ولا إثم عليهم والصحيح هو الأول وعليه الفتوى.

(شامی:٢/ ١٧٢، باب صلاة الجمعة، سعيد – وكذا فی الفتاوی الهندية:١/ ١٤٧ – والبحر الرائق:٢/ ١٥٥ – وفتح القدير:٢/ ٦٧ – ومجمع الإنهر:١/ ١٧١ – وحاشية الطحطاوی علی الدر المختار:١/ ٣٤٧).

په عمدة الفقه کې راځي:

چې کله خطیب په خطبه کې د مسلمانانو له پاره دعاء کوي نو د اورېدونکو له پاره لاس پورته کول یا په ژبه امین ویل روا نه دي، که داسې وکړي نو ګناه کار به وي همدغه صحیح ده او پر همدغه فتوی ده، بېله لاس پورته کولو په زړه کې دعاء غوښتلای سي یا امین ویلای سي. (عمدة الفقه: صـ ٤٥١).

والله ﷻ اعلم.

په خطبه کې یوازې د قرآن کریم پر ویلو اکفتاء کول

سوال: ځیني کسان د جمعې په ورځ په دواړو خطبو کې قرآن کریم وایي، مثلاً د سورة حجرات څخه برخه په لومړۍ خطبه کې او څه یې په دوهمه برخه کې وایي په شریعت کې یې څه حکم دئ؟

الجواب: په خطبه کې د قرآن ویل سنت دي، نبي کریم ﷺ معمول وو خو پر دغه دې اکتفاء نه کوي بلکې شهادتین دې وایي، او د مسلمانانو له پاره دې دعاء کوي پر نبي کریم ﷺ درود او د خلفاء راشدینو یادونه دې کوي پر دوی دې ترضی وایي، دا ټول شیان مستحب دي، همدا ډول دې د حضرت معاویه یادونه کوي ځکه څه کسان یې په هکله بد ګمانه دي لهذا د هغه یادونه دې هم وسي.

پہ مسلم شریف کي راځي:

عن عمرة بنت عبد الرحمن عن أخت لعمرة قالت: أخذت ق والقرآن المجيد من فى رسول الله ﷺ يوم الجمعة وهو يقرأ بها على المنبر فى كل جمعة. وفيه عن أم هشام بنت حارثة بن النعمان قالت: وما أخذت ق والقرآن المجيد إلا عن لسان رسول الله ﷺ يقرؤها كل يوم جمعة على المنبر إذا خطب الناس. (مسلم شريف:۱/ ۲۸٦).

پہ مراقی الفلاح کي راځي:

و يسن بداءته بحمد الله بعد التعوذ في نفسه سرًا والثناء عليه بما هو أهله سبحانه وتعالى والشهادتان والصلاة على النبي ﷺ والعظة بالزجر عن المعاصي والتخويف والتحذير مما يوجب مقت الله تعالى وعقابه سبحانه وتعالى والتذكير بما به النجاة وقراءة آية من القرآن لما روي أنه ﷺ قرأ في خطبته واتقوا يومًا ترجعون فيه إلى الله ...... و يسن الدعاء إعادة الحمد وإعادة الثناء وإعادة الصلاة على النبى ﷺ كائنة تلك الإعادة فى ابتداء الخطبة الثانية وذكر الخلفاء الراشدين رضي الله عنهم مستحسن بذلک جرى التوارث ويس الدعاء فيها أى الخطبة الثانية للمؤمنين والمؤمنات مكان الوعظ بالاستغفار لهم . (مراقى الفلاح مع نور الايضاح:ص ۱۹۳، باب الجمعة، مكة المكرمة).

همدا ډول وګورئ: (شامی:۲/ ۱٤۸، سعید - وامداد الفتاح:ص ٥٦٥، بیروت).

پہ خطبة الجمعه کي لیکي:

د قرآن ویل پہ خطبه کي سنت دي همدغه راجح قول دئ بیا نو د دې اندازه څومره ده؟ پہ دغه کي درې قوله دي داحنافو پہ اند دي لږ تر لږ درې لنډ ایاتونه او یو اوږد ایات ولولي. (خطبة الجمعه واحکامها الفقهیه:صـ ۱٤۱). او همدا ډول وګورئ: (احسن الفتاوی:٤/ ۱٤٦). والله تعالیٰ اعلم.

د خطبې په وخت کې په لاس کې د لکړې نیولو حکم

سوال: په شریعت کې د جمعې په ورځ د خطیب له پاره د لکړې اخیستلو حکم څه دئ واجب ده او که فرض او که سنت او ایا څوک چې لکړه نه اخلي هغه ته کافر ویل کېدای سي؟

الجواب: فقهاوو لیکلي دي که کوم ښار په توره سره فتح سوی وي نو امام ته په کار ده چې توره دې په راسته لاس کې واخلي پر هغه دې تکیه وکړي خطبه دې ووایي.

علامه شامي رحمة الله عليه یې حکمت داسې لیکي دئ:

أی بالسیف لیریهم أنها فتحت بالسیف فإذا رجعتم عن الإسلام فذلک باقی فی أیدی المسلمین یقاتلونکم حتی ترجعوا إلی الإسلام، درر. (شامی:۲/ ۱۶۲، سعید).

یعنی خلکو ته دې دا وښیي چې دغه ښار په توره فتح سوی دئ که تاسو اسلام پرېښود نو د مسلمانانو په لاس کې اوس هم توره سته ستاسو سره به جنګیږي او د اسلام لوري ته به مو راګرځوي او که کوم ښار یا مملکت د توري په زور فتح سوی نه وي بلکي په دعوت او تبلیغ یا صلح سره فتح سوی وي نو هلته دې پر لکړه خطبه وویل سي مګر دا کار نه فرض دئ نه واجب او نه سنت مؤکد بلکي یو مستحب عمل دئ په دې شرط چې د خلکو سره یې د فرضیت او یا لزوم عقیده اړوند نه وي که یې خلک ضروري وګنی نو بیا یې پرېښودل په کار دي علامه طیبي په شرح مشکاة کې لیکي: چې مستحب عمل له اصرار کولو څخه بدعت ګرځي بیا چې څوک لکړې پرېښودونکی ته کافر وایي هغه سخت ګناه کار دئ هغه باید توبه وکاږي یو مسلمان ته کافر ویل او یا کافر ګڼل سخته ګناه ده.

په امداد الاحکام کي راځي:

لکړه اخیستل مستحب ده خو که یې ضروري وګڼي او پرېښودونکی یې ملامت کړل سي نو د التزام مالایلزم له امله دې منع سي.

الدر: ویکره أن یتکیء علی قوس أو عصا. وفی الشامی: نقل القهستانی: عن المحیط أن أخذ العصا سنة کالقیام. (امداد الاحکام:۱/ ۷۵۹، کراچی).

خلاصه دا چي امام ته په کار ده چي اکثره وخت دي لکړه نه اخلي البته د عوامو د عقيدي د اصلاح څخه وروسته دي په مستحب سره په عمل کولو سره دي کله کله اخلي. والله ﷻ اعلم.

خطيب چي لکه جلسه خفيفه پريږدي

سوال: که کوم خطيب د جمعې په ورځ د دوارو خطبو په منځ کي جلسه خفيفه ونه کړي نو حکم يې څه دئ؟

الجواب: د دوارو خطبو تر منځ سپکه ناسته د احنافو د مذهب مطابق سنت ده لهذا خطبه خو به اداء سي مګر خلاف سنت او مکروه به وي.

په مراقي الفلاح کي داسي راغلی دي:

و يسن خطبتان للتوارث إلى وقتنا و يسن الجلوس بين الخطبتين جلسة خفيفة وظاهر الرواية مقدار ثلاث آيات. وفى الطحطاوى وهو المذهب رد، وتار كها مسىء فى الأصح لأنها سنة قهستانى لماروى أن النبى ﷺ كان يخطب قائماً خطبة واحدة فلما أسن جعلها خطبتين بينها جلسة خفيفة، وفيه دليل على أنها لإستراحة لاشرط. (مراقى الفلاح مع الطحطاوى. ص ٥١٦، قديمى – وكذا فى الدر المختار:٢/ ٢٤٨، سعيد – والفتاوى الهندية:١/ ١٤٧).

په فتاوی محموديه کي راځي:

د دوارو خطبو تر منځ نه کښيناستل خلاف سنت دي. (فتاوى محموديه:٨/ ٢٠١). والله ﷻ اعلم.

خطيب ته د فتحې ورکولو حکم

سوال: که کوم خطيب ايت کريمه غلط وايي نو لقمه ورکول درست دي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي که فاحشه غلطي وکړي نو ديوې پرچي ورليږلو په ذريعه دي د هغه اصلاح وکړي چي دغه فاحشه غلطي ليري سي که څه هم د خطبې په وخت کي هر راز خبري کول منع دي لکه په لمانځه کي چي هر راز خبري منع دي خو د فتحي ورکولو ګنجائش سته همدا رول د يوه قول مطابق يوازي دنيايې خبري منع دي، د ديني خبرو ممانعت نه سته.

وګورئ په حاشيه الطحطاوي کي راځي:

(وفتحه على إمامه جائز) لما روي أنه ﷺ قرأ في الصلاة سورة المؤمنين فترك كلمة فلما فرغ قال: ألم يكن فيكم أبى؟ قال: بلى قال: هلافتحت على؟ قال: ظننت أنها نسخت فقال رسول الله ﷺ: لو نسخت لأعلمتكم وقال: إذا استطعمك الإمام فأطعمه أى إذا استفتحك الإمام فافتح عليه، والصحيح أنه ينوى الفتح دون التلاوة لأن الفتح مرخص فيه. (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح:ص ٣٣٤، باب ما يفسد الصلاة، قديمى).

په فتاوی شامي کي راځي:

قوله ولا كلام أي من جنس كلام الناس أما التسبيح ونحوه فلا يكره وهو الأصح كما في النهاية و العناية وذكر الزيلعي أن الأحوط الإنصات ومحل الخلاف قبل الشروع أما بعده فالكلام مكروه تحريمًا بأقسامه كما في البدائع. (شامى:٢/ ١٥٨، سعيد).

په فتاوی الکهنوي کي راځي:

قال بعضهم: إنما يكره الكلام الذى هومن كلام الناس، وأما التسبيح واتباعه فلا، وقال بعضهم: كل ذالک، والأول أصح، كذا فى مبسوط فخر الإسلام. (فتاوى اللكنوى:ص ٣٥٠، ما يتعلق بالجمعة، بيروت). والله ﷻ اعلم.

بیله عربي د خطبې ویلو حکم

سوال: په عربي ژبه خطبه ویل واجب ده او که سنت که کوم څوک بیله عربي خطبه ووایي نو حکم یې څه دئ؟

الجواب: خطبه په عربي ژبه ویل سنت مؤکد او ضروري ده په کومه بله ژبه یې ویل مکروه تحریمی ده، د رسول الله ﷺ او صحابه کرامو معمول ټول عمر دا وو چي په عربي به یې خطبه لوسته حال دا چي دوی مشرق او مغرب ته ولاړه هلته یې خطبې ویلي عجمي ممالک فتح کړه خو یوه واقعه داسي نه سته چي هغوی دي د جمعې او یا اخترونو خطبې بیله عربي ویلي وي ځیني کسان دا شبه کوي چي

خطبه وعظ او نصيحت دئ لهذا بايد د سامعينو په ژبه ولوستل سي مګر دوی بايد فكر وكړي چي خطبه ذكر دي په قرآن كريم كي الله ﷻ فرمايي: ﴿ فاسعوا إلى ذكر الله ﴾ يعنى د الله ﷻ د ذكر لوري ته ولاړ سي د الله ﷻ د ذكر څخه مراد د محدثينو او مفسرينو په اند د جمعې خطبه ده، همدا ډول په يوه حديث كي هم خطبه ذكر بلل سوي ده. فإذا خرج الامام حضرت الملائكة يستمعون الذكر.

(بخاری شريف:۱/ ۱۲۱/ ۸۷۱، باب فضل الجمعة).

يعني كله چي امام د خطبې له پاره ولاړ سي نو ملائكي د خطبې د اورېدو له پاره حاضرېږي معلومه سوه چي خطبه د لمانځه او اذان په شان ذكر دي نو لكه څنګه چي لمونځ او اذان په عربي ژبه ضروري دي همدا ډول خطبه هم په عربي ژبه ويل ضروري ده.

حضرت شاه ولي الله رحمة الله عليه محدث دهلوي د موطا په شرح كي ليكي:

وأما كونها عربية فلاستمرار أهل الإسلام فى المشارق والمغارب به مع أن فى كثير من الأقاليهم كان المخاطبون أعجمين. (مصفى شرح مؤطا:ص ١٥٤، باب التشديد على من ترك الجمعة من غير عذر).

يعني په عربي ژبه خطبه ويل د دې امله ضروري ده چي په ټول اهل اسلام مشرق او مغرب كي همدغه طريقه جاري ده او حال دا چي اورېدونكي او مخاطبين به عجم وه لهذا په عربي ژبه خطبه ويل د جمعې او اخترونو دواړو له پاره ضروري ده، همدا ډول علامه لكهنوي هم بېله عربي خطبه ويل مكروه تحريمي بللي ده:

فإنه لاشك فى أن الخطبة بغير العربية خلاف السنة المتوارثة من النبى ﷺ والصحابة رضي الله عنهم فيكون مكروهًا تحريمًا. (عمدة الرعاية على شرح الوقاية:١/ ٢٠٠، رقم الحاشية ٢، المجيدى

همدا رنګه وګورئ: (الفقه الاسلامی وادلته:۲/ ۲۸۹، دار الفکر – اتحاف السادة المقتین شرح احیاء علوم الدین:۳/ ۳۲۶ – والانصاف فی معرفة الراجح من الخلاف:۲/ ۳۸۷ – وفتاوی دار العلوم دیوبند:۵/ ۹۰، دار الاشاعت – وامداد الاحکام:۱/ ۷۳۲). والله ﷻ اعلم.

په خطبه کي د حضرت ابو بکر صدیق ﷺ د پلار نوم نه اخیستل

سوال: په خطبه کي چي کله د خلفاء راشدینو یادونه کیږي نو په عامه توګه حضرت عمر بن الخطاب ﷺ، حضرت عثمان بن عفان ﷺ او علي بن ابی طالب ﷺ یادوي یعنی د پلار نوم یې هم ذکر کیږي د حضرت ابو بکر صدیق ﷺ سره د پلار نوم ولي نه ذکر کیږي؟

الجواب: که د حضرت ابو بکر صدیق سره د پلار نوم ذکر سي او داسي وویل سي چي ابو بکر بن ابی قحافه ﷺ نو د کنیت د تکرار له امله په لفظ کي ثقل پیدا کیږي او که کینت پرېږدي یوازي په نامه سره اکتفاء وکړئ، مثلاً عبد الله بن عثمان ﷺ وویل سي نو د نه شهرت له امله یې تعریف مکمل نه سو له دې امله یوازي د ابو بکر ﷺ په ویلو کي څه حرج نه سته.

په فتاوی واحدی کي راځي:

سوال: ما الوجه فی ترک نسبة الصدیق ﷺ إلی أبیه فی الخطبة کما ینسب سائر الخلفاء ﷺ إلی آبائهم؟

الجواب: والوجه فیه أمر لفظی وهو أن الصدیق ﷺ وإن کان اسمه عبد الله لکنه اشتهر بکنیة أبی بکرو کذلک والده ﷺ وإن کان اسمه عثمان ﷺ لکنه کان مشهورٌ بکنیة أبی قحافة ﷺ فلو نسب الکنیة إلی الکنیة مع تکرار لفظ الأب لأدی ذلک إلی الثقل فی اللفظ کما یشهد به الذوق السلیم.

ولونسب الاسم إلی الاسم لم یحصل التعریف المطلوب لعدم الشهرة بالاسم فأقیم الوصف المشهور بالصدیق مقام النسبة لأن الغرض هو التعریف وهو کما یحصل بذکر

النسبة فكذلك يتحقق بذكر الوصف المذكور، وأما سائر الخلفاء رضوان الله تعالى عليم أجمعين فا لفاروق وذوالنورين كانا مشهورين باسمائهما كآبائهما فليس هناك كنية أصلاً فنسب الاسم إلى الاسم وأن المرتضى كرم الله وجهه فإن والده كان مشهورًا بالكنية لكنه رضي الله عنه كان مشتهرًا باسمه فلم يتحقق انتساب الكنية إلى الكنية المؤدى إلى الثقل بل انتساب الاسم إلى الكنية ولاثقل فيه. (فتاوى واحدى:ص ٢٣٥). والله تعالى اعلم.

په خطبه کي د حضرت معاويه رضي الله عنه د يادولو حکم

سوال: په خطبه کي د حضرت معاويه رضي الله عنه يادول په کار دي او که نه؟

الجواب: بايد يادونه يې وسي په ځانګړي توګه په هغه وخت کي چي خلک يې په هکله بدګمان ولري، البته که د فتنې بېره وي نو لومړی دي خلک مانوس کړي بيا دي په خطبه کي په کراه د هغه يادونه وکړي.

په احسن الفتاوی کي راځي:

په هر زمانه کي د مضمون په ترتيب کي په اسلام کي د پيدا سوو فتنو څخه د اهل سنتو د مسلک د حفاظت اهتمام سوی دئ لکه څنګه چي د صحابه کرامو د نومونو د يادوني او د هغو له پاره د دعاو کولو څخه پر روافضو او خوارجو ترديد او د اهل سنتو د مسلک اعلان مقصد دئ په مخکني زمانه کي چي کومي فتنې وي د هغو د ترديد له پاره د همدغو صحابه يادونه کافي وه چي په چاپ سوو خطبو کي کي ذکر دي په اوسنی دور کي يوه نوې فتنه د يوه داسي جماعت راښکاره کېدل دي چي د اهل سنت کېدو دعوه لري او د حضرات صحابه کرامو سره د اخلاص دعوې کوي مګر زړونه يې د صحابه وو په بغض سره مسموم دي په خاصه توګه د حضرت عثمان رضي الله عنه او حضرت معاويه رضي الله عنه اړوند د دوی د زړونو نجاست د دوی د قلمونو او ژبو څخه همېشه راوزي د اهل سنتو په مسلک کي د کوم صحابي په هکله لږ بد ګماني هم د الله جل جلاله د غضب او جهنم موجب ده، ځکه نو دا کسان له اهل سنتو څخه خارج دي او په الحاد کي د روافضو پر لاره روان دي همدا ډول روافض د حضرت فاطمې رضي الله عنها څخه پرته د نورو عزتمنو لوڼو رضي الله عنهن سره هم بغض لري نو د دغو فتنو د ترديد له پاره په خطبه کي

د حضرت معاویه ﷺ او بناتو مکرماتو د مناقبو او فضائلو یادونه او د دوی له پاره د ترضی دعاء کول په کار دي له دې څخه د حضرت تهانوي رحمه الله او نورو اکابرو د مسلک څخه انحراف نه لازمیږي بلکي د هغوی د مسلک تائید راځي ځکه د دوی خطبې چي په کومه نظریه بناء دي په هغه کي هم زیاتونه د همدغي نظریې لاندي سوه ده چي تفصیل یې ولیکل سو.(احسن الفتاوی:٤/ ١٤٦).

په فتاوی فریدیه کي راځي:

نه اصرار مناسب دئ او نه یې انکار ښه دئ په خاصه توګه کله چي د حضرت معاویه ﷺ اړوند ډېر خلک په بد ګماني کي مبتلاء دي.(فتاوی فریدیه:٣/ ١٨٨). والله ﷻ اعلم.

پر راډیو د نشر کېدونکي خطبې د اورېدو حکم

سوال: چي کله پر راډیو د جمعې خطبه نشر کیږي نو اورېدل یې واجب دي او که نه؟

الجواب: که د خطیب اواز په خپله پر راډیو نشر کېدئ نو پر کومو کسانو چي جمعه واجب ده د هغو له پاره د خطبې ځای ته راتلل او اورېدل یې واجب دي او که نه بیا به واجب نه وي او که یې اواز ټیپ کړی وي او بیا یې خپروي نو اورېدل یې واجب نه دي لکه څنګه چي د سجد تلاوت حکم دئ.

په حاشیه الطحطاوي کي لیکي:

وفي النهر عن البدائع يكره الكلام حال الخطبة وكذا كل عمل يشغله عن سماعها من قراءة قرآن أو صلاة أو تسبيح أو كتابة ونحوها بل يجب عليه أن يستمع ويسكت، في شرح الزاهدي يكره لمستمع الخطبة ما يكره في الصلاة من أكل وشرب وعبث والتفات ونحو ذلك، وفي الخلاصة كل ما حرم في الصلاة حرم حال الخطبة ولو أمرًا بمعروف، وفي السيد استماع الخطبة من أولها إلى آخرها واجب ...... والنائي كالقريب. (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح:ص ٥١٩، قديمى – وكذا فى امداد الفتاح: ص ٥٦٩، واجبات الجمعة، بيروت).

په نظام الفتاوی کي ليکي:

په راډيو کي اکثره د بيان کونکي اواز ټيپيږي او بيا هغه نشر کيږي نو که يې د داسي کېدو غالب گمان وي نو د ده پر اواز به د تلاوت سجده کول لازمه نه وي، البته چي کله ويونکی د دغو وسائلو پرته څه وايي او د سجدې ايت ووايي نو سجده تلاوت به واجب وي او په راډيو کي د متکلم اواز او د ټيپ اواز د موقع څخه پېژندل کيږي په دغه اعتبار دي عمل وکړي. (نظام الفتاوی: ۱/ ۷۲، او فتاوی محموديه: ۷/ ۴۷۲، جديد فقهی مسائل: ۱/ ۱۷۱، آلات جديده کی شرعی احکام: صـ ۱۷۴). والله اعلم.

د خطيب څخه پرته چي بل څوک د جمعې لمونځ ورکوي

سوال: د څو هفتو څخه يو څوک خطبه وايي او د جمعې لمونځ بل څوک ورکوي دا عمل څنگه دئ؟

الجواب: دا کارېې خلاف اولی دئ هره جمعه بايد له داسي کار څخه ځان وساتي.

په فتاوی شامي کي راځي:

(لاينبغی أن يصلی غير الخطيب لأنهما کشیء واحد) قوله لأنهما أي الخطبة والصلاة کشيء واحد لکونهما شرطًا ومشروطا ولا تحقق المشروط بدون شرطه فالمناسب أن يکون فاعلهما واحدا. (شامی: ۲/ ۱۶۲، باب صلاة الجمعة، سعيد).

وفی الطحطاوی: (قوله: لاينبغی) الظاهر أن اختلافهما مکروه تنزيهًا. (حاشية الطحطاوی علی الدر المختار: ۱/ ۳۴۸).

همدا ډول وگورئ: (فتاوی محموديه: ۸/ ۲۱۵، مبوب ومرتب، جامعه فاروقيه) والله تعالیٰ اعلم.

د خطبې څخه وروسته د لمانځه څخه مخکي د امام له پاره د اعلان کولو حکم

سوال: د خطبې څخه وروسته د لمانځه مخکي که امام مسئله بيان کړي مثلاً داسي ووايي چي صفونه برابر کړي يا دننه مسجد لوړی ډک کړي يا وعظ او نصيحت کوي روا دي او که نه؟

الجواب: په دې صورت كې د امام له پاره د لمانځه شخه مخكې دا اعلان كول چې صفونه برابر كړي يا لومړى دننه مسجد ډك كړي يا لنډه مسئله بيانول روا ده اوږد وعظ كول درست نه دي.

په فتاوى شامي كې راځي:

فإذا أتم أي الإمام الخطبة أقيمت بحيث يتصل أول الإقامة بآخر الخطبة وتنتهي الإقامة بقيام الخطيب مقام الصلاة ...... ولا يكره الفصل بأمر الدنيا ذكره العينى...... امام بنهى عن منكر أو أمر بمعروف فلا وكذا الوضوء ...... حتى لوطال الفصل أستانف الخطبة.

(شامى:۲/ ۱۲۲، باب صلاة الجعة).

په احسن الفتاوى كې راځي:

په لنډه توګه كومه مسئله بيانول او امر بالمعروف او نهى عن المنكر روا ده اوږد وعظ روا نه دئ.

(احسن الفتاوى:٤/ ۱۲۲، باب الجمعة والعيدين). والله تعالىٰ اعلم.

د خطبې لنډول او د لمانځه اوږدول سنت دي

سوال: د جمعې د خطبې دومره اوږدول چې د لمانځه قرائت د هغه په مقابل كې څلورمه برخه هم نه وي د څلورو امامانو د مذهب په رڼا كې څنګه دي؟

الجواب: څلور امامان پر دې متفق دي چې د خطبې لنډول او د لمانځه اوږدول سنت دي او د دې پر خلاف كول لكه څنګه چې په سوال كې ذكر سوى دي د سنت څخه خلاف كار دئ او دا د احنافو او مالكيه وو په اند مكروه ده خو د شافعيه وو او حنابله وو په اند خلاف اولى ده.

په حديث شريف كې راځي:

عن واصل بن حيان قال قال أبو وائل خطبنا عمار رضي الله عنه فأوجز وأبلغ فلما نزل قلنا يا أبا اليقظان لقد أبلغت وأوجزت فلو كنت تنفست. فقال: إنى سمعت رسول الله ﷺ يقول: «إن طول صلاة الرجل وقصر خطبته مئنةمن فقهه فأطيلوا الصلاة واقصروا الخطبة وإن من البيان سحرًا». (رواه مسلم:۱/ ۲۸٦، كتاب الجمعة).

عن جابر بن سمرة رضي الله عنه قال كنت أصلى مع النبى ﷺ الصلوات فكانت قصدًا وخطبته قصدًا. (رواه مسلم:۱/ ۲۸٤، كتاب الجمعة).

په بدائع الصنائع کې راځي:

واما سنن الخطبة ...... ومنها أن لا يطول الخطبة ؛ لأن النبي صلى ﷺ أمر بتقصير الخطبة وعن عمر رضي الله عنه أنه قال : طولوا الصلاة وقصروا الخطبة ، وقال : ابن مسعود رضي الله عنه طول الصلاة وقصر الخطبة من فقه الرجل. (بدائع الصنائع:۱/ ۲٦۳، سعيد – وكذا فى شامى:۲/ ۱٤۸، باب صلاة الجمعة – والفتاوى الهندية:۱/ ۱٤۷).

په شرح المهذب کې راځي:

ويستحب أن يقصر الخطبة لما روى عن عثمان رضي الله عنه أنه خطب وأوجز فقيل له لو كنت تنفست فقال: سمعت النبي ﷺ يقول: الخ ...... (شرح المهذب:٤/ ٥۲٦).

په مغني کې راځي:

ويستحب تقصير الخطبة لما روى عمار رضي الله عنه قال:.........

(المغنى لابن قدامة الحنبلى:۲/ ۱٥٥).

په الفقه الاسلامي کې راځي:

مكروهات الخطبة عند الحنفية والمالكية: هي ترك سنة من السنن المتقدمة، ومن أهمها تطويل الخطبة، وليس ترك السنن المتقدمة عند الشافعية والحنابلة مكروهاً، طلاقه، بل ومنه ماهو مكروه، ومنه ماهو خلاف لأولى. (الفقه الاسلامى وادلته:۲/ ۲۹۳، ۲۹۸، ۲۹۹– وكذا فى الفقه على مذاهب الاربعة:۱/ ۳۹٤ – وكذا فى حاشية الدسوقى:۱/ ٥۹۸، فصل فى الجمعة، دار الفكر – ومذهب الخليل:۲/ ٥۳۸). والله ﷻ اعلم.

د احتياط الظهر حكم

سوال: ايا د جمعې د لمانځه څخه وروسته به د ماپښين لمونځ اداء كوي او كه نه؟ د نه اداء كولو دلائل يې وواياست؟

الجواب: د احنافو د مذهب مطابق بايد احتياط الظهر ونه كړل سي يوازي پر جمعه اكتفاء وكړل سي لكه په البحر الرائق كي چي وايي:

"أقول : وقد كثر ذلك من جهلة زماننا أيضًا ومنشأ جهلهم صلاة الأربع بعد الجمعة بنية الظهر ، وإنما وضعها بعض المتأخرين عند الشك في صحة الجمعة بسبب رواية عدم تعددها في مصر واحد وليست هذه الرواية بالمختارة ، وليس هذا القول أعني اختيار صلاة الأربع بعدها مرويا عن أبي حنيفة رحمه الله وصاحبيه رحمهما الله حتى وقع لي أني أفتيت مرارًا بعدم صلاتها خوفًا على اعتقاد الجهلة بأنها الفرض ، وأن الجمعة ليست بفرض . (البحر الرائق:٢/ ١٣٩، باب صلاة الجمعة، الماجدية).

په امداد الفتاح كي راځي:

تنبيه آخر فى بيان صلاة الاربع بعد الجمعة بنية آخر ظهر عليه: قال: الشيخ زين ما فى القنية من أمر مشايخ مرو بأداء أربع ركع بعد الجمعة حتمًا احتياطًا مبنى على القول الضعيف المخالف للمذهب، وهو منع جواز تعدد الجمعة فليس الاحتياط فعلها لان الاحتياط العمل بأقوى الدليلين، وهو اطلاق الجوازو فى المنع حرج وهو مدفوع وفى فعل الأربع مفسدة عظيمة وهى اعتقاد الجهلة أن الجمعة ليست فرضاً لما يشاهدون من صلاة الظهر فيتكاسلون عن أداء الجمعة يعنى أو اعتقادهم افتراض الجمعة والظهر بعد الجمعة أيضًا، وقد شوهد الآن صلاتها بالجماعة والاقامة لها، ونيتهم فرض الظهر الحاضر إمامًا ومؤتمًا

بغالب المساجد والخطيب إمامًا بعد إمامته بالجمعة والجماعة وهو ظاهر الشناعة. (امداد الفتاح:ص ۵۵۳، مطلب الاحتياط هو العمل باقوى الدليلين، بيروت).

په امداد الاحکام کي راځي:

که د صحت شرائط موجود وي نو د احتياط الظهر ضرورت نه سته او که يې د صحت شرائط موجود نه وي نو د جمعې اداء کول روانه دي بايد د ماپښين لمونځ په جماعت سره وکړل سي ځکه نو په هر حال کي دي له احتياط الظهر څخه ځان وژغوري. (امداد الاحکام:۱/ ۷۲۵، فصل فی الجمعة، کراچی).

د زيات تفصيل له پاره وګوئ: (شامی:۲/ ۱۴۵ - ۱۴۶، مطلب فی نية آخر ظهر بعد صلاة الجمعة، سعيد - وحاشية الطحطاوی علی الدر المختار:۱/ ۳۳۸، ۳۴۲ - وکفايت المفتی:۳/ ۲۱۵ - واحسن الفتاوی:۴/ ۱۳۹ - وفتاوی محموديه:۸/ ۳۴۶، مبوب ومرتب، جامعه فاروقيه - وآپ کی مسائل اور ان کا حل:۲/ ۳۰۴ - وامداد المتين:۲/ ۳۹۴، دار الاشاعت - وعمدة الفقه: کتاب الصلاة حصه دوهم: ص ۴۴۲، المجددية). والله تعالیٰ اعلم.

د جمعې څخه وروسته د سنتو تعداد

سوال: د جمعې د لمانځه څخه وروسته څو رکعته مسنون دي؟ او په هغه کي مؤکد او غير مؤکد څو دي؟

الجواب: په عامه توګه د فقهي په کتابو کي څلور رکعته سنت مؤکد ذکر دي د امام ابو يوسف رحمه الله عليه څخه د شپږو رکعتونو روايت سوی دئ.

د حضرت مفتي کفايت الله صاحب يې داسي تطبيق کړی دئ چي څلور مؤکد او دوه غير مؤکد دي او د کبيري وغير څخه معلوميږي چي څلور سنت مؤکد دي لومړی اداء کړي او دوه دي وروسته وکړي، البته حضرت شاه صاحب کشميري دوه رکعته مخته کولو ته ترجيح ورکړی ده او د شپږو رکعتونو ثبوت د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما او حضرت علي رضي الله عنه څخه سته په هغو کي د دوو يادونه مخکي ده لهذا که دوه مخکي کړی هم يې اجازه سته بلکي کله کله دي دا ډول هم کوي او همدارنګه د

دې حديث چې ((لايصلى صلاة مثلها)) يو مطلب دا هم دئ چې فرض لمونځ دې مکرر نه کوي او جمعه د خطبې له امله د څلورو رکعتونو په حکم کې ده.

په مسلم شريف کې راځي:

عن أبى هريرة ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ: « إذا صلى أحدكم الجمعة فليصل بعدها أربعًا ». وفى رواية له عنه قال: قال رسول الله ﷺ « إذا صليتم بعد الجمعة فصلوا أربعًا ». فى روايته له عن ابن عمر ﷺ أنه كان إذا صلى الجمعة انصرف فسجد سجدتين فى بيته ثم قال: كان رسول الله ﷺ يصنع ذلك. (مسلم شريف:۱/ ۲۸۸، فصل فى استحباب اربع ركعات.....).

په مصنف ابن ابى شيبه کې راځي:

عن أبي عبد الرحمن ، قال : قدم علينا ابن مسعود ﷺ، فكان يأمرنا أن نصلي بعد الجمعة أربعًا ، فلما قدم علينا علي ﷺ أمرنا أن نصلي ستا، فأخذنا بقول علي ﷺ، وتركنا قول عبد الله قال : كان يصلي ركعتين ، ثم أربعًا. وفى رواية له عن عطاء قال : كان ابن عمر ﷺ إذا صلى الجمعة ، صلى بعدها ست ركعات ، ركعتين ، ثم أربعًا. وفى رواية له أبي بكر بن أبي موسى ، عن أبيه : كان يصلي بعد الجمعة ست ركعات. (مصنف ابن ابى شية:٤/ ۱۱۸/ ۵٤۱۰، ۵٤۱۳، المجلس العلمى).

په ترمذي شريف کې راځي:

وروي عن عبد الله بن مسعود ﷺ أنه كان يصلي قبل الجمعة أربعًا وبعدها أربعًا. روي عن علي بن أبي طالب ﷺ أنه أمر أن يصلى بعد الجمعة ركعتين ثم أربعًا.

وقال العلامة الشاه الكشميرى رحمه الله فى شرح هذه الأحاديث: وأما بعد الجمعة فركعتان عند الشافعي رحمه الله، وأربع عند أبي حنيفة رحمه الله، وست ركعات عند صاحبيه رحمه الله، وفي

الست طريقان ، والمختار عندي أن يأتي بالركعتين قبل الأربع لعمل ابن عمر ﷺ في سنن أبي داود . (ترمذی شریف مع العرف الشذی:۱/ ۱۱۶-۱۱۸، باب فی الصلاة قبل الجمعة وبعدها).

دزیات تفصیل له پاره وګورئ: (شرح منية المصلى: ص ۳۸۸، فصل فى السنن – وكذا فى معارف السنن:٤/ ٤٤١، بحث السنن قبل الجمعة وبعدها، سعيد – واعلاء السنن:۷/ ۱۳-۱۵، باب النوافل والسنن، ادارة القرآن – وفتاوى محمودية:۸/ ٣٤٤، مبوب ومرتب – وفتاوى دار العلوم ديوبند:٥/ ١٣٦، دار الاشاعت – تعليم الاسلام:٤/ ١٤٨، مكمل دار الاشاعت). والله ﷻ اعلم.

که اختر او جمعه جمع سي نو د جمعې د لمانځه حکم

سوال: د جمعې په ورځ د اختر د لمانځه داداء کولو وروسته د جمعې لمونځ کول لازم دي او که نه؟ د احادیثو په رڼا کي يې حکم څه دئ؟

الجواب: د احاديثو په رڼا کي د اختر د لمانځه څخه وروسته د جمعې اداء کول لازمي او ضروري دي.

په صحيح مسلم شريف کي راځي:

عن النعمان بن بشير ﷺ قال: كان رسول الله ﷺ يقرأ فى العيدين وفى الجمعة بـ (سبح اسم ربك الأعلى) و (هل أتاك حديث الغاشية) قال: وإذا اجتمع العيد والجمعة فى يوم واحد يقرأ بهما أيضًا فى الصلاتين. (رواه مسلم:۱/ ۲۸۸- والنسائى:۱/ ۲۱۰ – وكذا فى تفسير القرطبى:۲۱/ ۱۰۷ – وتفسير ابن كثير:٤/ ٥٢٨).

په احکام القرآن کي راځي:

لا يسقط الجمعة كونها في يوم واحد، خلافًا لأحمد بن حنبل رحمه الله حين قال : إذا اجتمع عيدوجمعةسقط الجمعة ؛ لتقدم العيد عليها ، واشتغال الناس به عنها .وتعلق في ذلك بما روي أن عثمان ﷺ أذن في يوم العيد لأهل العوالي أن يتخلفوا عن الجمعة ، وقول الواحد

من الصحابة ليس بحجة إذا خولف فيه ولم يجمع معه عليه . والأمر بالسعي متوجهيوم العيد كتوجهه في سائر الأيام . (احكام القرآن لابن العربى:٥/ ٦٥).

يو اشكال او د هغه جواب:

اشكال: د ځينو رواياتو څخه معلوميږي چې نبي كريم ﷺ داختر په ورځ دجمعې دنه كولو رخصت وركړى دي لكه چې په ابن ماجه كي راځي:

عن نافع ، عن ابن عمر رضي الله عنه، قال : اجتمع عيدان على عهد رسول الله ﷺ فصلى بالناس ، ثم قال : من شاء أن يأتي الجمعة فليأتها ، ومن شاء أن يتخلف فليتخلف. وفى رواية له عن زيد بن أرقم رضي الله عنه ...... ثم قال : من شاء أن يصلي فليصل....... وفى رواية له عن ابن عباس رضي الله عنه، عن رسول الله ﷺ أنه قال : قد اجتمع عيدان في يومكم هذا ، فمن شاء أجزأه من الجمعة ، وإنا مجمعون إن شاء الله تعالى. (ابن ماجه شريف:ص ٩٣، باب ماجاء اذا اجتمع العيدان فى يوم).

الجواب: لومړى خو دغه ټول احاديث ضعيف دي دكتور بشار عواد دابن ماجه په تعليق كي د هغو تضعيف بيان كړى دئ وې ګورئ:

١_ دعبدالله بن عمر رضي الله عنه په روايت كي جباره بن مغلس راوي ضعيف دئ او د هغه شيخ مندل بن علي العنزي هم ضعيف دئ.

٢_ دزيد بن ارقم رضي الله عنه په روايت كي اياس بن ابى رمله مجهول دئ.

٣_ دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما روايت دبقيه راوي له امله ضعيف دي.

(تعليق الدكتور بشار عواد على ابن ماجة:٢/ ٤٥١/ ١٣١٠، ١٣١١، ١٣١٢، باب ماجاء فيها اذا اجتمع العيدان فى يوم واحد، بيروت).

الجواب: ٢_ دغه رخصت او خطاب د كليوالو له پاره وو د مديني منورې پر شاو خوا به داختر د لمانځه له پاره جمع كېدل بيا به د جمعې په راتلو كي ورته تكليف وو د دې امله يې هغوى ته

رخصت او اجازه ورکړه ځکه پر کليوالو جمعه فرض نه ده په خپل کلي کي دي دما پښين لمونځ اداء کړي همدا ډول د حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنه له حديث څخه دا اشاره هم موندل کيږي چي نبي کريم ﷺ وفرمايل، چي انا مجمعون ان شاء الله تعالى، يعني موږ د مديني منوري اوسېدونکی خو انشاء الله دجمعي لمونځ اداء کوو په.

په اعلاء السنن کي راځي:

كان أهل القرى يجتمعون لصلاة العيدين مالايجتمعون لغيرهما، كما هو العادة، وكان فى انتظارهم الجمعة بعد الفراغ من العيد حرج عليهم، فلما فرغ رسول الله ﷺ من صلاة العيد نادى مناديه «من شاء منكم أن يصلى الجمعة فليصل، ومن شاء الرجوع فليرجع» وكان ذلك خطابًا لأهل القرى المجتمعين هناك، والقرينة على ذلك بانه قد صرح فيه بانا مجمعون، والمراد من جمع المتكلم أهل المدينة بلاشك وفيه دلالة واضحة على أن الخطاب بقوله: «من شاء منكم أن يصلى» لأهل القرى دون اهل المدينة. عن ابن شهاب عن أبى عبيد مولى ابن أزهر أنه قال: شهدت العيد مع عثمان بن عفان رضي الله عنه فجاء فصلى ثم انصرف فخطب وقال: إنه قد اجتمع لكم فى يومكم هذا عيدان، فمن أحب من أهل العالية أن ينتظر الجمعة فلينتظرها، ومن أحب أن يرجع فقد أذنت له . رواه مالك فى موطائه: (ص ٦٣) وهذا الإسناد قد أخرجه البخارى: (ص ٢٦٧) فى باب صوم يوم الفطر. (اعلاي السنن:٨/ ٩٢، ٩٣، باب اذا اجتمع العيد والجمعة لاتسقط الجمعة به).

دزيات تفصيل له پاره وګورئ: (بذل المجهود:٦/ ٥٦ – ومعارف السنن:٤/ ٤٣١ -٤٣٤، بحث عدم سقوط الجمعة عند اجتماع العيد والجمعة – واعلاء السنن:٨/ ٩٢ -٩٨، باب اذا الجتمع العيد والجمعة لاتسقط الجمعة به). والله ﷻ اعلم.



﴿ كان رسول الله ﷺ يخرج يوم الفطر والأضحى إلى المصلى ﴾. (رواه البخاری).

وقال رسول الله ﷺ ﴿ زينوا أعيادكم بالتكبير ﴾. (المعجم الكبير).

اوولسم ....باب

د اخترونو دلمانځه بيان

که د اخترونو لمونځ د ښار په پارک کې اداء کړي

سوال: که يې د اختر لمونځ د صحراء پر ځاى د ښار په ميدان يا پارک کې اداء کړ نو د عيدگاه سنت يې اداء کيږي او که نه؟

الجواب: د اخترونو لمونځ د ابادۍ څخه دباندې په عيدگاه يا ميدان کې اداء کول سنت دي نبي کريم او خلفاء راشدينو د مسجد نبوي فضيلت پرېښودي او په عيدگاه کې به يې اداء کاوه لهذا بېله کومه عذره بايد په مسجدونو کې د اخترونو لمنځونه ونه کړل سي د سنت څخه خلاف دي، البته د ښار په ميدان يا پارک وغيره کې د اخترونو د لمنځونو په کولو سره سنت داء کيږي.

وګورئ په حديث شريف کې راځي:

عن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه، قال: كان رسول الله ﷺ يخرج يوم الفطر والأضحى إلى المصلى فأول شيء يبدأ به الصلاة ثم ينصرف فيقوم مقابل الناس والناس جلوسعلى صفوفهم فيعظهم ويوصيهم ويأمرهم .... (رواه البخاری:۱/ ۱۳۱/ ۹٤٦، باب الخروج الى المصلى بغير منبر).

د دې حديث په شرح کې علامه عيني رحمه الله فرمايي:

أن البروز إلى المصلى والخروج إليه، ولا يصلي في المسجد إلا عن ضرورة وروى ابن زياد عن مالك رضي الله عنه قال: السنة الخروج إلى الجبانة إلا لأهل مكة ففي المسجد، وقال الشافعي

رحمه الله « في الأم »: بلغنا أن رسول الله ﷺ كان يخرج في العيدين إلى المصلى بالمدينة وكذا من بعده إلا من عذر مطر ونحوه، وكذا عامة أهل البلدان إلا مكة، شرفها الله تعالى. (عمدة القارى شرح صحيح البخارى:٥/ ١٧١، باب الخروج الى المصلى، دار الحديث ملتان).

د دې حديث څخه معلومېږي چې په ميدان کې د اخترونو لمنځونه کول سنت دي همدغه د نبي کريم ﷺ او د ده د خلفاء راشدينو طريقه وه همدا ډول د ابن ماجه شريف په روايت کې راځي چې نبي کريم ﷺ په ميدان کې د اختر لمونځ اداء کړی دئ او د ستري له پاره يې نيزه خپل مخته ودرول هلته نه دېوال وو او نه چت وو.

په ابن ماجه شريف کې راځي:

عن ابن عمر رضي الله عنه، أن رسول الله ﷺ كان يغدو إلى المصلى في يوم عيد ، والعنزة تحمل بين يديه ، فإذا بلغ المصلى ، نصبت بين يديه ، فيصلي إليها وذلك أن المصلى كان فضاءً ، ليس شيء يستتر به. (رواه ابن ماجه:٩٢، باب ماجاء فى الحربة يوم العيد).

په اعلاء السنن کې راځي:

وأخرج الطبراني في الكبير بضعف عن على رضي الله عنه قال: الخروج إلي الجبان في العيدين من السنة كذا في جمع الفوائد: (١/ ١٠٧) وانجبر ضعفه بماله من الشواهد ...... وفي الدر المختار والخروج إليها أى الجبانة لصلاة العيد سنة، وان وسعهم المسجد الجامع. (اعلاء السنن:٨/ ١١٢/ ٢١١٠، باب الخروج يوم الفطر والأضحى الى المصلى الا لعذر، ادارة القرآن – كذا فى حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح:٥٣١، باب أحكام العيدين، قديمى – وعمدة الفقه: كتاب الصلاة حصه دوهم: ٤٦٠ – وفتاوى محموديه:٨/ ٤٠٤، باب العيدين، جامعه فاروقيه).

په ازادو میدانونو کي د اختر د لمانځه په کولو کي اشکالات:

۱_ دغه ځای اکثره وخت د ښار څخه دباندی نه وي.

۲_ دا ځای وقف سوی نه دئ.

۳_ د اختر د لمانځه د ختم کېدو وروسته هلته سیاحان ښځي او کله کله حیوانات ګرځي بلکي هلته د حیواناتو نمایش کیږي او ناروا کارونه کیږي نو هغه میدان ناپاکه هم ګرځي.

د اکابرینو له عبارتونو څخه یې جوابونه:

په تېره زمانه کي دا ټول اشکالات ځینو مقامي کسانو په تحریري توګه حضرت مفتي محمد شفیع صاحب او مفتي عبد الحی صاحب په خدمت کي وړاندي کړی وه نو دوی دواړو تفصیلي جواب لیکلي دئ چي د هغه نقل زموږ سره موجود دئ لهذا مناسبه ده چي د برکت په توګه یې خلاصه وړاندي سي وګورئ حضرت مفتي عبد الحی لیکي:

۱_ دا صحیح ده چي عیدګاه به له ښار څخه دباندي وي مګر که عیدګاه د ښار په منځ کي وسي یا د ښار په منځ کي کوم میدان د اختر د لمانځه له پاره وټاکل سي نو په دې صورت کي هم لمونځ د سنت طریقې مطابق اداء کیږي او که دلیل ګورئ نو (وفاء الوفاء:۳/ ۷۸۰).

وګورئ فتح الباري:

وحکی ابن بطال عن ابن حبیب أن مصلی الجنائز بالمدینة کان لاصقا بمسجد النبي ﷺ من ناحیة جهة المشرق . انتهی، فإن ثبت ما قال وإلا فیحتمل أن یکون المراد بالمسجد هنا المصلي المتخذ للعیدین والاستسقاء . (فتح الباری شرح صحیح البخاری:۳/ ۱۹۹، باب الصلاة علی الجنائز بالمصلی والمسجد، دار نشر الکتب الاسلامیة).

له دې څخه معلومیږي چي د نبي کریم ﷺ عیدګاه ښځي له ښاره څخه دباندي نه وه په داسي حالت کي په یوه ټاکلي ځای کي د اخترونو د لمنځونو اداء کول بیله شکه روا دي بلکي پر سنت طریقه دي ځکه کله چي حکومت غیر مسلم وي د عیدګاه له پاره ځای نه ورکوي دا ښه میدان بیله اجرته د لمانځه له پاره پیدا کیږي نو ولي موقع د لاسه ورکړل سي خامخا دي هلته په متفقه توګه د

اختر لمونځ اداء سي چي د مسلمانانو اجتماعي شان معلوم سي او پر نورو قومونو يې اثر ولوېږي په داسي حال کي يې د منع کولو وړاندېز او اعتراضات روا نه دي.

۲_ دا چي ځای به د لمانځه له پاره وقف سوی وي د لمانځه د صحت له پاره دا شرط ګڼل غلطه ده ځکه دا اختر لمونځ فرض نه دئ صاحبين يې سنت مؤکد کنی او امام صاحب يې واجب بولي او ښکاره خبره ده چي کله د فرض عين لمانځه له پاره د ځای وقف کول ضروري نه دي. لقول رسول الله ﷺ جعلت لى الارض كلها مسجدا. (مشكوة:صـ ٥٤).

نو د نورو لمنځونو له پاره به څنګه شرط او ضروري وي له دې څخه پرته په عامه توګه ټول حنفي فقهاء بالاجماع او بالاتفاق فرمايي، چي د خطبې څخه سوا د اخترونو د لمنځونو له پاره هم هغه ټول شرائط دي چي د جمعې له پاره دي، فتاوی شامي مع درمختار: ۱٦٦/۲۲، بحر شرح کنز: ۱۴۰/۲، هدايه اولين وغيرهم.

د جمعې د شرائطو له پاره د څو شرطونو څخه پرته يو شرط دا هم دئ چي ښار به وي يا به فناء د ښار وي بحر د کنز شارح په دوهم جلد کي فرمايي، أو مصلاه أى مصلى المصر لأنه من توابعه فكان فى حكمه والحكم غير مقصور على المصلى بل يجوز فى جميع أفنية المصر. (البحر الرائق: ۲/ ۱٤٠، باب الجمعة).

له دې څخه معلومېږي چي له فناء مصر او مصر څخه په هريوه کي لکه څنګه چي جمعه صحيح ده اختر هم صحيح دئ او دا هم معلومه سوه چي د فناء وقف کول ضروري نه ده. والفناء فى اللغة سعة أمام البيوت وقيل ما امتد من جوانبه كذا فى المغرب. (البحر الرائق: ۲/ ۱٤٠).

پرته له دې څخه فقهاء فرمايي، چي د جمعې لمونځ په کلا وغيره کي که عامه اجازه وي کول يې روا او درست دئ. وګورئ: (شامى مع درمختار: ۱۲، ومراقى الفلاح وغيره).

په داسي حالت کي دا ختر د لمانځه د صحت له پاره د ځای وقف کول ضروري ګڼل او عوام د سنت مؤکد د ادا ځخه را بندول روا نه دي شریعت چي کوم شی ضروري ګڼلی نه وي هغه له خپله ځانه ضروري ګڼل په شریعت د لاوري او جسارت دئ چي هیڅکه نه معافیږي.

۳_ داحنافو متفقه فیصله ده چي که نا پاکه مځکه وچه سي نو د لمانځه له پاره هغه ځای پاکیږي او هلته لمونځ بیله کراهته روا دئ.

وتطهر الأرض بيبسها وذهاب أثرها كلون وريح لأجل صلاة عليها، وفى الشامى: قوله بيبسها لما فى سنن أبى داؤد باب طهور الأرض إذا يبست وقوله أى جفافها المراد به ذهاب الندوة. (الدر المختار مع الشامى:۱/ ۳۱۱، باب الأنجاس، سعيد).

په مراقي الفلاح کي راځي:

وإذا ذهب أثر النجاسة عن الأرض وجفت جازت الصلاة عليها، قوله وقد جفت ولو بغير الشمس على الصحيح طهرت وجازت الصلاة عليها لقوله ﷺ: أيما أرض جفت فقد زكت.

(مراقى الفلاح مع نور الإيضاح: ٦٥، باب الأنجاس والطهارة عنها، مكة المكرمة).

نو دا خبره چي د حیواناتو د نمائش له امله هغه ځای ناپاک دئ صحیح نه ده دوچېدو څخه هغه ځای د لمانځه له پاره پاکیږي. فقط. کتبه احقر الورى اسماعيل بن محمد بسم الله. (جامعه اسلاميه ڈابهیل سملک ضلع سورت:۱٤/ رمضان ۱۳۷۸ سنه هـ، ۲٤/ مارچ سنه ۱۹۵۹، الجواب صحيح عبد الغفور غفرله او عبد الحى ، بسم الله عفى عنه).

د حضرت مفتي محمد شفيع صاحب جواب وګورئ:

اقول وبالله التوفيق د مولانا مفتي بسم الله صاحب جواب د عيدګاه په هکله بېخي صحيح او کافي دئ بيا مفتی صاحب ډېر وضاحت او مکمل ثبوت وړاندي کړی دئ له دي څخه وروسته د کومي زياتوني ضرورت نه سته يوازي يو لنډه عبارت د ابن قيم رحمه الله له زاد المعاد څخه نقل کوم.

كان ﷺ يصلي العيدين في المصلى وهو المصلى الذي على باب المدينة الشرقي وهو المصلى الذي يوضع فيه محمل الحاج، ولم يصل العيد بمسجده إلا مرةً واحدةً أصابهم المطر فصلى بهم العيد في المسجد. (رواه أبو داؤد وابن ماجه كذا في زاد المعاد:۱/ ٤٤١، فصل هديه صلی الله عليه وسلم في العيدين، مؤسسة الرسالة).

علامه ابن قيم رحمه الله چي کوم عبارت دابو داؤد او ابن ماجه په حواله نقل کړی دئ له هغه څخه څو خبري ثابتیږي:

۱_ د نبي کريم ﷺ عيدگاه له ښار څخه ليري نه وه بلکي د مديني طيني له شرقي دراوزي سره متصل واقع وه چي اوس خو داوړدي زماني څخه د ښار په منځ کي راغلي ده لهذا په نبوي زمانه کي که د ښار په منځ کي نه وه خو بالکل له ښار سره متصله وه.

۲_ د نبي کريم ﷺ عيدگاه يو داسي ميدان وو چي هلته به د حاجيانو اوښان درېده او د هغو کجاوي به هلته ايښودل کېدي له دې څخه څرگندیږي چي دغه ځکه داختر د لمانځه له پاره وقف نه وه.

۳_ نبي کريم ﷺ ټول عمر داختر په لمانځه کي مسجد پرېښودي او په دغه ميدان کي يې اداء کاوه يوازي يو ځل يې د باران له امله په خپل مسجد کي اداء کړ حال دا چي په مسجد نبوي کي يو لمونځ د پنځوس زره سره برابر دئ په دغو ذکر سوو امورو کي د مخالف کونکو د ټولو سوالونو جوابونه سته او له دې څخه دا ثابتیږي چي نبي کريم ﷺ داخترونو لمونځونه په مسجد کي اداء کول درست نه گڼل . والله سبحانه وتعالى اعلم بنده محمد شفيع عفا الله عنه، دار العلوم کراچی، ٦/ رمضان سنه ١٣٧٩هـ ٤/ مارچ سنه ١٩٦٠.

داکابرينو د پورتنيو فتوی وروسته د نور تفصيل ضرورت نه سته خو که څوک زيات تفصيل غواړي نو په (خلاصة الوفاء بأخبار دار المصطفى:۱/ ۱۸۱-۱۸۸).

باندي د علامه سمهودي د نبي کريم ﷺ د عيدگاه ځای په هکله مکمل تحقيق ست هغه دي وگوريء.

همدا ډول د اکابرینو مختلفي فتاواوي هم موجودي دي مثلاً د حضرت مفتي نظام الدين صاحب، حضرت مفتي عبد الرحيم صاحب، حضرت مفتي رشيد احمد صاحب، احسن الفتاوى، د حضرت مفتي سعيد احمد پالنپوري صاحب مدظله چي د هغو د تفصيلاتو له پاره وګورئ. (رساله عيدګاه کي سنتيت، از حضرت مولانا فضل الرحمن صاحب اعظمي: ۲۹-۴۱). والله تعالى اعلم.

د اخترونو لمنځونه په کوچني کلي کي د اداء کولو حکم

سوال: ايا د اخترونو لمنځونه په کوچني کلي کي اداء کېدلای سي چيري چي جمعه نه کيږي يعني د جمعې شرائط پوره نه وي؟

الجواب: د جمعې او اخترونو لمنځونه په ښار او يا غټ کلي کي اداء کېدلای سي په کوچني کلي کي يې اداء کول روا نه دي.

وګورئ په البدائع الصنائع کي راځي:

وأما شرائط وجوبها وجوازها فكل ما هو شرط وجوب الجمعة وجوازها فهو شرط وجوب صلاة العيدين وجوازها من الإمام والمصر والجماعة والوقت إلا الخطبة......

وكذا المصر لما روينا عن علي رضي الله عنه أنه قال: لا جمعة ولا تشريق ولا فطر ولا أضحى إلا في مصر جامع ...... والمراد من لفظ الفطر والأضحى صلاة العيدين؛ ولأنها ما ثبتت بالتوارث من الصدر الأول إلا في الأمصار. (بدائع الصنائع: ۱/ ۲۷۵، شرائط العيدين، سعيد).

په مبسوط کي راځي:

والحاصل أنه يشترط لصلاة العيد ما يشترط لصلاة الجمعة إلا الخطبة فإنها من شرائط الجمعة وليست من شرائط العيد ولهذا كانت الخطبة في الجمعة قبل الصلاة وفي العيد بعدها لأنها خطبة تذكير وتعليم لما يحتاج إليه في الوقت فلم تكن من شرائط الصلاة كالخطبة

بعرفات والخطبة يوم الجمعة بمنزلة شطر الصلاة .... (المبسوط للامام السرخسی:۲/ ۳۷، باب صلاة العيدين، ادارة القرآن).

همدا ډول وګورئ: (البحر الرائق:۲/ ۱۵۷، الماجدية – وكذا فی مجمع الانهر شرح ملتقى الابحر: شرائط صلاة العيدين – وتبيين الحقائق:۱/ ۲۲۳، باب العيدين، امدادية ملتان – والموسوعة الفقهية: حكم وجوب الجمعة على اهل القرى) . والله ﷻ أعلم.

د ښځو له پاره عيدګاه ته وتلو حکم

سوال: چي کله د صحيحو احاديثو په رڼا کي ښځي عيدګاه ته تلي نو په جنوبي افريقا کي ولي ښځي عيدګاه ته نه ځي؟

الجواب: د نبي کريم ﷺ په زمانه کي ښځي عيدګاه ته تلی او همدا ډول په نورو لمنځونو کي يې هم د تلو ثبوت سته خو په اوس وخت کي د زمانې د فساد له امله د متاخرينو علماوو متفقه فيصله ده چي د ښځو له پاره عيدګاه يا مسجد ته تلل منعه دي د دې مسئلي تفصيلي بحث په ابواب الامامة دوهم فصل د جماعت احکام کي تير سوي دئ هلته يې وګورئ. والله ﷻ اعلم.

د احاديثو او څلور مذاهبو په رڼا کي د عيدګاه حيثيت

سوال: د احاديثو او څلورو مذاهبو په رڼا کي د عيدګاه حيثيت څه دئ؟

الجواب: د احاديثو په رڼا کي د نبي کريم ﷺ همېشنی عمل دا وو چي په عيدګاه کي به يې د اخترونو لمنځونه اداء کول همدا ډول د څلورو امامانو په اند هم د اخترونو لمنځونه په عيدګاه کي کول سنت دي لهذا معلومه سوه چي د اختر لمونځ په عيدګاه کي اداء کول سنت مؤکد دي.

د احاديثو په رڼا کي عيدګاه:

وګورئ په حديث شريف کي راځي:

عن أبي سعيد الخدري ﷺ، قال : ثم كان رسول الله ﷺ يخرج يوم الفطر والأضحى إلى المصلى .... (رواه البخاری: باب الخروج الى المصلى بغير منبر – وباب الزكاة على الاقارب).

په سنن ابو داؤد کي راځي:

عـن بكـر بـن مبشر الأنـصاری رضي الله عنه قـال: كنـت أغـدو مـع أصـحاب رسـول الله ﷺ إلى الـمصلى. يوم الفطر ويوم الأضحى .... (سنن ابی داؤد: باب اذا لم يرخرج الامام للعيـد من يومه يخرج من الغد – وسنن النسائی: باب استقبال الامام الناس بوجهه فی الخطبة).

په سنن ابن ماجه کې راځي:

عن ابن عمر رضي الله عنهما، أن رسول الله ﷺ كان يغدو إلى الـمصلى في يوم عيد . (سنن ابن ماجه: باب ماجاء فی الحربة يوم العيد).

همدا ډول وګورئ: (مؤطا امام مالک: باب ترک الصلاة قبل العيدين وبعدهما – والمستدرک على الصحيحين: كتاب صلاة العيدين – ومصنف ابن ابی شيبة: باب فی الطعام يوم الفطر قبل ان يخرج الی المصلی – ومصنف عبد الرزاق: كتاب صلاة العيدين – المعجم الاوسط: رقم ۷۵۲۲ – المعجم الكبير: رقم ۱۱۶۴۸ – صحيح ابن خزيمة: باب الخروج الی المصلی لصلاة العيدين – صحيح ابن حبان: ذكر ما يستحب للإمام سوال رعيته الصدقة على الفقراء إذا علم الحاجة بهم).

د احنافو مذهب:

په درمختار کې راځي:

ماشيًا إلى الـجبانة وهی الـمصلى العـام والـخروج إليها أى الـجبانة لـصلاة العيـد سـنة وإن وسعهم الـمسجد الجامع هو الصحيح. (الدر المختار: باب العيدين).

همدا ډول وګورئ: (الهداية: باب صلاة العيدين – بدائع الصنائع: فصل صلاة العيـدين – ودرر الحكام شرح غرر الاحكام: باب صلاة العيدين – والبحر الرائق: باب صلاة العيدين – الهندية: البـاب الـسابع عشر فی صلاة العيدين – ملتقى الابحر: باب صلاة العيدين).

د مالکيه وو مذهب:

وګورئ په مدونه کې راځي:

وقال مالك رحمه الله: لا يصلى في العيدين في موضعين ولا يصلون في مسجدهم، ولكن يخرجون كما خرج النبي ﷺ قال ابن وهب عن ابن يونس عن ابن شهاب قال: « كان رسول الله ﷺ يخرج إلى المصلى، ثم استن بذلك أهل الأمصار» . (المدونة: كتاب الصلاة صلاة العيدين).

همدا ډول وګورئ: (المدخل: فصل فی خروج الامام الی صلاة العيدين – التاج والا كليل لمختصر الخليل: فصل فی حكم صلاة العيدين – مواهب الجليل فی شرح مختصر الخليل: فصل صلاة العيدين – وحاشية الدسوقی على الشرح الكبير: فصل فی احكام صلاة العيد).

د شافعيه وو مذهب:

په شرح المهذب کي راځي:

والسنة أن يصلي صلاة العيد في المصلي إذا كان مسجد البلد ضيقًا لما روى أن النبي ﷺ "كان يخرج الي المصلي " ولان الناس يكثرون في صلاة العيد فإذا كان المسجد ضيقًا تأذوا ...... قال الشافعي رحمه الله: فان كان المسجد واسعًا فصلى في الصحراء فلا بأس وان كان ضيقًا فصلى فيه ولم يخرج إلى الصحراء كرهت ...... وان لم يكن عذر وضاق المسجد فلا خلاف أن الخروج الي الصحراء افضل وان اتسع المسجد ولم يكن عذر فوجهان (أصحهما) وهو المنصوص في الام وبه قطع المصنف وجمهور العراقيين والبغوى وغيرهم ان صلاتها في المسجد افضل (والثاني) وهو الاصح عند جماعة من الخراسانيين ؟ وقطع به جماعة منهم ان صلاتها في الصحراء افضل " لان النبي ﷺ واظب عليها في الصحراء ".

(شرح المهذب:٥/ ٤ –٥ ، باب صلاة العيدين، دار الفكر).

همدا ډول وګورئ: (اسنی المطالب: فصل صلاة العیدین – ونهایة المحتاج الی شرح المنهاج: باب صلاة العیدین – مغنی المحتاج: باب صلاة العیدین – الغرر البهیة: باب صلاة العیدین – حاشیة قلیوبی: باب صلاة العیدین).

د حنابله وو مذهب:

وګورئ په مغني کي راځي:

السنة أن يصلي العيد في المصلى أمر بذلك علي رضي الله عنه واستحسنه الأوزاعي وأصحاب الرأي وهو قول ابن المنذر ...... ولنا أن النبي ﷺ كان يخرج إلى المصلى ويدع مسجده وكذلك الخلفاء بعده ولا يترك النبي ﷺ الأفضل مع قربه ويتكلف فعل الناقص مع بعده ولا يشرع لأمته ترك الفضائل ولأننا قد أمرنا بإتباع النبي ﷺ والاقتداء به ولا يجوز أن يكون المأمور به هو الناقص والمنهي عنه هو الكامل ولم ينقل عن النبي ﷺ أنه صلى العيد بمسجده وضيقه وكان النبي ﷺ يصلي في المصلى مع شرف مسجده ...... (المغنی لابن قدامة الحنبلی: باب صلاة العیدین، مسئلة ان یصلی العید فی المصلی).

همدا ډول وګورئ: (کشاف القناع عن متن الاقناع: باب صلاة العیدین – الفروع: باب صلاة العیدین).

والله تعالیٰ اعلم.

په عیدګاه کي د سجده سهوي حکم

سوال: په اخترونو کي سجده سهو شته او که نه؟ که داخترونو تکبیرات پاته سي نو حکم یې څه دئ؟

الجواب: که مقتدیان عادت وي او پوهه ولري نو سجده سهو دي وکړي که نه د سجده سهوي ضرورت نه شته که بیا دریدو ته را وګرځي نو هم ګنجائش شته په اخر کي دي سجده سهو وکړئ.

وګورئ په طحطاوي کي راځي:

قوله : ولا يأتي الإمام بسجود السهو في الجمعة والعيدين، أي والمأموم كذلك لأنه تابع له، وظاهره كراهة الإتيان به فيها، والظاهر أنها تنزيهية لا تحريمية. قوله : دفعًا للفتنة أي افتتان الناس وكثرة الهرج، قوله : بكثرة الجماعة .....وأخذ العلامة الداني من هذه السببية أن عدم السجود مقيد بما إذا حضر جمع كثير أما إذا لم يحضروا، فالظاهر السجود لعدم الداعي إلى الترك وهو التشويش . (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح:ص ٤٦٥، باب سجود السهو، قديمى).

په بدائع الصنائع کې راځي:

ولو ركع الإمام بعد فراغه من القراءة في الركعة الأولى فتذكر أنه لم يكبر فإنه يعود ويكبر ، وقد انتقض ركوعه ولا يعيد القراءة .(بدائع الصنائع:١/ ٢٧٨، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د اخترونو د لمانځه وروسته د اجتماعي دعاء کولو حکم

سوال: د اختر د لمانځه وروسته د اجتماعي دعاء حکم څه دئ؟ ځيني کسان يې له خطبې څخه وروسته کوي د دې حکم څه دئ؟

الجواب: د لمانځه څخه وروسته د دعاء ثبوت په احاديثو کې ډېر زيات موجود دئ چې يادونه يې مخکې سوې ده لهذا د اخترونو د لمانځه وروسته اجتماعي دعاء کول درسته او صحيح ده خو د خطبې څخه وروسته د دعاء کولو ثبوت نه سته لهذا د لمانځه څخه وروسته دې پر دعاء کولو اکتفاء وسي.

وګورئ په امداد الاحکام کې راځي:

د مناجات بعد الصلاة په هکله روايات موجود دي:

وهى هذه: عن أم عطية ﵂ قالت: كنا نؤمر أن نخرج يوم العيد حتى تخرج البكر من خدرها حتى تخرج الحيض فيكن خلف الناس فيكبرن بتكبيرهم ويدعون بدعائهم يرجون بركة ذلک اليوم وطهرته، أخرج البخارى فى صحيحه كذا فى فتح البارى:٢/ ص ٣٨٦- وأخرج

الترمذی عن أم عطية رضي الله عنها أن رسول الله ﷺ كان يخرج الأبكار والعواتق وذوات الخدرو الحيض فی العيدين فأما الحيض فيعتزلن المصلی ويشهدن دعوة المسلمين، الحديث ص:۷۰، وقال الترمذی حديث ام عطية حديث حسن صحيح.

په دغه حديث کي له دعاء څخه د خطبې دعاء نه مراديږي ځکه په خطبه کي يوازي امام دعاء کوي سامعين دعاء نه کوي او له حديث څخه معلوميږي چي حائضي به په اخترونو کي د نارينه وو شا ته دريدي او د نارينه وو له تکبير سره به يې تکبير وايه او د هغوی له دعاء سره به يې دعاوي کولي له دې څخه د نارينه وو او زنانو ټول دعاء کول ثابتيږي او يقيناً د لمانځه څخه مخکي د تکبير او دعاء وخت نه دئ دعاء به له لمانځه څخه وروسته کېده او په ترمذي کي په همدغه حديث کي دا الفاظ راغلي دي ويشهدن دعوة المسلمين چي ښځو به د مسلمانانو په دعاء کي شراکت کاوه ځکه نو د اخترونو د لمانځه وروسته دعاء کول جائز او مستحب دي د استحباب او جواز څخه يې انکار نه سي کېدای. (امداد الاحکام: ۱/ ۷٤۲).

په فتاوی محموديه کي راځي:

داختر د لمانځه وروسته دي دعاء وکړي د خطبې څخه وروسته دعاء کول اصل نه لري. (فتاوی محموديه: ۸/ ٤٦٤). او همدا ډول وګورئ: (احسن الفتاوی: ٤/ ۱۱۵، او امداد الفتاوی: ۱/ ٤۰۷). والله تعالی اعلم.

د مسبوق له پاره د زوائدو تکبيرانو حکم

سوال: که د چا څخه يو رکعت او يا دواړه پاته سوه نو د زوايدو تکبيراتو حکم يې څه دئ؟

الجواب: که په لومړي رکعت کي شريک سو او امام قرائت شروع کړ نو د تکبير تحريمي وروسته دي تکبيرات ووايي که يې په رکوع کي امام ومونډي او غالب ګمان يې دا وي چي د تکبيراتو ويلو وروسته هم له امام سره رکوع نيولای سي نو د ولاړي په حالت کي دي اداء کړي که نه په رکوع کي بېله لاس پورته کولو ووايي که په دوهم رکعت کي شامل سي نو د امام د سلام څخه وروسته چي

کله خپل لمونځ کوي نو د قرائت څخه وروسته دي تکبیرات وايي او که په تشهد کي شامل سي نو د امام پر طریقه دي لمونځ پوره کړي.

په درمختار کي ليکي:

ولو أدرک المؤتم الإمام فی القيام بعد ماکبر کبر فی الحال. وفی الشامی: قوله فی القيام أی الذی قبل الرکوع أما لو أدرکه راکعًا فان غلب علی ظنه ادراکه فی الرکوع کبر قائمًا برأی نفسه ثم رکع وإلا رکع وکبر في رکوعه ولا يرفع يديه لأن الوضع علی الرکبتين سنة في محله والرفع لا في محله وإن رفع الإمام رأسه سقط عنه ما بقي من التکبير لئلا تفوته المتابعة ولو أدرکه في قيام الرکوع لا يقضيها فيه لأنه يقضي الرکعة مع تکبيراتها، فتح و بدائع، قوله کبر في الحال أي وإن کان الإمام قد شرع في القراءة کما في الحلية. ولو سبق برکعة يقرأ ثم يکبر لئلا يتوالی التکبير. (الدر المختار مع الشامی:۲/ ۱۷۳ - ۱۷۴، باب العدين، سعيد - وکذا فی حاشية الطحطاوی علی مراقی الفلاح:ص ٥٣٤، باب احکام العيدين، قديمی - وشرح منية المصلی: ص ٥٧٢، سهيل).

په فتاوی هنديه کي راځي:

إذا أدرك الإمام في صلاة العيد بعد ما تشهد الإمام قبل أن يسلم أو بعدما سلم قبل أن يسجد للسهو أو بعدما سجد للسهو ولم يسلم الإمام فإنه يقوم ويقضي صلاة العيد . (الفتاوی الهندية:١/ ١٥١، فی صلاة العيدين). والله ﷻ اعلم.

په شافعي امام پسي په تكبيرات زوائد كي د اتباع حكم

سوال: حنفي مقتدى كه په شافعي امام پسي د اختر لمونځ كوي نو په زوايدو كي به د امام اتباع كوي او كه نه؟

الجواب: د دې امله چي د امام اتباع واجب او ضروري ده نو په لومړى ركعت كي به اووه او په دوهم كي به پنځه تكبيره وايي، البته مسبوق به په خپل پاته لمانځه كي د خپل مذهب اتباع كوي .

په فتاوى شامي كي راځي:

قوله : ولو زاد تابعه لأنه تبعلإمامه فتجب عليه متابعته وترك رأيه برأي الإمام لقوله عليه الصلاة والسلام] إنما جعل الإمام ليؤتم به فلا تختلفوا عليه] فما لم يظهر خطؤه بيقين كان اتباعه واجبًا ولا يظهر الخطأ في المجتهدات . (شامى:٢/ ١٧٢، باب العيدين، سعيد).

قال فى الدر: ولو أدرك المؤتم الإمام فى القيام بعد ماكبر كبر فى الحال برأى نفسه لانه مسبوق . وفى الشامى: قوله برأى نفسه أى ولو كان إمامه شافعيًا كبر سبعًا فانه يكبر ثلاثًا.

(الدر المختار مع الشامى:٢/ ١٧٤، باب العيدين).

په فتاوى هنديه كي راځي:

قول محمد رحمه الله في الجامع: إذا دخل الرجل مع الإمام في صلاة العيد وهذا الرجل يرى تكبيرات ابن مسعود رضي الله عنه فكبر الإمام غير ذلك اتبع الإمام إلا إذا كبر الإمام تكبيرًا لم يكبره أحدمن الفقهاء فحينئذ لا يتابعه ، كذا في المحيط . (الفتاوى الهندية:١/ ١٥١، صلاة العيدين – وكذا فى بدائع الصنائع:١/ ٢٧٧، سعيد – وشرح منية المصلى:ص ٥٧٢، سهيل). والله تعالى اعلم.

امام که د تکبیراتو له پاره د ولاړي لوري ته راګرځېدئ

سوال: که ديوه امام څخه داختر دلمانځه په دوهم رکعت کي تکبيرات زوائد هير سوه او د خلکو د فتحي ورکول له امله ولاړي ته راوګرځېدئ نو حکم ئې څخه دئ؟

الجواب: په دې صورت کي که پر مخکنی رکوع اکتفاء وکړي نو لمونځ به يې درست وي خو که يې دوهمه رکوع وکړل نو هم يې لمونځ وسو بلکي دوهمه رکوع دي وکړي چي د لمانځه ترتيب يې صحيح سي.

په فتاوی هنديه کي راځي:

وذكر في كشف الأسرار أن الإمام إذا سها عن التكبيرات حتى ركع فإنه يعود إلى القيام بخلاف المسبوق. (الفتاوی الهندية:۱/ ۱۲۸، صلاة العيدين).

په طحطاوی کي راځي:

واعادة الركوع لاتفسد أيضًا فلو أدركه رجل فى الركوع الثانى كان مدركًا لتلك الركعة.

(حاشية الطحطاوی على الدر المختار:۱/ ۲۸۲).

په البحر الرائق کي راځي:

فإن عاد إلى القيام وقنت ولم يعد الركوع لم تفسد صلاته لأن ركوعه قائملم يرتفض.

(البحر الرائق:۲/ ۴۳، کوئتة).

په عمدة الفقه کي راځي:

که د ولاړي پر لور راوګرځېدئ هم روا ده لمونځ يې نه فاسديږي همدغه صحيح ده خو رکوع دي راوګرځوي نه قرائت.(عمدة الفقه دوهم برخه:صـ ۴۶۵). والله تعالیٰ اعلم.

د اخترونو پر موقع مبارکي ورکول

سوال: په اختر کي مبارکي ورکول په احاديثو او خير القرون کي ثبوت لري او که نه؟

الجواب: په اخترونو کي ((تقبل الله مناومنک)) ويل د نبي کريم ﷺ او صحابه کرامو څخه ثابت دي عام خلک په دې وخت کي اختر مبارک وايي دا هم درسته ده ځکه چي کله الله تعالی کوم شی قبلوي نو هغه زياتوي او په هغه کي برکت اچوي په قرآن کريم کي فرمايي، ﴿ فتقبلها ربها بقبول حسن وأنبتها نباتًا حسنًا ﴾. (سورة الاعمران:۳۷). د قبوليت سره برکت لازم دئ.

په سنن کبری کي راځي:

عن خالد بن معدان قال: لقيت واثلة بن الأسقع ﷺ فى يوم عيد فقلت : تقبل الله منا ومنك فقال :« نعم تقبل الله منا ومنك ». قال واثلة ﷺ يوم عيد فقلت : تقبل الله منا ومنك فقال :« نعم تقبل الله منا ومنك : نعم تقبل الله مناومنک. عن أدهم مولى عمر بن عبد العزيز رحمه الله قال: كنا نقول لعمر بن عبد العزيز رحمه الله فى العيدين : تقبل الله منا ومنك يا أمير المؤمنين فيرد علينا ولا ينكر ذلك علينا. (السنن الكبرى للبيهقى:۳/ ۳۱۹ – وكذا فى مجمع الزوائد:۲/ ۲۰۶).

په الجوهر النقي کي راځي:

قلت: فى هذا الباب حديث جيد اغفله البيهقى وهو حديث محمد بن زياد قال: كنت مع أبى أمامة الباهلى ﷺ وغيره من اصحاب النبى ﷺ فكانوا إذا رجعوا يقول بعضهم لبعض تقبل الله منا ومنک قال أحمد بن حنبل رحمه الله إسناده جيد. (الجوهر النقى عل هامش السنن الكبرى:۳/ ۳۱۹).

همداسي د فقهي د کتابو څخه يې داستحباب ثبوت پيدا کيږي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

وندب......إظهار البشاشة وإكثار الصدقة والتختم والتهنية بتقبل الله منا ومنكم لاتنكر.

وفي الشامي: وإنما قال كذلك لأنه لم يحفظ فيها شيء عن أبي حنيفة رحمه الله وأصحابه رحمهم الله...... وقال المحقق ابن أمير حاج: بل الأشبه أنها جائزة مستحبة في الجملة ثم ساق آثارًا بأسانيد صحيحة عن الصحابة رضي الله عنهم في فعل ذلك ثم قال: والمتعامل في البلاد الشامية والمصرية «عيد مبارك عليك» ونحوه وقال يمكن أن يلحق بذلك في المشروعية والاستحباب لما بينهما من التلازم فإن من قبلت طاعته في زمان كان ذلك الزمان عليه مباركًا على أنه قد ورد الدعاء بالبركة في أمور شتى فيؤخذ منه استحباب الدعاء بها هنا أيضا. والله اعلم. (الدر المختار مع ردالمحتار:۲/ ۱۶۹، صلاة العيدين، سعيد – وكذا في شرح منية المصلى:۵۷۳، سهيل).

يو اشكال او جواب:

شكال: ځيني كسان دا اشكال كوي چې د اختر په ورځ اختر مبارک ويل بدعت دي ځکه ثابت نه دي، د دې جواب څه دئ؟

الجواب: د خوشحالى پر موقع مباركي وركول له احاديثو څخه ثابت ده او د يوه شى د ثبوت له پاره دا ضروري نه ده چې په احاديثو كې به يې تاكلي نوم هم راغلى وي، بلكې له عموماتو څخه هم ډېر احكام ثابتيږي كه له عموماتو څخه ثابت نه سي نو په دنيا كي به د ډېرو شيانو جواز او استحباب ثابت نه سي لهذا عموم احاديث چې د خوشحالى پر موقع راغلى دي د هغو له مخې د اخترونو پر موقع مباركي ويل يعني اختر مبارک ويل روا او درست دي خو ضروري او مسنون به يې نه ګڼي، البته كه رواج ګرځېدلى وي لكه څنګه چې عام خلك ورته ډېر اهميت وركوي نو بيا يې نه ويل مناسب دي.

۱_ د خوښي پر موقع د مبارکي ورکول څو احادیث وګورئ: « بارک الله لک وبارک علیک وجمع بینکما فی خیر » ووېل ثابت دي.

عن أبي هريرة رضي الله عنه: أن النبي ﷺ كان إذا رفأ الإنسان إذا تزوج قال « بارك الله لك وبارك عليك وجمع بينكما في الخير ». (رواه الترمذی:۱/ ۲۰۷، باب ماجاء للمتزوج - والبخاري:۲/ ۷۷٤/ ٤٩٦١، باب كيف يدعى للمتزوج).

۲_ حضرت جرير بن عبد الله رضي الله عنه چي کله د ذی الخلصه بت خانه ماته کړه، نو انحضرت ﷺ مبارکي ورکړه او دعاء يې ورته وکړه : قال: « اللّٰهم بارک لأحمس فی خیلها ورجالها ».

۳_ د کوچني د پیدائښت په وخت کي مبارکي ورکول ثابته ده. وګورئ:

عن حدثنا السري بن يحيى أن رجلًا ممن كان يجالس الحسن رحمه الله ولد له ابن فهنأه رجل فقال: ليهنك الفارس، فقال الحسن رحمه الله « وما يدريك أنه فارس لعله نجار لعله خياط » قال: فكيف أقول؟ قال: « قل جعله الله مباركًا عليك وعلى أمة محمد ﷺ . وعن عن حماد بن زيد قال: كان أيوب إذا هنأ رجلًا بمولود قال: « جعله الله مباركا عليك وعلى أمة محمد ﷺ ».

۴_ د حضرت کعب بن مالک رضي الله عنه توبه قبوله سوه نو حضرت طلحه رضي الله عنه مبارکي ورکړه. وګورئ په بخاري شریف کي راځي:

عن عبد الله بن كعب بن مالك رضي الله عنه عن أبيه فی حدیث طویل ..... قال كعب رضي الله عنه حتى دخلت المسجد فإذا رسول الله ﷺ جالس حوله الناس فقام إليّ طلحة بن عبيد الله رضي الله عنه يهرول حتى صافحني وهنّاني والله ما قام إليّ من المهاجرين غيره .....

۵_ ملا علي قاري رحمه الله له يوه حديث څخه استدلال کوي چې د مبارکو مياشتو په پيل کې مبارکي ورکول درست دي.

وګورئ په مرقات شرح مشکوة کې راځي:

عن أبي هريرة رضي الله عنه، قال: قال رسول الله ﷺ: أتاكم رمضان شهر مبارك ... رواه أحمد والنسائى . قال الملا على القارى رحمه الله (شهر مبارک) وظاهره الإخبار أى كثر خيره الحسى والمعنوى كما هو مشاهد فيه ويحتمل أن يكون دعاء أى جعله الله مباركاً علينا وعليكم وهو أصل فى التهنئة ألمتعارفة فى أول الشهور بالمباركة. (المرقات المفاتيح:٤/ ٢٣٥، كتاب الصوم، الفصل الثالث، مكتبة امدادية ملتان).

٦_ په اخترونو کې د ((تقبل الله منا ومنک)) ثبوت شته او د تقبل معنا دا ده چې قبلول چې کله يې الله تعالى قبول کړي نو ديوې نيکي ثواب ورزياتوي او په برکت کې هم د نما معنا پيدا کيږي لهذا په مبارکي کې تقبل الله ضمناً شامل دئ.

خلاصه دا ده چې په اخترونو کې اختر مبارک ويل درست دي چې ترڅو يې سنت او ضروري ونه ګڼي او ويونکی ته يې مبتدع ويل درست نه دي او پر نه ويونکي بايد انکار ونه سي، البته څنګه چې يې ديو رواج شکل اختيار کړي دئ لهذا نه کول يې مناسب دي. والله تعالى اعلم.

د اختر په ورځ د دريو وهلو حکم

سوال: د اختر په ورځ دريي وهل مباح دي او که مکروه او يا ناروا دي؟

الجواب: په احاديثو کې د خوشحالي پر موقع د دريو وهلو اجازه شته لهذا د اختر په ورځ د دريو وهلو ګنجائش شته خو د شرعي حدودو پابندي لازمه ده يعنی د موسيقي د نوو آلاتو د استعمال اجازه به نه وي.

وګورئ په بخاري شريف کې راځي:

قالت الربيع بنت معوذ ابن عفراء جاء النبي ﷺ فدخل حين بني علي فجلس على فراشي كمجلسك مني فجعلت جويرياتلنا يضربن بالدف ويندبن من قتل من آبائي يوم بدر إذ قالت إحداهن وفينا نبي يعلم ما في غد فقال دعي هذه وقولي بالذي كنت تقولين. (رواه البخاري:۲/ ۷۷۳/ ۴۹۵۳، باب ضرب الدف فی النکاح الولیمة، فصل.

په ابن ماجه کي راځي:

عن أبي الحسين اسمه : المدني ، قال : كنا بالمدينة يوم عاشوراء ، والجواري يضربن بالدف ويتغنين ، فدخلنا على الربيع بنت معوذ ، فذكرنا ذلك لها ، فقالت : دخل علي رسول الله ﷺ صبيحة عرسي ، وعندي جاريتان يتغنيان ، وتندبان ...... (رواه ابن ماجه:۱۳۶).

په عمدة القاري کي علامه عيني رحمه الله فرمايي:

ولا يلزم من إباحة الضرب بالدف في العرس ونحوه إباحة غيره من الآلات كالعود ونحوه وسئل أبو يوسف رحمه الله عن الدف: أتكرهه في غير العرس مثل المرأة في منزلها والصبي؟ قال: فلا كراهة وأما الذي يجيء منه اللعب الفاحش والغناء فإني أكرهه. (عمدة القاري:۵/ ۱۵۸، باب الحراب والدرق یوم العید، دار الحدیث ملتان).

په البحر الرائق کي راځي:

وفي الذخيرة وغيرها : لا بأس بضرب الدف في العرس والوليمة والأعياد وكذا لا بأس بالغناء في العرس والوليمة والأعياد حيث لا فسق . (البحر الرائق:۷/ ۱۸۸، کتاب الکراهية فصل فی الأکل والشرب، کوئتة).

په امداد الاحکام کي ليکي:

د کوچني اختر په ورځ دیو څه لهو اولعب اجازه سته له دریي سره غزل روا ده په دې شرط چې غزل ویونکی هلک یا ښځه نه وي او غزل یې د موسیقي پر طریقه نه وي او دریه هم د موسیقي پر قاعده ونه وهل سي بلکي بېله قاعدي ووهل سي. (امداد الاحکام:٤/ ٣٧٥).

او همدا ډول ګوري: (شامي:٦/ ٥٥، ٣٥٠، سعيد – والفتاوى الهندية:٥/ ٣٥٢ – والمحيط البرهاني:٥/ ٢٣٣، كراهية الفصل الثاني عشر – وكفايت المفتى:٩/ ١٨٦، حظر واباحت باب ١٥). والله اعلم.

د اختر په ورځ هدیرې ته د تللو حکم

سوال: د اختر په ورځ هدیرې ته تلل څنګه دي؟

الجواب: د اختر په ورځ هدیرې ته تلل درست دي بلکي علماوو په ښو ورځو کي شمیرلي دي څکه نو مستحب به وي مګر هغه باید لازم او سنت ونه ګڼل سي.

وګورئ په فتاوی هندیه کي راځي:

وأفضل أيام الزيارة أربعة...... وكذلك في الأزمنة المتبركة كعشر ذي الحجة والعيدين...... (الفتاوى الهندية:٥/ ٣٥٠، في زيارة القبور).

په عمدة الفقه کي راځي:

د جمعې یا دوشنبې په ورځ د قبرونو زیارت مستحب دي تر ټولو افضله یې د جمعې ورځ او د سهار وخت دئ د پنځلسی په شپه کي او د ذی الحجې په لسو ورځو کي او په اخترونو کي او د محرم په عشره کي د قبرونو زیارت کول افضل دي. (عمدة الفقه، دومه برخه:صـ ٥٣٨، او فتاوى محموديه:٩/ ٢١٠). والله ﷻ اعلم.

د اخترونو د لمانځه کولو وروسته په بل ملک کي د اختر د لمانځه د ورکولو حکم

سوال: یوه مولوي صاحب د اختر لمونځ په حرمینو کي اداء کړ بله ورځ جنوبي افریقا ته راغلی دلت په دوهمه ورځ اختر وو نو ایا دغه مولوي صاحب د اختر لمونځ ورکولای سي او که نه؟ او که یې د بل چا په اقتداء کي اداء کړي څنګه به وي؟

الجواب: په دې صورت کي دغه مولوي صاحب د اختر د لمانځه امامت نه سي کولای، البته د بل امام په اقتداء کي يې کولای سي بلکي د مسلمانانو سره د موافقت له پاره يې کول ښه دي.

په فتاوى محموديه کي راځي:

که يو امام صاحب د اختر لمونځ ورکړ بيا څه کسان نور راغلل هغو هم غوښتنه وکړه چي موږ ته دي د اختر لمونځ را کړي دوى ته يې هم لمونځ ورکړ نو دغه دوهم لمونځ يې نه دئ صحيح سوى. (فتاوى محموديه:۸/ ٤٣٦، باب العيدين كذا فى فتاوى دار العلوم ديوبند:٥/ ٢٢٤).

په بل ځاى کي داسي راغلي دي:

سوال: يو چا په مکه کي روژه ماته کړه يا يې د اختر لمونځ اداء کړ او بيا هندوستان ته راغى دلته د خلکو روژه ده او د اختر لمونځ يې اداء کړى نه دئ اوس څه وکړي روژه ونيسي د اختر لمونځ دوهم ځل اداء کړي او که نه؟

جواب: احتراما للوقت وموافقة للمسلمين هغه لمونځ دي هم وکړي او روژه دي هم ونيسي که څه هم فريضه يې اداء او مکمله سوه. (فتاوى محموديه:١٠/ ٣٧).

په بدائع الصنائع کي راځي:

أن النبي ﷺ صلى بالناس صلاة الخوف وجعل الناس طائفتين، وصلى بكل طائفة شطر الصلاة لينال كل فريق فضيلة الصلاة خلفه، ولو جاز اقتداء المفترض بالمتنفل لأتم الصلاة بالطائفة الأولى ثم نوى النفل وصلى بالطائفة الثانية؛ لينال كل فريق فضيلة الصلاة خلفه من غير الحاجة إلى المشي وأفعال كثيرة. (بدائع الصنائع:١/ ١٤٣، سعيد).

په امداد الفتاح کي راځي:

وأن لايكون الإمام أدنى حالًا من المأموم كان يكون متنفلًا والمقتدى مفترضًا أو معذورًا والمقتدى خاليًا منه. (امداد الفتاح:ص ٣٣٣، شروط صحة الاقتداء، بيروت – وكذا فى الدر المختار:١/ ٥٤٢، باب الامامة، سعيد).

البته په احسن الفتاوی کي د امامت جواز ذکر سوی دئ وګورئ: (احسن الفتاوی:٤/ ١٢٤).

په دلیل کي چي یې کوم نظر وړاندي کړی دئ د هغه خلاصه دا ده چي که د رمضان د میاشتي دلیدلو شاهدي رد سوی وي نو بالاتفاق پر دغه کس د دېرشو ورځو د تکمیل وروسته هم له نورو سره روژه او اختر لازم دئ لهذا جنوبي افریقه ته د راتګ وروسته هم اختر لازم دئ نو امامت کول درست دي خو د احتیاط خبره دا ده چي امامت دي نه کوي په بل پسي دي اقتداء وکړي. والله ﷻ اعلم.

د اخترونو په خطبه کي د تکبیراتو ثبوت

سوال: د اخترونو په لومړی خطبه کي نهه (٩) ځله او په دوهمه خطبه کي اووه (٧) ځله د تکبیر ویلو ثبوت په احادیثو او اثارو کي سته او که نه؟

الجواب: په لومړی خطبه کي نهه (٩) ځله او په دوهمه خطبه کي اووه (٧) ځله د تکبیر ویلو ثبوت په احادیثو او اثارو کي سته او همدا ډول فقهاوو هم مستحب بللی دي.

په مصنف ابن عبد الرزاق کي راځي:

عن عبيد الله بن عبد الله بن عتبة بن مسعود أنه قال: يكبر الإمام يوم الفطر قبل أن يخطب تسعًا حين يريد القيام وسبعًا في عالجته على أن يفسر لي أحسن من هذا فلم يستطع فظننت أن قوله حين يريد القيام في الخطبة الآخرة. وفى طريق آخر عنه قال: السنة التكبير على المنبر يوم العيد يبدأ خطبته الأولى بتسع تكبيرات قبل أن يخطب ويبدأ الآخرة بسبع. (مصنف عبد الرزاق:٣/ ٢٩٠ – وكذا فى مصنف ابن ابى شيبة:١/ ٢٥٢ – وكذا فى السنن الكبرى للبيهقى:٣/ ٢٩٩ – والسنن الصغرى للبيهقى:١/ ٢٣١ – ومعرفة السنن والآثار:٣/ ٤٩، ٥٠، باب السنة فى الخطبة).

په اعلاء السنن کي راځي:

قال أصحابنا الحنفية: ويستحب أن يستفتح (الخطبة) الأولى (فى العيدين) بتسع تكبيرات تترى أى متتا بعات، والثانية بسبع هو السنة، ولعلهم ذهبوا إلى عموم قوله ﷺ «زينوا أعيادكم بالتكبير» وهو حديث حسن كما قد ذكرناه وإلى خصوص ما أخرجه الشافعى

رحمة الله عليه فی الأم: أخبرنا إبراهيم بن محمد عن عبد الرحمن بن محمد بن عبد الله عن إبراهيم بن عبد الله عن عبيد الله بن عبد الله بن عتبة قال: السنة فی التكبير يوم الأضحی، والفطر علی المنبر قبل الخطبة أن يبتدئ الإمام قبل أن يخطب وهو قائم علی المنبر بتسع تكبيرات تترى لايفصل بينها بكلام، ثم يخطب ثم يجلس جلسة ثم يقوم فی الخطبة الثانية فيفتحها بسبع تكبيرات تترى لايفصل بينها بكلام ثم يخطب، قلت:...... ولكن الحديث أخذ به الشافعی رحمة الله عليه، فلا أقل من أن يكون حسنًا عنده وقد تقدم ان قول التابعی. « السنة » مرفوع مرسل عند بعضهم، فلابأس بالأخذ به فی فضائل الأعمال ويجوز اثبات الاستحباب بمثله.

قال الشافعی رحمة الله عليه: أخبرنی من وثق به من أهل العلم من أهل المدينة قال: أخبرنی من سمع عمر بن عبد العزيز وهو خليفة يوم فطر فظهر علی المنبر فسلم ثم جلس ثم قال: إن شعائر هذا اليوم التكبير، والتحميد، ثم كبر مرارًا الله أكبر الله أكبر والله الحمد، ثم تشهد للخطبة ثم فصل بين التشهد بتكبيرة.

قلت: فهذه دلائل ماذهب إليه أصحابنا الحنفية فی الباب. (اعلاء السنن:۸/ ۱۶۱، تکبیرات التشریق، ادارۃ القرآن). (الدر المختار:۲/ ۱۷۵، سعید – والبحر الرائق:۲/ ۱۶۲ – واحسن الفتاوی:۴/ ۱۲۷ – وفتاوی محمودیہ:۸/ ۴۵۴، مبوب ومرتب) واللہ ﷻ اعلم.

د اخترونو د خطبې د اورېدو حکم

سوال: یو څوک د اختر د خطبې په وخت کي ناست وو بیا چي کله خطبه شروع سوه نو دی ولاړي اوس پر دغه کس گناه سته او که نه؟

الجواب: د اخترونو خطبه سنت ده او د هغه له پاره کښېناستل واجب نه دي خو که د مخکي څخه ناست وي بیا شروع سي نو اوس یې اورېدل واجب دي لهذا څوک چي ورڅخه ولاړ سي نو گناه کار به وي داسي دي نه کوي.

په اعلاء السنن کي راځي:

قال الشيخ: ولم أطلع على رواية فقهية في هذا الباب أنه هل يجب الجلوس الاستماع هذه الخطبة أم لا؟ نعم، ذكر في « الدر المختار » في باب الجمعة أنه يجب الاستماع لسائر الخطب، كخطبة النكاح وخطبة عيد وختم على المعتمد، لكن لايلزم منه وجوب الجلوس كما في خطبة النكاح لايجب الجلوس لكن ان جلس يجب استماعه، والظاهر أن يقال: إنه لايجب الجلوس لخطبة العيد كما لايجب نفس خطبة العيد، ولكن إن جلس يجب استماعه. كما قالوا: إن من حضر التلاوة يجب استماعة مع عدم وجوب الجلوس له. فان ظفر أحد بالرواية الفقهية في هذا الباب فليخبرنا أو يلحق بهذا المقام.

فثبت أن التخلف عن خطبة العيد جائز. وأما إذا جلس لها فيكره الكلام وترك الاستماع لها، كما صرح به في الدر. (اعلاء السنن:۸/ ۱٤٤، كيفة صلاة العيدين، ادارة القرآن).

د ابن ماجه شریف له روایت څخه معلومېږي چي کښېناستل واجب نه دي بلکي اختیار دي.

وگورئ:

عن عبد الله بن السائب رضي الله عنه، قال : حضرت العيد مع رسول الله ﷺ فصلى بنا العيد ، ثم قال : قد قضينا الصلاة . فمن أحب أن يجلس للخطبة فليجلس ، ومن أحب أن يذهب

فلیذهب. (رواه ابن ماجه:ص ۹۱، باب ماجاء فی انتظار الخطبة بعد الصلاة، قدیمی - وابو داؤد:۱/ ۱۶۳، باب الجلوس للخطبة وقال: هذا حدیث مرسل - والنسائی:۱/ ۲۳۳، باب التخییر بین الجلوس للخطبة).

په امداد المفتیین کي لیکي:

د اختر د خطبې ویل او اورېدل سنت مؤکد دي خو چي کله خطبه ویل کیږي په هغه وخت کي خبري وغیره روا نه دي او شور جوړول سخته ګناه ده. (امداد المفتیین:۱/ ۳۳۰، او امداد الفتاوی:۱/ ۴۵۸، او فتاوی محمودیه:۱۱/ ۴۵۶، او احسن الفتاوی:۵/ ۳۵). والله ﷻ اعلم.

په اخترونو کي د مصافحې او معانقې حکم

سوال: په اخترونو کي مصافحه او معانقه روا ده او که بدعت دئ؟ باید هغه منع سي او که نه؟

الجواب: په دې مسئله کي د علماوو مختلف اقوال دي ځینو مکروه او ځینو ورته بدعت ویلي دي خو واضح خبره دا ده چي کوم کار چي مسنون او مستحب ونه ګڼل سي د هغه له پاره نفس ثبوت کافي دئ یا دا چي د شرعي نصوصو سره په ټکر کي نه وي لکه تعویذات یا دمونه د هغه له پاره مطلق ثبوت یا د شریعت له اصولو سره نه ټکرېدل کافي دي د خاص ثبوت ضرورت نه سته پر دغه بنیاد که د اخترونو مصافحه او معانقه د خوشحالي د اظهار ذریعه وګڼل سي نو د هغه له پاره د خوشحالي په وخت کي د مصافحې او معانقې ثبوت کافي دئ او په څو احادیثو کي د خوشحالي په وخت کي د مصافحي او معانقي ثبوت سته د مشت نمونه خروار په توګه څو احادیث وړاندي کوو.

په بخاري شریف کي راځي:

۱ ــ عن أبي هريرة ﷺ، قال: خرج النبي ﷺ في النهار لا يكلمني، ولا أكلمه حتى أتى سوق بني قينقاع فجلس بفناء بيت فاطمة ﷺ فقال: أثم لكع أثم لكع؟ فحبسته شيئًا فظننت أنها تلبسه سخابًا، أو تغسله فجاء يشتد حتى عانقه وقبله وقال: أحببه وأحب من يحبه. (رواه

البخاری:۱/ ۲۸۵، ماذکر فی الاسواق - وأخرجه مسلم أیضًا فی فضائل الحسین رضي الله عنه ولفظه: حتی اعتنق کل واحد منهما صاحبه فقال......... (رواه مسلم:۲/ ۲۸۲، فضائل الحسین).

۲_ وأخرج البخاری فی قصة هجر عائشة رضي الله عنها ابن الزبیر بسبب منعه ایاها عن کثرة الصدقة وشفاعة المسور بن مخرمة وعبد الرحمن بن الأسود إلی عائشة رضي الله عنها فقال: فی آخر الحدیث ...... فلما دخلوا دخل ابن الزبیر رضي الله عنه الحجاب فاعتنق عائشة رضي الله عنها وطفق یناشدها ویبکی .... (رواه البخاری:۲/ ۸۹۷، کتاب الادب).

۳_ وأخرج الترمذی عن عائشة رضي الله عنها قالت: قدم زید بن حارثة رضي الله عنه المدینة ورسول ﷺ في بیتي فأتاه فقرع الباب فقام إلیه رسول الله ﷺ عریانًا یجر ثوبه والله ما رأیته عریاناً قبله ولا بعده فاعتنقه وقبله. (رواه الترمذی:۲/ ۱۰۲، المعانقة).

٤_ وأخرج أحمد في مسند بسنده عن عبد الله بن محمد أنه سمع جابر بن عبد الله رضي الله عنه یقول: بلغني حدیث عن رجل سمعه من رسول الله ﷺ فاشتریت بعیرًا ثم شددت علیه رحلي فسرت إلیه شهرًا حتی قدمت علیه الشام فإذا عبد الله بن أنیس فقلت للبواب قل له جابر رضي الله عنه علی الباب فقال: بن عبد الله قلت: نعم فخرج یطأ ثوبه فاعتنقني واعتنقته ...... (مسند الامام احمد بن حنبل:۳/ ٤۹۵/ ١٦٤٦٥).

۵_ وعن أم سلمة رضي الله عنها قالت: بینما رسول الله ﷺ في بیتي یومًا إذ قالت الخادم ان علیًا رضي الله عنه وفاطمة رضي الله عنها بالسدة قالت: فقال لي قومي فتنحی لي عن أهل بیتي، قالت: فقمت فتنحیت في البیت قریبًا فدخل علي رضي الله عنه وفاطمة رضي الله عنها ومعهما الحسن رضي الله عنه والحسین رضي الله عنه وهما صبیان صغیران فأخذ الصبیین فوضعهما في حجره فقبلهما قال: واعتنق علیًا رضي الله عنه بإحدی

یدیه وفاطمة رضي الله عنها بالید الأخری فقبل فاطمة رضي الله عنها وقبل علیًا .... (مسند الامام احمد:۶/ ۲۹۶/ ۲۷۲۹۹ – و ۵/ ۱۶۲/ ۲۲۰۵۷، حدیث ابی ذر الغفاری رضي الله عنه).

۶_ وأخرج الترمذي عن أبی هریرة رضي الله عنه فی قصة خروج النبی صلى الله عليه وسلم من بیته فی ساعة لایخرج فیها ولقاءه أبا بکر رضي الله عنه وعمر رضي الله عنه..... وذهابهم إلی منزل أبی الهیثم بن التیهان الأنصاری رضي الله عنه وأنه لم یکن حاضرًا فقال فیه: فلم یلبث أن جاء أبو الهیثم بقربة ..... ثم جاء یلتزم النبی صلى الله عليه وسلم. (رواه الترمذی:۲/ ۶۱، معیشة اصحاب النبی صلى الله عليه وسلم).

۷_ وأخرج الطبرانی عن عون بن ابی جحیفة عن أبیه قال: لما قدم جعفر رضي الله عنه من هجرة الحبشة تلقاه النبی صلى الله عليه وسلم فعانقه وقبل مابین عینیه. (مسند ابی یعلی الموصلی:۴/ ۴۴۳ –ومجمع الزوائد:۲/ ۲۲۹، دار الفکر).

۸_ وعن ابن عباس رضي الله عنه قال: کان النبی صلى الله عليه وسلم وأصحابه یسبحون فی غدیر فقال النبی صلى الله عليه وسلم لیسبح کل رجل منکم إلی صاحبه فسبح کل رجل منهم إلی صاحبه وبقی النبی صلى الله عليه وسلم و أبو بکر رضي الله عنه فسبح النبی صلى الله عليه وسلم إلی أبی بکر حتی عانقه وقال: أنا إلی صاحبی، أنا إلی صاحبی. (مجمع الزوائد:۸/ ۳۴۰ – وطبرانی کبیر:۹/ ۴۵۸).

۹_ عطاء بن أبی رباح رحمة الله عليه یقول : خرج أبو أیوب إلی عقبة بن عامر رضي الله عنه وهو بمصر یسأله عن حدیث سمعه من رسول الله صلى الله عليه وسلم ولم یبق أحدسمعه من رسول الله صلى الله عليه وسلم غیره وغیر عقبة رضي الله عنه، فلما قدم أتی منزل مسلمة بن مخلد الأنصاری وهو أمیر مصر فأخبر به، فعجل فخرج إلیه فعانقه ثم قال : ما جاء بك یا أبا أیوب؟ قال : حدیثسمعته من رسول الله صلى الله عليه وسلم لم یبق أحدسمعه من رسول الله صلى الله عليه وسلم غیری وغیر عقبة رضي الله عنه فابعث من یدلنی علی منزله. فبعث

معه من يدله على منزل فأخبر عقبة رضي الله عنه به فعجل فخرج إليه فعانقه .... (مسند الحميدی:۱/ ۱۸۹، حديث ابی ايوب الانصاری رضي الله عنه).

۱۰ ـ وعن عمرو بن ميون بن مهران يقول: كنت مع أبي ونحن نطوف بالكعبة فلقي أبي شيخ فعانقه .... (حلية الاولياء:٤/ ۹۰، ميمون بن مهران).

۱۱ ـ وعن الحسن قال: خرج رسول الله صلى الله عليه وسلم فلما رأه عثمان رضي الله عنه عانقه فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: قد عانقت أخي عثمان فمن كان له أخ فليعانقه. (الجامع الكبير للسيوطی:۱/ رقم:۱۵، كنز العمال: رقم: ۳٦۲٤۰).

۱۲ ـ وعن عباده بن منصور قال: كان رجل منا يقال له كابس بن ربيعة فرآه أنس بن مالك رضي الله عنه فعانقه وبكى وقال: من أحب أن ينظر إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم فلينظر إلى كابس بن ربيعة.

(جامع الاحاديث:۳۳/ ۲۱۹/ ۳٦۱۰۸، مسند انس بن مالک رضي الله عنه).

۱۳ ـ وعن على رضي الله عنه قال: إن الرجل من أهل الجنة يشتاق إلى أخيه فی الله فيؤتى بنجيبة من نجائب الجنة فيركبها إلى أخيه وبينه وبينه مسيرة ألف ألف عام بقدر مسير أحد كم فرسخًا أو فرسخين فيلقاه ويعانقه. (جامع الاحاديث:۲۹/ ۳٦۰ – مسند على رضي الله عنه، كنز العمال:رقم ۳۹۷۸۳).

په دې ټولو احاديثو کې د محبت د اظهار له پاره د معانقې ثبوت سته او همدا ډول د محبت او د خوشحالۍ د اظهار له پاره مصافحه هم روا ده چې کله د حضرت کعب بن مالک رضي الله عنه توبه قبوله سوه او حضرت کعب رضي الله عنه مسجد ته راغی نو حضرت طلحه رضي الله عنه ولاړ سو او له ده سره يې مصافحه وکړه د نورو کسانو مصافحه نه کول او د حضرت طلحه رضي الله عنه مصافحه کول د دې دليل دئ چې د خوشحالۍ په وخت کې مصافحه روا ده خو مصافحه نه کونکي زيات وه له دې څخه معلوميږي چې د مصافحې کولو ګنجائش سته او نه کول يې غوره دي.

پہ بخاري شریف کي راځي:

۱۴_ عن عبد الله بن كعب بن مالك رضي الله عنه عن أبيه في حديث طويل...... قال كعب رضي الله عنه حتى دخلت المسجد فإذا رسول الله ﷺ جالسحوله الناس فقام إلي طلحة بن عبيد الله رضي الله عنه يهرول حتى صافحني وهناني والله ما قام إلي رجلمن المهاجرين غيره ...... والله اعلم. (رواه البخاري: ۲/ ۶۳۶).

یو اشکال او د هغه جواب:

اشکال: پر دغه ذکر سهوي مسئله یو سوال کيږي چي په عامو فتاواوو کي ليکلي دي چي د اخترونو څخه وروسته او یا تر پنځو لمنځونو وروسته مصافحه او معانقه بدعت ده او همدا ډول زمونږ علمارو دغه مسئله په ډېر قوت بیان کړی ده د دې دلیل څه دئ؟

الجواب: که یې د اختر په ورځ مصافحه او معانقه د اختر د لمانځه له امله کول نو د لمانځه څخه وروسته مصافحه او معانقه بدعت ده او که د اختر د خوشحالي له امله وه لکه څنګه چي رواج دي چي د لمانځه وروسته یې خلک یوې او یا دوې ورځي کوي نو که یې سنت ونه ګڼل نو د خوشحالي د اظهار له پاره یې ګنجائش سته خو خلکو ورڅخه یو رواج جوړ کړی دئ لهذا پرېښودل یې مناسب دي.

پہ فتاوی محمودیه کي راځي:

د مصافحي له پاره شریعت د ملاقات د پيل وخت ټاکلي دئ د یو لمانځه څخه وروسته د هغه له پاره وخت ټاکل بې دلیله او غلطه ده بدعت مکروهه دي د روافضو طریقه ده، احنافو، مالکیه وو او شوافعو وغیره ټولو څخه علامه شامي رحمه الله په ردالمحتار کي همدغسي نقل کړی دئ.

ونقل في تبيين المحارم عن الملتقط أنه تكره المصافحة بعد اداء الصلاة بكل حال، لأن الصحابة رضي الله تعالى عنهم ما صافحوا بعد اداء الصلاة، ولأنها من سنن الروافض ثم نقل عن ابن حجر رحمه الله عن الشافعية أنها بدعةمكروهةلا أصل لها في الشرع، وأنه ينبه فاعله

أولًا ويعزو ثانيًا ثم قال : وقال ابن الحاج من المالكية في المدخل إنها من البدع ، وموضع المصافحة في الشرع ، إنما هو عند لقاء المسلم لأخيه لا في أدبار الصلوات فحيث وضعها الشرع يضعها فينهى عن ذلك ويزجر فاعله لما أتى به من خلاف السنة ثم أطال في ذلك فراجعه . (الشامی:٦/ ٣٨١). (فتاوی محمودیه:٣/ ١٤٣، مبوب ومرتب).

په فتاوی فریدیه کي راځي:

غاړي يو ځای کولو ته معانقه وايي چي په خپله مسنون ده، البته ديوه وخت سره يې خاصول مثلاً داختر د لمانځه وروسته دا مختلف فيه دي قيل مسنونة وقيل مباحة وقيل مكروهة نو احتياط دا دئ چي له دې څخه دي ځان وژغورل سي، البته که څوک دا کار وکړي پر هغه دي انکار نه کوي. (فتاوی فریدیه:١/ ٣٠٢).

په فتاوی محمود کي راځي:

دغه داختر د ورځي معانقي مصافحي او مبارکي د سلف صالحنيو په زمانه کي نه وه ځکه نو پرېښودل يې مناسب دي. (فتاوی مفتی محمود:٢/ ٥٢٣). **او همدا ډول وګورئ:** (فتاوی رشیدیه:ص ١٤٧، او امداد الاحکام:١/ ١٨٨، او امداد الفتاوی:١/ ٤٨١، او احسن الفتاوی:١/ ٣٥٤، او الفتاوی رحیمیه:١/ ٢٨٠). والله ﷻ اعلم.



قال رسول الله ﷺ ﴿ من دخل البيت دخل فی حسنة وخرج من سيئة مغفورًا له ﴾

(المعجم الكبير).

اتلسم .... باب

د لمانځه ېيلي مسئلي

په کعبه کي د لمانځه کولو حکم

سوال: په کعبه شريفه کي د لمانځه کولو کوم فضيلت راغلی دئ او که نه؟

الجواب: په کعبه شريفه کي د نبي کريم ﷺ څخه لمونځ ثابت دئ، لهذا په کعبه شريفه کي به لمونځ کول مستحب وي که څوک موقع ومومي نو بايد هلته يې وکړي خو نن سبا کعبې ته ننوتل ډېره مشکل دي له دې امله د کعبې په حطيم کي لمونځ کول له فضيلت څخه خالي نه دي له روايت څخه معلوميږي چي حطيم هم د کعبې يوه برخه ده د کعبې د داخليدو فضيلت:

أخرج ابن خزيمة فی باب استحباب دخول الكعبة عن ابن عباس رضي الله عنه قال : قال رسول الله ﷺ : « من دخل البيت في حسنة وخرج من سيئة مغفورًا له ». (رواه الطبرانی فی الكبير والبزار بنحوه، صحيح ابن خزيمة:٢/ ٢١٤١٠، المكتب الاسلامی – مجمع الزوائد:٣/ ٢٩٣، دار الفكر).

په کعبه کي د نبي کريم ﷺ د لمانځه کولو ثبوت:

عن ابن عمر رضي الله عنه أنه كان إذا دخل الكعبة مشى قبل وجهه حين يدخل وجعل الباب قبل ظهره فمشى حتى يكون بينه وبين الجدار الذي قبل وجهه قريبًا من ثلاثة أذرع صلى يتوخى المكان الذي أخبره به بلال رضي الله عنه أن النبي ﷺ صلى فيه قال وليس على أحدنا بأس إن صلى في أى نواحي البيت شاء . (بخاری شريف:١/ ٧٢/ ٥٠٠، فيصل).

په دوهم روایت کي راځي:

عن ابن عمر رضي الله عنه أن رسول الله ﷺ دخل الكعبة وأسامة بن زيد رضي الله عنه وبلال رضي الله عنه وعثمان بن طلحة الحجبى رضي الله عنه فأغلقها عليه ومكث فيها فسألت بلالاً رضي الله عنه حين خرج ما صنع رسول الله ﷺ قال: جعل عمودًا عن يساره وعمودًا عن يمينه وثلاثة أعمدة وراءه وكان البيت يومئذ على ستة أعمدة ثم صلى........ (بخاری شریف:۱/ ۷۲/ ٤٩٩، باب الصلاة بين السوارى فى غير جماعة، فيصل):

حطيم د كعبي يوه برخه ده په بخاري شريف كي راځي:

عن عائشة ، رضي الله عنها قالت: سألت النبي ﷺ، عن الجدر أمن البيت هو؟ قال: نعم قلت فما لهم لم يدخلوه في البيت؟ قال: إن قومك قصرت بهم النفقة ...... أن قومك حديثعهدهم بالجاهلية فأخاف أن تنكر أن أدخل الجدر في البيت . (بخارى شريف:۱/ ۲۵۱).

په صحيح ابن خزيمه كي راځي:

عن عائشة رضي الله عنها قالت : كنت أحب أن أدخل البيت فأصلي فيه فأخذ رسول الله ﷺ بيدي فأدخلني الحجر فقال : يا عائشة إن قومك لما بنو الكعبة استقصروا فأخرجوا الحجر من البيت فإذا أردت أن تصلين في البيت فصلي في الحجر فإنما هو قطعة من البيت . (صحيح ابن خزيمة:۲/ ۱۳/ ۱٤۱۳، باب استحباب الصلاة فى الحجر اذا لم يكن دخول الكعبة اذ بعض الحجر من البيت، المكتب الاسلامى).

دبيت الله له دروازي سره هم دنبي كريم ﷺ لمونځ ثابت دئ. په صحيح ابن خزيمه كي راځي:

عن ابن عمر رضي الله عنه قال : دخل النبي ﷺ البيت فجئت فإذا هو قد خرج و إذا بلال قائم عند باب الكعبة قال قلت : يا بلال أين صلى النبي ﷺ ؟ فقال ها هنا قال : ثم خرج فصلى ركعتين بين الحجر و الباب ...... والله اعلم. (صيح ابن خزيمة:۲/ ۱٤۱۱، المكتب الاسلامى).

په طالبانو د سزا په توګه لمونځ کول

سوال: په ځینو مدرسو کي د سزا په توګه په طالبانو دېرش یا پنځوس رکعته نفل کوي ایا لمونځ د سزا په توګه استعمالېدلای سي؟ او ایا پر دغه لمانځه ثواب سته؟

الجواب: په مدرسو کي په طالبانو د سزا په توګه لمونځ کول درست دي په دې کي څه باک نه ست او د لمانځه ثواب هم ورکول کیږي لکه څنګه چي نبي کریم ﷺ د شهوت د ماتولو له پاره روژه نیول فرمایلي دي نو په دغه کي د ورژې ثواب هم دئ او د شهوت ماتېدل هم دي.

لکه څنګه چي په حدیث شریف کي راځي:

عن عبد الله بن مسعود رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ يا معشر الشباب من استطاع منكم الباءة فليتزوج ، فإنه أغض للبصر وأحصن للفرج. ومن لم يستطع فعليه بالصوم فإنه له وجاء. (بخاري شريف:۲/ ۷۵۸ – ومشكاة:۲/ ۲٦۷).

ښکاره خبره ده چي دغه روژه په خپله د الهی رضاء له پاره نه بلکي د زنا څخه د ځان ساتلو له پاره د شهوت ماتول دي دلته هم د لمانځه کول د نفس د سزا ورکولو له پاره او د مدرسې د احکامو د پر ځای کولو له پاره دي. والله ﷻ اعلم.

د فرضي لمانځه د یوه رکعت پر پاته کېدو د جرماني په توګه د دوو رکعتونو حکم

سوال: که یو چا نذر وماني چي که د فرضي لمانځه یو رکعت راڅخه تیر سو نو دوه رکعته لمونځ به د جرماني په توګه اداء کوي اوس د دې نذر څخه ځان خلاصول غواړي نو د خلاصېدو صورت به یې څه وي؟

الجواب: دا ډول نذر لازمیږي لهذا پوره کول یې لازم دي یعني چي کله یو رکعت پاته سي نو دوه رکعته نفل لازم دي که یې ونه کړل نو د هغه فدیه ورکول په ژوند کي درست نه دئ.

وګورئ په حديث شريف کي راځي:

عن عائشة رضي الله عنها أن رسول الله ﷺ قال: من نذر أن يطيع الله فليطعه ومن نذر أن يعصيه فلا يعصيه. (مشكوة شريف:۲/ ۲۹۷) فيه دليل على أن من نذر طاعة يلزم الوفاء به.

په درمختار کي راځي:

ثم إن المعلق فيه تفصيل فإن علقه بشرط يريده كأن قدم غائبى أو شفى مريضى يو فى وجوبًا إن وجد الشرط. وفى الشامى : (قوله ثم أن المعلق) أعلم أن المذكور في كتب ظاهر الرواية أن المعلق يجب الوفاء به مطلقًا: أي سواء كان الشرط مما يراد كونه أي يطلب حصوله كإن شفي الله مريضي أو لا كإن كلمت زيدًا أو دخلت الدار فكذا. (الدر المختار مع الشامى:۳/ ۷۳۸، أحكام النذر، سعيد). والله ﷻ اعلم.

كه د لمانځه په ابتدايي وخت کي وفات سو نو د هغه لمانځه د فديي حکم

سوال: كه يو څوک د لمانځه په اول وخت کي وفات سو او تر اوسه يې لمونځ کړی نه وي نو د دغه لمانځه فديه به واجب وي او كه نه؟

الجواب: د دې لمانځه فديه واجب نه ده ځکه اخير وخت ته اعتبار ورکول کيږي او په اخری وخت کي ژوندی نه وه.

وګورئ په درمختار کي راځي:

(والمعتبر في تغيير الفرض آخر الوقت) وهو قدر ما يسع التحريمة فإن كان المكلف في آخره مسافرًا وجب ركعتان وإلا فأربع لأنه المعتبر في السببية عند عدم الاداء قبله. وفي الشامى: قوله وجب ركعتان أي وإن كان في أوله مقيمًا وقوله: وإلا فأربع أي وإن لم يكن في آخره مسافراً بأن كان مقيماً في آخره فالواجب أربع. قال في النهر: وعلى هذا قالوا: لو صلى الظهر أربعًا ثم سافر أي في الوقت فصلى العصر ركعتين ثم رجع إلى منزله لحاجة فتبين أنه

صلاهما بلا وضوء صلى الظهر ركعتين والعصر أربعًا لأنه كان مسافرًا في آخر وقت الظهر ومقيمًا في العصر...... قوله عند عدم الاداء قبله أي قبل الآخر والحاصل أن السبب هو الجزء الذي يتصل به الاداء أو الجزء الأخير إن لم يؤد قبله وإن لم يؤد حتى خرج الوقت فالسبب هو كل الوقت. قال في البحر: وفائدة إضافته إلى الجزء الأخير اعتبار حال المكلف فيه فلو بلغ صبي أو أسلم كافر أو أفاق مجنون أو طهرت الحائض أو النفساء في آخره لزمتهم الصلاة. (الدر المختار مع ردالمحتار: ۲/ ۱۳۱، باب صلاة المسافر، سعيد- وكذا فى حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح: ۴۲۸، باب صلاة المسافر، قديمى). والله ﷻ اعلم.

كه كوچني د شپې بالغ سي نو د قضاء حكم

سوال: كه نابالغه كوچني د ماخستن ځخه وروسته بېده سو سهار چي كله راويښ سو د منى اثرات يې وليدل نو د ماخستن قضا به راوړي او كه نه؟

الجواب: په دې صورت كي به احتياطاً د ماخستن قضاء راوړي او همدغه قول مختار دئ.

په فتاوى شامي كي راځي:

صبى احتلم بعد صلاة العشاء واستيقظ بعد الفجر لزمه قضاؤها. وفى الشامى: قوله لزمه قضاؤها لأنها وقعت نافلة، ولما احتلم في وقتها صارت فرضا عليه، لأن النوم لا يمنع الخطاب فيلزمه قضاؤها في المختار، ولذا لو استيقظ قبل الفجر لزمه إعادتها إجماعًا كما قدمناه أول كتاب الصلاة عن الخلاصة. وفي الظهيرية: حكي عن محمد بن الحسن رحمه الله أنه جاء إلى الإمام أول احتلامه فقال: ما تقول في غلام احتلم في الليل بعد ما صلى العشاء هل يعيدها؟ قال نعم فقام محمد إلى زاوية المسجد وأعادها وهي أول مسألة تعلمها من الإمام.

(شامى مع الدر: ۲/ ۷٦، قضاء الفوائت، سعيد).

همدا ډول وګورئ: (البحر الرائق: ٢/ ٩٠، تتمة باب قضاء الفوائت، الماجدية – وشرح منية المصلى: ٥٣٤، فصل في قضاء الفوائت، سهيل). والله ﷻ علم.

د دماغي مريض څخه د پاته سوو لمنځونو د فديې حکم

سوال: د يو چا انا وفات سوه د تيرو درو کلونو څخه هغې د دماغ د کمزوري څخه شکايت درلود او تر داسي حده رسېدلې وو چي پنځه دقيقې مخکي کار به هم ورته ياد نه وو نو له کافي وخت څخه يې لمنځونه اداء ی. کړی نه وه اوس د هغې د انتقال څخه وروسته د پاته سوو لمنځونو فديه لازمه ده او که نه؟ او د هغه د اداء کېدو صورت به څه وي؟

الجواب: که د دماغي مريض بېخي هوښ او حواس پاته نه وي او دغه کيفيت يې پوره يوه ورځ او يا له هغه څخه زيات وغځيږي نو د لمانځه قضاء يې نه سته، که نه فديه وغيره لازمه ده خو په پورتنی صورت کي په ظاهره معلوميږي چي دا کيفيت يې نه وو يعنی د لمانځه په وخت کي يې په صحيح توګه لمونځ اداء کولای سو نو لمونځ کول يې لازم وه پر نه کولو يې قضاء لازمه وه اوس يې څنګه چي وفات کړی دئ لهذا د هر لمانځه له پاره دي بېله بېله فديه ورکړی يعنی د شپې او ورځي د ټولو پنځو لمنځونو او وترو هغه فديه دي ورکړي څومره چي د سرسايې اندازه ده.

وګورئ په هدايه کي راځي:

ومن أغمي عليه خمس صلوات أو دونها قضى وإن كان أكثر من ذلك لم يقض وهذا استحسان، والقياس أن لا قضاء عليه إذا استوعب الإغماء وقت صلاة كاملًا ...... وفي فتح التدير: والقياس أن لا...... وهو قول الشافعي رحمه الله والمالك رحمه الله وتوسط أصحابنا فقالوا: إن كان أكثر من يوم وليلة سقط القضاء وإلا وجب، والزيادة على يوم وليلة من حيث الساعات وهو رواية عن أبي حنيفة رحمه الله فإذا زاد على الدورة ساعة سقط، وعند محمد رحمه الله من حيث الأوقات فإذا زاد على ذلك وقت صلاة كامل سقط وإلا لا وهو الأصح تخريجًا ...... عن ابن عمر رضي الله عنه قال في الذي يغمى عليه يومًا وليلةً قال: يقضي .... وق

عبد الرزاق: أخبرنا الثورى عن ابن أبى ليلى عن نافع أن ابن عمر ﷺ أغمى عليه شهرًا فلم يقض ما فاته. (فتح القدير مع الهدية:۲/ ۹، دار الفكر – وكذا فى بدائع الصنائع:۱/ ۵٦۱، قضاء الفوائت، سعيد – وكذا فى المبسوط:۱/ ۲۱۷، باب صلاة المريض – وكذا فى الدر المختار: ۱/ ۳۵٦، سعيد – والبحر الرائق:۲/ ۱۱۵، باب صلاة المريض، كوئتة).

په درمختار كي راځي:

ولو مات وعليه صلوات فائتة وأوصى بالكفارة يعطى لكل صلاة نصف صاع من بر كالفطرة وكذا حكم الوتر والصوم. (الدر المختار:۲/ ۷۲، باب قضاء الفوائت، سعيد).

په مراقي الفلاح كي راځي:

فيخرج عنه وليه ...... لصوم كل يوم ...... وصلاة كل وقت من فرض اليوم والليلة حتى الوتر ...... نصف صاع من بر ...... أو قيمته وهى أفضل لتنوع حاجات الفقير، وإن لم يوص وتبرع عنه وليه أو أجنبى جاز إن شاء الله تعالى. وفى الطحطاوى: (لتنوع حاجات الفقير) فإنه قد يكون مستغنيًا عند هذه الأعيان ويحتاج إلى الدراهم ليصرفها فى حاجاته. والله اعلم. (مراقى الفلاح مع حاشية الطحطاوى:۴۳۸، قديمى كتب خانه). والله ﷻ اعلم.

په څپليو كي د لمانځه كولو حكم

سوال: سماحة المفتى من فضلك أريد استفتّاء على ما يلى بين لى بالتفصيل من النصوص أثابكم الله.

۱_ لماذا صلى النبى ﷺ فى نعليه وموسى ﷺ صلى بخلع نعليه والله سبحانه وتعالى يقول: ﴿ فبهداهم اقتده ﴾؟

۲_ لماذا نصلى بخلع نعالنا ونبينا ﷺ صلى فى نعليه؟

٣_ هل يجوزلنا أن نصلى فى نعالنا؟

٤_ هل صلى النبى ﷺ على البساط بغير نعليه؟

٥_ ما هوأراء الفقهاء فى الصلاة فى النعال؟

٦_ لماذا أمرنا النبى ﷺ بخلاف اليهود فى خلع النعال وهم كانوا يتبعون موسى عليه السلام؟

الجواب: ١_ أن أمره سبحانه وتعالى لرسوله ﷺ بالاقتداء هو خاص عند المفسرين فى التوحيد وأصول الدين والأخلاق الفاضلة والصفات الكاملة دون الشرائع لأن الشرائع مختلفة.

٢_لأن لايمكن لنا التحفظ من وطء الأقذا روالر شاش على النعال ومع هذا، الصلاة فى النعال خلاف الأدب والعرف فى زماننا ولم تكن نعله عليه الصلاة والسلام مظنة إصابة قذر أصلًا.

٣_ نعم إذا كانا طاهرين ويتمكن معهما من إتمام السجود بأن يسجد على جميع أصابع رجليه ومع ذلک الأدب خلع النعلين وأما إذا لم يكن طاهرين أولم يتمكن من إتمام السجود فخلعهما واجب.

٤_ نعم.

٥_ لأنم قد غيروا الشريعة ولايتبعون موسى عليه السلام كما حقه كما قال سبحانه وتعالى ﴿وقالت اليهود عزير بن الله﴾ وما جاء موسى عليه السلام بهذا، وقد بين سبحانه وتعالى أنهم ضلوا وأضلوا، وقال أيضًا: ﴿ اهدنا الصراط المستقيم (٦) صراط الذين أنعمت عليهم غير المغضوب عليهم ولا الضالين﴾ فلهذا ينبغي لنا أن نجتنب كل الاجتناب.

وفی تفسیر روح المعانی:

والمراد بهداهم عند جمع طريقهم في الإيمان بالله تعالى وتوحيده وأصول الدين دون الشرائع القابلة للنسخ فإنها بعد النسخ لا تبقى هدى وهم أيضا مختلفون فيها فلا يمكن التأسي بهم جميعا ، ومعنى أمره ﷺ بالاقتداء بذلك الأخذ به لا من حيث إنه طريق أولئك الفخام بل من حيث إنه طريق العقل والشرع ففي ذلك تعظيم لهم وتنبيه على أن طريقهم هو الحق الموافق لدليل العقل والسمع ...... وحقق القطب الرازي في حواشيه على الكشاف أنه يتعين أن الاقتداء المأمور به ليس إلا في الأخلاق الفاضلة والصفات الكاملة كالحلم، والصبر ، والزهد ، وكثرة الشكر ، والتضرع ونحوها . (روح المعانی:۷/ ۲۱۶).

وفي سنن أبی داؤد:

وعن عبد الله بن السائب رضي الله عنه قال رأيت النبی ﷺ يصلی يوم الفتح ووضع نعليه عن يساره، وفی رواية عن عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده رضي الله عنه قال رأيت رسول الله ﷺ يصلی حافياً متنعلاً.

وفی رواية له ..... عن يعلی بن شداد بن أوس عن أبيه رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ «خالفوا اليهود فإنهم لايصلون فی نعالهم ولاخفافهم. (سنن أبو داؤد:۱/ ۹۵).

وفی بذل المجهود:

قلت: دل هذا الحديث على أن الصلاة فی النعال كانت مأمورة لمخالفة اليهود وأما فی زماننا فينبغی أن تكون الصلاة مأمورة بهما حافيًا لمخالفة النصاری فإنهم يصلون متنعلين لايخلعون عن أرجلهم. (بذالمجهود:۴/ ۳۲۰ –وكذا فی اعلاء السنن:۵/ ۱۹۰ – وكذا فی شرح

النووی للمسلم:۱/ ۲۵٤ -- وکذا فی شرح ابن بطال:۲/ ٤٩ -- وکذا فی فیض الباری:۲/ ۲٦ -- وکذا فی شرح المسلم لقاضی عیاض:۲/ ٤٨٨).

وفی المرقات شرح المشکاة:

أن الأدب الذی استقر علیه آخر أمره علیه الصلاة واسلام خلع نعلیه أو الأدب فی زماننا عند عدم الیهود والنصاری أو عدم اعتیادهما الخلع ثم سنح لی أن معنی الحدیث خالفوا الیهود فی تجویز الصلاة مع النعال والخفاف فإنهم لایصلون أی لایجوزن الصلاة فیهما ولایلزم منه الفعل وإنما فعله علیه الصلاة والسلام تاکیداً للمخالفة وتأییدًا للجواز. (مرقاة شرح المشکاة:۲/ ۲۳۷).

وفی الشامی:

(قوله وصلاته فيهما) أي في النعل والخف الطاهرين أفضل مخالفة لليهود تاترخانية: وفي الحديث: « صلوا في نعالكم ولا تشبهوا باليهود » رواه الطبراني كما في الجامع الصغير رامزًا لصحته وأخذ منه جمع من الحنابلة أنه سنة ولو كان يمشي بها في الشوارع لأن النبي ﷺ وصحبه رضي الله عنهم كانوا يمشون بها في طرق المدينة ثم يصلون بها، قلت: لكن إذا خشي تلويث فرش المسجد بها ينبغي عدمه وإن كانت طاهرة، وأما المسجد النبوي فقد كان مفروشًا بالحصا في زمنه ﷺ بخلافه في زماننا ولعل ذلك محمل ما في عمدة المفتي من أن دخول المسجد متنعلًا من سوء الأدب تأمل. (شامی:۱/ ٦٥٧، سعید).

وفی مقالات الكوثری:

وأما الصلاة بالنعل فصحيحة إذا كانت طاهرة لاتمانع وضع باطن رؤوس الأصابع على الأرض كما هو شأن تمام السجدة على ما ذكره الخطابی وغيره وكان مسجد النبی عليه الصلاة والسلام مفروشًا بالحصباء وحجرات أزواج النبی ﷺ كانت فی اتصال المسجد فلم تكن نعله عليه الصلاة والسلام مظنة إصابة قذر أصلًا لأنه لم يكن يطأ بها شوارع قذرة وكانت المدينة المنورة طاهرة الأزقة من الأرواث والأرجاس انصياعًا من الصحابة رضی الله عنهم .... بخلاف شوارع اليوم ومر احيض اليوم فإنها لايمكن فيها التحفظ من وطء الأقذار والرشاش على النعال لكون مراحيضها صلبة ترش حتما على النعال ولاسيما إذا بال الشخص وهو قائم لأنها على طراز أفرنجی لايتمكن من البول فيها إلا وهو قائم. وقد صح أنه عليه الصلاة والسلام خلع نعله عند الصلاة فی فتح مكة فيكون هذا آخر الأمرين كما أنه خلع حينما أعلمه جبريل عليه السلام أن بنعله أذى والترخيص عند التحقق من إظهار النعل هو مقتضى الأدلة عند المحققين ومن يرى استحباب لبسها بشرطه إنما استحب لمخالفة اليهود لكن أهل الكتاب أصبحوا اليوم يدخلون كنائسهم ويصلون بنعالهم فتكون المخالفة لهم فی خلع النعال لافی لبسها ..... وقد تطابقت كلمات أهل العلم على أن الصلاة فی نعال الشوارع اليوم خلاف الأدب وإن كانت طاهرة بل سوء الأدب كما تجد تفصيل ذلک فی منية المفتی للسجستانی رحمه الله وفتح المتعال للعلامة المقری رحمه الله وشرح المشكاة لعلی القاری رحمه الله وغاية المقال للمحدث عبد الحی اللكهنوی رحمه الله وغيرها . والله سبحانه وتعالى اعلم.

(مقالات الكوثری: ۱۷٤، دار شمسی).

د لمانځه څخه مخکي د پرتاکه نغښتلو حکم

سوال: که يو څوک خپل لنګ له بجلکو څخه کښته کړی وي نو د لمانځه څخه مخکي هغه بايد راپورته کړي او که نه؟ ځيني کسان وايي چي جامه بايد راونه پېچي پر خپل حال يې پرېږدي ځکه د رانغستلو په صورت کي جامه چپه اوړي او دا منع ده ايا دغه خبره صحيح ده؟

الجواب: کوم کار چي د لمانځه دباندي مکروه دئ په لمانځه کي په طريق اولی مکروه دئ او د کراهت ازاله بايد له لمانځه څخه مخکي وکړي لهذا په داسي کولو کي څه باک نه سته، البته اصل دا دي چي دا خلک وپوهول‌سي چي دا فعل د لمانځه څخه دباندي هم مکروه دئ لهذا پرتوګ دي د بجلکو څخه لوړ جوړ وي.

په بخاري شريف کي راځي:

عن أبي هريرة رضي الله عنه، عن النبي ﷺ قال: « ما أسفل من الكعبين من الإزار ففي النار ». (رواه البخاري:۲/ ۸٦۱/ ۵۵۵۹، باب ما أسفل من الكعبين فهو فی النار، فيصل).

په لمانځه کي جامه ځړول مکروه ده لهذا فقهاء فرمايي، چي د لمانځه څخه د مخه دي هغه برابره کړي.

په فتاوی لکهنوي کي راځي:

ويكره السدل وهو أن يرسله من غير أن يضم جانبه وقيل: هو أن يلقيه على رأسه ويرخيه .... قال فی فتح القدير :(۱/ ۳۵۹) يصدق على ما إذا كان المنديل مرسلًا فی كتفيه كما يعتاده كثير فينبغي لمن يعتاده أن يضعه عند الصلاة. (فتاوى اللكهنوى:۳۰۱، بيروت).

او همدا ډول فقهاء فرمايي، چي د کراهت ازاله په لمانځه کي هم روا ده نو د لمانځه دباندي به په طريق اولی روا بلکي مستحب وي.

په فتاوی لکهنوی کي ليکي:

فان سقطت قلنسوة من رأسه وأمكنه أن يرفعها بيد واحدة، الأولى أن لايصلى مكشوف الرأس كذا فى خزانة الروايات. (فتاوى اللكهنوى:۱ ۳۰، بيروت).

حضرت عبدالله بن عباس ﷺ فرمايي، چي يو ځل زه د شپې په لمانځه كي د نبي كريم ﷺ چپه اړخ ته ودرېدم نو ده مبارك ﷺ زه راسته طرف ته كړم يعني په لمانځه كي يې د كراهت ازاله وكړه.

په بخاري شريف كي راځي:

عن ابن عباس ﷺ قال ...... فتوضأ ثم قام يصلى فقمت عن يساره فأخذنى فجعلنى عن يمينه. (بخارى شريف:۱/ ۹۷).والله ﷻ اعلم.



قال رسول الله ﷺ ﴿من شهد الجنازة حتى يصلى عليها فله قيراط ومن شهد حتى تدفن كان له قيراطان﴾ . (رواه البخاری).

قال رسول الله ﷺ ﴿من حمل جوانب السرير الأربع كفر الله عنه أربعين كبيرة﴾.

(المعجم الأوسط).

احکام الجنائز

لومړی .... فصل

د قريب الموت اړوند احکام

د قريب الموت د پرې ايستلو طريقه

سوال: انسان چي كله مړ سي نو هغه به څنګه پرې باسي؟

الجواب: د داسي چا له پاره سنت طريقه دا ده چي د قبلي طرفته دي مخ واړوي پر راسته اړخ دې پرېباسي خو كه يې ستوني ستخ پرېباسي او سريې د بالښت په ذريعه قبلې ته مخامخ كړي نو دا هم ګنجائش لري او د سختي په وخت كي چي هره طريقه اسانه وي هغه دي اختيار كړي.

په فتاوی هنديه كي راځي:

إذا احتضر الرجل وجه إلى القبلة على شقه الأيمن وهو السنة ، كذا في الهداية، وهذا إذا لم يشق عليه فإذا شق ترك على حاله ، كذا في الزاهدي . (الفتاوى الهندية:۱/ ۱۵۷، الفصل الأول فی المحتضر).

په درمختار كي راځي:

(يوجه المحتضر) وعلامته استرخاء قدميه واعوجاج منخره وانخساف صدغيه (القبلة) على يمينه هو السنة (وجاز الاستلقاء) على ظهره وقدماه إليها وهو المعتاد في زماننا و لكن يرفع رأسه قليلًا ليتوجه للقبلة وقيل يوضع كما تيسر على الأصح صححه في المبتغى وإن شق عليه ترك على حاله. (الدر المختار مع ردالمحتار:۲/ ۱۸۹، سعید کمپنی).

په بدائع الصنائع کې راځي:

إذا احتضر الإنسان فالمستحب أن يوجه إلى القبلة على شقه الأيمن ، كما يوجه في القبر ؛ لأنه قرب موته فيضجع كما يضجع الميت في اللحد. (بدائع الصنائع:۱/ ۲۹۹، سعید کمپنی).

د مرګ څخه وروسته د غسل په وخت کې هم همدا خبره ښه ده چې مړي دي قبلې ته مخامخ کړي. والله تعالی اعلم.

په مرض الموت کې د هديې حکم

سوال: يو څوک د کينسر په مريضۍ کې اخته دئ، هغه خپل يو قريب ته څه مال هديه کول غواړي او څه مال پر دې کس ته ور کول غواړي ايا دا هديه به درسته وي او دغه وصيت به يې جاري کيږي؟

الجواب: په مرض الموت کې ديو چا هديه يا وصيت د اجنبي په حق کې يوازې په دريمه کې اجراء کيږي له دې څخه په زياته کې نه کيږي او د وارث په حق کې هديه يا وصيت نه جاري کيږي، البته د نورو وارثانو په اجازه د وارث په حق کې هم جاري کيږي او له دريمې څخه زيات هم.

وګورئ په حديث شريف کې راځي:

عن سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه : عادني رسول الله ﷺ وأنا مريض فقال: أوصيت ؟ قلت نعم، قال: بكم ؟ قلت بمالي كله في سبيل الله قال: فما تركت لولدك ؟ قلت: هم أغنياء بخير فقال: أوص بالعشر فما زلت أناقصه حتى قال: أوص بالثلث والثلث كثير . رواه الترمذي .

عن أبي أمامة رضي الله عنه قال : سمعت رسول الله ﷺ يقول: في خطبته عام حجة الوداع إن الله قد

أعطى لكل ذي حق حقه فلا وصية لوراث. رواه أبو داؤد وابن ماجة والترمذي. (مشكاة شريف:۱/ ۲۶۵، باب الوصايا، قديمی كتب خانه).

په درمختار کي راځي:

إعتاقه ومحاباته وهبته ووقفه وضمانه كل ذلک حكمه كحكم وصيته فيعتبر من الثلث.

وفي الشامي: إذا اتصل بها القبض قبل موته أما إذا مات ولم يقبض فتبطل الوصية لأن هبة المريض هبة حقيقة وإن كانت وصية حكمًا. (الدر المختار مع الشامي:٦/ ٦٨٠، سعيد). والله اعلم.

د مرض الموت تعريف

سوال: مرض الموت كوم مرض ته ويل كيږي ايا د سرطان مريضي پكښې داخله ده؟

الجواب: په كومه مريضي كي چي مريض د خپلو ذاتي ضرورتونه له پاره وتلای نه سي او له دغه مريضي څخه يې د صحت اميد ډېر لږ وي او د مرگ غالب گمان يې وي لهذا د دغه تعريف پر بنياد د سرطان مريض چي د صحت يې ډېر كم دئ مرض الموت بلل كيږي.

په فتاوی هنديه كي راځي:

المريض مرض الموت من لا يخرج إلى حوائج نفسه وهو الأصح كذا في خزانة المفتين مرض الموت تكلموا فيه والمختار للفتوى أنه إذا كان الغالب منه الموت كان مرض الموت سواء كان صاحب فراش أم لم يكن كذا في المضمرات. (الفتاوى الهندية:٤/ ١٧٦).

والله اعلم.

د مريض د وصيت حكم

سوال: يوه مريض خپل قريب ته دا وصيت وكړ چي ته هره هفته زما قبر ته راځه ايا دغه وصيت واجب العمل دئ او كه نه؟

الجواب: پورتنی وصيت واجب نه دئ، البته د ده د خواهش له امله زيارت ته ورتلل ښه دي.

وگورئ په فتاوی شامي كي راځي:

أوصى بأن يصلي عليه فلانأو يحمل بعد موته إلى بلد آخر أو يكفن في ثوب كذا أو يطين قبره أو يضرب على قبره قبةأو يقرأ عند قبره شيئًا معينًا فهي باطلة. (الدر المختار:٦/ ٦٦٦، ٦٩٠، سعيد كمپنی).

په فتاوی شامي کي راځي:

أقول: في الولوالجية: ولو زار قبر صديق أو قريب له وقرأ عنده شيئًا من القرآن فهو حسن. أما الوصية بذلك فلا معنى لها. (شامی:٦/ ٦٩٠، قبيل باب الوصية بالخدمة، سعيد كمپنی). والله ﷻ اعلم.

د غسل ورکولو مخکي له مړي سره د تلاوت کولو حکم

سوال: د مرګ څخه وروسته د غسل ورکولو مخکي د مړي سره د تلاوت حکم څه دئ؟

الجواب: که د مړي جسم پټ وي نو په تلاوت کولو کي څه باک نه سته، او که يې جسم ښکاره وي بيا هم اصح قول دا دئ چي د مړي دا حدث دئ نجاست او غلاظت نه دئ لهذا نژدې ورته تلاوت کول درست دي، خو احتياط دا دئ چي د غسل ورکولو مخکي دي په زوره تلاوت نه کوي.

په طحطاوي کي راځي:

اختلفوا في نجاسة الميت فقيل نجاسة خبث، وقيل: حدث ويشهد للثاني ما رويناه من تقبيله ﷺ عثمان بن مظعون ؓ وهو ميت قبل الغسل، إذ لو كان نجسًا لما وقع فاه الشريف على جسده. (حاشية الطحطاوی علی مراقی الفلاح:ص ٥٦٤، احكام الجنائز، قديمی).

په درمختار کي راځي:

تكره القراءة عنده حتى تغسل...... تنزيهًا للقرآن عن نجاسة الميت لتنجسه بالموت قيل نجاسة خبث وقيل حدث وعليه فينبغي جوازها كقراءة المحدث ...... فإنه إذا جاز

للمحدث حدثاً أصغر القراءة فجوازها عند الميت المحدث بالأولى. (الدرالمختار مع الشامي:٢/ ١٩٤، سعيد كمپنى).

په فتاوى شامي كي راځي:

(قوله ويقرأ عنده القرآن في بعض النسخ ولا يقرأ بلا والصواب إسقاطها .

تنبيه: الحاصل أن الموت إن كان حدثاً فلا كراهة في القراءة القرآن عنده وإن كان نجسًا كرهت والظاهر أن هذا أيضًا إذا لم يكن الميت مسجى بثوب يستر بدنه، لأنه لو صلى فوق نجاسة على حائل من ثوب أو حصير لا يكره فيما يظهر فكذا أذا قرأ عند نجاسة مستورة وكذا ينبغي تقييد الكراهة بما إذا قرأ جهرًا...... فتحصل من هذا إن كان الموضع معدًا للنجاسة كالمخرج والمسلخ كراهت القراءة مطلقًا وإلافإن لم يكن هناك نجاسة ولا أحد مكشوف العورظ فلا كراهة مطلقاً وإن كان فانه يكره رفع الصوت فقط. (الشامى:٢/ ١٩٣ -١٩٤، مطلب فى القراءة عند الميت، سعيد) والله ﷻ اعلم.

د مړي سره د حائضې ښځي د كښېناستلو حكم

سوال: په كومه كوټه كي چي مړي وي هلته حائضه ښځه كښېنستلاى سي او كه نه؟

الجواب: كه د مړي سر ته نه كښېني بلكي څخه ليري كښېني نو بيا څه باک نه سته ځكه د حائضې په ايستلو كي اختلاف دئ، نو په دغه كي تشدداو سختي كول مناسب نه دي.

په فتاوى شامي كي راځي:

فى النهر: ينبغى إخراج الحائض ...... وفى نورالإيضاح: واختلف فى إخراج الحائض.

(شامى:٢/ ١٩٣، سعيد).

وفی حاشیة نور الإیضاح: قوله واختلفوا: اختلاف المشایخ فی إخراج هؤلاء فی الأولویة وعدمها، لاعلی سبیل الوجوب، ووجه الإخراج امتناع حضور الملائکة محلًا به حائض أو نفساء ووجه عدم الإخراج به قد لایمکن الإخراج للشفقة أو للاحتیاج إلیهن. (حاشیة نور الإیضاح للشیخ محمد اعزاز علی:ص ۱۲۷ – وکذا فی حاشیة الطحطاوی علی مراقی الفلاح:ص ۵۶۳، باب احکام الجنائز، قدیمی).

په فتاوی قاضي خان کي راځي:

ولابأس بجلوس الحائض والجنب عنده وقت الموت. (فتاوی قاضیخان علی هامش الهندیة:۱/ ۱۸۸، باب فی غسل المیت ومایتعلق به). والله اعلم.

د مرګ ښځه وروسته د ښځي مخته د کتلو حکم

سوال: ایا د خاوند له پاره روا ده چي د ښځي د مرګ ښځه وروسته د هغې مخ ته وګوري؟

الجواب: د مرګ ښځه وروسته د ښځي مخته کتل روا او درست دي.

په درمختار کي راځي:

ویمنع زوجها من غسلها ومسها لامن النظر إلیها علی الأصح منیة، وفی الشامی: ولعل وجهه أن النظر أخف من المس فجاز لشبهة الاختلاف. (الدر المختار مع الشامی:۲/ ۱۹۸، سعید – وکذا فی الهندیة:۱/ ۱۶۰، الفصل الثانی فی الغسل – والفتاوی الخانیة علی هامش الهندیة:۱/ ۱۸۷، باب فی غسل المیت ومایتعلق به).

په احسن الفتاوی کي راځي:

خاوند ورته کتلای سي غسل ورکولای نه سي بېله پر دې لاس نه سي ور وړلای جنازه پورته کولای سي او قبر ته یې ورکښته کولای سي مګر ښځه دا ټول کولای سي. (احسن الفتاوی:۴/ ۲۱۵، او الفتاوی رشیدیه:صـ ۲۵۷). والله تعالی اعلم.

د مړګ ښځه وروسته د خاوند له پاره د ښځي مخ يا لاسه مسه كول

سوال: د مړګ ښځه وروسته خاوند د ښځي مخ يا لاس مسه كولای سي او كه نه؟

الجواب: د مړګ ښځه وروسته ښځي ته لاس وروړل درست نه دي.

وګورئ په درمختار كي راځي:

ويمنع زوجهامن غسلها ومسها لامن النظر إليها على الأصح، منية. (الدر المختار مع الشامي:۲/ ۱۹۸، باب صلاة الجنازة، سعيد).

په مبسوط كي راځي:

ولنا حديث ابن عباس رضي الله عنهما [أن رسول الله ﷺ سئل عن امرأة تموت بين رجال فقال : تيمم الصعيد] ولم يفصل بين أن يكون فيهم زوجها أو لا يكون والمعنى فيه أن النكاح بموتها ارتفع بجميع علائقه فلا يبقى حل المس. (المبسوط اللامام السرخسي:۲/ ۷۱، باب غسل اميت، ادارة القران – واحسن الفتاوى:٤/ ۲۱٥): والله تعالى اعلم.

د مړي د طبي معائني شرعي حكم

سوال: د طبی معائني شرعي حكم يې څه دئ؟ ايا دغه د مړي په توهين كي داخل دي او كه نه؟

الجواب: د مړي سره هر يو داسي كار كول چي له هغه ځخه ژوند په تكليف كيږي روا او درست نه دي او په طبی معائنه كي د جسم پرې كېدل راځي او دغه معامله كه له ژوندی سره و كړل سي نو ضرر لرونكی ده نو د مړی سره به هم درسته نه وي په دې كي د انساني جسم توهين دئ د امكان تر حده بايد مړي ور ځخه وژغورل سي خو كه د مجبوری له مخي و كړل سي نو د هغه ګنجائش سته.

وګورئ عصر حاضر كي فقهي مسائل نومي په كتاب كي راځي:

د مړي طبی معائنه اوس يوازي يو طبی ضرورت نه دئ پاته بلكي د جرائمو د تفيتش له پاره د انصاف او قانون په شعبه كي له هغه ځخه مدد تر لاسه كول ضروري دي اوس دا سوال پيدا كيږي چي يو داسي عمل چي په هغه كي د انساني جسم د پرېكولو او ځيرلو پرته كار نه كيږي د هغه

ګنجائش به څنګه پیدا کیږي. (عصر حاضر کی فقهی مسائل: صـ ۷٤، او جدید مسائل کی شرعی حل صـ ۲٤۸).

په جدید فقهي مسائل کي راځي:

طبی معائنه که دیوه سخت ضرورت له مخي وکړل سي روا ده مثلاً دیوې دعوی د تحقیق له پاره د مرګ وجه معلوموي یا خپل دتنه اندام هبه کړي او علماء یې د جواز فتوی ورکړي او داسي نور او د دې له پاره نظیر دا دئ چي فقهاوو د هغې مړي ښځي د نس د څیرلو اجازه کړي ده چي په نس کي یې کوچني لاتر اوسه ژوندی وي چي هغه را وکښل سي. (جدید فقهی مسائل: ۱/ ۲۰۳).

په کفایت المفتي کي راځي:

د طبی معائناتو دېر صورتونه بېله ضرورته واقع کیږي چي هغه ناروا دي او که کوم خاص صورت د شرعي ضرورت له امله روا وي په هغه کي هم د شرعي احکامو اړوند د میت ستر او احترام به ضرور وای به دې کي څه شک نه سته چي د مړي د جسم څېرل د هغه د احترام سره منافي دي چي تر څو پوري کومه قوی وجه نه وي چي د هغې په وړاندي د هغه بې حرمتي له نظره وغورځول سي څیرل یې مباح نه سي کېدلای د مړي ښځي لڅ لابې نامحرمو نارینه وو ته ورکول خو پرېږده ورته کتلای هم نه سي. (کفایت المفتی: ٤/ ۲۰۰، او نظام الفتاوی: ۱/ ٤۱۲). والله ﷻ اعلم.

د مړي په وړاندي درېدل او د معافي حکم

سوال: یوه ښځه مړه سوه نو یوې ښځي د خاندان وښځو ته ووېل تاسو ټولي دې میت ته عفو وکړي په داسي طریقه چي ټول د هغې مخ ته ودرېږي او وایاست چي موږ هغه هر څه معاف کړي چي زموږ تر منځ پېښ سوي وه ځکه مړي اوري او خاوند یې یوازي ورته کښېني تلاوت کوي او قبر ته یې کښېته کوي او مخ ته یې ګورئ د شریعت له نظره دغه څنګه دي؟

الجواب: همدارنګه د ښځو خطاب کول مړي ته او معافول وغیره درست نه دي ځکه دا چي مړی اوري او یا نه اوري په دې کي اختلاف دئ د ځینو په اند اوري او د ځینو په اند نه اوري د چا په اند چي اوري نو هره خبره په هر وخت کي نه اوري بلکي چي کله یې الله ﷻ ورا وروي نو هغه وخت یې اوري لهذا دا کار درست نه دئ او نه د قران او حدیث څخه ثابت دئ.

خاوند له مړي سره کښېښستلای او تلاوت کولای سي او مخ ته یې هم کتلای سي او د محارمو سره قبر ته کښته کېدای او په دفن کي یې مدد هم کولای سي، البته مړي ته غسل ورکول او لاس ور وړل درست نه دي.

وګورئ په حاشیة الطحطاوي کي راځي:

(قوله أو کلمتک) إنما تقید بالحیاة لأن المقصود من الکلام الإفهام والموت ینافیه لأن المیت لایسمع ولایفهم وأرد أنه علیه الصلاة والسلام قال لأهل القلیب قلیب بدر هل وجدتم ما وعد ربکم حقًا؟ فقال عمر: یارسول الله ما تکم من أجساد لاأرواح لها فقال النبی ﷺ والذی نفسی بیده ما أنتم بأسمع لما أقول منهم واجیب بأنه غیر ثابت یعنی من جهة المعنی وإلا فهو فی الصحیح وذلک أن عائشة رضي الله عنها ردته بقوله تعالی: ﴿وما أنت بمسمع من فی القبور﴾ و﴿إنک لاتسمع الموتی﴾ وقوله من جهة المعنی ینظر ما المراد به فإن ظاهره یقتضی ورود اللفظ عن الشارع رضي الله عنه وأن المعنی لایستقیم وفیه مافیه وأجیب أیضًا بأنه إنما قاله علی وجه الموعظة للأحیاء لا لإفهام الموتی کما روی عن علی رضي الله عنه أنه قال: السلام علیکم دار قوم مؤمنین أما نساؤکم فنکحت وأما أموالکم فقسمت وأما دورکم فقد سکنت فهذا خیر کم عندنا فما خیرنا عند کم ویرده أن بعض الأموات رد علیه بقوله: الجلود تمزقت والأحداق قد سئلت...... إلی قوله ورد عنه علیه الصلاة والسلام أن المیت لیسمع خفق نعالهم إذا انصرفوا، کمال وفی النهر أحسن ما أجیب به أنه کان معجزة له رضي الله عنه. (حاشیة الطحطاوی علی الدر المختار: ۲/ ۳۸۲، باب الیمین فی الضرب والقتل، کوئتة).

په درمختار کي راځي:

ويمنع وزجها من غسلها ومسها لا من النظر إليها على الأصح، منية. وفى الشامى: ولعل وجهه أن النظر أخف من المس فجاز لشبهة الاختلاف. (الدر المختار مع الشامى:۲/ ۱۹۸، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د مړي د سترګو څخه د (contact lens) کنټکټ لینز د را ایستلو حکم

سوال: که یو څوک وفات سي او په سترګو کي يې کنټکټ لینز (۱) وي نو هغه دي را وایستل سي او که نه؟

الجواب: کنټکټ لینز د بل چا له پاره نه سي استعمالیدای او په را ایستلو کي يې هم تکلیف دئ او یو زیات شی هم نه معلومیږي لهذا باید را ونه ایستل سي.

وګورئ په احسن الفتاوی کي رائحي:

که غاښونه له خولي څخه را ایستل مشکل وي او په ډېر محنت کولو کي د مړي بې حرمتي وي نو هغه دي پرېږدي په غسل او کفن کي څه خنډ نه پیښیږي د مال تر حرمت د مړي حرمت زیات دئ. (احسن الفتاوی:٤/ ٢٤٠).

په فتاوی شامي کي رائحي:

وإن كان حرمة الآدمى أعلى من صيانة المال لكنه زال احترامه بتعديه كما فى الفتح ومفاده أنه لوسقط فى جوفه بلا تعد لايشق اتفاقًا. (شامى:۲/ ۲۳۸، سعید). والله ﷻ اعلم.

---

(۱) دا هغه شی دئ چي کله یو سړي د سپورټ پر ماشین باندي سپورټ کوي نو که چیري عینکي پر سترګو کي عینکي ورڅخه ولیږي اوس دي (کنټکټ لینز) استعمال وي.
یا اوسني ښځي يې د فیش له پاره په سترګو کي ایږدي مثلاً کالي يې سره وي دا ښځه دغه کنټکټ لینز پر سترګو کوي چي سترګي يې سري ښکاري سي.

كه مړي دوهم ځل را ژوندى سي نو د جائداد د بيرته وركولو حكم

سوال: كه يو څوک دوهم ځل را ژوندى سو نو دى خپل جائداد بيرته اخيستلاى سي او كه نه؟

الجواب: كه يو څوک را ژوندى سي نو كوم جائداد چي يې وارثانو ته پاته دي هغه وده ته وركول كيږي او كوم چي پاته نه دي د هغه غوښتنه نه سي كولاى.

وګورئ په فتاوى شامي كي راځي:

لكن لوعاد حيًا بعد الحكم بموت أقرانه قال ط: الظاهر أنه كالميت إذا حيى والمرتد إذا أسلم، فالباقى فى يد ورثته له ولايطالب بماذهب. (شامى:٤/ ٢٩٧، كتاب المفقود، سعيد – وكذا فى الطحطاوى على الدر المختار:١/ ١٧٤، كوئتة – والبزازية على هامش الهندية:٦/ ٢٢٥).

په فتاوى شامي كي بل ځاى راځي:

قال ح: كأنه نظير الميت إذا أحياه الله تعالى فإنه يأخذ مابقى من ماله فى أيدى ورثته فيعطى له حكم الأحياء. (شامى:١/ ٣٦١، مطلب الوردت الشمس بعد غروبها، سعيد). والله تعالى اعلم.

د مرګ څخه وروسته د دوهم ځل را ژوندى كېدو سره يې د ښځي حكم

سوال: كه د چا د مرګ فيصله وسوه او د ده ښځي بل ځاى نكاح وكړه نو د ده له راتګ څخه وروسته به ښځه د ده وي او يا به د اوسني خاوند په نكاح كي پاتيږي؟

الجواب: د ځنيو فقهي عبارتونو څخه معلوميږي چي ښځه به بيرته وده ته نه وركول كيږي دوهم خاوند ته به پاته وي، خو د علامه شامي رحمة الله عليه له عبارت څخه معلوميږي چي ده ته وركول كيږي او د عقل تقاضا هم همدغه ده چي اصلاً د ده ښځه ده.

وګورئ په فتاوى هنديه كي راځي:

فإن عاد زوجها بعد مضى المدة فهوأحق بها وإن تزوجب فلا سبيل له عليها. (الفتاوى الهندية:٢/ ٣٠٠، كتاب المفقود)

په فتاوى شامي كي راځي:

لكن لو عاد حيًا بعد الحكم بموت أقرانه ...... ثم بعد رقمه رأيت المرحوم أبا السعود نقله عن الشيخ شاهين ونقل أن زوجته له والأولاد للثاني، تأمل. (شامی:٤/ ٢٩٧، كتاب المفقود، سعيد كمپنى). والله ﷻ اعلم.

د مرګ څخه وروسته دوهم ځل را ژوندی کېدل ممکن دي؟

سوال: ايا د مرګ څخه وروسته دوهم ځل را ژوندی کېدل په دنيا کي ممکن دي او که نه؟ قاديانيان يې ناممکن ګڼي په دې مسئله کي د دوی د استدلال حقيقت څه دئ؟ او صحيح مذهب څه دئ؟

الجواب: حضرت مولانا حبيب احمد کيرانوی صاحب په حل القرآن کي ښه تحقيق کړی دئ د ايت کريمه ﴿ ثم بعثناكم من بعد موتكم لعلكم تشكرون ﴾. (سورة البقرة:٥٦). **لاندي فرمايي.**

په دې ځای کي بايد وپوهيږو چي د مرګ او ژوند دواړو دوه دوه قسمونه دي يو اصلي او بل عارضي اصلي مرګ هغه دئ چي له هغه څخه مقصد د شرعي تکاليفو ختم کول وي او عارضي مرګ هغه دئ چي له هغه څخه د شرعي تکاليفو علاوه کوم بل مطلوب وي لکه تنبيه يا د قدرت اظهار وغيره همدا ډول اصلی حيات هغه دئ چي له هغه څخه مقصد شرعي تکاليف وي او حيات عرضي هغه دئ چي له هغه څخه د شرعي تکاليفو علاوه کوم بل کار مطلوب وي چي کله دا معلومه سوه نو اوس وپوهيږي چي د اصلي مرګ څخه وروسته حيات اصلي نه سي کېدای، البته حيات عارضي ممکن دئ لکه څنګه چي به د حضرت عيسى عليه السلام په معجزو سره مړي را ژوندی کېدل چي په هغه سره د حضرت عيسى عليه السلام د نبوت ثبوت مطلوب وو او د عمل له پاره دنيا ته د هغو راليږل مقصد نه وه ځکه هغه به فوراً مړه سوه او تر عارضي مرګ وروسته حيات اصلی هم ممکن دئ لکه څنګه چي په دې اياتونو او نورو اياتونو کي ذکر سوی دي نو په دې تقرير سره د ټولو اياتونو تر منځ تطبيق راغی او په يو ايت کي د هغه تحريف ضرورت پاته نه سو چي قاديانيان يې د خپلو باطلو خبرو د ترويج له پاره کوي او معلومه سوه چي د ﴿ وحرام على قرية أهلكناها أنهم لا يرجعون ﴾. (سورة الانبياء:٩٥). معنا دا نه ده چي څوک چي موږ وژلي وي هغه به موږ نه را ژوندی کوو بلکي د هغه

مطلب دا دي چي د کومو خلکو وخت چي په دنيا کي ختم سو هغوی به بيا دنيا ته د عمل له پاره نه راګرځول کيږي. (حل القران: ۱/ ٤٤).

او همدا ډول پر دغه موضوع د علامه ابن ابی الدنيا ځانګړي رساله من عاش بعد الموت ليکلي ده چي په هغه کي يې د مرګ څخه وروسته دراژوندي کېدو يو څو واقعي نقل کړی دي په هغو کي يې څو وګورئ:

۱ ــ أخرج بسنده عن عن ثابت البناني، عن أنس بن مالك رضي الله عنه قال: عدت شابًا من الأنصار فما كان بأسرع من أن مات، فأغمضناه ومددنا عليه الثوب قال بعضنا لأمه: احتسبيه، قالت: وقد مات ؟ قلنا: نعم، قالت: أحق ما تقولون ؟ قلنا: نعم، فمدت يديها إلى السماء، وقالت: اللّٰهم إني آمنت بك وهاجرت إلى رسولك فإذا نزلت بي شدة شديدة دعوتك، ففرجتها، فأسألك اللّٰهم لا تحمل علي هذه المصيبة اليوم قال: فكشف الثوب عن وجهه فما برحنا حتى أكلنا وأكل معنا. (من عاش بعد الموت:ص ٢).

۲ ــ وقصة زيد بن خارجة رضي الله عنه: وهى أنه توفى بين الظهر والعصر ثم تكلم بعد المغرب، وقال: كلمات فى شأن النبى صلى الله عليه وسلم وأبى بكر رضي الله عنه وعمر رضي الله عنه وعثمان رضي الله عنه و أوصى الناس بالخير. (من عاش بعد الموت:ص ٤).

۳ ــ عن ربعى بن حراش رضي الله عنه قال: كنا إخوة ثلاثة وكان أعبدنا وأصومنا وأفضلنا الأوسط منا، فغبت غيبة إلى السواد، ثم قدمت على أهلى، فقالوا: أدرك أخاك فإنه فى الموت، فخرجت أسعى إليه فانتهيت وقد قضى وسجى بثوب، فقعدت عند رأسه أبكيه قال: فرفع يده فكشف الثوب عن وجهه، وقال: السلام عليكم، قلت: أى أخى أحياة بعد الموت؟ قال: نعم، إلى لقيت ربى عزوجل فلقينى بروح وريحان ورب غير غضبان..... فعجلوا جهازى، ثم

طفئ فکان أسرع من حصاة لو القیت فی الماء...... فبلغ ذلک عائشة ﵂، فصدقته، وقالت کنا نسمع أن رجلًا من هذه الأمة سیتکلم بعد موته. (من عاش بعد الموت:ص ۹).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (رسالة «من عاش بعد الموت» لابن أبی الدنیا، ص:۲-۵۶، موقع جامع الحدیث).

د مړي تجهیز او تکفین د یوې کمپنۍ دلاري کول

• **سوال:** یو کس په یوه کمپنۍ کي ملازم دي په دې کمپنۍ کي د تجهیز او تکفین پولسی (policq) ده یعني چي کله د ده یا د ده داهل او عیال څخه دیو چا انتقال وسي نو هغه کمپنۍ د خپله طرفه د تجهیز او تکفین خرڅه ورکوي نو د هغه استعمال درست دئ او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي چي د تجهیز او تکفین پر پولسی کومي پیسې ورکول کیږي هغه د حکومت له لوري عطیه او یو ډول تعاون دي لهذا د هغه تر لاسه کول او استعمالول درست دي لکه څنګه چي د پراویډنټ فنډ بونس او د پینشن وغیره پیسې اخیستل شرعاً درست دي.

وګورئ په کفایت المفتي کي راځي:

هغه پیسې چي په لازمي توګه له تنخوا څخه جلا کیږي او هغه پیسې چي د بونس په نامه زیاتیږي او هغه چي پر دغو دواړو رقمونو د سود په نامه زیاتیږي د دغو درو واړو پیسو اخیستل د مسلمانانو ملازمینو او یا د دوی د وارثینو له پاره روا دي بونس خو عطیه ده مګر هغه پیسې چي د سود په نامه لګیږي شرعاً په سود کي داخلي نه دي هغه هم د عطیي حکم لري. (کفایت المفتی:۸/ ۹۶).

بل ځای لیکلي دي پینشن چي ملازم ته د ملازمت پر پرېښودلو ورکول کیږي روا دي. (کفایت المفتی:۸/ ۹۷). والله ﷻ اعلم.

دوهم .... فصل

مړي ته د غسل ورکولو بیان که د مړي جسم ټوټه ټوټه سي نو د هغه د غسل حکم

سوال: که مړي د غسل قابل نه وي مثلاً جسم يې ټوټه ټوټه سوی وي نو حکم يې څه دئ؟

الجواب: مړي که د غسل قابل نه وي نو پر هغه اوبه بهول کافي دي او که دا هم ممکنه نه وي نو يوازي تيمم دي ور ووهي.

په فتاوی هنديه کي ليکي:

ولو كان الميت متفسخًا يتعذر مسخه كفى صب الماء عليه. (الفتاوى الهندية: الفصل الثانى فى غسل الميت: ١/ ١٥٨).

په البحر الرائق کي راځي:

فأما الخنثى المشكل المراهق إذا مات ففيه اختلاف، والظاهر أنه ييمم وإذا ماتت المرأة في السفر بين الرجال ييممها ذو رحم محرم منها، وإن لم يكن لف الأجنبي على يديه خرقةً ثم ييممها، وإن كانت أمةً ييممها الأجنبي بغير ثوب، وكذا إذا مات رجل بين النساء تيممه ذات رحم محرم منه أو زوجته أو أمته بغير ثوب وغيرهن بثوب. (البحر الرائق: ٢/ ١٧٤). والله اعلم.

که يې کفن په نجاست سره ولړل سي نو د مينځلو حکم يې

سوال: که مړي ته غسل ورکول سي وروسته يې له بدن څخه رينه وبهيږي نو د کفن د بدلولو ضرورت يې سته او که نه؟

الجواب: که د غسل ورکولو وروسته کفن هم ور واغوستل سي بيا يې کوم نجاست راووزي او کفن يې ککړ سي نو کفن مينځل او بدلول ضروري نه دي.

په البحر الرائق کي راځي:

قوله، ولم يعد غسله لأن الغسل عرفناه بالنص، وقد حصل مرةً، وكذا لا تجب إعادة وضوئه؛ لأن الخارج منه من قبل أو دبر أو غيرهما ليس بحدث؛ لأن الموت حدثكالخارج

فلمـا لـم يـؤثر الـموت في الوضـوء ، وهـو موجودلـم يـؤثر الـخارج . (البحـر الرائـق:۲/ ۱۷۳، الماجدية).

په فتاوی درمختار کي راځي:

ولايعاد غسله ولاوضوءه بالخارج منه لأن غسله ماوجب لرفع الحدث لبقائه بالموت بل لتنجسه بالموت كسائر الحيوانات الدموية إلا أن المسلم يطهر بالغسل كرامة له وقد حصل، بحر وشرح ومجمع. (الدر المختار مع الشامی:۲/ ۱۹۷، سعيد). والله تعالیٰ اعلم.

که مسلمان مړي ته غير مسلم غسل ورکوي

سوال: که يوه مسلمانه ښځه مړه وي او غير مسلمه ښځه ورته غسل ورکوي نو حکم يې څه دئ؟ او همدا ډول که مسلمان نارينه ته غير مسلم نارينه غسل ورکړي نو حکم يې څه دئ؟

الجواب: که د مسلمان کس په موجوديت کي ورته کافر غسل ورکړ نو مکروه دي خو که کوم مسلمان موجود نه وي او کافر غسل ورکړي نو درسته ده، البته خلاف سنت به وي او په ظاهره د نارينه او ښځي تر منځ فرق نه سته مګر که مسلمان مړي نارينه وي او يوازي ښځي وي نو هغه مسلماني ښځي دي يو کافر ته غسل ور زده کړي بيا دي هغه کافر مسلمان ته غسل ورکړي. لأن نظر الجنس إلى الجنس اخف.

په درمختار کي راځي:

وليس للكافر غسل قريبه المسلم وفى الشامى: أي إذا لم يكن للمسلم قريبمسلمين نساء معهن كافريعلمنه الغسل ثم يصلين عليه ، فتغسيل الكافر المسلم فيه للضرورة فلا يدل على أنه بمكن من تجهيز قريبه المسلم عند عدمها خلافًا للزيلعي رحمه الله، أفاده في البحر . (الدر المختار مع ردالمحتار:۲/ ۲۳۱، سعيد – وكذا فى حاشية الطحطاوى على الدر المختار:۱/ ۳۷۹ – والبحر الرائق:۲/ ۱۹۱ – والفتاوى الهندية:۱/ ۵۹).

په بدائع الصنائع كي راځي:

ولو لم يكن فيهن امرأته ولكن معهن رجل كافر علمنه غسل الميت ويخلين بينهما موفقة في الدين. (بدائع الصنائع: ١/ ٣٠٤، سعيد).

په فتاوى رحيميه كي ليكي:

كه غير مسلم غسل وركړي نو هغه غسل بلل كيږي ځكه د غسل وركونكى مكلف كېدل شرط نه دي وأنه يسقط وإن لم يكن الغاسل مكلفًا. (فتاوى شامي: ١/ ٨٠٥). مګر په هغه كي دوې خبري سته:

١_ د غير مسلم په لاسونو وركول سوى غسل د سنت مطابق نه وي.

٢_ د مسلمان تجهيز او تكفين پر مسلمانانو لازم دئ د هغه ذمه داري پر ده پاته كيږي لهذا د مسلمانانو په لاسونو د مسنوني طريقې مطابق وركول ضروري دي كه په روغتون كي وي كه په كور كي وي. (فتاوى رحيميه: ١/ ٣٧٣). والله تعالى اعلم.

كه يې مړي بېله غسله پټ كړ نو د غسل حكم

سوال: كه يې مړي بېله غسله دفن كړ نو بيا يې راكښلاى سي او كه نه؟

الجواب: په دې صورت كي يې د دفن كولو وروسته د غسل فريضه ساقطه سوه لهذا مړي به له مځكي څخه نه راكښل كيږي.

په الجواهر النيره كي راځي:

ولو دفنوه بعد الصلاة عليه ثم ذكروا أنهم لم يغسلوه فإن لم يهيلوا عليه التراب أخرجوه وغسلوه وصلوا عليه ثانيًا وإن أهالوا التراب لم يخرجوه ويعيدون الصلاة عليه ثانيًا على القبر استحسانًا لأن تلك الصلاة لم يعتد بها لترك الطهارة مع الإمكان والآن زال الإمكان وسقطت فريضة الغسل. (الجوهرة النيرة: ١/ ١٢٩، مكتبة امدادية).

په البحرالرائق كي راځي:

فلو دفن بلا غسل ، ولم يمكن إخراجه إلا بالنبش صليَ على قبره بلا غسل للضرورة بخلاف ما إذا لم يهل عليه التراب بعد فإنه يخرج ويغسل ، ولو صلي عليه بلا غسل جهلًا مثلًا ، ولا يخرج إلا بالنبش تعاد لفساد الأولى . (البحر الرائق:۲/ ۱۷۹، ۱۹۵، الماجدية).

په فتاوی بزازيه کي راځي:

دفن بغير كفن أو قبل غسل أهيل عليه التراب أولا لاينبش لأن الكفن والغسل مامور والنبش منهي والنهي راجح على الأمر. (الفتاوى البزازية على هامش الهندية:٤/ ٨٠ – وكذا في الهندية:١/ ١٦٣).

په امداد الفتاوی کي راځي: که يې بېله غسله او کفنه دفن کړ نو نه دي راباسي پر قبر دي لمونځ وکړي.(امداد الفتاوى:١/ ٤٨٦). والله تعالیٰ اعلم.

مړي ته د غسل ورکولو په وخت کي د پرې ايستلو طريقه

سوال: چي کله مسلمان مړ سي نو د غسل ورکولو په وخت کي يې د پرې ايستلو طريقه څه ده؟

الجواب: په دې مسئله کي د احنافو په اند درې قولونه دي راجح دا ده چي څنګه چي په پرې ايستلو کي سهولت وي هغه دي اختيار سي.

په حاشية الطحطاوي کي راځي:

ويوضع الميت كيف ما اتفق على الأصح قاله شمس الأئمة السرخسي رحمه الله وقيل: إلى القبلة فتكون رجلاه إليها كالمريض إذا أراد الصلاة إيمّاء . وفي القهستاني عن المحيط وغيره أنه السنة . (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح:ص ٥٦٧، قديمى كتب خانه).

په درمختار کي راځي:

ویوضع کما امکن لو تیسر فی الأصح علی سریر مجمروترا. وفی الشامی: قوله فی الأصح، وقیل یوضع إلی القبلة طویلا وقیل: عرضا کما فی قبره. (الدر المختار مع الشامی: ۲/ ۱۹۵، باب صلاة الجنائز، سعید کمپنی – وشرح عنایة: ۱/ ۷۰). والله تعالیٰ اعلم.

خنثی مشکل ته د غسل ورکولو حکم

سوال: خنثی مشکل ته به غسل څنګه ورکول کیږي؟

الجواب: خنثي مشکل که مراهق وي نو غسل دي نه ورکول کیږي او که مراهق نه وي کوچني وي نو بیا ښځه او نارینه دواړه ورته غسل ورکولای سي.

په مراقي الفلاح کي راځي:

وکذا الخنثی المشکل یمم في ظاهر الروایة وقیل یجعل في قمیص لا یمنع وصول الماء إلیه ویجوز للرجل والمرأة تغسیل صبي وصبیة لم یشتهیا لأنهما لیس لأعضائهما حکم العورة. (مراقی الفلاح: ص ۲۱۱، باب احکام الجنائز، مکة المکرمة – وکذا فی الشامی: ۲/ ۲۰۱، سعید).

په فتاوی هندیه کي راځي: والخنثی المشکل المراهق لایغسل رجلا ولا امرأة ولایغسلها رجل ولا امرأة وییمم وراء الثوب. (الفتاوی الهندیة: ۱/ ۱۶۰، الفصل الثانی فی الغسل). والله اعلم.

دریم .... فصل

د جنازې د لمانځه بیان

په مسجد کي د جنازې د لمانځه حکم

سوال: په مسجد کي د جنازې د لمانځه داداء کولو حکم څه دئ؟

الجواب: کوم مسجد چي د پنځو لمنځونو له پاره جوړ سوی وي په هغه کي د جنازې لمونځ مکروه دئ همدا ډول د ظاهر الروایت مطابق که مړي له مسجد څخه دباندي وي نو هم یې په مسجد کي د جنازې کول مکروه دي او پر همدغه فتوی ده، البته که ضرورت وي نو ګنجائش یې سته.

وګورئ په حدیث شریف کي دي:

عن أبى هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: « من صلى على جنازة فى المسجد فلا شىء له». (رواه أبو داؤد:۲/ ۹۸، باب الصلاة على الجنازة فى المسجد، سعيد – والبيهقى فى سننه الكبرى:٤/ ٥٢ – وابن ابى شيبة:۳/ ۲٤۲ – وعبد الرزاق:۳/ ٥۲۷/ ٦٥۷۹).

په هدايه كي راځي:

ولا يصلي على ميت في مسجد جماعة لقول النبي ﷺ « من صلى على جنازة في المسجد فلا أجر له » ولأنه بنى لأداء المكتوبات ولأنه يحتمل تلويث المسجد وفيما إذا كان الميت خارج المسجد اختلاف المشايخ رحمهم الله. (الهداية:۱/ ۱۸۱، فصل فى الصلاة على الميت، شركت علمية).

په فتح القدير كي راځي:

ولا يصلي على ميت في مسجد جماعة في الخلاصة: مكروه سواء كان الميت والقوم في المسجد أو كان الميت خارج المسجد والقوم في المسجد . (فتح القدير:۲/ ۱۲۸، دار الفكر – وكذا فى الشامى:۲/ ۲۲٤، سعيد – والبحر الرائق:۲/ ۱۸٦، كوئتة). والله ﷻ اعلم.

د جنازې د لمانځه حقدار

سوال: د جنازې د لمانځه حقدار څوک دئ؟

الجواب: د شرعي خليفه او قاضي دنه موجوديت په صورت كي د محلي امام زيات حقدار دئ او كه امام نه وي يا اجازه وركړي نو قريب به حقدار وي.

په فتاوى هنديه كي راځي:

ذكر الحسن رحمه الله عن أبي حنيفة رحمه الله أن الإمام الأعظم وهو الخليفة أولى إن حضر فإن لم يحضر فإمام المصر فإن لم يحضر فالقاضي فإن لم يحضر فصاحب الشرط فإن لم

يحضر فإمام الحي فإن لم يحضر فالأقرب من ذوي قرابته وبهذه الرواية أخذ كثير من مشايخنا رحمهم الله. (الفتاوى الهندية:۱/ ۱۶۳، الفصل الخامس فی الصلاة علی الميت).

په مراقي الفلاح کي راځي

ويقدم الأقرب فالأقرب كترتيبهم في النكاح ولكن يقدم الأب على الابن في قول الكل على الصحيح لفضله وقال شيخ مشايخي العلامة نور الدين علي المقدسي رحمه الله: لتقديم الأب وجه حسن وهو أن المقصود الدعاء للميت ودعوته مستجابة روى أبو هريرة رضي الله عنه عن النبي ﷺ: «ثلاث دعوات مستجابات دعوة المظلوم ودعوة المسافر ودعوة الوالد لولده». رواه الطيالسي فی مسنده برقم:۲۵۱۷ – وابن ماجة فی الدعاء برقم ۳۸۶۲ –(مراقی الفلاح مع الحاشية:ص ۲۱۵، باب احکام الجنائز، مکة المکرمة – وکذا فی الشامی:۲/ ۲۲۰، سعيد). والله تعالیٰ اعلم.

د جماعت د زياتوالي له پاره د جنازې د ځنډولو حکم

سوال: د جماعت د زياتوالي له پاره د جنازې د لمانځه د ځنډولو حکم څه دئ؟

الجواب: د جنازې په لمانځه کي تلوار کول مطلوب او مقصد دي لهذا يوازي د جماعت د زياتېدو له پاره يې ځنډول مکروه تنزيهي دي.

په طحطاوي کي راځي:

وكره تأخير صلاته ودفنه ليصلى عليه جمع عظيم بعد صلاة الجمعة فالأفضل أن يعجل بتجهيزه بتمامه من حين يموت بحرف وظاهره أن الكراهة تنزيهية. (حاشية الطحطاوى على الدر المختار:۱/ ۳۸۰، کوئتة – والبحر الرائق:۲/ ۱۹۱، کوئتة – والشامی:۲/ ۲۳۲، مطلب فی حمل الميت، سعيد). والله تعالیٰ اعلم.

د خنثى مشكل د جنازې د لمانځه حكم

سوال: د خنثى مشكل د جنازې لمونځ به څنګه وېل كيږي يعنى د نارينه په شان او كه د ښځي په شان؟

الجواب: كه دى ځوان وي نو په عامه توګه چي څنګه يې جنازي كيږي په هغه شان دي وسي ځكه د نارينه او ښځي د جنازې په لمانځ كي څه فرق نه سته او كه كوچني وي نو په دواړو كي اختيار دئ كه د مذكر دعاء ولولي نو د ميت طرف ته به ضمير راجع سي او كه د مونث دعاء وايي نو د نفس په تاويل به نفس ته ضمير راجع سي.

په امداد الفتاوى كي راځي:

وسننها أربع: الأولى قيام الإمام بحذاء صدر الميت ذكرًا كان الميت أو أنثى لأن الصدر موضع القلب، وفيه نور الإيمان ...... و الرابعة من السنن الدعاء للميت ولنفسه وجماعة المسلمين بعد التكبيرة الثالثة، ولا يتعين له أي: الدعاء، شيء سوى كونه بأمور الآخرة ولكن إن دعا بالمأثور عن النبي ﷺ فهو أحسن وأبلغ لرجاء قبوله ..... وفي حديث إبراهيم الأشهل عن أبيه كان رسول الله ﷺ إذا صلى على الجنازي قال: اللّٰهم اغفر لحينا وميتنا، وشاهدنا وغائبنا، وصغيرنا وكبيرنا، وذكرنا وأنثانا» . رواه الترمذي والنسائي عن أبي هريرة رضي الله عنه، وزاد فيه: « اللّٰهم من أحييته منا فأحيه على الإسلام ومن توفيته منا فتوفه على الإيمان».

(امداد الفتاح: ص ٦١٨، سنن الصلاة مطلب سنن الجنازة، بيروت).

همدا ډول وګورئ: (مراقي الفلاح: ص ٢١٤، مكة المكرمة – وعمدة الفقه: كتاب الصلاة حصه دوم: ص ٥١٩، نماز جنازه كا مفصل طريقه، المجددية). والله اعلم.

د جنازې د لمانځه په صفونو کي د طاق عدد استحباب

سوال: د جنازې د لمانځه په صفونو کي د طاق عدد خیال ساتل مستحب دي نو ایاي د طاق عدد له پاره مخکي صفونه ناقص پرېښودل کیږي؟

الجواب: د احادیثو او د فقهي د کتابونو څخه د درې د عدد استحباب او اهتمام ثابتیږي که څه هم خلک لږ وي درې صفونه دي جوړ کړي او که خلک زیات وي نو پنځه یا اووه وغیره طاق عدد دي جوړ کړي او که څلور صفونه جوړیږي نو داسي دي نه کوي چي څلورم ناقص پرېږدي او پنځم جوړ وي ځکه استحباب او فضیلت په درو سره حاصلیږي.

وګورئ په ترمذي شریف کي راځي:

عن مرثد بن عبد الله اليزني قال : كان مالك بن هبيرة إذا صلى على جنازة فتقال الناس عليها جزاهم ثلاثة أجزاء ثم قال: قال رسول الله ﷺ من صلى عليه ثلاثة صفوف فقد أوجب، وفي الباب عن عائشة رضي الله عنها و أم حبيبة رضي الله عنها و أبي هريرة رضي الله عنه و ميمونة رضي الله عنها زوج النبي ﷺ. (رواه الترمذي:۱/ ۲۰۰، باب كيف الصلاة على الميت والشفاعة له، فيصل).

په مسلم شریف کي راځي:

عن عائشة رضي الله عنها عن النبي ﷺ قال: « ما من ميت تصلى عليه أمةمن المسلمين يبلغون مائةً كلهم يشفعون له إلا شفعوا فيه ». كذا عن أنس رضي الله عنه. (رواه مسلم:۱/ ۳۰۸، فيصل).

قال النووي رحمه الله : ويحتمل أن يكون النبي ﷺ أخبر بقبول شفاعة مأة فأخبر به ثم بقبول شفاعة أربعين ثم ثلاثة صفوف وإن قل عددهم. (شرح المسلم:۱/ ۳۰۸، فيصل).

په ابو داؤد شریف کي راځي:

عن ابن عباس رضي الله عنه قال: سمعت النبی ﷺ يقول ما من مسلم يموت فيقوم على جنازة أربعون رجلًا لايشركون بالله شيئًا إلا شفعوا فيه. (رواه ابو داؤد:۲/ ۴۵۲، باب فصل الصلاة على الجنائز وتشييعها، فيصل).

په عون المعبود کي راځي:

والحديث عند أحمد ومسلم أيضًا . وتقدم حديث مالك بن هبيرة مرفوعًا بلفظ « ما من ميت يموت فيصلي عليه ثلاثة صفوف من المسلمين » الحديث ثم ذكر كلام النووي. (عون المعبود:۸/ ۴۵۲).

په فتاوی هنديه کي راځي:

إذا كان القوم سبعة قاموا ثلثة صفوف يتقدم واحد وثلاثة بعده، واثنان بعدهم وواحد بعدهما كذا فی التاتار خانية. (فتاوى الهندية:۱/ ۱۶۴، الفصل الخامس فی الصلاة على الجنائز).

په فتاوی شامي کي راځي:

ولهذا قال في المحيط: ويستحب أن يصف ثلاثة صفوف، حتى لو كانوا سبعة يتقدم أحدهم للإمامة ويقف وراءه ثلاثة ثم اثنان ثم واحدا . (شامی:۲/ ۲۱۴، سعيد).

په النتف فی الفتاوي کي راځي:

فأما القوم إذا قاموا على الجنازة ينبغی أن يقوموا ثلاثة صفوف وإن قلوا لأن ذلک أفضل، وقد جاءت الآثار بذلک. (النتف فی الفتاوی:ص ۸۲، مطلب الصلاة على الجنازة).

په شرح منية المصلي کي راځي:

ويستحب أن يصفوا ثلاثة صفوف، ذكره في المحيط لقوله عليه اسلام: « من صلى عليه ثلاثة صوف غفر له» رواه أبو داؤد والترمذي والحاكم وقال صحيح على شرط مسلم. (شرح منية المصلي:۵۸۸، سهيل – وكذا في الفقه الحنفي وأدلته:۱/ ۳۰۹، دار الفكر).

په فتاوی محموديه کي راځي:

د جنازې په لمانځه کي دي د طاقو عدوونو د صفونو لحاظ وساتل سي همدغه شرعاً مستحب ده په دغه طاق عدد کي دي د نابالغو صف هم وشمېرل سي. (فتاوی محموديه:۸/ ۵۹۸). والله تعالی اعلم.

د شراب چښونکي د جنازې د لمانځه حکم

سوال: که يو څوک شراب چښي نو ايا د ده د جنازې لمونځ به کيږي او که نه؟

الجواب: د جنازې د لمانځه له پاره مسلمانېدل ضروري دي نو د بې لمانځه، شرابي ټولو جنازه به کيږي، البته که مقتدا عالمان وغيره شراکت ونه کړي د پاره د عبرت نو ښه باک نه لري او يوازي د شراب چښلو له امله و چا ته کافر ويل هم درسته دي، مګر هلته چي شراب حلال وګڼي.

په کنز العمال کي راځي:

قال النبي ﷺ صلوا خلف كل بروفاجر وصلوا على كل بروفاجر.(كنز العمال:٦/ ٥٤). والله تعالی اعلم.

د جنازې په لمانځه کي د ښځي د امامت حکم

سوال: ايا ښځه د جنازې لمونځ ورکولای سي او که نه؟

الجواب: په عامو حالاتو کي دي ښځه د جنازې لمانځه ته نه ځي، البته که کوم نارينه موجود نه وي نو ښځه د جنازې لمونځ اداء کولای سي او د امامت په وخت کي د ښځو په منځ کي ودرېږي.

په بدائع الصنائع کي راځي:

وإذا صلين النساء جماعة على جنازة قامت الإمامة وسطهن كما في الصلاة المفروضة المعهودة.(بدائع الصنائع:۱/ ۳۱٤، سعيد). والله تعالی اعلم.

د جنازې په لمانځه کې د امام له پاره د سينې پر مقابل درېدل

سوال: دا چې امام به د جنازې په لمانځه کې د مړي د سينې پر برابر درېږي د احنافو په مذهب کې د دې له پاره څه دليل دئ؟

الجواب: د حضرت انس ﷺ، عبد الله بن مسعود ﷺ، شعبي، عطاء، ابراهيم نخعي، حسن بصري، ابن جريج وغيره ټولو څخه عند الصدر مروی دي نو احنافو د دغو رواياتو له امله د سينې سره درېدل اصل او افضل ګڼلي دي او د سر يا شا پر برابر درېدل يې پر جواز حمل کړي دي.

په الاستذکار کې راځي:

عن أنس ﷺ أنه أتى بجنازة رجل فقام عند رأس السرير وأتى بجنازة امرأة فقام أسفل من ذلك عند الصدر فقال العلاء بن زياد يا أبا حمزة هكذا رأيت رسول الله ﷺ يصنع؟ قال: نعم فأقبل عليه العلاء فقال: احفظوا. (رقم الحديث:۱۱٤٦۸).

وقال الشعبي: يقوم الذي يصلي على الجنازة عند صدرها. (رقم الحديث:۱۱٤۷۱).

وعن بن مسعود ﷺ وعطاء وإبراهيم: يقوم الذي يصلي على الجنازة عند صدرها ولم يفرقوا بين الرجل والمرأة. (الاستذكار لابن عبد البر:۸/ ۲۸۰/ ۱۱٤۷٤).

په شرح الزرکشي على مختصر الخرقي کې راځي:

لما روى عن غالب الخياط قال: «شهدت أنس بن مالك ﷺ صلى على جنازة رجل فقام عند رأسه فلما رفعت أتي بجنازة امرأة فصلى عليها فقام وسطها وفينا العلاء بن العدوى فلما رأى اختلاف قيامه الرجل والمرأة فقال يا أبا حمزة: «هكذا كان رسول الله ﷺ يقوم من الرجل حيث قمت ومن المرأة حيث قمت؟ قال نعم رواه أحمد وأبو داؤد والترمذى وحسنه وابن ماجة وفى لفظ رواه أحمد: قال أبو غالب صليت خلف أنس ﷺ على جنازة فقام حيال صدره، وذكر الحديث. (رقم الحديث:۱۰۸٦).

وفی الصحیحین عن سمرة بن جندب ﷺ أن النبی ﷺ صلی علی امرأة ماتت فی نفاسها فقام وسطها ونقل عنه حرب رأیته قام عند صدر المرأة........ (شرح الزرکشی علی مختصر الخرقی:۲/ ۳۲۹/ ۱۰۸۷).

په مصنف عبد الرزاق کي راځي:

عبد الرزاق عن الثوری عن مغیرة عن إبراهیم قال: یقوم الإمام عند صدر الرجل ومنکب المرأة. (رقم الحدیث:۶۳۵۱).

عبد الرزاق عن معمر عن مغیرة عن إبراهیم قال: یقوم الإمام عند صدر الرجال ومنکب المرأة. (رقم الحدیث ۵۳۵۲).

عبد الرزاق عن ابن جریج قال: حدثنی من أصدق عن الحسن أنه قال یقوم الرجل من المرأة إذا صلی علیها عند صدرها. (مصنف عبد الرزاق:۳/ ۴۶۸/ ۶۳۵۴، ادارة القرآن).

په مصنف ابن ابی شیبه کي راځي:

عن الحسن قال: یقام من المرأة حیال ثدیها ومن الرجل فوق ذلک. وعن أبی الحسن قال: کان عبد الله إذا صلی علی الجنازة قام وسطها ویرفع من صدر المرأة شیئًا. وعن عطاء قال إذا صلی الرجل عن الجنازة قام عند الصدر. وعن إبراهیم قال: یقوم الذی یصلی علی الجنازة عند صدرها. (المصنف لابن أبی شیبة:۳/ ۳۱۳، فی المرأة این یقام منها فی الصلاة والرجل این یقام منه، ادارة القرآن). والله ﷻ اعلم.

د څلورو امامانو په اند د غائبانه جنازې د لمانځه حکم

سوال: د څلورو امامانو په اند د غائبانه جنازې د لمانځه تفصیل څه دئ ځکه دلته د مختلفو مملکتونو مسلمانانو اوسیږي نو مونږ ته د قریب د مرګ په وخت کي د لمانځه له پاره وایي په دې هکله وضاحت غواړو؟

الجواب: د شافعیه وو او حنابله وو په اند په غائبانه توګه د جنازې لمونځ کیږي، البته د احنافو او مالکیه وو په اند په غائبانه توګه د جنازې لمونځ روا نه دئ لهذا د کوم حنفي له پاره د جنازې لمونځ وړکول درست نه دي، ښه دا ده چي خلک وپوهول سي او له دوی څخه یو څوک امامت ورکړي، البته که کوم حنفي د مجبورتیا له امله د دعاء په نیت اقتداء وکړي نو درسته ده.

په الفقه الاسلامي کي راځي:

رأي الحنفية والمالكية: عدم جواز الصلاة على الغائب، وصلاة النبي ﷺ على النجاشي لغوية أو خصوصية، وتكون الصلاة حينئذ مكروهة. ورأى الشافعية والحنابلة: جواز الصلاة على الميت الغائب عن البلد، وإن قربت المسافة، ولم يكن في جهة القبلة، لكن المصلي يستقبل القبلة، لما روى جابر رضي الله عنه : «أن النبي ﷺ صلى على أصحمة النجاشي، فكبر أربعاً» وتتوقت الصلاة على الغائب عند الحنابلة بشهر، كالصلاة على القبر؛ لأنه لا يعلم بقاؤه من غير تلاش أكثر من ذلك. (الفقه الاسلامى وإدلته:۲/ ٥٠٤، الصلاة على الغائب، دار الفكر).

د احنافو مذهب:

وګورئ په درمختار کي راځي:

فلا تصح على غائب ...... وصلاة النبى ﷺ على النجاشى لغوية أو خصوصية: وفى الشامى: أو لأنه رفع سريره حتى رأه عليه الصلاة والسلام بحضرته فتكون صلاة من خلفه على

میت یراه الإمام وبحضرته دون المأمومین، وهذا غیر مانع من الاقتداء، فتح . (الدر المختار مع الشامی: ۲/ ۲۰۹، باب صلاة الجنازة، سعید – وکذا فی الفتاوی الهندیة: ۱/ ۱٦٤).

همدا ډول وګورئ: (احسن الفتاوی: ٤/ ۲۰۰ – وفتاوی رحیمه: ٦/ ۳۷۲).

د مالکیه وو مذهب:

وګورئ په حاشية الدسوقي کي راځي:

ولا يصلى على غائب أي يكره، وأما صلاته عليه الصلاة والسلام وهو بالمدينة على النجاشي لما بلغه موته بالحبشة فذاك من خصوصياته أو أن صلاته لم تكن على غائب لرفعه له ﷺ حتى رآه فتكون صلاته عليه كصلاة الإمام على ميت رآه ولم يره المأمومون ولا خلاف في جوازها. (حاشية الدسوقی: ۱/ ٦٦۹، احکام الجنائز، دار الفکر).

د شافعيه وو مذهب:

په شرح المهذب کي راځي:

تجوز الصلاة على الميت الغائب لما روى أبو هريرة رضي الله عنه أن النبي ﷺ نعي النجاشي لاصحابه وهو بالمدينة وصلي عليه وصلوا خلفه وان كان الميت معه في البلد لم يجز إن صلى عليه حتى يحضر عند لأنه يمكنه الحضور من غير مشقة. (شرح المهذب: ٥/ ۲٥۰، دار الفکر).

د حنابله وو مذهب:

په شرح کبیر کي راځي:

(مسئلة : ويصلى على الغائب بالنية فان كان في أحد جانبي البلد لـم تصح عليه بالنية في أصح الوجهين) تـجوز الصلاة على الغائب في بلد آخر بالنية بعيدًا كان البلد أو قريبًا، فيستقبل القبلة ويصلي عليه كصلاته على الحاضر. (الشرح الكبير:٢/ ٣٥٤، دار الكتب العلمية). والله ﷻ اعلم.

پر ډېرو مړو د جنازې د لمانځه د اداء کولو طریقه:

سوال: که ډېري جنازې يو ځاى اداء کېدي او په هغه کي نارينه، ښځي او کوچنيان شامل وي نو د امام په وړاندي به يې څنګه ږدي؟

الجواب: ښه دا ده چي پر هر يوه بېل لمونځ اداء سي خو پر ټولو يو ځاى هم روا دي د هغه درې صورتونه دي:

١_ يوا دا چي يو مړي دي د امام په وړاندي کښېښودل سي د هغه د پښو طرف ته دي د دوهم سر وي او د هغه د پښو طرف ته دي د درېيم سر وي.


٢_ صورت دا دئ چي کوم مړي چي د امام په وړاندي وي د هغه شخه د قبلي طرف ته دي بل وي او د هغه شخه د قبلي طرف ته دي درېيم وي امام دي د ټولو د سيني پر برابر وي.

٣_ صورت دا دئ چي د لومړی مړي شخه د قبلي طرف ته دي دوهم مړي داسي کښېښېږدي چي د لومړي د اوږو پر برابر د دوهم سر وي همدا ډول د دوهم د اوږو پر برابر د درېيم سر وي په درې واړو صورتونو کي به امام ته نژدې نارينه وي بيا هلک بيا ښځه.

لومړی صورت: ټولي جنازې دي شمالاً او جنوباً قطار کړي لومړی دي د نارينه جنازه کښېږدي د هغه پښو ته دې د نابالغ کوچني جنازه وي او د هغه پښو ته دي د ښځي جنازه او د هغې پښو ته دي د نابالغي نجلۍ جنازه او امام دي د ټولو شخه د افضل پر مقابل ودرېږي.

دوهم صورت: ټولي جنازې دي د امام په وړاندي داسي کښېږدي چي امام د ټولو جنازو د سينو پر مقابل وي، لومړی دي د نارينه جنازه وي له هغه شخه وروسته د نابالغ کوچني جنازه له هغه شخه وروسته د ښځي جنازه او له هغه شخه وروسته د نابالغي نجلۍ جنازه دا صورت لـه لومړی صورت شخه ښه دئ.

دریم صورت: دا هم روا ده چې د لومړی جنازې شخه وروسته د دوهمه جنازه لږ څه شا ته داسې کښېښودل سي چې د دوهم مړي سر د لومړی مړ د اوږې سره برابر سي او د دریم مړي سر د دوهم د اوږدي سره برابر سي او د څلورم مړ سر د دریم له اوږې سره برابر سي.(فتاوی رحیمیه:۵/ ۱۰۰).



وګورئ په درمختار کې راځي:

وإذا اجتمعت الجنائز فأفرد الصلاة على كل واحدة أولى من الجمع وتقديم الأفضل أفضل وإن اجتمع جاز، ثم إن شاء جعل الجنائز صفًا واحدًا وقام عند أفضلهم، وإن شاء جعلها صفًا مما يلي القبلة واحدًا خلف واحد بحيث يكون صدر كل جنازة مما يلي الإمام ليقوم بحذاء صدر الكل وإن جعلها درجًا فحسن لحصول المقصود وراعى الترتيب المعهود خلفه حالة الحياة، فيقرب منه الأفضل فالأفضل الرجل مما يليه، فالصبي، فالخنثى فالبالغة فالمراهقة والصبي الحر يقدم على العبد، والعبد على المرأة. وفى الشامى : قوله وإن جمع جاز أي بأن صلى على الكل صلاة واحدة، (قوله صفًا واحدًا) أي كما يصطفون في حال حياتهم عند الصلاة بدائع: أي بأن يكون رأس كل عند رجل الآخر فيكون الصف على عرض القبلة . (قوله وإن شاء جعلها صفًا واحدًا) ذكر في البدائع التخيير بين هذا والذي قبله، ثم قال هذا جواب ظاهر الرواية. وروي عن أبي حنيفة رحمه الله في غير رواية الأصول أن الثاني أولى لأن السنة هي قيام الإمام بحذاء الميت، وهو يحصل في الثاني دون الأول. (الدر المختار مع ردالمحتار:۲/ ۲۱۹، سعيد – وكذ فى البحر الرائق:۲/ ۱۸۸، كوئتة – والفتاوى الهندية:۱/ ۱٦٥ – وحاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح:۲ ۵۹۳، قديمى). والله تعالى اعلم.

په ثناء کي د وجل ثناؤک د ويلو حکم

سوال: په ثناء کي د وجل ثناؤک ويل ثابت دي او که نه؟

الجواب: په ځنيو رواياتو کي يې ثبوت سته لهذا د جنازې په لمانځه کي يې ويل روا او درست دي.

وګورئ په مصنّف ابن ابى شيبه کي راځي:

عن ابن عباس رضي الله عنه قال...... اللّهم كن لى جارًا من شرهم جل ثناؤك وعزجارك وتبارك اسمك ولا إله غيرك. (مصنف ابن ابى شيبة:۱۰/ ۲۰۳، كتاب الدعاء).

په الفردوس کي راځي:

ابن مسعود رضي الله عنه إن من حب الكلام إلى الله عزوجل أن يقول العبد: « سبحانک اللّٰهم وبحمدک وتبارک اسمک وتعالى جدک وجل ثناؤک ولا إله غيرک. (الفردوس بمأثور الخطاب للديلمی ۱/ ۲۱٤).

په شرح منية المصلی کي راځي:

إن زاد فی دعاء الاستفتاح بعد قوله وتعالی جدک وجل ثناؤک لايمنع من زيادته وإن سکت عنه لايؤمر به لأنه لم يذکر فی الأحاديث المشهورة وقدروی عن ابن عباس رضي الله عنه من قوله فی حديث ذکره ابن أبی شيبة وابن مردويه فی کتاب الدعاء ورواه الحافظ ابن شجاع فی کتاب الفردوس عن ابن مسعود رضي الله عنه إن من أحب الکلام إلی الله عزوجل...... (شرح منية المصلی: ص ۳۰۲، سهيل اکيدمی).

په طحطاوي کي راځي:

قال فی سکب الأنهر: والأولی ترک وجل ثناؤک إلا فی صلاة الجنازة. (حاشية الطحطاوی علی مراقی الفلاح: ص ۵۸٤، فصل الصلاة علی الميت، قديمی کتب خانه).

په عمدة الفقه کي ليکي:

او ثناء همهغه ده چي په نورو لمنځونو کي يې وايي، په هغه کي د وتعالی جدک ښخه وروسته د وجل ثناءک زياتول ښه دي. (عمدة الفقه: ص ۵۱۹). والله تعالى اعلم.

د جنازې د لمانځه په درود کي د اضافه کولو حکم

سوال: د جنازې د لمانځه په درود کي د کماصليت وسلمت وبارکت ورحمت اضافه والي صحيح دئ او که نه؟

الجواب: د جنازې په لمانځه کي هم د درود ابراهيمي چي په عامو لمنځونو کي ويل کيږي افضل او ښه دئ، البته که څه اضافه والي پکښي وسي بيا هم صحيح دئ.

په درمختار کي راځي:

ويصلى على النبى ﷺ كما فى التشهد . وفى الشامى: أى المراد الصلاة الإبراهيمية التى يأتى بها المصلى فى قعدة التشهد. (الدر المختار مع الشامى:۲/ ۲۱۲، سعيد).

په طحطاوي کي راځي:

قوله كما فى التشهد بأن يذكر الصلاة والبركة والرحمة مع زيادة السيادة ندباً وتكرار إنك حميد مجيد وفى القهستانى عن الجلابى: يصلى بما يحضره، واتباع المسنون أولى.

(حاشية الطحطاوى على الدر المختار:۱/ ۳۷۳، كوئته – وكذا فى فتح القدير:۲/ ۱۲۲، دار الفكر – ومجمع الانهر:۱/ ۱۸۳ – وفتاوى محموديه:۸/ ۵٦۲، مبوب ومرتب). والله ﷻ اعلم.

د جنازې په لمانځه کي دواړو طرفونو ته د سلام ګرځولو ثبوت

سوال: د جنازې په لمانځه کي دواړو طرفونو ته د سلام ګرځولو ثبوت چيري دئ؟ ځيني کسان يوه لوري ته سلام ګرځوي؟

الجواب: د احنافو د مذهب مطابق بايد دواړو لورو ته سلام وګرځول سي په احاديثو کي يې ثبوت سته.

وګورئ په د بيهقي په سنن کبرى کي راځي:

عن إبراهيم الهجرى قال: أمنا عبد الله بن أبى أوفى على جنازة ابنته فكبر أربعًا فمكث ساعةً حتى ظننا أنه سيكبر خمسًا ، ثم سلم عن يمينه وعن شماله ، فلما انصرف قلنا له : ما هذا؟ فقال : إنى لا أزيدكم على ما رأيت رسول الله ﷺ يصنع أو هكذا صنع رسول الله ﷺ ثم ركب دابته وقال للغلام : أين أنا؟ قال : أمام الجنازة قال : ألم أنهك وكان قد كف يعنى بصره.

وفی روایة له عن علقمة والأسود عن عبد الله قال : ثلاث خلال کان رسول الله ﷺ يفعلهن تركهن الناس إحداهن التسليم على الجنازة مثل التسليم فی الصلاة.(السنن الكبرى للبيهقی:٤/ ٤٣، كتاب الجنائز، باب من قال يسلم عن يمينه وعن شماله، بيروت).

په اعلاء السنن کي راځي:

عن عبد الله بن أبی أوفی رضي الله عنه « **أنه كبر على جنازة ابنة له أربع تكبيرات ...... الخ،** رواه البيهقی فی السنن الكبرى، قال الحاكم أبو عبد الله: هذا حديث صحيح، كذا فی الأذكار للإمام النووی. (اعلاء السنن:٨/ ٢٦٢/ ٢٢٣٠، كيفية صلاة الجنازة، ادارة القرآن كراچی -- ورواه الطبرانی فی الكبير: ١٠/ ٨٢).

په بل ځای کي ليکي:

قال المؤلف رحمه الله: وفی التلخيص: وروى البيهقی عن عبد الله التسليم على الجنازة كالتسليم فی الصلاة، وسكت عنه الحافظ، فهو حسن أو صحيح، كما ذكرناه قبل ودلالته على الباب ظاهرة. (اعلاء السنن:٨/ ٢٦١، كيفية صلاة الجنازة، ادارة القرآن كراچی).

وذكره الهيثمی فی مجمع الزوائد وقال: رواه الطبرانی فی الكبير ورجاله ثقات. (مجمع الزوائد:٣/ ٣٤، باب الصلاة على الجنازة، دار الفكر). **همدا ډول وګورئ:** (بدائع الصنائع:١/ ٣١٣، فصل فی بيان كيفية الصلاة على الجنازة، سعيد – والفتاوى الهندية:١/ ١٦٤، الفصل الخامس فی الصلاة على الميت – وعمدة الفقه: كتاب الصلاة حصه دوهم:ص ٥٢٠، المجددية). والله تعالى اعلم.

د جنازې د لمانځه وروسته د اجتماعي دعاء کولو حکم

سوال: د جنازې د لمانځه وروسته کومه دعاء منقوله ده او که نه؟

الجواب: د جنازې د لمانځه وروسته کومه دعاء منقوله نه ده بلکي اجتماعي جهري دعاء فقهاوو مکروه ګڼلي ده.

وګورئ په عالمګیري کې راځي:

کره أن يقوم رجل بعد ما اجتمع القوم للصلاة ويدعو للميت ويرفع صوته. (الفتاوى الهندية: ٥/ ٣١٩، الباب الرابع فى الصلاة والتسبيح.....).

په فتاوی محمودیه کې راځي:

فقهاوو د جنازې د لمانځه څخه د فارغېدو وروسته په ولاړې له اجتماعي دعاء کولو څخه منع کړې ده د حنفي فقهې په معتبر کتاب خلاصه الفتاوی کې يې هغه منع کړې ده.

لايقوم بالدعاء بعد صلاة الجنازة. خلاصة الفتاوى: ١/ ٢٢٥، الفصل الخامس العشرون فى الجنائز، رشيديه. (فتاوى محموديه: ٨/ ٧١٠، مبوب ومرتب). والله ﷻ اعلم.

له جنازې سره څلوېښت قدمه د تللو فضيلت

سوال: د جنازې سره د څلوېښت قدمه د تللو کوم فضيلت ثابت دئ او که نه؟

الجواب: د جنازې سره په څلوېښت قدمه تللو کې د څلوېښتو کلونو ګناه معافيږي لکه چې په حديث شريف کې راغلې دي.

وګورئ په مجمع الزوائد کې راځي:

عن أنس بن مالك ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ: من حمل جوانب السرير الأربع كفر الله عنه أربعين كبيرة. رواه الطبراني فى الأوسط: (١٣/ ١٦٠/ ٦٠٨٢) وفيه على بن أبى سارة وهو ضعيف. (مجمع الزوائد: ٣/ ٢٦، باب حمل السرير، دار الفكر).

په مراقي الفلاح کې راځي:

وينبغي لكل واحد حملها أربعين خطوة يبدأ الحامل بمقدمها الأيمن فيضعه على يمينه أي على عاتقه الأيمن ويمينها أي الجنازة ما كان جهة يسار الحامل لأن الميت يلقى على ظهره ثم يوضع مؤخرها الأيمن عليه أي على عاتقه الأيمن ثم يضع مقدمها الأيسر على يساره أي على

عاتقه الأيسر ثم يختم الجانب الأيسر يحملها عليه أي على عاتقه الأيسر فيكون من كل جانب عشر خطوات لقوله ﷺ" من حمل الجنازة أربعين خطوة كفرت عنه أربعين كبيرة".

(مراقى الفلاح: ص ۲۱۹، باب احكام الجنائز، مكة المكرمة).

همدا ډول وګورئ: (شرح النقاية: ۱/ ۳۲۵ – والدر المختار مع الشامى: ۲/ ۲۳۱، سعيد). والله ﷻ اعلم.

څلور ...... فصل

د دفن کولو بيان

د کافر په جنازه او دفن کي د شراکت حکم

سوال: د کافر په جنازه او دفن کي د شراکت کولو څه حکم دئ؟

الجواب: د کافر په جنازه او دفن کي شرکت روا نه دئ، البته وارثانو ته يې فاتحه ورکول روا ده.

الله ﷻ په قرآن کريم کي فرمايي:

۱_ ﴿ ولا تصل على أحد منهم مات أبدًا ولا تقم على قبره﴾. (سورة التوبة: ۸٤).

۲_ ﴿ ما كان للنبي والذين آمنوا أن يستغفروا للمشركين ﴾. (سورة التوبة:۱۱۳).

په تفسير مظهري کي راځي:

ولا تصل: المراد بالصلاة الدعاء والستغفار للميت فيشتمل صلاة الجنازة أيضًا لأنها مشتملة على الدعاء والاستغفار...... مات أبدً ولاتقم على قبره للدفن أو للزيارة. (تفسير مظهرى: ٤/ ۲۷٦).

په معارف القرآن کي ليکي:

له دې ايات څخه دا هم ثابته سوه چي ديو کافر د اعزاز او اکرام له پاره د هغه پر قبر درېدل يا د هغه زيارت ته تلل حرام دي که د عبرت حاصلولو له پاره وي يا د يوې مجبورۍ له امله وي هغه له دغه سره منافي نه دي لکه څنګه چي په هدايه کي راځي که د يو مسلمان کافر قريب مړ سي او د هغه کوم

قریب وارث نه وي نو یو مسلمان قریب دي بیله دې چي د سنت طریقې لحاظ پکښې وساتي په یو کنده کي یې ښخولای سي. (معارف القرآن:٤/ ٤٣٧، سورة توبه: ٨٤، بحواله بیان القرآن).

په فتاوی شامي کي راځي:

وفي النوادر جار يهودي أو مجوسي مات ابن له أو قريبٌ ينبغي أن يعزيه، ويقول أخلف الله عليك خيرًا منه وأصلحك وكان معناه أصلحك الله بالإسلام يعني رزقك الإسلام ورزقك ولدًا مسلمًا كفاية . (فتاوى الشامى:٦/ ٣٨٨، كتاب الحظر والاباحة، فصل فى البيع، سعيد – والفتاوى الهندية: الباب الرابع عشر فى اهل الذمة – وتبيين الحقائق: فصل فى البيع).

په امداد المفتیین کي راځي:

د کافر عیادت روا دئ او چي کله مړ سي نو کافرانو وارثانو ته یې فاتحه ورکول هم روا ده مګر تعزیت دي په داسي مضمون وسي چي الله تعالی دي تاسو ته له دې څخه ښه بدله درکړي خو د کافر له جنازې سره تلل روا نه دي ځکه په دې کي د کافر د جیفي تعظیم او تکریم دئ او دی د اهانت مستحق دئ د تعظیم مستحق نه دئ او همدا ډول دجنازې سره د تللو یو مقصد شفاعت کول هم دي او ښکاره خبره ده چي کافر د شفاعت اهل نه دئ. (امداد المفتين: صـ ٣٦٦).

په احسن الفتاوی کي راځي:

مسلمان چي د غیر مسلم په جنازه کي شراکت کوي روا نه ده تعزیت یې کولای سي. (احسن الفتاوى: ٤/ ٢٣٣).

غرض دا چي د مصلحت له مخي تلای سي د مغفرت د دعاء له پاره نه سي تلای حضرت علي ﵁ ته نبي کریم ﷺ وفرمایل، چي ته ولاړ سه او د پلار لاښ دي دفن کړه.

په البدایه والنهایه کي راځي:

وقال أبو داود الطيالسي: حدثنا شعبة، عن أبي إسحاق: سمعت ناجية بن كعب يقول: سمعت عليا ﵁ يقول: لما توفي أبي أتيت رسول الله ﷺ فقلت: إن عمك قد توفي. فقال: «

إذهب فواره » فقلت: إنه مات مشركًا، فقال: « إذهب فواره ولا تحدثن شيئًا حتى تأتي » ففعلت فأتيته، فأمرني أن أغتسل. ورواه النسائي، عن محمد بن المثنى، عن غندر، عن شعبة. ورواه أبو داود والنسائي من حديث سفيان، عن أبي إسحاق، عن ناجية عن علي رضي الله عنه ...... اعلم الله. (البداية والنهاية:۳/ ۱۳٦، فصل وفاة أبى طالب عم رسول الله ﷺ، بيروت).

مړي په صندوق کي بندول او دفن کول

سوال: مړي په صندوق کي بندول او دفن کول څه حکم لري؟

الجواب: مړي په صندوق کي بندول او دفن کول د ضرورت په وخت کي روا دي او دغه وخت مناسب دا دي چي لاندي دي خاوري توي کړي لوړي دي هم خاوري وربانديي واچوي دواړو طرفونو ته دي اومي خښتي ورته کښيږدي چي د لحد په شان وګرځي او له ضرورته پرته مړي په صندوق کي دفن کول مکروه دي.

په فتاوی شامي کي راځي:

ولا بأس باتخاذ تابوت أي يرخص ذلك عند الحاجة والإكراه كما قدمناه آنفًا قال في الحلية: نقل غير واحد عن الإمام ابن الفضل أنه جوزه في أراضيهم لرخاوتها وقال: لكن ينبغي أن يفرش فيه التراب وتطين الطبقة العليا مما يلي الميت ويجعل اللبن الخفيف على يمين الميت ويساره ليصير بمنزلة اللحد . (الشامى:۲/ ۲۳٤، مطلب فى دفن الميت، سعيد).

په طحطاوي کي راځي:

قوله ولابأس باتخاذ التابوت ولو من حديد ويكون من رأس المال إذا كانت الأرض رخوة، أو ندية، ويكره التابوت فى غيرها باجماع العلماء. (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح:۶۰۸، فصل فى حملها ودفنها، قديمى - وكذا فى بدائع الصنائع:۱/ ۳۱۸، سعيد - والبحر الرائق:۲/ ۱۹٤ - وحاشية الطحطاوى على الدر المختار:۱/ ۳۸۱). والله تعالىٰ اعلم.

یو مړي دبل قریب په قبر کي دفن کول

سوال: ځیني کسان خپل قریب دبل قریب په قبر کي دفن کوي ایا دغه صحیح ده او که نه؟

الجواب: که یې غالب ګمان داوي چي مړي خاوري سوی دئ نو په دغه وخت کي بل مړي په هغه کي دفن کول درست دي که نه، نه دي.

په فتاوی شامي کي راځي:

قال في الفتح ولا يحفر قبر لدفن آخر إلا إن بلي الأول فلم يبق له عظم إلا أن لا يوجد فتضم عظام الأول ويجعل بينهما حاجز من تراب ...... وقال الزيلعي: ولو بلي الميت وصار ترابا جاز دفن غيره في قبره وزرعه والبناء عليه ...... قلت: فالأولى إناطة الجواز بالبلا إذ لايمكن أن يعد لكل ميت قبر لايدفن فيه غيره وإن صار الأول ترابًا لاسيما في الأمصار الكبيرة الجامعة. (شامی:۲/ ۲۳۳، مطلب فی دفن المیت، سعید – وکذا فی فتح القدیر:۲/ ۱۴۱، دار الفکر- والبحر الرائق:۲/ ۱۹۵ – وفتاوی الهندية:۱/ ۱۹۵).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

دمړي قبر بېله ضرورته کېندل روا نه دي او که یې ناخبره وکیندئ دبل مړي هډوکي پکښي ښکاره سوه نو هغه دي یوه طرفته کړي او په منځ کي دي شه پرده زاولي او بل مړي دي پکښي دفن کړي دارنګه ده څکه دمړي دزړېدو وروسته یې جواز مختار دئ.

لکه په فتاوی شامي کي چي دعلماوو داقوالو دنقل کولو وروسته لیکي:

فالأولى إناطة الجواز بالبلا إذلايمكن أن يعد لكل ميت قبر لايدفن فيه غيره. (فتاوی دار العلوم دیوبند:۵/ ۳۸۵، مسائل دفن، مدلل مکمل، دار الاشاعت). **والله تعالیٰ اعلم.**

خاوند خپله ښځه قبر ته ور کښته کولای سي او که نه؟

سوال: خاوند خپله ښځه قبر ته ور کښته کولای سي او که نه؟

الجواب: ښه دا ده چي محارم يې قبر ته ور کښته کړي، البته که خاوند ورسره په کښته کېدو کي مرسته وکړي نو درسته ده که نه بېله پردې لاس ور وړل درست نه دي.

په درمختار کي راځي:

ويمنع زوجها من غسلها ومسها لامن النظر إليها على الأصح منية. وفي الشامي: قوله لا من النظر إليهما على الأصح عزاه في المنح إلى القنية ونقل عن الخانية أنه إذا كان للمحرم يممها بيده وأما الأجنبي فبخرقة على يده ويغض بصره عن ذراعها وكذا الرجل في امرأته إلا في غض البصر، ولعل وجهه أن النظر أخف من المس فجاز لشبهة الاختلاف. (الدر المختار مع الشامي: ۲/ ۱۹۸، باب صلاة الجنازة، سعيد).

په فتاوی هنديه کي راځي:

وذو الرحم المحرم أولى بإدخال المرأة من غيرهم، كذا في الجوهرة النيرة، وكذا ذو الرحم غير المحرم أولى من الأجنبي فإن لم يكن فلا بأس للأجانب وضعها، كذا في البحر الرائق. (الفتاوى الهندية: ۱/ ۱۶۶، الفصل السادس في القبر والدفن – والبحر الرائق: ۲/ ۱۹۳، كوئتة).

په احسن الفتاوی کي راځي:

ښځه دا ټول کارونه کولای سي مګر خاوند ورته کتلای سي غسل ورته نه سي ورکولای او بېله پردې لاس ور وړلای نه سي، جنازه يې پورته کولای سي او قبر ته يې کښته کولای نه سي. (احسن الفتاوی: ٤/ ۲۱۵). والله تعالیٰ اعلم.

که حامله وفات سي نو د کوچني حکم يې؟

سوال: که حامله وفات سي او په نس کي يې کوچني هم مړ وي نو ايا کوچني به را ايستل کيږي او جلا به يې ښخوي او که نه؟ هغه علاقي چي پر مخ تللي نه دي دا کار به څنګه سر ته رسيږي چي هلته ډاکټر او روغتون هم نه وي؟

الجواب: که کوچني د مور په نس کي ژوندی وي او مور يې وفات سي نو هغه کوچني را ايستلای سي او په هغه کي له دايي وغيره څخه مرسته غوښتلای سي لکه څنګه چي د ولادت په وخت کي مرسته کوي او که کوچني ژوندی نه وي نو هغه را ايستلای نه سي.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

حامل ماتت وولدها حيى يضطرب شق بطنها من الأيسر ويخرج ولدهاولو بالعكس وخيف على الأم قطع وأخرج لوميتًا وإلا لا كما في كراهة الاختيار (قوله ولو بالعكس) بأن مات الولد في بطنها وهي حية قوله قطع أي بأن تدخل القابلة يدها في الفرج وتقطعه بآلة في يدها بعد تحقق موته (قوله لو ميتًا) لا وجه له بعد قوله ولو بالعكس قوله وإلا لا أي ولو كان حياً لا يجوز تقطيعه لأن موت الأم به موهوم فلا يجوز قتل آدمي حي لأمر موهوم. (الدر المختار مع الشامی: ۲/ ۲۳۸، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د سر له لوري د خاورو اچولو د پيل ثبوت

سوال: په قبر کي د دفن کولو په وخت کي له سر څخه د خاورو اچولو د پيل ثبوت په حديث کي سته او که نه؟

الجواب: د مړي په قبر کي د ايښودلو وروسته د خاورو اچولو ثبوت د سر له لوري په احاديثو کي سته.

وګورئ په سنن ابن ماجه کي راځي:

عن أبی هریرة رضی الله عنه أن رسول الله ﷺ صلی علی جنازة ثم أتی قبر المیت فحثی علیه من قبل رأسه ثلاثاً. (سنن ابن ماجه: ۱۱۲، باب ماجاء فی حثو التراب فی القبرو قال السیوطی فی مصباح الزجاجة هذا اسناد صحیح رجاله ثقات).

همدا ډول وګورئ: (المعجم الأوسط اللطبرانی: ۵/ ۶۵ – وسنن الدار قطنی: ۳/ ۴۴۰، باب حی التراب علی المیت). والله اعلم.

د مړي د انتقال حکم

سوال: که قبر تر سیلاب لاندي راغی او د مړي د وړلو بېره وي نو مړي بل ځای ته نقل کولای سي او که نه؟

الجواب: د اوبو د غلبې له امله د مړي په منتقل کولو کي اختلاف دئ قیاس ته نژدې دا ده چي که د غالب ګمان موافق د قبر د خاوند جسد روغ او جوړ وي نو د هغه په انتقال کي څه باک نه سته لکه څنګه چي حضرت جابر رضی الله عنه خپل پلار په احد کي نقل کړی وو ځکه د شهیدانو جسدونه مځکه نه خوري او که داسي نه وي نو نه دي نقل کوي.

په طحطاوي کي راځي:

إذا غلب الماء علی القبر فقیل: یجوز تحویله لما روي أن صالح بن عبید الله رؤي في المنام وهو یقول حولوني عن قبري فقد آذاني الماء ثلاثًا فنظروا فإذا شقه الذي یلي الماء قد أصابه الماء فأفتی ابن عباس رضی الله عنهما بتحویله وقال الفقیه أبو جعفر: یجوز ذلك أیضًا ثم رجع ومنع. (حاشیة الطحطاوی علی مراقی الفلاح: ص ۶۱۵، قدیمی). والله تعالیٰ أعلم.

که د قبر د لوړېدو ېره وي نو د قبر د ټینګېدو حکم

سوال: که د قبر د نړېدو ېره وي نو د هغه د محکمه کېدو له پاره د قبر پر شا وخوا ختې او داسې نور شیان لګولای سي او که نه؟

الجواب: که د قبر منځ اوم پاته وي او شاوخوا د دې ېرې چې دا نه نړېږي ختې کېښېښودل سي نو درسته ده که نه په خپله د قبر پخولو ممانعت په احادیثو ثابت دئ لهذا له دې څخه ځان ساتل ضروري دي.

په مسلم شریف کې راځي:

عن جابر رضي الله عنه قال: نهى رسول الله ﷺ أن يجصص القبر وأن يقعد وأن يبنى عليه. (رواه مسلم: ۱/ ۳۱۲ – والترمذي: ۱/ ۲۰۳).

په احسن الفتاوی کې راځي:

پر قبر هر ډول بناء کول د زینت په غرض حرامه ده او د ټینګېدو له پاره مکروه تحریمي ده په ګناه کې مکروه تحریمي هم له حرام سره ابرابر دي چار دیواري که څه هم د یوې ختې وي بناء بلل کېږي او سائبان بلکې له اصلي خاوري څخه زیاته خاوره اچول هم په بناء کې داخل دي. (احسن الفتاوی: ٤/ ۱۸۹).

په کفایت المفتي کې راځي:

قبر له څلورو طرفونو پخول په داسې توګه چې د مړي د جسم پر برابر له لاندې څخه تر لوړه طرفه اوم وي مباح دي یعني د میت جسم پر څلور طرفه په خاوره کې وي بغلونه یې پاخه وي نو دا څه باک نه لري. (کفایت المفتی: ٤/ ۵۰). والله تعالی اعلم.

که د دفن په وخت کې څه پیسې ولوېږي نو را کښلو حکم یې څه دئ؟

سوال: که د دفن په وخت کې څه پیسې ولوېږي نو د را کښلو حکم یې څه دئ؟

الجواب: د قبر کنیدل او د هغو راکښل صحیح دي.

وګورئ: په فتاوی شامي کې راځي:

سعید).

په فتاوی هندیه کي راځي:

وإن وقع في القبر متاعفعلم بذلك بعد ما أهالوا عليه التراب ينبش، كذا في فتاوى قاضي خان، قالوا ولو كان المال درهمًا، كذا في البحر الرائق. (الفتاوى الهندية: ١/ ١٦٧، فصل في القبر والدفن). والله ﷻ اعلم.

د یوه مړي په قبر کي د دوهم د ښخېدو حکم

سوال: که په قبر کي د یوه مړي هډوکي ښکاره سي نو په هغه کي بل مړي ښخولای سي او که نه؟

الجواب: د مړي د دفن کولو له پاره به دوهم قبر نه کېندل کیږي که د قبر کېنلو په وخت کي څه هډوکي ښکاره سي نو هغه یوه طرف ته کول او د بل مړي د دفن کولو ګنجائش سته د بل جلا قبر د کیندلو ضرورت نه سته.

په فتاوی شامي کي راځي:

ولا يحفر قبر لدفن آخر إلا إن بلي الأول فلم يبق له عظم إلا أن لا يوجد فتضم عظام الأول ويجعل بينهما حاجز من تراب ...... قال في الإمداد: ويخالفه ما في التاتارخانية: إذا صار الميت ترابًا في القبر يكره دفن غيره في قبره، لأن الحرمة باقية، وإن جمعوا عظامه في ناحية ثم دفن غيره فيه تبركًا بالجيران الصالحين ويوجد موضع فارغ يكره ذلك قلت، قلت: لكن في هذا مشقة عظيمة فالأولى إناطة الجواز بالبلاء إذا لا يمكن أن يعد لكل ميت قبر لا يدفن فيه غيره وإن صار الأول ترابًا لا سيما في الأمصار الكبيرة الجامعة وإلا لزم أن تعم القبور السهل والوعر على أن المنع من الحفر إلى أن لا يبقى عظم عسر جدًا وإن أمكن ذلك لبعض الناس،

لکن الكلام في جعله حكمًا عامًا لكل أحد فتأمل . (شامی:۲/ ۲۳۳، مطلب فی دفن المیت، سعید۔ وکذا فی فتح القدیر:۲/ ۱٤۱، دار الفکر – وفتاوی الهندیة:۱/ ۱٦۷_ والبحر الرائق:۲/ ۱۹٥).

په فتاوي محموديه كي رائحي:

كه قبر دومره زوړ سي چي مړي بيخي خاوره سي نو په دغه قبر كي بل مړي ښخول درست دي كه نه بيله ضرورته داسي كول منع دي او د ضرورت په وخت كي روا دي او په داسي حالت كي د مړي هډوكي وغيره څه په قبر كي موجود وي نو هغه دي يوه طرف ته په قبر كي كښېږدي. (فتاوی محمودیه:۹/ ۹۷). والله ﷻ اعلم.

د تلقين بعد الدفن حكم

سوال: داحنافو د مذهب مطابق د تلقين بعد الدفن حكم څه دئ؟

الجواب: داحنافو په مذهب كي د ظاهر الرواية مطابق د دفن كولو وروسته تلقين نه سته.

وګورئ په فتاوی شامي كي رائحي:

ولا يلقن بعد تلحيده ذكر فی المعراج أنه ظاهر الرواية. (شامی:۲/ ۱۹۱، مطلب فی التلقین بعد الموت، سعید).

په فتاوی هنديه كي رائحي:

وأما التلقين بعد الموت فلا يلقن عندنا في ظاهر الرواية ، كذا في العيني شرح الهداية ومعراج الدراية . (الفتاوی الهندیة:۱/ ۱٥۷، الفصل الاول فی المحتضر – وکذا فی فتح القدیر:۲/ ٦۸، دار الفکر – وکفایة:۲/ ٦۸ – والفتاوی اللکنهوی:ص ٥۰۸، بیروت). والله ﷻ اعلم.

د دفن کولو وروسته د اجتماعي دعاء حکم

سوال: ایا د مړي د دفن کولو وروسته اجتماعي دعاء کول ثابت دي؟ که ثابت وي وېي لیکي چي مسئله روښانه سي او شکونه لیري سي؟

الجواب: د مړي د دفن کولو وروسته د خلکو د رخصتېدو مخکي د دعاء ثبوت په ابو داؤد شریف کي موجود دي او له هغه روایت څخه دا هم معلومېږي چي هغه اجتماعي دعاء وه.

وګورئ په حدیث شریف کي راځي:

عن عثمان بن عفان رضي الله عنه قال كان النبى ﷺ إذا فرغ من دفن الميت وقف عليه فقال: « استغفروا لأخيكم وسلوا له التثبيت فإنه الآن يسأل ». (رواه ابو داؤد:۲/ ۱۰۳، باب الاستغفار عند القبر للميت فى وقت الانصراف، سعيد).

په بذل المجهود کي د دې عنوان تشریح داسي ده.

باب الاستغفار عند القبر للميت فى وقت الانصراف أى الرجوع عن دفنه. (بذل المجهود:٤/ ٢١٦).

په فتح الباري کي راځي:

وفي حديث بن مسعود رضي الله عنه رأيت رسول الله ﷺ في قبر عبد الله ذي البجادين، الحديث وفيه « فلما فرغ من دفنه استقبل القبلة رافعًا يديه» أخرجه أبو عوانة في صحيحه. (فتح الباري:١١/ ١٤٤، باب الدعاء مستقبل القبلة، دار نشر الكتب، لاهور).

په درمختار کي راځي:

ويستحب حثيه من قبل رأسه ثلاثًا، وجلوس ساعة بعد دفنه لدعاء وقراءة بقدر ماينحر الجزور و يفرق لحمه. وفي الشامي: وكان ابن عمر رضي الله عنه يستحب أن يقرأ على القبر بعد

الدفن أول سورة البقرة وخاتمتها. (درالدر المختار مع الشامی:۲/ ۲۳۷، مطلب فی دفن المیت، سعید).

په کفایت المفتي کي دا مسئله په وضاحت سره ذکر سوی ده:

سوال: فی سنن ابی داؤد کان النبي ﷺ إذا فرغ من دفن المیت وقف علی قبره......، له دې حدیث څخه اجتماعي مغفرت غوښتل ثابتیږي او که انفرادي؟

جواب: د دې حدیث له سیاق څخه دا خبره معلومیږي چي ټولو حاضرینو به یو ځای دعاء غوښتل ځکه د دفن څخه د فارغېدو وروسته د راتلو وخت وو خو له حدیث څخه معلومیږي چي نبي کریم ﷺ به په واپس راتلو کي څه توقف او تاخیر کاوه او د مړي د تثبت او مغفرت له پاره به یې په خپله هم دعاء کول او حاضرینو ته به یې هم په دغه وخت کي د دعاء کولو حکم کاوه. (کفایت المفتی:٤/ ٧١، فصل هفتم، دار الاشاعت). **او همدا ډول وګورئ:** (فتاوی محمودیه:۹/ ۱٤۸، او فتاوی دار العلوم دیوبند:۵/ ٤۰۰). والله ﷻ اعلم.

په هدیره کي د دعاء په وخت کي د قبلي د استقبال حکم

سوال: په هدیره کي دي د دعاء په وخت کي مخ د قبلي طرف ته کوي او که د قبر لوري ته متوجه سي؟

الجواب: په هدیره کي که لاسونه پورته کوي او دعاء کوي نو قبلي ته به مخامخ کیږي چي د شرک توهم ونه سي او که بېله لاس پورته کولو دعاء وکړي نو د قبر طرف ته په متوجه کېدو کي څه باک نه سته.

وګورئ په فتاوی هندیه کي راځي:

فإذا بلغ المقبرة يخلع نعليه ثم يقف مستدبر القبلة مستقبلًا لوجه الميت ويقول السلام عليكم ...... وإذا أراد الدعاء يقوم مستقبل القبلة كذا في خزانة الروايات. (الفتاوی الهندية:۵/ ۳۵۰، الباب السادس عشر فی زيارة القبور).

په فتاوی شامي کي راځي:

قال في الفتح والسنة زيارتها قائمًا والدعاء عندها قائما كما كان يفعله ﷺ في الخروج إلى البقيع ويقول السلام عليكم...... ومن آدابها أن يسلم بلفظ السلام عليكم على الصحيح ...... ثم يدعو قائمًا طويلًا. (شامی:۲/ ۲٤۲، مطلب فی زيارة القبور، سعيد).

په فتاوی محموديه کي راځي:

بېله لاس پورته کولو هم دعاء کېدلای سي او په لاسونو پورته کولو سره هم کېدای سي حضرت نبي کريم ﷺ د دفن څخه وروسته د قبلي لوري ته مخ کړی دي او لاسونه يې پورته کړی دي او دعاء يې غوښتي ده که لاسونه پورته کوي او دعاء کول غواړي نو د نبي کريم ﷺ پيروي دي وکړي د قبر طرف ته دي مخ نه کوي بلکي د قبلي لوري ته مخه کړي. وفی حديث ابن مسعود ﷺ رأيت رسول الله ﷺ فی قبر عبد الله ذی البجادين الحديث فيه فلما فرغ من دفنه استقبل القبلة رافعاً يديه أخرجه أبو عوانة فی صحيحه. (فتح الباری شرح بخاری شريف:۱۱/ ۱٤٤ – وشرح صحيح مسلم شريف للنووی: كتاب الجنائز فصل فی الذهاب الی زيارة القبور:۱/ ۳۱۳). والله اعلم.

(فتاوی محموديه:۹/ ۱٤۷، مبوب ومرتب – واحسن الفتاوی:٤/ ۲۱۲).

د يو قبر په وړاندي لاسونه نيول او درېدل

سوال: د قبر او يا کوم چا په وړاندي لاسونه پر نامه نيول څه حکم لري؟ او که يو کوچني ديوې ټولي او يا يوه کس په وړاندي تلاوت کوي لاسونه پر نامه ونيسي حکم يې څه دئ؟ او که د نبي کريم ﷺ په وړاندي دارنګه ودرېږي نو حکم يې څه دئ؟

الجواب: د نبي کريم ﷺ د قبر په وړاندي د دارنګه درېدو ګنجائش سته او که کوم څوک د قران کريم تلاوت کوي او کوم قبر وغيره کي په وړاندي نه وي نو د قرآن کريم په احترام کي په طريق اولی روا دي په دې د سامعينو تعظيم نه بلکي د قران کريم احترام مطلوب دي، البته د يو چا په وړاندي دي د

داسي دربدو څخه ځان وژغوري لکه چي حضرت مولانا عبد الحی لکهنوي رحمه الله فرمايي، چي د زیارت القبور په وخت کي د نبي کریم ﷺ د قبر علاوه خلاف اولی دي.

وګورئ په ارشاد الساري کي راځي:

ثم توجه بالقلب مع رعاية غاية الأدب فقام تجاه الوجه الشريف متواضعًا خاضعًا خاشعًا مع الذلة والانكسار والخشية والو قارأی السكينة...... واضعًا يمينه على شماله أی تأدبًا فی حال إجلاله مستقبلًا لوجه الكريم. (ارشاد الساری الی مناسک الملا علی القاری:ص ۵۵۸، فصل ولوتوجه إلى الزيارة، بیرو).

په شفاء السقام کي راځي:

وقال القاضی عياض فی الشفاء: قال بعضهم: رأيت أنس بن مالك رضي الله عنه أتى قبر النبی ﷺ فوقف فرفع يديه حتى ظننت أنه افتتح الصلاة فسلم على النبی ﷺ ثم انصرف. (شفاء السقام:ص ۷۳).

علامه عبد الحی رحمه الله په سعایه کي پر دې موضوع په تفصیل سره رڼا اچولي ده چي خلاصه يې په لاندي توګه ده:

قلت: الحق الحقيق بالقبول هو أنه لابأس بهذه الهيأة عند زيارة قبر النبی ﷺ بل هو الأولى للمتأدب وأما عند زيارة قبر غيره فهو خلاف الأولى خصوصًا عند زيارة قبر العوام فاحفظه فإنه تنبيه مهم قل من ذكره. (السعاية فی كشف ما فی شرح الوقاية:۲/ ۱۵۹، ۱۶۰، باب صفة الصلاة، سهیل اکیڈمی).

په فتاوی محمودیه کي لیکي:

ځینو اکابرینو پر دغه موقع د لمانځه په شان لاس نیول منع کړی دي مګر ځینو نورو اکابرینو هغه په اداء بو کي شمېرلي دي لکه څنګه چي شیخ عبد الحق لیکلي دي، خلاصه يې دا ده د نبي کریم ﷺ

د زیارت په وخت کي دي راسته لاس پر چپه لاس بردي لکه د لمانځه په حالت کي کرماني چي د حنفي علماوو څخه دئ په دغه معنا يې تصريح كړي ده. (جذب القلوب: صـ ۲۱۷). لهذا په دغه کي بايد تشدد ونه كړل سي. (فتاوی محمودیه: ۳/ ۱۲۰). والله تعالى اعلم.

كه د مسلمانانو په هديره كي د غير مسلم قبر وي نو د هغه حكم

سوال: حکومت چي مسلمانانو ته د هديرې له پاره ځمكه وركړي په هغه كي د عيسايي يو قبر دئ نوره ځمكه ټبخي خالي ده چي هغه ډېره پراخه ده اوس په دغه قبر به څه كوي؟

الجواب: په دې صورت كي د غير مسلم قبر نه ليري كيږي بلكي د دېواله په ذريعه دي احاطه ورباندي وكړي لكه څنګه چي په غير مسلم ممالكو كي د مسلمانانو او غير مسلمانانو د هديرې تر منځ د دېواله احاطه وي او هغه حائل ګڼل كيږي همدا ډول په يوه قبر كي د دوو كسانو د دفن په وخت كي د خاورو په اچولو سره د ضرورت په وخت كي د دو قبرونو په حكم كي كيږي لهذا په منځ كي د دېوال اچولو څخه بيلتون راځي.

وګورئ په البحر الرائق كي راځي:

وفى الواقعات عظام اليهود لها حرمة إذا وجدت فى قبورهم كحرمة عظام المسلمين حتى لاتكسر. (البحر الرائق: ۲/ ۱۹۵، كوئتة).

په مراقي الفلاح كي راځي:

ولا بأس بدفن أكثر من واحد في قبر واحد للضرورة قال قاضيخان ويحجز بين كل اثنين بالتراب هكذا أمر رسول الله ﷺ في بعض الغزوات. وفى الطحطاوى قوله: ويحجز بين كل اثنين بالتراب ندبًا إن أمكن كما فى ابن أمير حاج ليكون فى حكم قبرين كما فى العينى على البخارى. (حاشية الطحطاوى مع مراقى الفلاح: ۶۱۲، فصل فى حملها و دفنها، قديمى).

په البحر الرائق كي راځي:

ویجعل بین کل میتین حاجزًا من التراب لیصیر فی حکم قبرین هکذا أمر النبی ﷺ فی شهداء أحد. (البحر الرائق:۲/ ۱۹٤، کوئتة).

او همدا ډول فقهاؤ په احیاء الموات کي ذکر کړی دي چي د حدودو په جلا والي سره هم مځکه جلا کیږي.

وګورئ هدایه کي راځي:

والتحجیر الإعلام سمي به لأنهم کانوا یعلمونه بوضع الأحجار حوله أو یعلمونه لحجر غیرهم عن إحیائه، ثم التحجیر قد یکون بغیر الحجر بأن غرز حولها أغصانًا یا بسة أو نقی الأرض وأحرق ما فیها من الشوک وخضد ما فیها من الحشیش أو الشوک وجعلها حولها وجعل التراب علیها. (هدایه:٤/ ٤٧٩). والله ﷻ اعلم.

د مړي پر قبر د قراني آیاتونو د لیکلو حکم

سوال: د مړي پر کفن قراني آیاتونه لیکل کیږي یا داسي څادرونه پر مړي اچول کیږي چي پر هغو آیاتونه لیکلي وي ځیني ځایونه دا طریقه سته ایا روا ده او که نه؟ په دغه کي د قرآن د آیاتونو توهین سته او که نه؟

الجواب: د مړي پر کفن قرآني آیاتونه لیکل یا داسي څادرونه وربانديي اچول چي آیاتونه ورباندي لیکلي وي د شریعت له مخي درست نه دي، په دې کي د قرآني آیاتونو اهانت دئ.

وګورئ په نفع المفتي والسائل کي راځي:

الاستفسار: قد تعارف فی بلادنا أنهم یلقون علی قبر الصلحاء ثوبًا مکتوبًا فیه سورة الإخلاص هل فیه بأس؟

الاستبشار: هو استهانة بالقرآن لأن هذا الثوب إنما يلقى تعظيمًا للميت، ويصير هذا الثوب مستعملًا مبتذلًا، وابتذال كتاب الله من أسباب عذاب الله، كذا فی نصاب الاحتساب فی باب الاحتساب على من يحضر للتعزية فی الأيام المعهودة فی المقابر.

قلت: وأشنع من هذا ما يفعله أهل الدكن من إلقاء الثياب التی فيها اسم الله تعالى أو سورة القرآن على جميع القبور، وإن لم يكن المقبور من أهل الزهد والورع. (نفع المفتی والسائل:ص ٤٠٣، ما يتعلق بتعظيم اسم الله، الخ، بيروت).

په فتاوی شامي کي راځي:

وقد أفتى ابن الصلاح بأنه لا يجوز أن يكتب على الكفن يس والكهف وغيرهما خوفًا من صديد الميت، والقياس المذكور ممنوع لأن القصد ثم التمييز وهنا التبرك، فالأسماء المعظمة باقية على حالها فلا يجوز تعريضًا للنجاسة، والقول بأنه يطلب فعله مردود، لأن مثل ذلك لا يحتج به إلا إذا صح عن النبي ﷺ طلب ذلك وليس كذلك. وقدمنا قبيل باب المياه عن الفتح أنه تكره كتابة القرآن وأسماء الله تعالى على الدراهم والمحاريب والجدران وما يفرش وما ذاك إلا لاحترامه وخشية وطئه ونحوه مما فيه إهانة فالمنع هنا بالأولى ما لم يثبت عن المجتهد أو ينقل فيه حديث ثابت، فتأمل. (شامی:۲/ ۲۴۶، مطلب فيما يكتب على كفن الميت، سعيد).

او همدا ډول داسي اياتونه پر صندوق اچول کيږي چي قرآني اياتونه ورباندي ليکلي وي له هغو شخه هم ځان ساتل بهتر دي ځکه بې اوداسه د لاس ور ورولو بېره ورسره سته او قراني اياتونه بېله اودسه مسه کول روا نه دي.

وګورئ په درمخ کي راځي:

ويحرم به أي بالأكبروبالأصغر مس مصحف: أي ما فيه آية كدرهم وجدران. وفی الشامية: (قوله أي ما فيه آية) أي المراد مطلق ما كتب فيه قرآن مجازًا، من إطلاق اسم الكل على الجزء، أو من باب الإطلاق والتقييد، قال ح: لكن لا يحرم في غير المصحف إلا بالمكتوب: أي موضع الكتابة كذا في باب الحيض من البحر. (الدر المختار مع الشامی:۱/ ۱۳، سعيد). والله ﷻ اعلم.

پر قبر د نهالانو ايښودلو حکم

سوال: پر قبر وانبه او نهالان ايښودل څه حکم لري؟

الجواب: پر قبر د نهالانو لګولو ګنجائش سته خو ضروري به يې نه ګڼي او په يقيني توګه به دا عقيده نه ساتي چې د عذاب تخفيف به راځي خو په اوسني وخت کې د ګلانو اچولو عادت جوړ سوی دئ په خاصه توګه د اولياوو پر قبرونو له دې څخه په قطعي توګه بايد ځان وساتل سي دا بدعت دئ په دې کې ډېر مفاسد سته چې له هغو څخه د عوامو عقيدې خرابيږي .

په حديث شريف کې راځي:

عن ابن عباس رضي الله عنه قال مر النبي ﷺ بحائط من حيطان المدينة ، أو مكة فسمع صوت إنسانين يعذبان في قبورهما، فقال النبي ﷺ يعذبان وما يعذبان في كبير ثم قال: بلى كان أحدهما لا يستتر من بوله ، وكان الآخر يمشي بالنميمة ثم دعا بجريدة فكسرها كسرتين فوضع على كل قبر منهما كسرةً، فقيل له يا رسول الله لم فعلت هذا قال لعله أن يخفف عنهما ما لم تيبسا ، أو إلى أن ييبسا. (بخاری شریف:۱/ ۱۸۴ - ومشکوة شریف:۱/ ۴۳).

په مرقات کې راځي:

أما وضعهما على القبر فقيل أنه عليه السلام سأل الشفاعة لهما فاجيب بالتخفيف إلى أن ييبسا وقد ذكر مسلم فی آخر الكتاب فی حديث جابر رضي الله عنه أن صاحبی القبرين، أجيبت

شفاعتي فيهما، وقيل أنه كان يدعو لهما في تلك المدة وقيل لأنهما يسبحان ما داما رطبتين، قال كثير من المفسرين في قوله تعالى: ﴿ وإن من شيء إلا يسبح بحمده ﴾ معناه إن من شيء حي ثم قال وحياة كل شيء بحسبه فحياة الخشب ما لم ييبس وحياة الحجر ما لم يقطع والمحققون على العموم وان التسبيح على حقيقته لأن المراد الدلالة على الصانع.

.... (مرقاة: ١/ ٣٥١، ملتان).

په فتاوى شامي كي راځي:

تتمة: يكره أيضًا قطع النبات الرطب والحشيش من المقبرة دون اليابس. وعلله في الإمداد: بأنه ما دام رطباً يسبح الله تعالى فيؤنس الميت وتنزل بذكره الرحمة.

أقول ودليله ما ورد في الحديث من وضعه عليه الصلاة والسلام الجريدة الخضراء بعد شقها نصفين على القبرين اللذين يعذبان وتعليله بالتخفيف عنهما ما لم ييبسا أي يخفف عنهما ببركة تسبيحهما. (شامي: ٢/ ٢٤٥، مطلب في وضع الجريد، سعيد – واعلاء السنن: ٨/ ٣٤٤/ ٢٣٢٣، باب استحباب غرز الجريدة الرطبة على القبر).

پر قبر ګلان اچول بدعت دئ. وګورئ: (فتاوى محموديه: ٩/ ١٧٤، او فتاوى رحيميه: ٥/ ٩٨). والله تعالىٰ اعلم.

پر قبرو نوشتي کولو حکم

سوال: پر قبرونو نوشتي کولو حکم څه دئ؟

الجواب: پر قبر يو شى ليکل او يا يې پخه جوړول ټول ممنوع دي، البته له قبر څخه بېل وسر ته يې د نوشتي ځړولو ګنجائش شته.

په حديث شريف کي راځي:

عن جابر رضي الله عنه قال: نهى رسول الله ﷺ أن يجصص القبور وأن يكتب عليها وأن يبنى عليها وأن توطأ. (رواه الترمذي وقال: هذا حديث حسن صحيح:۱/ ۲۰۳، باب ماجاء في كراهية تجصيص القبور والكتابة عليها، فيصل).

په فتاوى شامي كي راځي:

قوله لا بأس بالكتابة لأن النهي عنها وإن صح فقد وجد الإجماع العملي بها فقد أخرج الحاكم من طرق ثم قال: هذه الأسانيد صحيحة وليس العمل عليها فإن أئمة المسلمين من المشرق والمغرب مكتوب على قبورهم وهو عمل أخذ به الخلف عن السلف، ويتقوى بما أخرجه أبو داود بإسناد جيد: « أن رسول الله ﷺ حمل حجراً فوضعها عند رأس عثمان بن مظعون رضي الله عنه وقال: أتعلم بها قبر أخي وأدفن إليه من تاب من أهلي » فإن الكتابة طريق إلى تعرف القبر بها، نعم يظهر أن محل هذا الإجماع العملي على الرخصة فيها ما إذا كانت الحاجة داعية إليه في الجملة كما أشار إليه في المحيط بقوله وإن احتيج إلى الكتابة، حتى لا يذهب الأثر ولا يمتهن فلا بأس به فأما الكتابة بغير عذر فلا، حتى يكره كتابة شيء عليه من القرآن أو الشعر أو اطراء مدح له ونحو ذلك حلية ملخصًا . (شامى:۲/ ۲۳۷، مطلب في دفن الميت، سعيد – والبحر الرائق:۲/ ۱۹۷، كوئٹہ).

په فتاوى بزازيه كي راځي:

ويكره إلصاق اللوح بها والكتابة عليها ولايبنى على بيت ولايجصص. (الفتاوى البزازية على هامش الهندية:٤/ ۸۱، نوع آخر).

په شرح منية المصلى كي راځي:

وكره أبو يوسف الكتابة أيضًا. (شرح منية المصلى:ص ۵۹۹، السادس في الدفن، سهيل اكيدمى). والله اعلم

پنځم .... فصل

د ایصال ثواب بیان

د مړي له پاره د دعاء او ایصال ثواب ثبوت

سوال: د مړي له پاره د دعاء او ایصال ثواب ثبوت د حدیث او یا فقهي په کتابو کي سته او که نه؟

الجواب: د مړي له پاره د استغفار دعاء او د ایصال ثواب کولو ثبوت په ځینو روایاتو کي سته.

په ابو داؤد شریف کي راځي:

عن عثمان بن عفان رضي الله عنه قال: كان النبي ﷺ إذا فرغ من دفن الميت وقف عليه فقال: « استغفروا لأخيكم وسلوا له التثبيت فانه الآن يسأل ». (ابو داؤد شريف:۲/ ۱۰۳، باب الاستغفار عند القبر للميت فى وقت الانصراف، سعيد).

په مسلم شریف کي راځي:

عن عائشة رضي الله عنها كان رسول الله ﷺ كلما كان ليلتها من رسول الله ﷺ يخرج من آخر الليل إلى البقيع فيقول: « السلام عليكم دار قوم مؤمنين وأتاكم ما توعدون غدًا مؤجلون وإنا إن شاء الله بكم لاحقون اللهم اغفر لأهل بقيع الغرقد ». (مسلم شريف:۱/ ۳۱۳، باب ما يقول اذا زار القبور).

په کتاب الروح کي راځي:

أخبرني الحسن بن الهيثم قال سمعت أبا بكر بن الأطروش ابن بنت أبي نصر بن التمار يقول كان رجل يجيء إلى قبر أمه يوم الجمعة فيقرأ سورة يس فجاء في بعض أيامه فقرأ سورة يس ثم قال: اللهم إن كنت قسمت لهذه السورة ثوابا فاجعله في أهل هذه المقابر فلما كان يوم الجمعة التي تليها جاءت امرأة فقالت: أنت فلان ابن فلانة فقال: نعم قالت: إن بنتًا لي

ماتت فرأيتها في النوم جالسة على شفير قبرها فقلت ما أجلسك ها هنا؟ فقالت: إن فلان ابن فلانة جاء إلى قبر أمه فقرأ سورة يس وجعل ثوابها لأهل المقابر فأصابنا من روح ذلك أو غفر لنا أو نحو ذلك . (كتاب الروح:ص ۱۱، المسئلة الأولى وهى تعرف الأموات زيارة الأحياء وسلامهم أم لا، بيروت).

په حديث شريف كي راځي:

عن الحسن عن أبيه على بن أبى طالب رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ من مر على المقابر وقرأ قل هو الله أحد إحدى عشر مرة ثم وهب أجره للأموات أعطى من الأجر بعدد الأموات.

(من فضائل سورة الأخلاص وما لقارئها:۱/ ۱۰۲/ ٥٤ – واعلاء السنن:۸/ ۳٤۳/ ۲۳۲۰، زيارة القبور، ادارة القرآن كراچى).

دا حديث كه څه هم ضعيف دئ خو په فضائلو كي د ثواب په نيت وربانديي عمل كول درست دي ځكه نو فقهاوو دغه حديث ذكر كړى دئ . (په اول جلد كي پر دغه حديث كلام سوى دئ هلته دي وكتل سي).

همدا ډول وګورئ: (شامي:۲/ ٥٩٦، باب الحج عن الغير، مطلب فيمن أخذ فى عبادته شيئاً من الدنيا، سعيد – فتح القدير:۳/ ۱٤۳، دار الفكر – مراقى الفلاح: ۲۳۳، مكة المكرمة – مواهب الجليل فى شرح مختصر الخليل:٥/ ٤٥۲ – مطالب أولى النهى:٥/ ۹).

په فتاوى هنديه كي راځي:

وحكي عن أبي بكر بن أبي سعيد أنه قال: يستحب عند زيارة القبور قراءة سورة الإخلاص سبع مرات فإنه بلغني من قرأها سبع مرات إن كان ذلك الميت غير مغفور له يغفر له وإن كان مغفورًا له غفر لهذا القارئ ووهب ثوابًا للميت كذا في الذخيرة في فصل قراءة القرآن . (الفتاوى الهندية:٥/ ۳٥۰، كتاب الكراهية، باب زيارة القبور).

وعن أبي هريرة رضي الله عنه قال : قال رسول الله ﷺ: « من دخل المقابر ثم قرأ « فاتحة الكتاب » و « قل هو الله أحد» و « ألهاكم التكاثر » ثم قال :اللّهم إني قد جعلت ثواب ما قرأت من كلامك لأهل المقابر من المؤمنين والمؤمنات كانوا شفعاء له إلى الله تعالى». أخرجه أبو القاسم سعد بن على الزنجاني فى فوائده. (شرح الصدور بشرح حال الموتى والقبور:ص ٣٠٣، باب فى قرءة القرآن للميت أو على القبر، بيروت).

وعن أنس رضي الله عنه أن رسول الله ﷺ قال: « من دخل المقابر فقرأ سورة يس خفف الله عنهم وكان له بعدد من فيها حسنات» . أخرجه عبد العزيز صاحب الخلال بسنده (شرح الصدور بشرح حال الموتى والقبور:ص ٣٠٤، باب فى قرءة القرآن للميت أو على القبر، بيروت).

وعن عبد الله بن عمر رضي الله عنه قال: سمعت النبى ﷺ يقول: « إذا مات أحدكم فلا تحبسوه وأسرعوا به إلى قبره، وليقرأ عند رأسه بفاتحة البقرة وعند رجليه بفاتحة البقرة». رواه البيهقى فى شعب الإيمان وقال: والصحيح أنه موقوف عليه (٢/ ٢١٥) وفى الأذكر للنووى:٧٤، وروينا فى سنن البيهقى بإسناد حسن « إن ابن عمر رضي الله عنه استحب أن يقرأ على القبر بعد الدفن أول سورة البقرة وخاتمتها » وهو موقوف فى حكم المرفوع، فانه غير مدرك بالرأى. (اعلاء السنن:٨/ ٣٤٢، زيارة القبور، ادارة القرآن).

په فتاوى شامي كي راځي:

صرح علماؤنا في باب الحج عن الغير بأن للإنسان أن يجعل ثواب عمله لغيره صلّاة أو صومًا أو صدقةً أو غيرها كذا في الهداية بل في زكاة التاتارخانية عن المحيط: الأفضل لمن يتصدق نفلًا أن ينوي لجميع المؤمنين والمؤمنات لأنها تصل إليهم ولا ينقص من أجره شيء. هو مذهب أهل السنة والجماعة. (شامى:٢/ ٢٤٣، مطلب فى القراءة للميت واهداء ثوابها له،

سعید – وکذا فی الفتاوی الهندیة:۱/ ۲۵۷، الباب الرابع عشر فی الحج عن الغیر – وکذا فی فتح القدیر مع الهدایة:۳/ ۱۴۲، باب الحج عن الغیر، دار الفکر). والله ﷻ اعلم.

ژوندی ته او یا ویوه پیغمبر ته دایصال ثواب حکم

سوال: ایا ژوندی ته او یا پیغمبر ته ایصال ثواب کېدای سي او که نه؟ او همدا ډول د کوچني او بنی له پاره د مغفرت دعاء کېدای سي او که نه؟

الجواب: دژوندی او یا پیغمبر له پاره ایصال ثواب کول صحیح دي خو د کوچني او بنی له پاره دي د مغفرت دعاء نه کوي بلکي د رفع درجات دعاء دي ورته کوي ځکه هغوی معصوم دي.

په هدایه کي راځي:

الأصل في هذا الباب أن الإنسان له أن يجعل ثواب عمله لغيره صلاةً أو صومًا أو صدقةً أو غيرها كتلاوة القرآن والأذكار، فتح القدير. عند أهل السنة والجماعة لما روى عن النبى ﷺ أن ضحى بكبشين أملحين أحدهما عن نفسه والآخر عن أمته ممن أقر بوحدانية الله تعالى وشهد له بالبلاغ . (هداية:۱/ ۲۹۶، كتاب الحج، باب الحج عن الغير، شركة علمية).

په فتاوی شامي کي راځي:

وفي البحر: من صام أو صلى أو تصدق وجعل ثوابه لغيره من الأموات والأحياء جاز، ويصل ثوابها إليهم عند أهل السنة والجماعة كذا في البدائع، ثم قال: وبهذا علم أنه لا فرق بين أن يكون المجعول له ميتًا أو حيًا ...... قلت: وقول علمائنا له أن يجعل ثواب علمه لغيره يدخل فيه النبى ﷺ فإنه أحق بذلک حيث أنقذنا من الضلالة، ففى ذلک نوع شكرو اسداء جميل له، والكامل قابل لزيادة الكمال. (شامى:۲/ ۲۴۳، ۲۴۴، مطلب فى القراءة للميت وإهداء ثوابها له، سعيد).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

په درجو کي په هر حال کي ترقي کیږي نو په ایصال ثواب کي کوم اشکال نه سته د معصوم له پاره د استغفار حاجت نه سته. (فتاوی محمودیه: ۹/ ۲۳۸). والله ﷻ اعلم.

رسول الله ﷺ ته د ایصال ثواب کولو حکم

سوال: رسول الله ﷺ ته ایصال ثواب کېدای سي او که نه که کېدای سي نو دلائل يې څه دي؟

الجواب: رسول الله ﷺ ته ایصال ثواب کېدای سي بلکي باید وکړل سي او دا مطلب نه دئ چي د ده مبارک ﷺ ور ته ضرورت دئ بلکي دا د هدیه وړاندي کونکي له لوري د تعلق او محبت د اظهار یوه ذریعه ده چي له هغه څخه د جانبینو تر منځ محبت اضافه کیږي او د هغه نفع په خپله ایصال ثواب کونکي ته رسیږي او د ده په درجو کي هم زیاتوالی راځي.

په ردالمحتار کي راځي:

ذكر ابن الحجر في الفتاوى الفقهية: أن الحافظ ابن تيمية زعم منع إهداء ثواب القراءة للنبي ﷺ لأن جنابه الرفيع لا يتجرأ عليه إلا بما أذن فيه، وهو الصلاة عليه وسؤال الوسيلة له قال: وبالغ السبكي وغيره في الرد عليه، بأن مثل ذلك لا يحتاج لإذن خاص، ألا ترى أن ابن عمر رضي الله عنه كان يعتمر عنه ﷺ عمرًا بعد موته من غير وصية وحج ابن الموفق وهو في طبقة الجنيد عنه سبعين حجة، وختم ابن السراج عنه ﷺ أكثر من عشرة آلاف ختمة، وضحى عنه مثل ذلك. قلت: رأيت نحو ذلك بخط مفتي الحنفية الشهاب أحمد بن الشلبي شيخ صاحب البحر عن شرح الطيبة للنويري، ومن جملة ما نقله: أن ابن عقيل من الحنابلة قال: يستحب إهداؤها له ﷺ.

قلت: وقول علمائنا له أن يجعل ثواب عمله لغيره يدخل فيه النبي ﷺ فإنه أحق بذلك حيث أنقذنا من الضلالة، ففي ذلك نوع شكر وإسداء جميل له، والكامل قابل لزيادة الكمال، وما استدل به بعض المانعين، من أنه تحصيل الحاصل لأن جميع أعمال أمته في ميزانه

...... يجاب عنه بأنه لا مانع من ذلك، فإن الله تعالى أخبرنا بأنه صلى عليه ثم أمرنا بالصلاة عليه، بأن نقول: اللّٰهم صل على محمد. (ردالمحتار:٢/ ٢٤٤، مطلب فى إهداء ثواب القراءة للنبى ﷺ، سعيد).

په آپ کی مسائل اور ان کا حل نومي كتاب كي راځي:

دامت له لوري د نبي كريم ﷺ له پاره ايصال ثواب له نصوصو څخه ثابت دئ لكه څنګه چي د ايصال ثواب يو صورت د ده مبارک ﷺ له پاره د مقام وسيله غوښته ده.

عن عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه أنه سمع النبى ﷺ يقول: « إذا سمعتم المؤذن فقولوا مثل ما يقول ثم صلوا على فإنه من صلى على صلاةً صلي الله عليه بها عشرًا ثم سلوا الله لى الوسيلة فإنها منزلة فى الجنة لا تنبغى إلا لعبد من عباد الله وأرجو أن أكون أنا هو فمن سأل لى الوسيلة حلت له الشفاعة ». (مسلم شريف:١/ ١٦٦).

عن جابر ابن عبد الله ﷺ أن رسول الله ﷺ قال من قال حين يسمع النداء: اللّٰهم رب هذه الدعوة التامة والصلاة القائمة ات محمد الوسيلة والفضيلة وابعثه مقامًا محمود الذى وعدته، حلت له شفاعتى يوم القيامة. (مسلم شريف:١/ ٨٦).

دايصال ثواب يو صورت د ده مبارک ﷺ له پاره د درجاتو د ترقي دعاء ده.

عن عمر رضي الله عنه قال استأذنت النبى ﷺ فى العمرة فأذن لى وقال « لا تنسنا يا أخى من دعائك ». وفى رواية « أشركنا يا أخى فى دعائك ». (ابو داؤد شريف:١/ ٢١٠، ترمذى شريف:٢/ ١٩٥).

لكه څنګه چي په حيات طيبه كي د ده له پاره دعاء مطلوب وه همدا ډول د وفات څخه وروسته يې هم ورته دعاء مطلوب ده د ايصال ثواب يو صورت دا دئ چي د ده له لوري قرباني وكړل سي.

حدثنا محمد بن عبيد المحاربي الكوفي حدثنا شريك عن أبي الحسناء عن الحكم عن حنش عن علي رضي الله عنه : أنه كان يضحى بكبشين أحدهما عن النبي ﷺ والآخر عن نفسه فقيل له فقال: أمرني به يعني النبي ﷺ فلا أدعه أبدا . هذا حديث غريب لا نعرفه إلا من حديث شريك .

(ترمذی شریف:۱/ ۱۸۰، باب فی التضحية بكبين فيصل – وابو داؤد شريف:۲/ ۲۹، باب الاضحية عن الميت، سعيد). (آپ کی مسائل اور ان کا حل:۳/ ۱۷۷ -۱۷۸، ایصال ثواب).

صاحب د تحفة الاحوذي د پورتني حديث پر سند اشكال كړی دئ وريې وګورئ:

قال المنذري : حنشهو أبو المعتمر الكناني الصنعاني وتكلم فيه غير واحد ، حتى صار مما لا يحتج به، وشريكهو ابن عبد الله القاضي فيه مقال، وقد أخرج له مسلمفي المتابعات، انتهى . قلت : وأبو الحسناء شيخ عبد الله مجهولكما عرفت ، فالحديث ضعيف. (تحفة الأحوذي:٦/ ٢٩٠).

د اشكال جواب وګورئ:

١ _ حنش أبو المعتمر الصنعانى الكوفى:

په تهذيب التهذيب کي راځي:

قال أبو داؤد: هو ثقة، وقال العجلى: هو تابعى ثقة. (تهذيب التهذيب:٣/ ٥٣/ ١٦٥٣، بيروت – وتهذيب الكمال:٧/ ٤٣٣، مؤسسة الرسالة).

په معرفة الثقات کي راځي: حنش بن عبد الله ثقة. (معرفة الثقات:١/ ٣٢٦).

٢ _ شريک.

په تهذيب التهذيب کي راځي:

وقال يزيد بن الهيثم عن ابن معين: شريک ثقة، وهو أحب إلى من أبى الأحوص وجرير وهو يروى عن قوم لم يرو عنهم سفيان الثورى، قال ابن معين: ولم يكن شريک عند يحيى يعنى القطان بشيء وهو ثقة ثقة ...... وقال العجلى: كوفى ثقة، وكان حسن الحديث، وكان أروى الناس عنه إسحاق الأزرق. (تهذيب التهذيب:٤/ ٣٠٥/ ٢٨٨٣، بيروت).

٣_ أبو الحسناء:

قال الدولابي في الكنى: حدثنا العباس بن محمد عن يحيى بن معين قال: أبو الحسنائروى عنه شريک والحسن بن صالح الكوفى وهذا كما ترى قد عرفه يحيى بن معين وناهيک بمن قد عرفه ولم يذكره بجرح ولاتعديل فهو ثقة، قال ابن معين: لايسكت عن جرح المجروحين، وقد روى عن أبى الحسناء اثنان من الثقات وليس بمجهول من روى عنه اثنان (كما مرفى المقدمة) واند حض بذلک قول الهيثمى فى مجمع الزوائد: فيه أبو الحسناء ولايعرف روى عنه غير شريک. (اعلاء السنن:١٧/ ٩، ٢٦٨، باب التضحية، ادارة القرآن).

امام ترمذي رحمه الله فرمايي: «لانعرفه إلا من حديث شريک» **ددې په اړه علي بن المديني رحمه الله فرمايي:** قد رواه غير شريک. (عارضه الأحوذى:٦/ ٢٩٠).

لهذا دا حديث صحيح دئ او قابل د استدلال دئ.

او د همدغه حديث په مثل په مرقاة کې يو صحيح حديث سته:

وفى رواية صححها الحاكم أنه (على رضي الله عنه) كان يضحى بكبشين عن النبى ﷺ وبكبشين عن نفسه وقال ان رسول الله ﷺ أمرنى أن أضحى عنه أبداً فأنا أضحى عنه أبدًا. (مرقاة شرح المشكاة:٣/ ٣٠٩، باب التضحية، الفصل الثانى، امدادية، ملتان).

عن عائشة رضي الله عنها، أو عن أبي هريرة رضي الله عنه، أن رسول الله ﷺ كان إذا أراد أن يضحي ، اشترى كبشين عظيمين ، سمينين ، أقرنين ، أملحين موجوءين ، فذبح أحدهما عن أمته ، لمن شهد لله ، بالتوحيد ، وشهد له بالبلاغ ، وذبح الآخر عن محمد ﷺ، وآل محمد ﷺ. (ابن ماجه شريف:ص ۲۲۵، باب اضاحی رسول الله ﷺ، آرام باغ کراچی).

دنبي كريم ﷺ په امت كي يقيناً داسي كسان سته چي هغوى بخښل سوى دي چي كله هغوى ته ايصال ثواب كېداى سي نو معصوم ته ولي نه سي كېداى؟. والله تعالى اعلم.

پر ايصال ثواب د اجرت اخيستلو حكم

سوال: ديوه كلي په اوسېدونكو كي لږ كسان قرآن ويلاى سي په كلي كي چي كله يو څوك وفات سي نو د مړي قريب يو حافظ صاحب ته معارضه وركوي هغه د قرآن شريف ختم له پاره د ايصال ثواب كوي ايا حافظ صاحب ته دغه معاوضه اخيستل روا ده او كه نه؟ كه روا وي نو ايا حافظ صاحب چي يو قرآن شريف ووايي، څو مردګانو ته يې ايصال ثواب كولاى سي او كه نه؟

الجواب: د ايصال ثواب له پاره د قرآن شريف پر ويلو اجرت اخيستل او وركول روا نه دي ايصال ثواب په خپله يو ښه كار دئ د مړي د قريبانو له پاره څومره چي كولاى سي قرآن يا اذكار دي ووايي او مړي ته دي ايصال ثواب وكړي د ټول قرآن ويل ضروري نه دي.

علامه شامي رحمه الله وړاندي يوه ځانګړې رساله تصنيف كړي ده ((شفاء العليل وبالغليل في حكم الوصية بالختمان والتهاليل **)) پر دغه مسئله باندي يې په تفصيل كلام كړى دئ پر عدم جواز يې څو احاديث بيان كړي دي مثلاً:**

۱ _ قال رسول الله ﷺ اقرئوا القرآن ولاتأكلوبه ولاتجفوا عنه ولا تغلوا فيه ولاتستكثروا به. (رواه اسحاق فى مسنده وعبد الرزاق فى مصنفه).

۲_ حديث عبادة بن الصامت، وذكر فيه تعليم عبادة بعض الصحابة القرآن واهداء رجل منهم إليه قوسا، ولما سئل النبى ﷺ عن ذلک قال: إن أردت أن يطوقک الله طوقًا من النار فاقلبها . وكذا قصة أبى بن كعب رضي الله عنه فى ذلک.

په دې رساله کې یې له ډېرو فقهي کتابونو او فتاوی څخه نقل کړی دئ چې پر تلاوت مجرده اجرت اخیستل روا نه دي.

وقال الشيخ الرملى على هامش البحر: المفتى به جواز الأخذ استحسانًا على تلاوة القرآن لاعلى القراءة المجردة كما فى التاتار خانية. (رسائل ابن عابدين:ص ١٦٨).

په محيط برهاني کې راځي:

إذا أوصى أن يدفع إلى إنسان كذا من ماله كذا ليقرء القرآن عند قبره فهذه الوصية باطلة وهى بدعة ولم يفعلها أحد من الخلفاء رضي الله عنهم . (المحيط البرهانى:٢٣/ ٣٩).

په فتاوی محموديه کې راځي.

دغه اخیستل او ورکول دواړه ناروا دي: قال تاج الشريعة فى شرح الهداية: ان القرآن بالأجرء لايستحق الثواب لالميت ولا للقارى. (فتاوىٰ محموديه:٩/ ٢١٦، مبوب ومرتب).

• **په کفايت المفتي کې راځي:**

دايصال ثواب له پاره قرآن ویل او د هغه په معاوضه کې ویونکو ته څه ورکول روا نه دي، البته که یې د نیکي په توګه ورکړي نو مباح دي مګر شرط دا دئ چې پر نه ورکولو د ویونکو زړه تنګ نه سي او شکایت ونه کړي. (کفایت المفتی:٤/ ١٣٥). والله تعالىٰ اعلم

پر اسلامي راډيو د نشرېدونکی قرائت د ايصال ثواب حکم

سوال: پر اسلامي راډيو د مختلفو قاريانو قرائت نشر کوي څه کسان پيسې ورکوی چي د هغه ثواب دي د دوی د وفات سوو قريبانو ته وبخښل سي ايا داسي ايصال ثواب صحيح دئ؟ او په دې ډول پيسې اخستل صحيح دي او که نه؟

الجواب: که قاري پيسې واخلي او د ايصال ثواب له پاره قرآن ووايي، نو دغه ناروا ده خو که قاري څه وانه خلي بلکي د راډيو د اخراجاتو له پاره وي نو د هغه گنجائش سته او همداډول څنګه چي د قرآن کريم ويل ثواب دئ اوريدل يې هم د اجر باعث دئ لهذا د هغه ايصال ثواب کول هم درست او صحيح دي.

وګورئ په مشکوة شريف کي راځي:

عن أبی سعيد الخدری ﷺ قال جلست فی عصابة من ضعفاء المهاجرين وإن بعضهم ليستتر ببعض من العری وقارئيقرأ علينا إذ جاء رسول الله ﷺ فقام علينا فلما قام رسول الله ﷺ سكت القارئ فسلم ثم قال « ما كنتم تصنعون ». قلنا فكنا نستمع إلى كتاب الله فقال « الحمد لله الذی جعل من أمتی من أمرت أن أصبر نفسی معهم ». قال فجلس وسطنا ليعدل بنفسه فينا ثم قال بيده هكذا فتحلقوا وبرزت وجوههم له قال « أبشروا يا معشر صعاليك المهاجرين بالنور التام يوم القيامة تدخلون الجنة قبل أغنياء الناس بنصف يوم وذاك خمس مائة سنة ». رواه أبو داؤد. (مشكوة شريف:۱/ ۱۹۱، فضائل القرآن). والله ﷻ اعلم.

شپږم ..... فصل

د تعزيت بيان

د تعزيت اړوند ضروري هدايات

د تعزيت فضائل:

عن عبد الله بن مسعود رضي الله عنه عن النبي ﷺ قال: من عزى مصابًا فله مثل أجره. (رواه ابن ماجة:۱۱۵، باب ماجاء في ثواب من عزى – والترمذي.۱/ ۲۰۵، باب ماجاء في اجر من عزى، فيصل – والبيهقي في السنن الكبرى:۲/ ۳۲۲/ ۷۳۳۹، باب مايستحب من تعزية اهل).

ژباړه: څوک چي په مصيبت کي داخته سوي کس تعزيت وکړي خدای تعالی هغه ته دومره ثواب ورکوي څومره چي هغه په مصيبت کي اخته کس ته پر صبر کولو ورکوي.

وعن أبي برزة رضي الله عنه عن النبي ﷺ قال: من عزى ثكلى كسي بردا في الجنة (رواه الترمذي:۱/ ۲۰۶. باب آخر في فضل التعزية، فيصل). قال أبو عيسى هذا حديث غريب وليس إسناده بالقوي.

ژباړه: رسول الله ﷺ فرمايي، څوک چي د داسي ښځي تعزيت وکړي چي د هغې بچي مړ سوی وي نو په جنت کي به پټو ور واغوستل سي.

وعن عمرو بن حزم رضي الله عنه، عن النبي ﷺ قال: ما من مؤمن يعزي أخاه بمصيبة، إلا كساه الله سبحانه من حلل الكرامة يوم القيامة. (رواه ابن ماجة بإسناد حسن:ص ۱۱۵، باب ماجاء في ثواب من عزى).

ژباړه: رسول الله ﷺ فرمايي: څوک چي د مصيبت او پرېشانۍ په وخت کي خپل ورور ته تسلي ورکړي او د هغه تعزيت وکړي نو د قيامت په ورځ به الله جل جلاله ده ته د بزرګۍ او کرامت جامه ور واغوندي.

وعن أنس بن مالک رضی الله عنه عن النبی ﷺ قال: من عزی أخاه المؤمن من مصيبة كساه الله يوم القيمة حلة خضراء يحبر بها يوم القيمة قيل: يا رسول الله مايحبر؟ قال يغبط. (تاریخ بغداد: ۷/ ۳۹۷، بیروت).

وقال الإمام النووی رحمه الله التعزية مشتملة على الأمر بالمعروف والنهی عن المنكر و هی داخلة أيضًا فی قول الله تعالى ﴿ وتعاونوا على البر والتقوى ﴾ وهذا من أحسن ما يستدل به فی التعزية وثبت فی الصحيح أن رسول الله ﷺ قال: والله فی عون العبد ماكان العبد فی عون أخيه.

وعن عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه فی حديث طويل أن النبی ﷺ قال لفاطمة رضی الله عنها ما أخرجک يا فاطمة من بيتک؟ قالت أتيت أهل هذا الميت فترحمت إليهم ميتهم أو عزيتهم به. (رواه أبو داؤد: ۲/ ۸۹، باب فی التعزية، سعيد – والنسائی).

د تعزیت سنت طریقه:

د فاتحې سنت طریقه دا ده چې د تدفین نه وروسته یا د تدفین نه مخکې د مړي کور ته ورسي هغو ته تسلي ورکړي د صبر تلقین او ترغیب ورکړي د ده او د مړي په حق کې د دعاء جملې ووايي. (فتاوی رحیمیه او کفایت المفتی).

د تعزیت منقولې دعاوې:

۱ _ إن الله ما أخذ وله ما أعطى وكل شیء عنده لأجل مسمى فلتصبر ولتحتسب. (بخاری شریف: ۱/ ۱۷۱، باب قول النبی ﷺ يعذب الميت، قديمی).

ژباړه: چې څه اخلي هغه هم د الله جل جلاله دي او چې څه ورکوي هغه هم د الله جل جلاله ملکیت دئ د هر شی له پاره د ده سره یو ټاکلي وخت دي یعنی د دې مړه ژوند ټاکلي وو نو صبر وکړي او د ثواب امید وساتي.

۲_ اللّٰهم اغفرله وارفع درجته فی المهديين واخلفه فی عقبه فی الغابرين وغفرلنا وله يا رب العالمين وافتح له فی قبره ونورله فيه. (مسلم شريف:۱/ ۱۰۳، كتاب الجنائز).

۳_ اللّٰهم اخلفه فی أهله وبارک له فی صفقة يمينه، قالها ثلاث مرات. (مسند أحمد).

٤_ أعظم الله أجرک وأحسن عزاءک وغفر لميتک. (الأذكار للنووى:ص ١٣٦، باب التعزية. مكتبة القدس).

ژباړه: الله ﷻ دي تاسو ته عظيم اجر درکړي او ستاسو د صبر بنه بدله دي درته درکړي او ستاسو مړي ته دي بخښنه وکړي.

٥_ إنالله وإنا إليه راجعون ماشاء الله كان وما لايشأ لايكون غفر الله له وأسكنه جنة الفردوس وأفاض عليه شأبيب غفرانه وادعوا الله تعالى أن يفرغ على قلوبكم صبرًا جميلًا وعلى من فقد تم أجرًا جزيلًا بلطفه ورحمته آمين بحرمة سيد المرسلين ﷺ. (فتاوی رحيميه).

د خط په ذريعه هم فاتحه مسنون ده:

که د مجبورۍ يا د ليرې والي له امله په خپله نه سو حاضرېدای نو د خط په ذريعه دي هم تعزيت وکړي ځکه دا هم سنت ده، رسول الله ﷺ حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه ته د ده د زوی د وفات پر موقع د فاتحې خط ليکلي وو هغه خط مبارک دا دي.

وكتب النبی ﷺ إلى معاذ بن جبل رضي الله عنه يعزيه فی ابن له:

"بسم الله الرحمن الرحيم: من محمد رسول الله إلى معاذ بن جبل سلام عليك فإني أحمد إليك الله الذي لا إله إلا هو، أما بعد: فأعظم الله لك الأجر وألهمك الصبر ورزقنا وإياك الشكر، فإن أنفسنا وأهلنا وأموالنا وأولادنا من مواهب الله عزوجل الهنية وعوارية المستودعة يمتع بها إلى أجل معلوم ويقبض لوقت محدود ثم افترض علينا الشكر إذا أعطى والصبر إذا

ابتلی وكان ابنک من مواهب الله الهنية وعواريه المستودعة متعک به فی غبطة وسرور وقبضه منک بأجر كبير، الصلاة والرحمة والهدی، إن احتسبته فاصبر ولايحبط جزعک أجرک فتندم، واعلم أن الجزع لايرد شيئًا ولايدفع حزنًا وما هو نازل فكان قد والسلام». (حلية الاولياء:۱/ ۲٤۳، دار الفكر، مع المستدرک علی الصحيحين:۳/ ۳٤۱/ ۵۱۹۳، دار ابن حزم).

ژباړه: نبي کريم ﷺ حضرت معاذ بن جبل رضی اللہ عنہ ته د ده د زوی د فاتحې په هکله ليکلي وه.

بسم الله الرحمن الرحيم:

د الله د رسول محمد ﷺ د طرفه ومعاذ بن جبل ته پر تا دي سلام وي زه ستا په وړاندي د هغه الله جل جلالہ چي پر ته يې بل معبود نه سته تعريف کوم د حمد او ثناء څخه وروسته الله تعالی دي تا ته عظيم اجر درکړي او د صبر توفيق دي درکړي او موږ او تاسو ته دي د شکر توفيق راکړي ځکه چي بيله شکه زموږ ځانونه او زموږ مال او زموږ ښځي او زموږ اولاد ټول د لوی الله جل جلالہ مبارکي عطيي او د عاريت په توګه راکول سوی شيان دي چي له هغو څخه موږ ته ترېوي خاصي مدي د ګټي اخيستنی موقع راکول کيږي او پر ټاکلي وخت يې الله جل جلالہ راڅخه اخلي بيا پر موږ دا فرض ده چي کله يې را ته عطاء کړي نو موږ يې شکر اداء کړو او کله چي امتحان را باندي راولی او هغه راڅخه واخلي نو صبر وکړو ستا زوی هم د الله جل جلالہ د هغو ښو نعمتونو او سپارل سوو امانتونو څخه يو امانت وو الله جل جلالہ تا ته له هغه څخه د غبطي او خوښي وړ نفع در رسول او اوس يې د لوی اجر رحمت او مغفرت او هدايت په بدله کي در څخه واخيست که ته ثواب غواړي نو صبر وکړه داسي نه چي ستا بې صبري او ژړا ستا ثواب وانه خلي بيا به پښيمانه يې او ياد ساته چي ژړاوي څه شی نه راګرځوي او نه غم ليري کوي او څه چي کېدونکی وي هغه به کيږي او څه چي کېدل هغه وسوه. والسلام. (حصن حصين:ص ۱۸۰).

تسلي ورکونکي او له عبرت ډکي کلمې:

دنيا ته هر راتلونکي به يوه ورځي ځي دا د الله جل جلالہ قطعي فيصله ده.

كل نفس ذائقة الموت ۞ وكل روح ما زرة الغوت

ژباړه: هر نفس به مرګ څکي: هر روح ته به وفات راځي:

لاتقل فیما جری کیف جری ❁ کل شیء بقضاء وقدر

ژباړه: څه چي وسوه د هغه اړوند دا مه وایه چي دا څنګه وسوه هر شی د قضاء او قدر موافق کیږي.

ألا یاساکن القصر المعلی ❁ ستدفن عن قریب فی التراب

ژباړه: خبر اوسه! اې د لوړي کوټي اوسېدونکی ژر دي چي په خاور کي به دفن سي.

له ملک ینادی کل یوم ❁ الدوا للموت وابنو الخراب

ژباړه: ملائکه هر ورځ اواز کوي چي د مرګ له پاره بچي پیدا کړي او د خرابېدو له پاره عمارتونه جوړ کړي.

قلیل عمرنا في دار دنیا ❁ ومرجعنا الی بیت التراب

ژباړه: زموږ عمر په دنیا کي ډېر لږ دئ او زموږ د ټولو رجوع د خاورو کور ته ده او چي کله ټاکلي وخت راسي نو هیڅ تدبیر کار نه کوي دحضرت معاویه رضی الله عنه ارشاد دئ.

واذا المنیة انشبت اظفارها ❁ الفیت کل تمیمة لاتنفع

ژباړه: کله مرګ خپلي پنجي ښخي کړي بیا هیڅ تعویذ او علاج نفع نه ورکوي کله چي حضرت عباس رضی الله عنه وفات سو نو یوه صحرایي د ده زوی حضرت عبد الله رضی الله عنه تعزیت وکړ او دا اشعاریې وویل.

اصبر نکن بک صابرین فإنما ❁ صبر الرعیه بعد صبر الرأس

خیر من العباس اجرک بعده ❁ والله خیر منک للعباس

ژباړه: یعني ته صبر وکړه موږ به هم ستا له امله صبر وکړو کله چي کله د غټانو صبر کشران ویني هغوی هم صبر کوي پر صبر کولو چي وتا ته اجر درکول کیږي هغه ستا له پاره د حضرت عباس څخه ښه دئ او حضرت عباس رضی الله عنه ته چي د الله جل جلاله نزدیکت حاصل سو هغه د ده له پاره ستا په نسبت زیاته ګټه لرونکی دي.

نقل سوی دي چي په دغو اشعارو د حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهما تسلي او د زړه سکون حاصل سو. (ملخص از فتاوی رحيميه: ۷/ ۸۵، د تعزيت مسنونه طريقه).

په فاتحه کي لاس پورته کول او دعاء غوښتل

سوال: په ځينو علاقو کي ديو چا د انتقال ځخه وروسته خلک د فاتحي له پاره لاسونه پورته کوي او دعاء کوي دا په شريعت کي ثابته ده او که نه؟

الجواب: په فاتحه کي دوې خبري دي يو د مړي د کور کسانو ته تسلي ورکول او د صبر تلقين وغيره کول او دوهم دا چي د مړي د مغفرت له پاره دعاء کول او د مغفرت د دعاء په وخت کي د لاسونو د پورته کېدو ثبوت په رواياتو کي سته لهذا د لاسونو پورته کولو ګنجائش سته خو ځنګه چي په تعزيت کي اکثر د مړي د قريبانو له پاره د تسلي او صبر تلقين وي نو ځکه لاس نه پورته کول ښه دي، البته د دعاء له پاره لاسونه پورته کولای سي.

په بخاري شريف کي راځي:

عن أبي موسى رضي الله عنه قال: لما فرغ النبي ﷺ من حنين بعث أبا عامر رضي الله عنه على جيش إلى أوطاس فلقي دريد بن الصمة فقتل دريدوهزم الله أصحابه قال أبو موسى رضي الله عنه وبعثني مع أبي عامر رضي الله عنه فرمي أبو عامر في ركبته، رماه جشمي بسهم فأثبته في ركبته فانتهيت إليه...... قال يا ابن أخي أقرئ النبي ﷺ السلام وقل له استغفر لي واستخلفني أبو عامر على الناس فمكث يسيرًا ثم مات فرجعت فدخلت على النبي ﷺ في بيته على سرير مرمل، وعليه فراشقد أثر رمال السرير بظهره وجنبيه فأخبرته بخبرنا وخبر أبي عامر وقال قل له استغفر لي فدعا بماء فتوضأ ثم رفع يديه، فقال: « اللهم اغفر لعبيد أبي عامر ورأيت بياض إبطيه ثم قال: اللهم اجعله يوم القيامة فوق كثير من خلقك من الناس. (رواه البخاری: ۲/ ۶۱۹/ ٤١٥٣، باب غزوة أوطاس، فيصل).

په فتاوی شامي کي راځي:

ولابأس بتعزية أهله وترغيبهم في الصبر أي تصبيرهم والدعاء لـهم به، قال في القاموس: العزاء الصبر أو حسنه وتعزى: انتسب فالمراد هنا الأول ...... قال في شرح المنية: وتستحب التعزية للرجال والنساء اللاتي لا يفتن لقوله عليه الصلاة والسلام « من عزى أخاه بمصيبة كساه الله من حلل الكرامة يوم القيامة» رواه ابن ماجه وقوله عليه الصلاة والسلام « من عزى مصابًا فله مثل أجره » رواه الترمذي وابن ماجه، والتعزية أن يقول: أعظم الله أجرك وأحسن عزائك وغفر لميتك . (شامى:٢/ ٢٣٩، سعيد، كمپنى). والله ﷻ اعلم.

د تعزيت او جنازې د لمانځه تر منځ فرق

سوال: ايا تعزيت د جنازې د لمانځه څخه بېل دئ يا د جنازې لمونځ د تعزيت له پاره كافي دئ؟

الجواب: تعزيت د جنازې د لمانځه څخه بېل دي د جنازې لمونځ د مړي حق دئ او تعزيت د مړي د كورنۍ له پاره د تسلي او صبر د تلقين نوم دئ، البته كه يې په جنازه كي د مړي د قريبانو سره ملاقات وسو او هغو ته يې فاتحه وركړه نو دوهم ځل د فاتحي وركولو ضرورت نه سته.

په فتاوى هنديه كي راځي:

التعزية لصاحب المصيبة حسن، كذا في الظهيرية ، وروى الحسن بن زياد إذا عزى أهل الميت مرةً فلا ينبغي أن يعزيه مرةً أخرى ، كذا في المضمرات ووقتها من حين يموت إلى ثلاثة أيام ويكره بعدها إلا أن يكون المعزي أو المعزى إليه غائبًا فلا بأس بها وهي بعد الدفن أولى منها قبله وهذا إذا لم ير منهم جزعشديدفإن رئي ذلك قدمت التعزية . (الفتاوى الهندية:١/ ١٦٧).

په فتاوى شامي كي راځي:

وفي الإمداد: وقال كثير من متأخري أئمتنا يكره الاجتماع عند صاحب البيت ويكره له الجلوس في بيته حتى يأتي إليه، من يعزي، بل إذا فرغ ورجع الناس من الدفن فليتفرقوا ويشتغل الناس بأمورهم وصاحب البيت بأمره. (شامي: ۲/ ۲٤۱، مطلب في كراهة الضيافة من اهل الميت، سعيد). والله تعالى اعلم.

د تعزيتي جلسي حُکم

سوال: علماء کرام په دې مسئله کي څه فرمايي، چي که يو بزرګ شخصيت وفات سي او ديوې ورځي د تاکلو پر ته د هغه اړوند کسان په اجتماعي توګه را وبلل سي او د هغه مقصد د دې شخصيت د کار نامو بيانول وي او د ده د اعمالو او اخلاقو يادونه وي چي د ده متعلقين د ده پر قدمونو ولاړ سي او د ده طريقه راژوندی کړي او يو د بل د نظرياتو څخه ګټه پورته کړي، البته د اسانۍ له پاره يوه ورځ وټاکل سي خو هغه ټاکلي يې په دې نيت نه وي چي دا د شريعت حکم دئ نو د دې ناستي حکم څه دئ؟ او همدا ډول د دې اجتماعي مقصد د هغو حالاتو د مقابلي له پاره ځان تيار ول وي چي د کوم بزرګ له وفات څخه پيدا کيږي او همدا ډول دغه اجتماع لازمه او ضروري يا سنت نه ګڼل کيږي پر نه ګډون کونکو يې کوم انکار نه کيږي؟

الجواب: چي کله اجتماعي ديوه داسي شخصيت اړوند وي چي له هغه سره د دين ډېري فائدي تړلي وي د هغه د ژوندانه هر اړخ د تشريح وړ او د تقليد قابل وي د ده د اعمالو او اخلاقو د خپرېدو ضرورت وي د ده متعلقين يو د بله استفاده کوي د ده د طريقو د روانو ضرورت وي نو د متعلقينو د اسانۍ له پاره يوه ورځ ټاکلای سي د نبي کريم ﷺ د وفات څخه وروسته د هغو بې شمېره فتنو د غلي کولو له پاره حضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه هغې اجتماع ته خطاب وکړ چي د نبي کريم ﷺ د وفات وروسته را ټول سوي وه او همدا ډول يې د بخاري شريف د روايت څخه هم تائيد کيږي.

عن زياد بن علاقة قال: سمعت جرير بن عبد الله رضي الله عنه يوم مات المغيرة بن شعبة رضي الله عنه قام فحمد الله وأثنى عليه وقال عليكم باتقاء الله وحده لا شريك له والوقار والسكينة حتى يأتيكم

أمير فإنما يأتيكم الآن ثم قال: استعفوا لأميركم، فإنه كان يحب العفو، حديث. (رواه البخاري:١/ ١٤/ ٦٨، باب قول النبي ﷺ الدين النصيحة، فيصل). والله ﷻ اعلم.

په هديره کي د څپليو سره د تللو حکم

سوال: په هديره کي د څپليو سره د تللو حکم څه دئ؟ په عامو کتابونو کي يې مکروه ليکلي دي په ظاهره تکليف معلوميږي؟

الجواب: په هديره کي د څپليو سره تلل د اداء بو خلاف دي، البته که تکليف وي او څپلي يې پاکي وي او په تللو کي يې د تکبر اظهار نه وي بلکي د قبرونو احترام کوي په عاجزي روان وي نو د دې ګنجائش سته.

وګورئ په بذل المجهود کي رائحي:

عن بشير مولى رسول الله ﷺ ...... بينما أنا أماشي مع رسول الله ﷺ ..... ثم مربقبور المسلمين ..... فإذا رجل لم أقف على تسميته يمشي في القبور عليه نعلان فقال يا صاحب السبتيتين ويحك ألق سبتيتيك فنظر الرجل فلما عرف رسول الله ﷺ خلعهما فرما بهما ...... وأمره بالخلع احترامًا بالنعال بين القبور قلت: لايتم ذلك إلا على بعض الوجوه المذكورة. (بذل المجهود:٤/ ٢١٣).

د نبي کريم ﷺ په زمانه کي داسي چمپلان چي ورېښتان به وربانديې نه وه فيشن ګڼل کېدئ نو په حديث کي د دې خبري تلقين سته چي په هديره کي د تواضع ډول اختيار کړي د تکبر څخه ځان وژغوري خو په اوس وخت کي ضاف يعني بېله ورېښتانو چمپلان يو عام د استعمال شی دئ لهذا په هديره کي يې استعمالول درست دي.

په فتاوی هنديه کي رائحي:

والمشي في المقابر بنعلين لايكره عندنا كذا في السراج الوهاج. (الفتاوى الهندية:١/ ١٦٧، الفصل السادس في القبر والدفن).

په فتاوی رحیمیه کي راځي:

پر قبرونو د څپلیو سره او یا بېله څپلیو تلل سخت ممنوع او مکروه دي مګر پر کوم ځای چي قبر نه وي خالي ځای وي نو د څپلیو سره په تللو کي څه حرج نه سته بېله کراهته روا دي په عالمګیري کي راځي، والمشی فی القبور لایکره عندنا، البته احتیاط دي کوي په خاصه توګه چي کله قبر ته د ایصال ثواب له پاره درېږي نو دا چي څپلي وکاږي ښه به وي. (فتاوی رحیمیه:۳/ ۹۷). والله تعالی اعلم.

د ښځو له پاره د قبرونو د زیارت حکم

سوال: د احنافو او شوافعو په اند د ښځو له پاره قبرونو ته تلل درست دي او که نه؟

الجواب: د احادیثو او فقهاوو د کلام په رڼا کي معلومیږي چي د ښځو له پاره هدیره د تللو اجازه سته، البته که د فتنې شرک او بدعت وغیره مفاسدو بېره وي نو ځای دي وژغوري.

وګورئ د احادیثو په رڼا کي:

۱ ــ أخرج ابن عبد البر فی التمهید عن عبد الله بن أبی ملیکة وکذا الحاکم فی المستدرک عنه « أن عائشة رضي الله عنها أقبلت ذات یوم من المقابر فقلت لها: یا أم المؤمنین من أین أقبلت؟ قالت من قبر أخي عبد الرحمن بن أبي بکر رضي الله عنه فقلت لها: « ألیس کان رسول الله ﷺ نهی عن زیارة القبور؟ قالت: نعم، کان نهی عن زیارتها. ثم أمر بزیارتها. (التمهید لابن عبد البر:۳/ ۲۳۳، مکتبة المؤید ــ والمستدرک للحاکم:۱/ ٤۹٥/ ۱۳۹۲، وقال الذهبی:صحیح). وأخرجه ابن عبد البر بطریق آخر عن ابن أبي ملیکة یقول: رکبت عائشة رضي الله عنها عنها فخرج إلینا غلامها، فقلت: أین ذهبت أم المؤمنین؟ قال: ذهبت إلی قبر أخیها. (التمهید:۳/ ۲۲٥).

٢_ وأخرج الترمذی فی الجنائز عن عبد الله بن أبي مليكة قال: توفي عبد الرحمن بن أبي بكر رضي الله عنه بالحبشي قال: فحمل إلى مكة فدفن بها، فلما قدمت عائشة رضي الله عنها أتت قبر عبد الرحمن بن أبي بكر رضي الله عنه فقالت:

وكنا كندماني جذيمة حقبة ۞ من الدهر حتى قيل لن يتصدعا

فلما تفرقنا كأني ومالكا ۞ لطول اجتماع لم نبت ليلة معا

إلى آخر الحديث. (ترمذی شریف:١/ ٢٠٣).

٣_ وأخرج مسلم أيضًا فی الجنائز عن عائشة رضي الله عنها قالت: كيف أقول لهم يا رسول الله؟ قال: « قولى السلام على أهل الديار من المؤمنين والمسلمين، ويرحم الله المستقدمين منا والمستأخرين، وإنا إن شاء الله بكم للاحقون ». (مسلم شریف:١/ ٣١٤).

٤_ وأخرج سعد فی الطبقات الكبری قال: أخبرنا موسى بن داؤد سمعت مالک بن أنس رضي الله عنه يقول: قسم بيت عائشة رضي الله عنها باثنين: قسم كان القبر، وقسم كان تكون فيه عائشة رضي الله عنها، وبينهما حائط، فكانت عائشة رضي الله عنها ربما دخلت حيث القبر فضلًا، فلما دفن عمر رضي الله عنه لم تدخل إلاوهی جامعة عليها ثيابها. (طبقات ابن سعيد:٢/ ٢٢٤، دار الكتب العلمية، بيروت، فصل ذكر حفر قبر رسول الله).

٥_ وفی الطبقات الكبری أيضًا قال: أنا عبد الله بن نمير قال: أنازياد بن المنذر عن أبی جعفر قال: كانت فاطمة رضي الله عنها تأتی قبر حمزة رضي الله عنه ترمه وتصلحه. (الطبقات الكبری لابن سعد:٣/ ١٣، طبقات البدريين من المهاجرين ذكر الطبقة الاولى حمزة بن عبد المطلب).

٦_ وفی التمهید لابن عبد البر عن جعفر بن محمد، قال: کانت فاطمة بنت رسول الله ﷺ تزور قبر حمزة بن عبد المطلب رضي الله عنه کل جمعة، وعلمته بصخرة. (التمهید لابن عبد البر:۳/ ۲۳٤).

۷_ أخرج البخاری بسنده عن أنس بن مالک رضي الله عنه قال مر النبی ﷺ بامرأة تبکی عند قبر فقال: اتقی الله واصبری قالت: إلیک عنی فإنک لم تصب بمصیبتی........ (رواه البخاری:۱/ ۱۷۱).

قال الحافظ فی الفتح بعد ذکر مذاهب العلماء فی هذا الباب:

ویؤید الجواز حدیث الباب، وموضع الدلالة منه أنه لم ینکر علی المرأة قعودها عند القبر وتقریره حجة. (فتح الباری:۳/ ۱٤۸).

۸_ أخرج ابن ماجة عن أبی هریرة رضي الله عنه أن النبی ﷺ کان فی جنازة فرأی عمر امرأةً فصاح بها فقال النبی ﷺ دعها یا عمر....... (ابن ماجة:۱/ ۱۱٤، جنائز).

د فقهاوو عبارتونه وګورئ:

په درمختار کي راځي:

لابأس ...... بتعزیة أهله...... وبزیارة القبور ولو للنساء الحدیث «کنت نهیتکم عن زیارة البقور ألا فزورها».

په طحطاوي کي راځي:

قوله ولو للنساء ...... وقیل تحریم علیهن والأصح أن الرخصة ثابتة لهن،بحر. (طحطاوی علی الدر:۱/ ۳۸۳، کوئتة).

په فتاوی شامي کي راځي:

وقال الخير الرملي: إن كان ذلك لتجديد الحزن والبكاء والندب على ما جرت به عادتهن فلا تجوز، وعليه حمل حديث لعن الله زائرات القبور، وإن كان للاعتبار والترحم من غير بكاء والتبرك لزيارة قبور الصالحين فلا بأس إذا كن عجائز، ويكره إذا كن شواب كحضور الجماعة في المساجد .(شامى:٢٤٢، سعيد).

په مبسوط كي راځي:

وعن بريدة ﷺ أن رسول الله ﷺ قال : نهيتكم عن ثلاث : عن زيارة القبور ، فزوروها ، فقد أذن لمحمد في زيارة قبر أمه ، ولا تقولوا هجرًا ، وعن لحم الأضاحي فوق ثلاثة أيام ، فأمسكوه ما بدا لكم ، وتزودوا ، فإنما نهيتكم ليتسع به موسركم على معسركم ، وعن النبيذ في الدباء ، والحنتم ، والمزفت ، فاشربوا في كل ظرف ، فإن الظرف لا يحل شيئًا ، ولا يحرمه ، ولا تشربوا مسكرًا ...... ومن العلماء من يقول : الإذن للرجال، دون النساء ، والنساء يمنعن من الخروج إلى المقابر لما روي أن فاطمة ﷺ خرجت في تعزية لبعض الأنصار ، ...... لعلك أتيت المقابر قالت لا ......، والأصح أن الرخصة ثابتة في حق الرجال والنساء جميعًا .

فقد روي أن عائشة ﷺ كانت تزور قبر رسول الله ﷺ في كل وقت ، وأنها لما خرجت حاجةً زارت قبر أخيها عبد الرحمن ﷺ، وأنشدت عند القبر قول القائل : وكنا كندماني ...... الخ. (المبسوط:١٠/ ٢٤، الاشربة، ادارة القرآن).

په البحر الرائق كي راځي:

ولـم يتكلم الـمصنف رحمه الله على زيارة القبور ، ولا بأس ببيانه تكميلًا للفائـدة ......وصرح في الـمجتبى بأنـها مندوبـة، وقيـل: تـحرم عـلى النسـاء والأصـح أن الرخـصة ثابتةلـهمـا......
(البحر الرائق:٢/ ١٩٥، كوئتة).

په مراقي الفلاح کي راځي:

ندب زيارتـها من غير أن يطأ القبور للرجال، وقيـل تـحرم على النسـاء، الأصـح أن الرخـصة ثابتة للرجال والنساء: لأن السيدة فاطمة رضي الله عنها كانت تزور قبر حـمزة رضي الله عنه كل جـمعة، وكانـت عائشة رضي الله عنها تزور قبر أخيها عبد الرحـمن رضي الله عنه بمكة، كذا ذكـره البـدر العينـى رحمه الله فـى شرح البخارى. (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح:٦٢٠، قديمى).

اشکال او جواب:

اشکال: پر دې مسئله اشکال دا دئ چي په حديث کي ممانعت راغلی دئ وګورئ: لعن رسول الله ﷺ زائرات القبور. (ابو داؤد:١/ ٤٦١).

وفى رواية : لعن رسول الله ﷺ زوارات القبور. (ابن ماجة:١/ ١١٣). **د دې جواب څه دئ؟**

الجواب: پر لومړی روايت يعنی ((زائرات القبور)) **ډېر کلام موجود دئ او دوهم روايت يعني** لعن رسول الله ﷺ زوارات القبور **صحيح دئ لهذا مطلب به يې دا وي چي ډېر زيات تلل ممنوع دي چي د هغه خلاصه دا ده چي چيري چي د فتنې ېېره وي يا نور مفاسد وي مثلاً نوحه وغيره نو جائز نه ده که نه نفس جواز يې د پورتنی روايت له امله ثابت دي.**

شيخ الباني رحمه الله په احکام الجنائز کي پر ذکر سوی روايت په تفصيل سره کلام کړی دئ.

لا يـجوز لـهن الاكثار من زيارة القبور والتردد عليها، لان ذلـك قـد يـفضي بـهن إلى مـخالفة الشريعة، من مثل الصياح والتبرج واتـخاذ القبـور مـجالس للنزهـة، وتـضييع الوقـت في الكلام

الفارغ، كما هو مشاهد اليوم في بعض، البلاد الاسلامية، وهذا هو المراد إن شاء الله بالحديث المشهور: لعن رسول الله ﷺ وفي لفظ: لعن الله زوارات القبور.

وقد روي عن جماعة من الصحابة: أبو هريرة رضي الله عنه، حسان بن ثابت رضي الله عنه، وعبد الله ابن عباس رضي الله عنه.

١ - أما حديث أبي هريرة رضي الله عنه، فهو من طريق عمر بن أبي سلمة عن أبيه عنه، أخرجه الترمذي، وابن ماجه، وابن حبان، والبيهقي، والطيالسي، وأحمد، واللفظ الاخر للطيالسي والبيهقي، وقال الترمذي: حديث حسن صحيح، وقد رأى بعض أهل العلم أن هذا كان قبل أن يرخص النبي ﷺ في زيارة القبور، فلما رخص دخل في رخصته الرجال والنساء، وقال بعضهم: إنما كره زيارة القبور في النساء لقلة صبرهن وكثرة جزعهن.

قلت: ورجال إسناد الحديث ثقات كلهم، غير أن في عمر بن أبي سلمة كلامًا لعل حديثه لا ينزل به عن مرتبة الحسن، لكن حديثه هذا صحيح لما له من الشواهد الاتية.

٢ - وأما حديث حسان بن ثابت رضي الله عنه، فهو من طريق عبد الرحمن بن بهمان عن عبد الرحمن بن ثابث عن أبيه به. أخرجه ابن أبي شيبة، وابن ماجه، والحاكم، والبيهقي، وأحمد، وقال البوصيري في الزوائد: إسناده صحيح، رجاله ثقات،كذا قال: وابن بهمان هذا لم يوثقه غير ابن حبان، والعجلي، وهما معروفان بالتساهل في التوثيق، وقال ابن المديني فيه: لا نعرفه، ولذا قال الحافظ في التقريب: مقبول يعني عند المتابعة، ولم أجد له متابعًا، لكن الشاهد الذي قبله وبعده في حكم المتابعة: فالحديث مقبول.

٣ - وأما حديث ابن عباس رضي الله عنه، فهو من طريق أبي صالح عنه باللفظ الاول إلا أنه قال: زائرات القبور وفي رواية زوارات، أخرجه ابن أبي شيبة، وأصحاب السنن الاربعة، وابن حبان، والحاكم، والبيهقي والطيالسي، والرواية الاخرى لهما، وأحمد، وقال الترمذي: حديث حسن، وأبو صالح هذا مولى أم هاني بنت أبي طالب واسمه باذان، ويقال: باذام.

قلت: وهو ضعيف بل اتهمه بعضهم، وقد أوردت حديثه في (سلسلة الاحاديث الضعيفة) لزيادة تفرد بها فيه، وذكرت بعض أقوال الائمة في حاله فيراجع، فقد تبين من تخريج الحديث أن المحفوظ فيه إنما هو بلفظ زوارات لاتفاق حديث أبي هريرة رضي الله عنه وحسان رضي الله عنه عليه، وكذا حديث ابن عباس رضي الله عنه في رواية الاكثرين، على ما فيه من ضعف فهي إن لم تصلح للشهادة فلا تضر، كما لا يضر في الاتفاق المذكور الرواية الاخرى من حديث ابن عباس رضي الله عنه كما هو ظاهر، وإذا كان الامر كذلك فهذا اللفظ: « زوارات » إنما يدل على لعن النساء اللاتي يكثرن الزيارة. بخلاف غيرهن فلا يشملهن اللعن، فلا يجوز حينئذ أن يعارض بهذا الحديث ما سبق من الاحاديث الدالة على استحباب الزيارة للنساء، لانه خاص وتلك عامة، فيعمل بكل منهما في محله، فهذا الجمع أولى من دعوى النسخ، وإلى نحو ما ذكرنا ذهب، جماعة من العلماء، فقال القرطبي: اللعن المذكور في الحديث إنما هو للمكثرات من الزيارة لما تقتضيه الصيغة من المبالغة، ولعل السبب ما يفضي إليه ذلك من تضييع حق الزوج والتبرج، وما ينشأ من الصياح ونحو ذلك وقد يقال: إذا أمن جميع ذلك فلا مانع من الاذن لهن، لان تذكر الموت يحتاج إليه الرجال والنساء.

قال الشوكاني في (نيل الاوطار) (٤ / ٩٥): وهذا الكلام هو الذي ينبغي اعتماده في الجمع بين أحاديث الباب المتعارضة في الظاهر. (أحكام الجنائز للشيخ الألباني، ص ١٤٨). والله تعالى اعلم.

اووم............ فصل

د شهيد د احكامو بيان

كه په ظلم قتل كړل سي هغه شهيد دئ؟

سوال: كه يو غير مسلم يو مسلمان په دوكان يا بل شي كي قتل كړي نو د شهيد په حكم كي دئ او كه نه؟

الجواب: په دې صورت كي هغه مسلمان چي په ظلم قتل سوى وي هغه شهيد دئ يعني پر ده د شهيد احكام جاري كيږي لهذا ده ته به غسل نه وركول كيږي او په هغو وينو لړلو جامو كي به ښخيږي.

وګورئ په بدائع الصنائع كي راځي:

ولو نزل عليه اللصوص ليلًا في المصر فقتل بسلاح، أو غيره، أو قتله قطاع الطريق خارج المصر بسلاح، أو غيره فهو شهيد؛ لأن القتيل لم يخلف في هذه المواضع بدلًا هو مال ولو قتل في المصر نهارًا بسلاح ظلمًا بأن قتل بحديدة، أو ما يشبه الحديدة كالنحاس، والصفر، وما أشبه ذلك، أو ما يعمل عمل الحديد من جرح، أو قطع، أو طعن بأن قتله بزجاجة، أو بليطة قصب، أو طعنه برمح لا زج له، أو رماه بنشابة لا نصل لها، أو أحرقه بالنار، وفي الجملة كل قتل يتعلق به وجوب القصاص فالقتيل شهيد. (بدائع الصنائع: ١/ ٣٢١، فصل فی الشهيد، سعيد).

په درمختار كي راځي:

وهو كل مسلم طاهر ...... قتل ظلمًا بغير حق بجارحة أي بما يوجب القصاص ولم يجب بنفس القتل المال بل قصاص حتى لووجب المال بعارض كالصلح أو قتل الأب ابنه لاتسقط الشهادة. (الدر المختار:۲/ ۲٤۷، - والشامي:۲/ ۲٥۰، سعيد – وكذا في الفتاوى الهندية:۱/ ۱٦۷، الفصل السابع في الشهيد – وفتاوى محمودية:۹/ ۲۹٥، باب احكام الشهيد).

په بهشتي زېور کي ليکي:

د شهيد د کومو احکامو بيانول چي دلته مقصد دي هغه له هغه شهيد سره خاص دي چي په هغه کي دغه شرائط موجود وي.

۱_ مسلمان به وي.

۲_ مکلف يعنی عاقل او بالغ په وي.

۳_ دلوی بې اودسي څخه به پاک وي.

۴_ بې ګناه به وژل سوی وي.

۵_ په يوه زخمي کونکي آله به وژل سوی وي.

٦_ د دې قتل په سزا کي به ابتداءً د شريعت له لوري کوم مالي عوض نه وي تاکل سوی بلکي قصاص به واجب وي.

۷_ د زخم لګېدو څخه وروسته بيا يو کار لکه استراحت کول دژوند يوه ګټه پورته کول لکه خوراک، چيښاک، بيدېدل، دوا کول وغيره يې ونه کړل او نه يې د يوه لمانځه وخت د هوښ او حس په حالت کي تير کړ.

په کوم شهيد کي چي دغه ټول شرائط وموندل سي د هغه حکم دا دئ چي هغه ته به غسل نه ورکول کيږي او وينه به يې له جسم څخه نه ليري کيږي همدغه شان دي دی دفن کړي دوهم حکم دا دي چي کومي جامي چي يې اغوستي وي هغه دي د ده له جسم څخه نه ليري کوي، البته که يې جامي له سنت عدد څخه کمي وي نو د عدد مسنون د پوره کېدو له پاره دي نوري ور زياتي کړي او همدا ډول دي زايدي جامي ور څخه ليري کړي که په شهيد کي له دغو شرائطو څخه کوم شرط پيدا

نه سي نو ده ته به غسل هم ورکول کيږي او د نورو مړو په شان به نوي کفن هم ورغوستل کيږي. (بهشتی زيور: يوولسمه برخه:ص ۱۰۰). والله تعالیٰ اعلم.

د اوبو په طوفان کي د شهيدانو حکم

سوال: په طوفان کي چي کوم کسان شهيدان سي ځيني کسان د عثمان بن مظعون رضي الله عنه له حديث او د حضرت عائشي رضي الله عنها له حديث عصفور من عصافير الجنة څخه استدلال کوي او وايي چي دوی ته دي شهيدان نه وي کيږي ايا دا صحيح ده؟ ايا دوی ته شهيدان ويل کېدای سي او که نه؟

الجواب: هغه کسان چي په طوفان کي مړه سي هغو ته شهيدان ويل صحيح او درست دي ځکه غرق سوي هم د شهيد له اقسامو څخه يو قسم دي.

په حديث شريف کي راځي:

عن أبي هريرة رضي الله عنه: أن رسول الله ﷺ قال: الشهداء خمس المطعون والمبطون والغرق وصاحب الهدم والشهيد في سبيل الله. (رواه الترمذی:۱/ ۲۰٤، باب کاجاء فی الشهداء من هم، فيصل).

البته قطعي فيصله بيله وحي نه سي کېدای له همدې امله نبي کريم ﷺ قطعي فيصله کونکو ته تنبيه ورکړي ده، البته د ان شاء الله سره په شهيد بللو کي يې څه باک نه سته، لهذا اوس د دغو دواړو احاديثو له امله کوم اشکال نه پاته کيږي.

د حضرت عثمان بن مظعون رضي الله عنه روايت وګورئ.

وګورئ په بخاري شريف کي راځي:

عن ابن شهاب قال: أخبرني خارجة بن زيد بن ثابت رضي الله عنه أن أم العلاء امرأةً من الأنصار رضي الله عنها بايعت رسول الله ﷺ أخبرته أنهم اقتسم المهاجرون قرعةً قالت: فطار لنا عثمان بن مظعون رضي الله عنه وأنزلناه في أبياتنا فوجع وجعه الذي توفي فيه فلما توفي وغسل وكفن في أثوابه دخل رسول الله ﷺ قالت: فقلت رحمة الله عليك أبا السائب فشهادتي عليك لقد أكرمك الله

فقال رسول الله ﷺ وما يدريك أن الله أكرمه فقلت: بأبي أنت يا رسول الله فمن يكرمه الله فقال رسول الله ﷺ: أما هو فو الله جاءه اليقين والله إني لأرجو له الخير والله ما أدري وأنا رسول الله ما يفعل بي فقالت: والله لا أزكي أحدًا بعده أبدًا. (رواه البخارى:۲/ ۱۰۳۷/ ۶۷۳۳، باب رؤيا النساء).

« عصفور من عصافير الجنة » دا روايت وګورئ:

عن عائشة أم المؤمنين رضي الله عنها قالت دعى رسول الله ﷺ إلى جنازة صبى من الأنصار فقلت: يا رسول الله طوبى لهذا عصفورمن عصافير الجنة لم يعمل السوء ولم يدركه قال: « أوغير ذلك يا عائشة إن الله خلق للجنة أهلاً خلقهم لها وهم فى أصلاب آبائهم وخلق للنار أهلاً خلقهم لها وهم فى أصلاب آبائهم ». (رواه مسلم:۲/ ۳۳۷). والله تعالى اعلم.

د یوه نامعلوم په لاس سره د شهید سوي حکم

سوال: که یو څوک د یوه نامعلوم ظالم په لاس شهید سي نو هغه ته به غسل ورکول کیږي او که نه؟

الجواب: دا کس د شهید په حکم کي دئ لهذا د شهیدانو احکام به وربانـدي جاري کیږي یعني د احنافو په اند به غسل نه ورکول کیږي.

په مبسوط کي راځي:

ومن صار مقتولًا من جهة قطاع الطريق لم يغسل أيضًا لأنه قتل دافعًا عن ماله وقد قال ﷺ: « من قتل دون ماله فهو شهيد» فلهذا لا يغسل . (المبسوط:۲/ ۵۲، باب الشهيد، ادارة القرآن).

په هدايه کي راځي:

ومن قتله أهل حرب أو أهل البغي أو قطاع الطريق فبأي شيء قتلوه لم يغسل لأن شهداء أحد ما كان كلهم قتيل السيف والسلاح . (الهداية:۱/ ۱۸۳، باب الشهد، شركة علمية – ودرر الحكام شرح غرر الاحكام:۱/ ۱۶۹، باب الشهد).

په بهشتي زېور کي ليکي:

د شهيد د کومو احکامو بيانول چي دلته مقصد دي هغه له هغه شهيد سره خاص دي چي په هغه کي دغه شرائط موجود وي.

۱_ مسلمان به وي.

۲_ مکلف يعنی عاقل او بالغ په وي.

۳_ دلوی بې اودسي شخه به پاک وي.

۴_ بې گناه به وژل سوی وي.

۵_ په يوه زخمي کونکي آله به وژل سوی وي.

۶_ د دې قتل په سزا کي به ابتداءً د شريعت له لوري کوم مالي عوض نه وي تاکل سوی بلکي قصاص به واجب وي.

۷_ د زخم لگېدو شخه وروسته بيا يو کار لکه استراحت کول دژوند يوه گټه پورته کول لکه خوراک، چيښاک، بيدېدل، دوا کول وغيره يې ونه کړل او نه يې ديوه لمانځه وخت د هوښ او حس په حالت کي تير کړ.

په کوم شهيد کي چي دغه ټول شرائط وموندل سي د هغه حکم دا دئ چي هغه ته به غسل نه ورکول کيږي او وينه به يې له جسم شخه نه ليري کيږي همدغه شان دي دی دفن کړي دوهم حکم دا دي چي کومي جامي چي يې اغوستي وي هغه دي د ده له جسم شخه نه ليري کوي، البته که يې جامي له سنت عدد شخه کمي وي نو د عدد مسنون د پوره کېدو له پاره دي نوري ور زياتي کړي او همدا ډول دي زايدي جامي ورشخه ليري کړي که په شهيد کي له دغو شرائطو شخه کوم شرط پيدا نه سي نو ده ته به غسل هم ورکول کيږي او د نورو مړو په شان به نوې کفن هم ورغوستل کيږي. (بهشتي زيور: يوولسمه برخه:صـ ۱۰۰). والله تعالیٰ اعلم.

د شهیدانو اقسام

سوال: شهیدان څو قسمه دي او کوم کوم دي؟

الجواب: د شهیدانو ډېر قسمونه دي علامه سیوطي رحمه الله یوه ځانګړي رساله ابواب السعادة فی اسباب الشهادة لیکلي ده چي په هغو کي یې له (۴۵) څخه زیات اقسام بیان کړي دي.

وګورئ علامه لکهنوي په التعلیق الممجد کي فرمایي:

قد ورد في الأخبار عدد كثير لمن يجد ثواب الشهادة فمن ذلك (١) المقاتل المجاهد وهو أعلى الشهداء (٢) والمطعون (٣) والمبطون (٤) والغريق (٥) وصاحب ذات الجنب (٦) والحريق (٧) والتي تموت بجمع (٨) والذي يموت بهدم (٩) ومن يقصد الشهادة ويعزم عليه ولا يتفق له ذلك كما هو ثابت في حديثي الباب (١٠) وصاحب السل أخرجه أحمد من حديث راشد بن خنيس والطبراني من حديث سلمان رضي الله عنه (١١) والغريب أي المسافر بأي مرض مات أخرجه ابن ماجه من حديث ابن عباس رضي الله عنه والبيهقي في الشعب من حديث أبي هريرة رضي الله عنه والدارقطني من حديث ابن عمر رضي الله عنه والصابوني في المائتين من حديث جابر رضي الله عنه والطبراني من حديث عنترة رضي الله عنه، (١٢) وصاحب الحمى أخرجه الديلمي من حديث أنس رضي الله عنه، (١٣) واللديغ (١٤) والشريق (١٥) والذي يفترسه السبع (١٦) والخار عن دابته رواها الطبراني من حديث ابن عباس رضي الله عنه، (١٧) والمتردي أخرجه الطبراني من حديث ابن مسعود رضي الله عنه، (١٨) والميت على فراشه في سبيل الله من حديث أبي هريرة رضي الله عنه، (١٩) والمقتول دون ماله (٢٠) والمقتول دون دينه (٢١) والمقتول دون دمه (٢٢) والمقتول دون أهله أخرجه أصحاب السنن من حديث سعيد بن زيد رضي الله عنه، (٢٣) أو دون مظلمته أخرجه أحمد من حديث ابن عباس رضي الله عنه، (٢٤) والميت

في السجن وقد حبس ظلمًا رواه ابن مندة من حديث علي رضي الله عنه، (۲۵) والميت عشقًا وقد عف وكتم أخرجه الديلمي من حديث ابن عباس رضي الله عنه، (۲٦) والميت وهو طالب العلم أخرجه البزار من حديث أبي ذر رضي الله عنه، وأبي هريرة رضي الله عنه، (۲۷) والمرأة في حملها إلى وضعها إلى فصالها ماتت بين ذلك أخرجه أبو نعيم من حديث ابن عمر رضي الله عنه، (۲۸) والصابر القائم ببلد وقع به الطاعون أخرجه أحمد من حديث جابر رضي الله عنه، (۲۹) والمرابط في سبيل الله (۳۰) ومن قتل بأمره الإمام الجائر بالمعروف ونهيه عن المنكر (۳۱) ومن صبر من النساء على الغيرة أخرجه البزار والطبراني من حديث ابن مسعود رضي الله عنه، (۳۲) ومن قال كل يوم خمسًا وعشرين مرة : « اللّهم بارك لي في الموت وفي ما بعد الموت » أخرجه الطبراني من حديث عائشة رضي الله عنها، (۳۳) ومن صلى الضحى وصام ثلاث أيام من الشهر ولم يترك الوتر في السفر ولا الحضر أخرجه الطبراني من حديث ابن عمر رضي الله عنه، (۳٤) والمتمسك بالسنة عند فساد الأمة أخرجه الطبراني من حديث أبي هريرة رضي الله عنه، (۳۵) والتاجر الأمين الصدوق أخرجه الحاكم من حديث ابن عمر رضي الله عنه، (۳٦) ومن دعا في مرضه أربعين مرة : «لا إله إلا أنت سبحانك إني كنت من الظالمين » ثم مات أخرجه الحاكم من حديث سعد رضي الله عنه، (۳۷) وجالب طعام إلى بلد أخرجه الديلمي من حديث ابن مسعود رضي الله عنه، (۳۸) المؤذن المحتسب، أخرجه الطبراني من حديث ابن عمر رضي الله عنه، (۳۹) ومن سعى على امرأته أو ما ملكت يمينه يقيم فيهم أمر الله ويطعمهم من الحلال (٤۰) ومن اغتسل بالثلج فأصابه برد (٤۱) ومن صلى على النبي صلى الله عليه وسلم مائة مرة أخرج الأول ابن أبي شيبة في المصنف عن الحسن والثاني الطبراني في الأوسط من حديث أنس رضي الله عنه، (٤۲) ومن قال حين يصبح ويمسي :

اللّٰهم إني أشهدك أنك أنت الله الذي لا إله إلا أنت وحدك لا شريك لك وأن محمدًا عبدك ورسولك أبوء بنعمتك علي وأبوء بذنبي فاغفر لي إنه لا يغفر الذنوب غيرك » أخرجه الأصبهاني من حديث حذيفة رضي الله عنه، (٤٣) ومن قال حين يصبح ثلاث مرات : أعوذ بالله السميع العليم من الشيطان الرجيم ويقرأ ثلاث آيات من سورة الحشر أخرجه الترمذي من حديث معقل رضي الله عنه، (٤٤) ومن مات يوم الجمعة أخرجه حميد بن منجويه من حديث رجل من الصحابة (٤٥) ومن طلب الشهادة صادقًا أخرجه مسلم فهذه خمسة وأربعون ورد فيهم أن لهم أجر الشهداء، وقد ساق الأخبار الواردة فيها السيوطي رحمه الله في رسالته « أبواب السعادة في أسباب الشهادة » مع زيادة.

(التعليق المجد على مؤطا امام محمد مع تحقيق الدكتور تقى الدين ندوى:٢/ ٨٩، ٩٠، ٩١، باب مايكون من الموت شهادة، الدر السنة والسيرة بدمشق – وكذا فى مظاهر حق جديد:٢/ ٣٨، دار الاشاعت – ودليل الفالحين:٤/ ١٥٧، باب بيان جماعة من الشهداء فى ثواب الآخرة ويغسلون – والشامى:٢/ ٢٥٢، مطلب فى تعداد الشهداء، سعيد).

له يو څه زياتوني سره يې ترجمه وګورئ:

(۱) چې د الله جل جلاله په لاره کې وژل سوی وي هغه شهيد دئ، (۲) د طاعون په مريضي کې مړ شهيد دئ، (۳) د نس په مريضي يعنى د ستونه وي يا بله مريضي وي دغه هم شهيد دئ، (۴) په اوبو کې بې اختياره چې ډوب سي او مړ سي هغه هم شهيد دئ، (۵) د نمونيې په مريضي مړ شهيد دئ، (٦) که په اور کې وسوځل سي هغه شهيد دئ، (۷) پيغله يا د حمل په حالت کې مړه شهيده ده، (۸) تر دېواله او يا چت که لاندې سو او مړ سو هغه شهيد دئ، (۹) او د چا چې په اخلاص د شهادت تمنا او مينه وي مګر د شهادت موقع ورته نصيب نه وي د ده وخت پوره سي د شهادت تمنا يې په زړه کې وي له دنيا څخه رخصت سي دغه شيهد دئ، (۱۰) د دق يعنى تى بى په مريضي چې مړ سي شهيد

دئ، (۱۱) د سفر په حالت کي مړ سوی شهید دئ، (۱۲) په تبه کي مړ سوی شهید دئ، (۱۳) چي د زهر جن حیوان په وهلو سره مړ سي هغه شهید دئ، (۱۴) چي په ستونی کي اوبه بندي سي او مړ سي هغه شهید دئ، (۱۵) درندګان یعني زمری وغیره یې وخوري هغه شهید دئ، (۱٦) د طیاري په سفر کي چي له سپارلي ځخه ولویږي او مړ سي شهید دئ، (۱۷) کوم څوک چي اوبښ یاآس یې تر پښو لاندي کړي او هغه مړ سي یعنی په یوه حادثه کي مړ سي لکه د موټر د ټکر یا د طیاري وغیره دغه شهید دئ، (۱۸) د جهاد په دوران کي په خپل مرګ مړ سي هغه شهید دئ، (۱۹ – ۲۳) د خپل مال خپل دین خپلو وینو خپل اهل او عیال او حق په خاطر چي ووژل سي هغه شهید دئ، (۲۴) کوم څوک چي د وخت حاکم یې د ظلم او تشدد په توګه په بندي خانه کي واچوي او هلته مړ سي هغه شهید دئ، (۲۵) پرهېزګار عاشق چي عشق یې پټ کړی وي او په دغه حال کي مړ سي هغه شهید دئ، (۲٦) د علم په طلب کي چي مړ سي هغه شهید دئ، او د علم په طلب کي له مړه څخه هغه کس مراد دئ چي د علم په حصول او درس او تدریس کي مشغول وي یا په تصنیف او تالیف کي مصروف وي یا په یو علمي مجلس کي حاضر وي، (۲۷) کومه ښځه چي د حمل وروسته د کوچني تر پیدا ښته یا د کوچني له تی څخه د پرېکېدو تر وخته مړه سي هغه شهیده ده، (۲۸) په یو ښار کي طاعون خپور سي په دغه وخت کي په دغه ښار کي صبر وکړي پاته سي دغه شهید دئ، (۲۹) د اسلامي مملکت د سرحدونو د حفاظت په دوران کي چي مړ سي هغه شهید دئ، (۳۰) کوم څوک چي د یو ظالم حکمران په وړاندي ودرېږي هغه ته د ښه او نیک کار د کولو حکم وکړي او له بد کار څخه یې منع کړي او هغه حاکم دی ووژني نو شهید دئ، (۳۴) کومي ښځي چي د خپلي ښي په موجودیت کي د صبر څخه کار اخیستی وي دې ته به د شهید درجه ورکول کیږي، (۳۵) رښتوني او امانت دار تاجر به د قیامت په ورځ د شهیدانو سره وي، (۳٦) کوم مسلمان چي په خپله مریضي کي د حضرت یونس علیه السلام دغه دعاء چي لا اله الا انت سبحانک انی کنت من الظالمین څلوېښت ځله ووایي، او په دغه مریضي کي مړ سي نو ده ته به د شهید ثواب ورکول کیږي، (۳۷) څوک چي مسلمانانو ته غله راوړي شهید دئ، (۳۸) ښیله مزدوري چي یوازي د الله جل جلاله د رضا له پاره اذان کوي دغه مؤذن شهید دئ، (۳۹) څوک چي د خپل اهل او عیال او خپل مریي او مینځي له پاره مال ګټي شهید دئ، (۴۰) په یخ کي د غسل کولو له امله یې یخ مړ کړي هغه شهید دئ، (۴۱) نبي

کریم ﷺ فرمایي، څوک چي پر ما یو ځل درود ووایي الله تعالی به سل ځله خپل رحمت وربانديي نازلوي او څوک چي پر ما سل ځله درود وایي الله تعالی به یې د دواړو سترګو تر منځ برات یعنی د نفاق او اور څخه نجات لیکي او الله ﷻ به یې د قیامت په ورځ په شهیدانو کي داخل کړي، (۴۲) څوک چي سهار او ماښام دغه دعاء لولي هغه شهید دئ، « اللّٰهم إني أشهدك أنك أنت الله الذي لا إله إلا أنت وحدك لا شريك لك وأن محمدًا عبدك ورسولك أبوء بنعمتك علي وأبوء بذنبي فاغفر لي إنه لا يغفر الذنوب غيرك »

(۴۳) څوک چي د سهار په وخت کي درې ځله اعوذ بالله السمیع العلیم من الشطین الرجیم او د سورة حشر اخرنی درې ایاتونه وایي، الله ﷻ به ورسره اویا زره ملکي مقرري کړي او دغه ملکي به د ده له پاره تر ماښامه د بخښني دعاء کوي او هغه سړی که په دغه ورځ کي مړ نو مرګ به یې د شهید وي او څوک چي ماښام دغه ایاتونه وایي، هغه به هم د دغه اجر مستحق وي، (۴۴) څوک چي د جمعې په شپه مړ سي هغه شهید دئ، (۴۵) څوک چي د زړه د اخلاصه د شهادت غوښتنه وکړي او مړ سي هغه شهید دئ، (۴۶) دا هم نقل سوی ده چي څوک چي د میرګي په مریضي مړ هغه شهید دئ، (۴۷) څوک چي د حج او عمرې په دوران کي مړ سي هغه شهید دئ، (۴۸) څوک چي په اوداسه سره مړ سي هغه شهید دئ، (۴۹) همدا ډول د رمضان په میاشت کي په بیت المقدس کي په مکه او یا مدینه کي چي مړ سي هغه شهید دئ، (۵۰) د ډنګر والی په مریضي چي مړ سي هغه شهید دئ، (۵۱) څوک چي په کومه بلا او افت کي مبتلاء وي او په هغه کي صبر وکړي او مړ سي هغه شهید دئ، (۵۲) څوک چي سهار او ماښام له مقالید السماوات والارض وایي، هغه شهید دئ، (۵۳) نقل سوی دي چي څوک چي د نوې کالو په عمر مړ سي هغه شهید دئ (۵۴) د پیرې او اسیب څخه چي ومری شهید دئ، (۵۵) په داسي حال کي مړ سي چي مور او پلار ورڅخه خوشحاله وي، (۵۶) یا یوه نیک بخته ښځه په داسي حال کي مړ سي چي خاوند ورڅخه خوشحال وي نو دا شهیده ده، (۵۷) همدا ډول عادل حاکم او پادشاه او شرعي قاضي یعني هغه قاضي چي همېشه د حق او انصاف په رڼا کي فیصله کوي که مړ سي شهید دئ، (۵۸) کوم مسلمان چي د بل کمزوری مسلمان سره د خیر ښیګڼي معامله وکړي هغه هم شهید دئ، (۵۹) که په یوه کنده کي مړ سي شهید دئ، (۶۰) کوم

کس په یوه کښتۍ کي کښيني او د سفر په دوران کي په قی وهلو مبتلاء وي نو دغه ته هم د شهید اجر ورکول کيږي، (٦١) کوم کس چي خپل ژوند په مېلمه پالنه کي تير کړي هغه هم شهيد دئ، (٦٢) کوم څوک چي د جنګ په میدان کي زخمي سي فوراً مړ نه سي لږ تر لږه دومره ژوندی وي چي ددنیا له کوم شي څخه نفع واخلي هغه هم شهيد دئ.

حضرت شیخ رحمه الله فرمايي، چي د شهيدانو تعدا شپيته ته نژدې دئ وګورئ په اوجزء المساک کي راځي.

وهكذ كما رأيت ترتقى الشهداء الى قريب من ستين. (اوجزء المسالک إلى مؤطا مالک: ٤/ ٥٤٧، باب النهي عن البكاه على الميت، دمشق). والله تعالى اعلم.

متفرقات الجنائز

په ناسته پر چوکۍ د جنازې د لمانځه حکم

سوال: يوه سړي تر مرګ مخکي دا وصيت وکړئ چي زما د جنازې لمونځ به فلانی شخص ورکوي څرنګه چي هغه کس کله نور لمنځونه د عذر په سبب پر چوکۍ کوي، نو معلوم خبره ده چي د جنازې لمونځ به هم په ناسته پر چوکی کوي ايا دا روا دئ او که نه؟

الجواب: امام که چيري د عذر په سبب د جنازې لمونځ په ناسته وکړي، نو لمونځ د جنازې روا او صحيح دئ لهذا په ياد پوښتل سوي صورت کي چي کله هغه کس د عذر له کبله د جنازې لمونځ په ناسته ورکوي نو لمونځ يې صحيح کيږي.

وګورئ په ردالمحتار کي راځي:

ولو كان الولي مريضا فصلى قاعدا والناس قياما، أجزأهم عندهما، وقال محمد : تجزي الإمام فقط (الشامی: ٢/ ٢٠٩، سعيد، مطلب هل يسقط فرض الكفاية بفعل الصبی).

په جوهر النيره کي دي:

وإن كان ولي الـميت مريضا فصلى قاعدا وصلى الناس خلفه قياما، أجزأهم عندهما .

(الجوهرة النيرة:١/ ١٢٩، باب الجنائز، امدادية، ملتان).

په مراقي الفلاح كي دي:

وغير قاعد بلا عذر، لأن القيام فيها ركن، فلا يترك بلا عذر، وفى الطحطاوى: أما بالعذر فتصح كما إذا كان مريضا، ولو إماما فصلى قاعدا والناس خلفه قياما أجزأه عندهما.... ولافرق فى المصلى قاعدا بعذر بين كونه وليا أو لا، لأن كون الولى له حق التقدم لا يمنع سقوط الفرض بغيره، ولو بدون إذانه، وإنما الولى له حق الإعادة، وحينئذ فلا فرق بسقوط الفرض غير الولى بين أن يكون قائما، أو قاعدا لعذر. (مراقى الفلاح مع حاشية الطحطاوى:ص ٥٨٣، قديمى).

د طحطاوي د عبارت څخه معلومېږي چي په ردالمحتار کي چي کوم قيد د ولي راغلی دئ دا اتفاقي دئ، د دې وجهی څخه علامه طحطاوی رحمه الله وايي چي د عذر په سبب په ناسته لمونځ کول روا دئ دا د مړي ولي وي او که غير ولي وي؟ همدا راز د ولي په اجازه سره وي او که د ولي د اجازې پرته وي؟ البته که چيري د ولي د اجازې پرته لمونځ ورکول سوی وو نو د ولي له پاره د لمانځه د راګرځولو حق سته خو د نورو لمونځ صحيح دئ او په دې وجه د دوی په لمانځه کي کوم خلل نسته.

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (البحر الرائق:٢/ ١٧٩، كوئتة –وتبيين الحقائق:١/ ٢٤٢، وبدائع الصنائع:٢/ ٣١٥، سيعد، والفتاوى الهندية:١/ ١٦٤). والله تعالى اعلم.

په يوه سړي د جنازې ورکولو حکم

سوال: که چيري يوه سړي يوازي مړي ته د جنازې لمونځ ورکړئ او بل کس ورسره نه وو نو لمونځ راګرځول واجب دي او که نه؟

الجواب: د يوه سړي د جنازې لمونځ ورکول صحيح دي نارينه وي او که ښځه لهذا په پورتني صورت کي د لمانځه راګرځول واجب نه دي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

فلو أم بلا طهارة والقوم بـها (أي بالطهارة) أعيدت وبعكسه لا، أى لاتعاد كما لو أمت امراة أو امة لسقوط فرضها بواحد . وفى الشامية: قوله لسقوط فرضها بواحد، أي بشخص واحد رجلا كان أو امرأة، فهو تعليل لمسألة العكس، ومسألة المرأة قال في البحر والحلية: وبهذا تبين أنه لا تجب صلاة الجماعة فيها، ومثله في البدائع. (الدر المختار مع الشامى:۲/ ۲۰۸، مطلب فى صلاة الجنازة، سعيد).

په فتاوی هنديه کي راځي:

والصلاة على الجنازة تتأدى بأداء الإمام وحده؛ لأن الجماعة ليست بشرط الصلاة على الجنازة، كذا في النهاية . (الفتاوى الهندية:۱/ ۱٦۲، الفصل الخامس فى الصلاة على الميت).

همدا ډول وګورئ: (البحر الرائق:۲/ ۱۷۹، کوئتة- وبدائع الصنائع:۱/ ۳۱۵، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د جنازې په لمانځه کي د نابالغه امامت

سوال: که نابالغه د جنازې لمونځ ورکړئ صحيح کيږي او که نه؟

الجواب: په پورتني صورت کي د نابالغه امامت نه صحيح کيږي البته که چيري کوچني يوازي لمونځ ورکړي علامه شامی رحمة الله عليه او محقق ابن الهمام رحمة الله عليه ودې ته ترجيح ورکړې ده، چي د نورو څخه وجوب ساقطيږي، البته ځينی حضرات بيا وايي، چي د کوچني په لمانځه ورکولو سره د نور پر ذمه د لمانځه وجوب پاته دئ لکه علامه طحطاوي رحمة الله عليه چي وايي:

وګورئ درمختار کي راځي:

وبقى من الشروط بلوغ الإمام، تأمل. وقال الطحطاوى: قوله تأمل: أشار بذلک إلى وجه اشتراط البلوغ وذلک أن صلاة الجنازة لايتنفل بـها، والصبى لايقع فعله فرضا، فلا تصح

صلاة من اقتدی بـه لعـدم صحة اقتداء المفترض بالمتنفل، ولا صلاته لعدم وقوعها فرضا. (حاشية الطحطاوی على الدر المختار: ۱/ ۳۷۱، کوئتة).

او علامه شامي رحمه الله وايي چي د کوچني امامت نه صحيح کيږي ځکه دا مامت له پاره بلوغ شرط دئ نو ځکه د مقتديانو لمونځ صحيح نه دئ او د کوچني خپل لمونځ صحيح دئ او د لمانځه وجوب ساقط دئ ځکه په شريعت کي ډېري داسي نمونې سته چي د کوچني په ادا کولو سره د نور څخه يې وجوب ساقطيږي يعنی کوچنی د واجب د ادا کولو اهل دئ. د دې له پاره څو نمونې په لاندي ډول دي:

۱_ و څو کسانو ته سلام ورېل سو که کوچني د سلام جواب ورکړي نو کفايت کوي.

۲_ اذان د ځينو علماوو په آند واجب دئ او مشهوره خبره دا ده چي مؤکد سنت دئ او س که مراحق (بلوغ ته رسېدونکی) اذان وکي د فقهاوو په اند صحيح کيږي.

۳_ که کوچني د جمعې د لمانځه خطبه ووايي او بالغ لمونځ ورکړي صحيح کيږي که څه هم د جمعې د لمانځه د صحت له پاره خطبه شرط ده.

۴_ که کوچني ومړي ته غسل ورکړي د نورو څخه يې وجوب ساقط دئ.

۵_ د کوچني اقرار کول په شهادتنيو سره معتبر دئ.

۶_ د کوچنی ذبح (حلالول) صحيح کيږي په دې شرط چي حلالول او تسميه (بسم الله) ورته معلومه وي همدا راز د کوچني د جنازې لمونځ صحيح دئ او وجوب ساقطيږي.

وګورئ علامه شامي رحمه الله فرمايي:

قال الأسروشني: الصبي إذا أم في صلاة الجنازة ينبغي أن لا يجوز وهو الظاهر لأنها من فروض الكفاية، وهو ليس من أهل أداء الفرض، ولكن يشكل برد السلام إذا سلم على قوم فرد صبي جواب السلام. أقول: ويشكل على ذلك ما مر من مسألة السلام، وتصريحهم بجواز أذان الصبي المراهق بلا كراهة مع أنه قيل بأن الأذان واجب، والمشهور أنه سنة مؤكدة قريبة من

الواجب في لحوق الإثم، وتصريحهم بأنه لو خطب صبي له منشور يوم الجمعة، وصلى بالناس بالغ جاز، وتصريحهم بأنه تحل ذبيحته إذا كان يعقل الذبح والتسمية أي يعلم أنها مأمور بها، وكذا ما صرح به الأسروشني من أن الصبي إذا غسل الميت جاز، ولعل معنى قولهم إنه ليس من أهل الوجوب، أنه غير مكلف به، ولا ينافي ذلك وقوعه واجبا، وسقوط الوجوب عن المكلفين بفعله يؤيد ذلك ما صرح به في الفتح من باب المرتد، من أنهم اتفقوا على أن الصبي لو أقر بالشهادة يقع فرضا ويلزمه تجديد إقرار آخر بعد البلوغ حتى على قول من ينفي وجوب الإيمان على الصبي فصار كالمسافر لا تجب الجمعة عليه، ولو صلاها، سقط فرضه، ...... والاكتفاء بأذانه وخطبته، وتسميته ورده السلام دليل على الاكتفاء بصلاته على الجنازة ...... ومن هذا يظهر أنه لا تصح إمامته في الجنازة أيضا وإن قلنا بصحة صلاته وسقوط الواجب بها عن المكلفين، لأن الإمامة للبالغين من شروط صحتها البلوغ، هذا ما ظهر لي في تقرير هذا المحل، فاغتنمه فإنك لا تظفر به في غير هذا الكتاب، والحمد لله الملك الوهاب. (الشامی: ۱/ ۵۷۷، مطلب الواجب كفاية هل يسقط بفعل الصبی وحده؟ سعید – و ۲/ ۲۰۸، مطلب هل يسقط فرض الكناية بفعل الصبی؟ سعید – وكذا فی جامع احكام الصغر علی هامش جامع الفصولين: ۱۶، اسلامی کتب خانه).

علامہ ابن ہمام رحمہ اللہ ((التحریر فی اصول الفقه)) کی فرماتے ہیں:

واعلم أنه إذا قيل صلاة الجنازة واجبة أي فرض على الكفاية كما صرح به غير واحد من الحنفية والشافعية وحكوا الإجماع عليه فقد يستشكل بفعل الصبي، والجواب عن هذا بما

تقدم من أن المقصود الفعل وقد وجد، لا يدفع الوارد من لفظ الوجوب فإنه لا وجوب على الصبي .(التحرير فی اصول الفقه مع التقرير والتحبير:۲/ ۱۷۶، باب فی الاحکام، بیروت).

همداسي علامه شامي رحمه الله په منحة الخالق کي فرمايي:

أقول: وظاهر كلام التحرير السقوط أي (سقوط الوجوب) حيث ذكر الحكم ولم يعزه للشافعية، تأمل. (منحة الخالق حاشية على البحر الرائق:۲/ ۱۷۹، فصل السلطان احق بصلاته، کوئتة).

په بهشتی زیور کي دي:

که يو کس د جنازې لمونځ ورکړي نو فرض يې ادا سو هغه که نارينه وي او که ښځه، بالغ وي او که نابالغ وي. (بهشتی زیور:حصه ۹۳).

همداسي وګورئ: (لامع الدراری:۲/ ۱۲۳). والله تعالیٰ اعلم.

د مړي د ايصال ثواب له پاره نغدي پيسې، ډوډئ، د قرآن کريم ختم او د داسي نورو اړوند احکام

سوال: د مړی د ايصال ثواب له پاره نقدي پيسې، ډوډئ يا د قرآن کريم ختم او داسي نور روا دي او که نه؟

الجواب: د اهل سنت والجماعت په أند انسان کولای سي چي خپل عبادت او داسي نور مړي ته وبخښي نو ځکه په مړي پسي د خوراکي شی خيراتول، نغدي پيسې يوه چا ته ورکول او يا د قرآن کريم ختم کول دا ټول روا دي بلکي ښه دي البته د رسم او رواج ځخه به سړی ځان ساتي .

وګورئ هدايه کي راځي:

الأصل في هذا الباب أن الإنسان له أن يجعل ثواب عمله لغيره صلاة أو صوما أو صدقة أو غيرها عند أهل السنة والجماعة، لما روي عن النبي ﷺ أنه ضحى بكبشين أملحين أحدهما عن نفسه والآخر عن أمته ممن أقر بوحدانية الله تعالى وشهد له بالبلاغ.

(الهداية:۱/ ۲۹۶، باب الحج عن الغير).

په فتاوى شامي كي راځي:

قوله بعبادة ما: أي سواء كانت صلاة أو صوما أو صدقة أو قراءة أو ذكرا أو طوافا أو حجا أو عمرة، أو غير ذلك من زيارة قبور الأنبياء عليهم الصلاة والسلام والشهداء والأولياء والصالحين، وتكفين الموتى، وجميع أنواع البر كما في الهندية . وقدمنا في الزكاة عن التاترخانية عن المحيط الأفضل لمن يتصدق نفلا أن ينوي لجميع المؤمنين والمؤمنات لأنها تصل إليهم ولا ينقص من أجره شيء . (الشامى:٢/ ٥٩٥، مطلب فى اهداء ثواب الاعمال للغير، سعيد).

په حديث شريف كي راځي:

عن عائشة ﵂ أن رجلا قال للنبي ﷺ إن أمي افتلتت نفسها وأراها لو تكلمت تصدقت أفأ صدق عنها؟ قال: نعم، تصدق عنها. (رواه البخارى:١/ ١٨٦، و١/ ٣٨٦- ومسلم:١/ ٤١/ ١٠٠٤).

په ابو داؤد شريف كي راځي:

عن معقل بن يسار ﵁ قال: قال رسول الله ﷺ: اقرء وايس على موتاكم. (رواه أبو داؤد:٢/ ٤٤٥، باب القرءة عند الميت).

په ارشاد السارى كي راځي:

اعلم أن الأصل فى هذا أن للإنسان أن يجعل ثواب علمه لغيره من الأموات والأحياء حجا أو صلاة او صوما أو صدقة او غيرها كتلاوة القرآن وسائر الأذكار، فإذا فعل شيئا من هذا، وجعل ثوابه لغيره جاز بلا شبهة، ويصل إليه عند أهل السنة والجماعة. (ارشاد السارى الى مناسك الملا على القارى:ص ٤٧٥، باب الحج عن الغير، بيروت).

په الفقه الاسلامي کي راځي:

رأى الحنفية والحنابلة ومتأخرى الشافعية والمالكية بوصول القراءة للميت إذا كان بحضرته أو دعا له عقبها ولو غائبا. (الفقه الاسلامى وادلته:۲/ ۵۵۱، دار الفكر).

من مر على المقابر وقرأ قل هو الله أحد إحدى عشرة مرة ثم وهب أجره للأموات أعطى من الأجر بعدد الأموات. (من فضائل سورة الاخلاص وما لقارئها:۱/ ۱۰۲/ ۵٤).

لکه په فتاوی محمودیه چي ليکي:

مړي ته د ثواب رسولو په نيت څه کول ډېر ښه دي، هغه که د قرآن کريم ختم وي که لمونځ وي او که نور تسبيحات وي او يا مسکينانو ته ډوډۍ ورکړي يا کالي او يا داسي نور څه ورکړي. (فتاوى محموديه:۹/ ۲۷۱، مبوب ومرتب). والله تعالى اعلم.

د روژې په حالت کي د مرګ فضيلت

سوال: د روژې په حالت کي مړ کېدل څه فضيلت لري او که نه؟ او خلک دا د بخښني او ثواب لامل بولي د دې له پاره څه اصل سته او که نه؟

الجواب: د روژې په حالت کي مړ کېدل دا د بخښني او ثواب لامل دئ او د دې فضيلت په ډېرو احاديثو کي سته. چي ځيني يې په لاندي ډول دي:

په حديث شريف کي راځي:

من مات صائما أوجب الله تعالى له الصيام إلى يوم القيمة. (الفردوس بماثور الخطاب:۳/ ۵۰٤/ ۵۵۵۷، عن عائشة).

په مسند ابى يعلى کي راځي:

عن أبي هريرة رضي الله عنه: أن عائشة رضي الله عنها حدثتهم أن النبي ﷺ كان يصوم شعبان كله قالت.
قلت: يارسول الله أحب الشهور إليك أن تصومه شعبان؟ قال: إن الله يكتب على كل نفس
ميتة تلك السنة فأحب أن يأتيني أجلي وأنا صائم. (مسند أبى يعلى الموصلى:٤/ ٤٣٩/ ٤٨٩٥).

قال في المجمع: فيه مسلم بن خالد الزنجى فيه كلام، وقد وثق، وفى الصحيح طرف منه.
(مجمع الزوائد:٣/ ١٩٢، باب الصيام فى شعبان، دار الفكر).

علامه سيوطي رحمة الله عليه په شرح الصدور كي څو روايات ذكر كړي دي چي له هغو څخه معلوميږي چي د روژې په حالت كي وفات د ثواب او مغفرت باعث دئ.

وګورئ په شرح الصدور كي راځي:

باب أحسن الأوقات للموت: وأخرج أبو نعيم عن إبن مسعود رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: من وافق موته عند إنقضاء رمضان دخل الجنة، ومن وافق موته عند إنقضاء عرفة دخل الجنة، ومن وافق موته عند إنقضاء صدقة دخل الجنة. (حيلة الاولياء:٥/ ٢٣ – وكنز العمال:١٥/ ٦٨٧/ ٤٢٧٠١ – وفيض القدير:٦/ ٣٠٥/ ٩٠٧١). وأخرج أحمد عن حذيفة رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ من قال: لا إله إلا الله إبتغاء وجه الله، ختم له بها، دخل الجنة ومن صام يوما إبتغاء وجه الله ختم له به دخل الجنة، ومن تصدق بصدقة إبتغاء وجه الله ختم له بها دخل الجنة. وأخرج أبو نعيم عن خيثمة قال كان يعجبهم أن يموت الرجل عند خير يعمله إما حج وإما عمرة وإما غزوة وإما صيام رمضان. (حلية الاولياء:٤/ ١١٥) – (شرح الصدور بشرح احوال الموتى والقبور:٣٠٦).

او همدا راز دا هم ثابته ده چي په كوم حالت كي مړ سو په هغه حالت كي به راپورته كيږي.

وګورئ په مسند احمد كي راځي:

عن جابر رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: يبعث كل عبد على مامات عليه. (مسند احمد:۳/ ۳۳۱، مسند جابر).

په فتاوى واحدى كي راځي:

سوال: ما حكم الصائم إذا مات في الصوم؟

جواب: الظاهر أن الصائم إذا مات حالة الصوم يكتب صائما إلى يوم القيمة، لما في الحديث عن عائشة رضي الله عنها قالت: قال رسول الله ﷺ: « من مات صائم أوجب الله له الصيام إلى يوم القيمة» . رواه الديلمي، وكان السلف يعجبهم الموت عند الصوم.... هذا وأنت خبير بأن موت الصائم في سبيل الله لكونه في طاعة الله ففي البحر فسره أي في سبيل الله في البدائع بجميع القرب فيدخل فيه من سعى في طاعة الله وسبيل الخيرات، وقد ورد في الحديث من مات في سبيل الله فهو شهيد. رواه مسلم. فعلى هذا إذا مات الصائم يصدق عليه اسم الشهيد كما لا يخفى.... (فتاوى واحدى:جلد اول:۳۱٤، كتاب الصوم، كوئټه).

نو دا ځومره نېكبختي ده چې يوه سړى د قيامت په ورځ د الله ﷻ په حضور كي روژه نيونكى حاضر سي. الله ﷻ دي موږ ټولو ته داسي مرګ را نصيب كړي. والله تعالى اعلم.

پر قبر د اذان كولو حكم

سوال: **په ځينو سيمو كي پر قبر د اذان كولو رواج دئ د دې شرعي حكم څه شى دئ؟**

الجواب: **پر قبر باندي اذان كول د نبي كريم ﷺ، صحابهٔ كرامو او تابعينو څخه ثابت نه دئ نو ځكه فقهاوو بدعت ورته ويلي دي.**

وګورئ په فتح القدير كي راځي:

ويكره ...... وكل ما لم يعهد من السنة والمعهود منها ليس إلا زيارتها والدعاء عندها

قائما كما كان يفعل ﷺ في الخروج إلى البقيع. (فتح القدير:٢/ ٤٢، قبيل باب الشهيد، دار الفكر-

وكذا في الهندية:١/ ١٦٦ - والبحر الرائق:٢/ ١٩٦، كوئتة).

په فتاوى شامي کي راځي:

في الاقتصاد على ما ذكر من الوارد إشارة إلى أنه لا يسن الأذان عند إدخال الميت في قبره

كما هو المعتاد الآن، وقد صرح ابن حجر رحمة الله عليه في فتاويه بأنه بدعة وقال: ومن ظن أنه سنة

قياسا على ندبهما للمولود إلحاقا لخاتمة الأمر بابتدائه فلم يصب. (الشامي:٢/ ٢٣٥، سعيد).

په احسن الفتاوى کي راځي:

اذان على القبر په کوم شرعي دليل ثابت نه دئ ځکه نو بدعت دئ په توشيح شرح تنقيح کي ېې هم اذان على القبر ليس بشي ليکلي دئ. (احسن الفتاوى:١/ ٣٣٧). والله تعالى اعلم.

د جنازې په حالت کي د حيله اسقاط حکم

سوال: په ځينو سيمو کي د جنازې پر وخت د اسقاط ګرځولو طريقه رواج ده او هغه په داسي شکل چي د خلکو حلقي جوړي کړي او څه پيسې او صابون او داسي نور څه د ځان سره واخلي يو او بل ته يې سره بخښي دا کار څو واري وکړي او دا وايي چي په دې سره د مړي په زرونه لمنځونه او ډېري روژې ساقطيږي او د دې حواله وځينو کتابونو ته ورکوي لکه عالمګيري او داسي نور ايا داسي اسقاط کوم ګټه لري او که نه؟

الجواب: د حيله اسقاط ګرځولو طريقه روا ده او د دې له پاره دلائل هم موجود دي البته د دې د مشروعيت له پاره څه شرائط سته چي هغو عملي کول ډېر ضروري دي او د نه عملي کولو په صورت کي نه د مړي ذمه فارغيږي او نه ورته څه ګټه رسوي. په دې صورت کي پر ځای د دې چي دا وسي بايد د دې ختم کېدل وسي څه شرائط په لاندي ډول دي:

١ _ د وصيت نه کولو په صورت کي به په ميراث وړونکو کي کوچنی يا غائب نه وي ځکه د دوی د مال څخه تبرع کول روا نه دي.

۲_ په دې قطار یا دائره کې به یوازې مسکینان وي او غني ته په ورکولو سره ذمه نه خلاصيږي.

۳_ مسکین به په رښیتې توګه د دې شي مالک ګرځي او یوازې په خوله مالک جوړول کفایت نه ورته کوي.

کما صرح به ابن عابدين فی منة الجليل حيث قال: ويجب أن يدفعها حقيقة لاتحيلا ملاحظا أن الفقير إذا أبى عن الهبة إلى الوصي كان له ذلک ولايجبر على الهبة. (رسائل ابن عابدين:۱/ ۲۲۵، منة الجليل لبيان اسقاط ما على الذمة من كثير وقليل. (فتاوی فریدیه:۲/ ۶۰۵-۶۱۰).

په فتاوی هندیه کې راځي:

إذا مات الرجل وعليه صلوات فائتة فأوصى بأن تعطى كفارة صلواته يعطى لكل صلاة نصف صاع من بر ...... وإن لم يترك مالا يستقرض ورثته نصف صاع ويدفع إلى مسكين ثم يتصدق المسكين على بعض ورثته ثم يتصدق ثم وثم حتى يتم لكل صلاة ما ذكرنا، كذا في الخلاصة . (الفتاوى الهندية:۱/ ۱۲۵، الباب الحادى عشر فى قضاء الفوائت، مسائل متفرقة).

په درمختار کې راځي:

ولو مات وعليه صلوات فائتة وأوصى بالكفارة يعطى لكل صلاة نصف صاع من بر كالفطرة...... ولو لم يترک مالا يستقرض وارثه نصف صاع مثلا ويدفعه لفقير ثم يدفعه الفقير للوارث ثم وثم حتى يتم. (الدر المختار:۲/ ۷۲، باب قضاء الفوائت، سعيد). والله تعالی اعلم.

د برات پر پنځلسمه د زیارتونو کولو حکم

سوال: د برات پر پنځلسمه د قبرونو د زیارت کول ثابت دي او که نه؟

الجواب: د برات پر پنځلسمه وزیارتونو ته د نبي کریم ﷺ تلل په یوه ضعیف روایت سره ثابت دي البته که چیرې یو سړی کله کله ولاړ سي دا صحیح ده خو دا به د ځان له پاره لازم نه ګرځوي همدا راز د زیارت له پاره تلل دا د پنځلسې د شپې خصوصیت نه دئ بلکې په صحیح حدیثونو دا ثابت ده

چي نبي کريم ﷺ به د شپې په وروستی برخه کي و هدېري ته تلئ نو له همدې کبله کله چي موق
پیدا سوه بیله کوم تخصیصه په کار ده چي د مړګ دیادېدولو او د مړو د بخښني غوښتلو له پار
وهدېري ته ولاړ سي.

وګورئ په ترمذي شريف کي راځي:

عن عائشة رضي الله عنها: قالت فقدت رسول الله ﷺ ليلة فخرجت فإذا هو بالبقيع فقال: أكنت تخافين أن يحيف الله عليك ورسوله ؟ قلت: يا رسول الله إني ظننت أنك أتيت بعض نسائك فقال: إن الله تبارك وتعالى ينزل ليلة النصف من شعبان إلى السماء الدنيا فيغفر لأكثر من عدد شعر غنم كلب. قال أبو عيسى: حديث عائشة لا نعرفه إلا من هذا الوجه من حديث الحجاج وسمعت محمدا يضعف هذا الحديث وقال: يحيى بن أبي كثير لم يسمع من عروة و قال محمد: الحجاج لم يسمع من يحيى بن أبي كثير. (رواه الترمذي:۱/ ۱۵٦، باب ماجاء فی ليلة النصف من شعبان).

د پنځلس د شپې په پرتله دعامو شپو زيارت په صحيح رواياتو ثابت دئ.

وګورئ په مسلم شريف کي راځي:

عن عائشة رضي الله عنها أنها قالت: كان رسول الله ﷺ كلما كان ليلتها من رسول الله ﷺ يخرج من آخر الليل إلى البقيع فيقول: « السلام عليكم دار قوم مؤمنين وأتاكم ما توعدون غدا مؤجلون وإنا إن شاء الله بكم لاحقون، اللهم اغفر لأهل بقيع الغرقد ». (رواه مسلم:۱/ ۳۱۳).

په فتاوی هنديه کي راځي:

وأفضل أيام الزيارة أربعة: يوم الإثنين، والخميس، والجمعة، والسبت..... وكذا الليالي المتبركة لاسيما ليلة براءة. (الفتاوى الهندية:۵/ ۳۵۰).

مفتي محمد تقی عثماني صاحب د خپل محترم پلار په اړه وايي، چي ده، وويل چي کوم شی د رسول الله ﷺ څخه په کوم درجه ثابت وي نو په کار ده چي په هغومره اندازه وساتل سي او تر هغه

زیادت پکښې ونه سي له همدې کبله نبي کريم ﷺ په ټول سپېڅلي ژوند کي يوازي يو ځل و جنت البقيع ته د تللو روايت ثابت دئ . ده مبارک ﷺ د پنځلسې په شپه و جنت البقيع ته تشريف يوړئ لکه څنګه چي يوازي يو ځل تګ ثابت دئ نو له همدې کبله که ته هم يوازي يو ځل ولاړې نو صحيح ده مګر د هر پنځلسې په شپه د دې التزام کول او پر ځان ضروري بلل، د پنځلسې د شپې د احکامو څخه يې ګرځول او د پنځلسې د شپې يوه برخه يې بلل او بېله دې دا فکر کول چي د پنځلسې شپه ونه سوه دا يې وخپلې درجې څخه لوړول دي خو د جلسې په شکل هدېرې ته تلل منع دي. والله ﷻ اعلم.

د سماع موتی (د مړو د اورېدو) په اړه تحقيق

سوال: که يوه څوک هدېرې ته ورسي او مړو ته سلام وايي او يا څه نوري خبري و مړو ته کوي نو مړي دغه خبري اوري او که نه؟ او په دې کي د احنافو مسلک او تګ لاره څه ده؟

الجواب: د سماع موتی په مسئله کي د صحابهٔ کرامو د زمانې څخه اختلاف را شروع دئ او د بخاري شريف په روايت کي دي چي حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه وايي چي نبي کريم ﷺ قليب بدر ته د لوړي څخه اواز وکئ، ((هل وجدتم ما وعد ربكم حقا)) وروسته يې د دوی په اړه وفرمايل: ((إنهم الآن يسمعون ما أقول)) کله چي د حضرت عائشې رضي الله عنها په مخکي د دې يادونه وسول نو دې وفرمايل، چي نبي کريم ﷺ ((انهم ليعلمون)) ويلي دي نه ((يسمعون)) ګواکی د حضرت ابن عمر رضي الله عنه د خبري رد يې وکړه او وروسته يې دغه آيت کريمه تلاوت کئ:

﴿ إنك لا تسمع الموتى ﴾. (سورة النمل:۸۰).

او کوم حديث يې وړاندي نه کئ، نو دې څخه څرګند سوه چي د حضرت عائشې رضي الله عنها په اند سماع موتی ثابته نه ده.

په احکام القران کي راځي:

وحكى السفاريني فى البحور الزاخرة أن عائشة رضي الله عنها ذهبت إلى نفي سماع الموتى ووافقها طائفة من العلماء على ذلك ورجحه القاضي أبو يعلى من أكابر أصحابنا يعني الحنابله في

کتابه الجامع الکبیر. (احکام القران:۳/ ۱٦٤، حضرت مفتی محمد شفیع صاحب، تکمیل الحبور بسماع اهل القبور، ادارة القرآن).

البته د دې سره د ځینې حضرات د حضرت عائشې ﷺ د رجوع کولو وینا کوي:

په فتح الباري کې راځي:

ومن الغريب أن في المغازي لابن إسحاق رواية يونس بن بكير بإسناد جيد عن عائشة ﷺ مثل حديث أبي طلحة، وفيه: ما أنتم بأسمع لما أقول منهم، وأخرجه أحمد بإسناد حسن. فان كان محفوظا فكأنها رجعت عن الإنكار لما ثبت عندها من رواية هؤلاء الصحابة لكونها لم تشهد القصة. (فتح الباری:۷/ ۳۰۳).

د ترمذي شريف د روايت څخه هم د دې تائيد کيږي.

وګورئ په ترمذي شريف کې راځي:

فلما قدمت عائشة ﷺ أتت قبر عبد الرحمن بن أبي بكر ﷺ فقالت:...... إلى قوله ثم قالت والله! لو حضرتك ما دفنت إلا حيث مت ولو شهدتك ما زرتك. (رواه الترمذی:۱/ ۲۰۳).

د حضرت عبد الله ابن عمر ﷺ په اند سماع موتی ثابت ده.

همدا راز د نورو حضراتو په اند هم ثابت ده په احکام القرآن کې راځي:

وذهبت طوائف من أهل العلم إلى سماعهم فی الجملة وقال ابن عبد البر: إن الأكثرين على ذلک هو اختيار ابن جرير الطبری وکذا ذکر ابن قتيبة وغيره. (احکام القرآن:۳/ ۱٦٥).

د سماع موتی څخه منکرين په دليل کې قرآني آياتونه وړاندې کوي:

۱_ ﴿ إنك لا تسمع الموتى ﴾. (سورة النمل:۸۰).

۲_ ﴿ وما أنت بمسمع من في القبور ﴾. (سورة فاطر:۲۲).

د سماعی موتی منونکي په دلیل کي د بخاري شریف روایت وړاندي کوي.

وګورئ په بخاري شریف کي راځي:

باب الميت يسمع خفق النعال.... عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: العبد إذا وضع في قبره وتولي وذهب أصحابه حتى إنه ليسمع قرع نعالهم ...... الحديث (رواه البخاري:١/ ١٧٨).

وفى الترمذي باب ما يقول الرجل إذا دخل المقابر: عن ابن عباس رضي الله عنه قال: مر رسول الله ﷺ بقبور المدنية فأقبل عليهم بوجهه فقال: السلام عليكم يا أهل القبور...... الحديث. (رواه الترمذى:١/ ٢٠٣).

احکام القرآن کي راځي:

من أشهر ذلک ما رواه ابن عبد البر مصححا له عن ابن عباس رضي الله عنه مرفوعا: ما من أحد يمر بقبر أخيه المسلم كان يعرفه فى الدنيا فيسلم عليه إلا رد الله عليه روحه حتى يرد عليه اسلام. (احکام القرآن:٣/ ١٦٥، ادارة القرآن).

د قرانی ایاتونو جواب:

دغه حضرات د قرآن کریم د آیاتونو داسي توجیه بیانوي چي په دې کي د سماع (اوریدلو) منع نه ده بلکي اسماع (د وراورولو) منع راغلې ده او یا د (انتفاع سماع) منع راغلې ده یعنی مړی د ژوند و د خبرو څخه کوم ګټه نه سي پورته کولای که چیري ورته وویل سي چي لمونځ وکړه نو لمونځ نه سي کولای او که ورته وویل سي چي روژه ونیسه نو روژه نه سي نیولای.

په فیض الباري کي راځي:

وأجاب عنه السيوطي:

*سماع موتى كلام الخلق قاطبة ** قد صح فيها لنا الآثار بالكتب *

*روایة النبي معناها سماع هدی ** لا یسمعون ولا یصغون للأدب* (فیض الباری:۲/ ٦٧؛ باب قول المیت وهو علی الجنازة قدموني).

په هر صورت څنګه چې دغه اختلاف د صحابهٔ کرامو د زمانې څخه را شروع دئ نو په دې کې تجاوز کول صحيح نه دي. څوک چې د دې څخه انکار کوي هغه د حضرت عائشې رضي الله عنها پيروي کوي او څوک چې دا مني نو هغه د حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنهما د وينا پيروي کوي نو په کار ده چې يو پر بل د فاسق او يا کافر د دغه الزام لګولو څخه ځان وساتل سي ځکه بالآخر دغه الزام پر يوه نه يوه صحابي باندې هم لګيږي، البته د روايتونو څخه د سلام اورېدل ثابت دي نو د دې ثابت منل په کار دي او د دې څخه پرته نور څه د الله جل جلاله په خوښې پورې تعلق لري که الله جل جلاله وغوښتل چې په وايې ورې نو اورېدلای يې سي او که يې ونه غوښتل نو نه يې سي اورېدلای.

وګورئ په فتاوی شامي کې راځي:

وأما الكلام فلأن المقصود منه الإفهام والموت ينافيه ولا يرد ما في الصحيح من قوله ﷺ لأهل قليب بدر: هل وجدتم ما وعدكم ربكم حقا فقال عمر: أتكلم الميت يا رسول الله فقال عليه الصلاة والسلام: والذي نفسي بيده ما أنتم بأسمع من هؤلاء أو منهم، فقد أجاب عنه المشايخ بأنه غير ثابت يعني من جهة المعنى وذلك لأن عائشة رضي الله عنها ردته بقوله تعالى ﴿وما أنت بمسمع من في القبور﴾ (فاطر ٢٢) ﴿إنك لا تسمع الموتى﴾ (النمل ٨٠) وأنه إنما قاله على وجه الموعظة للأحياء وبأنه مخصوص بأولئك تضعيفا للحسرة عليهم، وبأنه خصوصية له عليه الصلاة والسلام معجزة، لكن يشكل عليهم ما في مسلم: إن الميت ليسمع قرع نعالهم إذا انصرفوا، إلا أن يخصوا ذلك بأول الوضع في القبر مقدمة للسؤال جمعا بينه وبين الآيتين فإنه شبه فيهما الكفار بالموتى لإفادة بعد سماعهم وهو فرع عدم سماع الموتى، هذا

حاصل ما ذكره في الفتح. (الشامي: ٣/ ٨٣٦، مطلب في سماع الميت الكلام، سعيد. وكذا في فتح القدير: ٢/ ١٠٤، دار الفكر).

البته علامه شامي رحمة الله عليه او محقق بن همام رحمة الله عليه په مطلق سماع موتی نه مني او په کومو ځايونو کي چي سماع موتی راغلي دئ يوازي په هغو ځايونو کي يې مني.

وګورئ په فيض الباري کي راځي:

وأما الشيخ ابن الهمام رحمة الله عليه فجعل الأصل هو النفي، وكل موضع ثبت فيه السماع جعله مستثنى ومقتصرا على المورد. (فيض الباري: ٢/ ٤٦٧).

په كفايت المفتى کي راځي:

ډېر صوفيهٔ کرام د سماع موتی ورنا کوي او د احنافو د علماوو په اند ثابته نه ده البته کله چي مړی په قبر کي کښېښول سي نو دومره حيات (ژوند) ورکول سي چي دی ارام يا تکليف محسوس کړي. (كفايت المفتى: ١/ ٢٠١).

شاه انور شاه کشميري رحمة الله عليه په فيض الباري کي را نقل کړي دي، چي ملا علي قاري رحمة الله عليه فرمايي، چي په احنافو کي هيڅوک هم د سماع موتی څخه انکار نه کوي. لاندي عبارت وګورئ:

وفي رسالة غير مطبوعة. لعلي القاري رحمة الله عليه: أن أحدا من أئمتنا لم يذهب إلى إنكارها، وإنما استنبطوها من مسألة في باب الايمان، وهي: حلف رجل أن لا يكلم فلانا فكلمه بعدما دفن لا يحنث، قال القاري رحمة الله عليه: ولا دليل فيها على ما قالوا، فإن مبنى الأيمان على العرف وهم لا يسمونه كلاما. (فيض الباري: ٢/ ٤٦٧).

حضرت مولانا محمد سرفراز خان صاحب ليکي:

د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه څخه په دې اړه څه رانقل سوی نه دي په فتاوی غرائب چي کوم حواله انکار کوونکي د سماع موتی و امام ابو حنيفه رحمة الله عليه ته يې نسبت کوي دا اصل نه لري. (سماع الموتى: ٨٩).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: فتاوی دار العلوم دیوبند: جلد ۵ – امداد المفتین: ۲/ ۴۳۹، کتاب الجنائز – وامداد الفتاوی: ۵/ ۴۳۹ – وفتاوی عثمانی: ۱/ ۶۷، ورساله سماع الموتی از حضرت مولانا سر فراز خان صفدر . والله تعالیٰ اعلم.

چا چي خپل مور او پلار وژلي وي د هغه د جنازې د لمانځه حکم

سوال: یوه سړي خپل مور او پلار د میراث په خاطر ووژل تر دې وروسته دغه قاتل (وژونکی) مړ سو اوس د ده د جنازې لمونځ کیږي او که نه؟ او دغه قاتل (وژونکی) د میراث حق لري او که نه؟

الجواب: د مور او پلار یا په دوی کي د یوه قاتل که چیري قصاص سو بیا د جنازې لمونځ نه ورباندي کیږي او که په داغسي مرګ (خدای مرګ) باندي مړ سو نو بیا د جنازې لمونځ ورباندي کیږي.

وګورئ په امداد الفتاح کي راځي:

لایصلی علی قاتل أحد أبویه عمدا إهانة له وزجرا لغیره. (امداد الفتاح: ۶۳۱، بیروت).

په شرح د منیة المصلی کي راځي:

ومن قتل أحد أبویه لایصلی علیه إهانة له ذکره فی جوامع الفقه. (شرح منیة المصلی: ۵۹۱).

په فتاوی شامي کي راځي:

لا یصلی علی قاتل أحد أبویه إهانة له وألحقه فی النهر بالبغاة، الظاهر أن المراد أنه لا یصلي علیه إذا قتله الإمام قصاصا، أما لو مات حتف أنفه یصلی علیه کما في البغاة ونحوه.

(الشامی: ۲/ ۲۱۲، سعید).

او قاتل د میراث حق نه لري.

عن أبی هریرة رضی الله عنه أن رسول الله ﷺ قال: «القاتل لایرث». (ابن ماجه: ۱۹۰).

په سراجي کي راځي:

المانع من الإرث أربعة الرق وافرا كان أو ناقصا والقتل الذى يتعلق به وجوب القصاص أو الكفارة. (السراجی فی المیراث:ص ٥). والله ﷻ اعلم.

د مړي په کور کي د مېلمستيا د ډوډۍ خوړلو حکم

سوال: د مړي په کور کي تر درو ورځو پوري د مېلمستيا طريقه پرېښودل روا دي او که نه؟

الجواب: په ځينو سيمو کي دا رواج دئ چي د مړي په کور کي د خوراک له پاره څه تياره کړي د مړی ورور او يا نور؟دا بد رواج دئ د دې څخه ځان ساتل په کار دي او علامه شامی رحمه الله وايي چي د دې په ناروا والی کي څه شک نسته:

وګورئ په فتاوی شامی کي راځي:

ويكره اتخاذ الضيافة من الطعام من أهل الميت لأنه شرع في السرور لا في الشرور وهي بدعة مستقبحة، وروى الإمام أحمد رحمه الله وابن ماجه بإسناد صحيح عن جرير بن عبد الله قال: « كنا نعد الاجتماع إلى أهل الميت وصنعهم الطعام من النياحة ». وفي البزازية: ويكره اتخاذ الطعام في اليوم الأول والثالث وبعد الأسبوع ونقل الطعام إلى القبر في المواسم، واتخاذ الدعوة لقراءة القرآن وجمع الصلحاء والقراء للختم أو لقراءة سورة الأنعام أو الإخلاص، والحاصل: أن اتخاذ الطعام عند قراءة القرآن لأجل الأكل يكره وفيها من كتاب الاستحسان: وإن اتخذ للفقراء كان حسنا، وأطال فی ذلک فی المعراج وقال: وهذه الأفعال لكها للسمعة والرياء فيتحرز عنها، لأنهم لايريدون بها وجه الله تعالى. (الشامی:۲/ ۲٤۰، مطلب فی کراهة الضیافة من اهل المیت، سعید).

وفی الفقه على المذاب الأربعة:

ومن البدع المکروهة مایفعل الآن من ذبح الذبائح عن خروجه المیت من البیت أو عند القبر وإعداد الطعام لمن یجتمع للتعزیة کما یفعل ذلک فی الأفراح ومحافل السرور. (الفقه علی مذاهب الاربعة: ۱/ ۴۳۴، مبحث ذبح الذبائح، وعمل الاطعمة فی المآتم، القاهرة).

په احکام میت کي راځي:

یاد ساتل په کار دي چي دغه دعوت او د دې قبول دواړه منع دي او هیڅکله روا نه دي د دغه غلط رواج څخه ځان ساتل اړینه ده او علامه شامی رحمه الله ددغه دعوت په هکله لیکلي چي د دې په حرام کېدوو کي څه شک نسته او د حنفي مذهب څخه پرته په نورو فقهي مذاهبو کي لکه د امام شافعي رحمه الله او داسي نور کي هم د دې پر ناروا کېدلو باندي اتفاق بیان کړی دئ. (احکام میت: ص ۱۸۸ د مولانا عبد الحی صدیقی).

البته که چیري مړي ته د ثواب رسېدلو په خاطر یې خوراکي شیان تیار کړي او فقیرانو ته یې ورځو د ځانګړتیا پرته ورکړي په دې که څه تاوان نه سته چي دغه لاندي شرائط پکښې مراعت سوي وي:

۱_ د عادت او رواج په نیت به نه وي بلکي یوازي به د ثواب په نیت وي.

۲_ د ریاء نوم او نښان له پاره به نه وي.

۳_ د ترکې (میراث) تر وېشلو وروسته به وي او که تر وېشلو وړاندي وي نو میراث وړونکی به علاقلان او بالغان وي او د ټولو له اړخه به د زړه د اخلاصه اجازه سوې وي.

۴_ د حلال مال څخه ورکړه اړینه ده.

۵_ د ورځو تعین به پکښې نه وي او که نه بیا په بدعت کي شمېرل کیږي. (فتاوی حقانیه: ص ۴۹: ۲).

په فتاوی بزازیه کي راځي:

ويكره اتخاذ الطعام فی اليوم الأول والثالث وبعد الأسبوع. ... (الفتاوی البزازية علی هامش الهندية:٤/ ٨١). والله تعالیٰ اعلم.

د مړی په کور کي د ضرورت د ډوډۍ حکم

سوال: که چیري د مړي کورنۍ د خپل ځان له پاره او یا د هغو قریبانو له پاره کوم چي د لیري ځایه راغلي وي د تیجي او یا منځنۍ درجې څه خوراک تیار کړي نو په شریعت کي د دې څه حکم دئ؟

الجواب: د دباندي شخه د خوراک په راوړلو کي که دغه خرابیاني وي او د مړي قریبان او داسي نور که د لیري ځای شخه راغلی وو نو د دوی له پاره په کور کي د تیجي او منځنۍ درجې خوراک تیارول روا دي کله چي په دې کي لاندني شرائط موجود وي:

۱_ عام کډون کونکي به نه وي: وروی الإمام أحمد رحمه الله وابن ماجه بإسناد صحيح عن جرير بن عبد الله قال: « كنا نعد الاجتماع عند أهل الميت وصنعهم الطعام من النياحة ».

۲_ د تیجي او یا منځني درجي ډوډۍ به تیار وي لکه په عام ورځو یا لکه په نور ورځو کي چي یې خوري او د لوړي درجي ډوډۍ به نه تیار وي. لأنها أيام تأسف فلا يليق بها ما كان للسرور. (فتاوی خانیه).

۳_ د ورځو معلومېدل به نه وي: اتخاذ الطعام فی اليوم الأول والثالث وبعد الأسبوع.... (الفتاوی البزازية علی هامش الهندية:٤/ ٨١).

د ورځو د تخصیص له امله فقهاؤ مکروه بللی ده . (فتاوی حقانیة:۲/ ٤٩).

که یو څوک پوښتنه وکړئ چي د فاتحي په ورځو کي په کور کي د ضرورت د ډوډۍ تیارول د دې په شریعت کي څه ثبوت سته؟

د دې جواب دا دي چي دلاندي روایاتو شخه د دې ثبوت معلومیږي.

۱_ د حضرت ابو ذر رضی الله عنه د مرګ په وخت کي د حضرت عبد الله ابن مسعود رضی الله عنه او د ده سره د حاضر سوو د ډوډۍ انتظام د ده کورنۍ وکړئ.

دا عبارت وګورئ:

فبينما هم كذلك لا يقدرون على دفنه إذ قدم عبد الله بن مسعود ﷺ من العراق في جماعة من أصحابه، فحضروا موته، وأوصاهم كيف يفعلون به، وقيل قدموا بعد وفاته فولوا غسله ودفنه، وكان قد أمر أهله أن يطبخوا لهم شاة من غنمه ليأكلوه بعد الموت. (البداية والنهاية:۷/ ۱۷۷، طبعة ملونة، بيروت).

په تاریخ مدینه دمشق کي راځي:

... واطبخى هذا اللهم، فإنه سيشهدني قوم صالحون يلون دفني فأقريهم، فلما دفنا دعينا إلى الطعام، فأكلنا. (تاريخ مدينة دمشق:٦٦/ ٢١٨، وفى اسناده مجهول).

د حضرت ابو ذر ﷺ کورنۍ د ده پر ښخيدلو قدرت نه درلودئ په دغه وخت کي حضرت عبد الله بن مسعود ﷺ او د ده ملګري د عراق څخه راغله نو حضرت ابو ذر ﷺ دوی ته د تکفين او تجهيز وصيت وکړئ.

او په يو روايت کي دي چي ده تر وفات وروسته راغله او د ده د غسل او ښخولو انتظام يې وکړئ، او ده (حضرت ابو ذر ﷺ) خپلي کورنۍ ته ووېلي وه چي د دوی له پاره د پسونو څخه يو پسه حلال کړه چي د ده تر مرګ وروسته يې دا حضرات وخوري. (البدايه والنهايه).

په تاريخ دمشق کي راغلی دي چي حضرت ابو ذر ﷺ خپل وښځي ته ووېل چي غوښي پخې که ځکه زما و ښخولو ته به نيکان خلک حاضر سي نو دوی ته مېلمستيا ورکړه چي کله موږ د دفن څخه فارغ سو نو موږ يعني ابن مسعود ﷺ او د ده ملګري د دوډۍ له پاره را وبلل سو او موږ وخوړه.

(تاريخ دمشق).

۳_ په ترمذي شريف کي راځي:

عن عبد الله بن جعفر قال رضي الله عنه : لما جاء نعي جعفر رضي الله عنه قال النبي ﷺ : إصنعوا لأهل جعفر طعاما فإنه قد جاءهم ما يشغلهم. (رواه الترمذی وقال: هذا حديث حسن: ۱/ ۱۹۵، باب ماجاء فی الطعام یصنع لاهل المیت).

په ابن ماجه شریف کي راځي:

قال : إن آل جعفر قد شغلوا بشأن ميتهم ، فاصنعوا لهم طعاما. قال عبد الله : فما زالت سنة حتى كان حديثا ، فترك. (رواه ابن ماجه: ۱۱۵، باب ماجاء فی الطعام یبعث الی اهل المیت).

په فتاوی شامي کي راځي:

ويستحب لجيران أهل الميت والأقرباء الأباعد تهيئة طعام لهم يشبعهم يومهم وليلتهم لقوله ﷺ: « اصنعوا لآل جعفر طعاما فقد جاءهم ما يشغلهم ». (حسنه الترمذي وصحح الحاكم _ (الشامی: ۲/ ۲۴۰، مطلب فی الثواب علی المصیبة، سعید – وکذا فی الفقه علی المذاهب الاربعة: ۱/ ۴۳۴).

له دغو روایاتو ښکاره معلومیږي چي دباندي خلک داهل میت له پاره ډوډۍ را لیږلای سي.

په یوه روایت کي د درو ورځو بیان راغلی دئ په مرقات کي یې وګورئ:

وقيل: يحمل لهم طعام إلى ثلاثة أيام مدة التعزية. (مرقاة: ۴/ ۹۲، امدادية، ملتان).

البته کله چي په دې کي دغه خرابی موجود وي نو د مړي د کورنی له پاره او د لیري ځای ښخه د راغلو مېلمنو له پاره په خوراک تیارولو کي څه ممانعت نه سته ځکه په مطلق توګه د خوراک د پخولو ښخه منع راغلې نه ده. په بزازیه کي دي: (وان اتخذ طعاما للفقراء كان حسناً) (الفتاوی البزازیه: ۶/ ۳۷۹). د دې ښخه معلوم سوه چي د فقیرانو له پاره ډوډۍ پخول به کار دئ همدارنګه د ابن قدامة د مغني د عبارت ښخه معلومیږي چي د ضرورت په وخت کي د لیري ځایه د راغلو مېلمنو له پاره خوراک تیارول روا دي. وګورئ : (دعت الحاجة إلى ذلك جاز ؛ فإنه ربما جاءهم ...

يحضر ميتهم من القرى والأماكن البعيدة، ويبيت عندهم) (المغنى الابن قدامة الحنبلي:۲/ ٤١٣).

که چیري د ډوډۍ د پخولو ضرورت وو نو پخول یې روا دي ځکه کله خلک د جنازې یا فاتحې له پاره د ډېرو لیرو ځایو څخه راغلي وي او شپه دلته تېره وي نو د دوی له پاره د ډوډۍ انتظام کول روا دي.

۴_ په بخاري شریف کي راځي:

عن عائشة رضي الله عنها زوج النبي ﷺ، أنها كانت إذا مات الميت من أهلها، فاجتمع لذلك النساء ثم تفرقن إلا أهلها وخاصتها، أمرت ببرمة من تلبينة، فطبخت، ثم صنع ثريد فصبت التلبينة عليها ثم قالت: كلن منها فإني سمعت رسول الله ﷺ يقول: «التلبينة مجمة لفؤاد المريض تذهب ببعض الحزن». (بخاری شريف:۲/ ۸۱۵/ ۵۲۰۶، باب التلبينة – ومسلم شريف:۲/ ۲۲۷، باب لكل داء دواء واستحباب التداوی).

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روایت دئ چي کله به د دې په خاندان کي څوک مړ سو او ښځې به جمع سوي بیا چي به کله ښځې ولاړې او یوازې د کور او څو خاصي ښځې به پاتي سوي نو حضرت عائشې رضي الله عنها به تلبینه پخول او په هغه کي به یې ډوډۍ اچول بیا به حضرت عائشې رضي الله عنها وفرمایل، چي وې خوري ما د رسول الله ﷺ اورېدلي دي چي دغه د مریض زړه ته ارام وربخښي (تلبینه د شاتو او یا ګوړې او اوړو نرمې حلوا ته ویل کیږي).

پنځ پیریان چي د مړي د کور په ډوډۍ پخولو کي ډېر تشدد کوي دوی هم د ضرورت ډوډۍ روا ګڼي په یو کتاب کي لیکي:

ويجوز لأهل الميت صنع الطعام لأنفسهم إذا لم يحمل لهم أحد من الجيران والاقارب طعاماً إيام مدة التعزية. (حاشية نشر المرجان، ص ۴۳۰). والله تعالیٰ اعلم.

د خپل ځان وژونکي د جنازې د لمانځه حکم

سوال: د خپل ځان وژونکي د جنازې لمونځ کیږي او که نه؟

الجواب: ځان وژل ډېره سخت ګناه ده البته دغه کس کافر نه دئ نو د جنازې لمونځ وربانديي کیږي خو که چیري د قوم مقتداء او مشر پکښې ګډون ونه کړي نو ډېره ښه خبر ده ځکه چې د ګناه د سختوالی ور څخه معلوم سي.

د مسلم شریف د روایت څخه معلومیږي چي ځان وژونکی کافر نه دئ.

وګورئ روایت:

فلما هاجر النبي ﷺ إلى المدينة هاجر إليه الطفيل بن عمرو رضي الله عنه وهاجر معه رجل من قومه، فاجتووا المدينة فمرض فجزع فأخذ مشاقص له فقطع بها براجمه فشخبت يداه حتى مات، فرآه الطفيل بن عمرو رضي الله عنه في منامه فرآه وهيئته حسنة ورآه مغطيا يديه، فقال له: ما صنع بك ربك فقال: غفر لي بهجرتي إلى نبيه ﷺ فقال ما لي أراك مغطيا يديك قال: قيل لي: لن نصلح منك ما أفسدت فقصها الطفيل رضي الله عنه على رسول الله ﷺ فقال رسول الله ﷺ: « اللهم وليديه فاغفر ». (مسلم شریف«۱/ ۷٤).

وقال النووي رحمه الله في شرح هذا الحديث: فيه حجة لقاعدة عظيمة لأهل السنة أن من قتل نفسه أو ارتكب معصية غيرها ومات من غير توبة فليس بكافر. (شرح المسلم:۱/ ۷٤، باب الدليل ان قاتل نفسه لايكفر).

په درمختار کي راځي:

من قتل نفسه ولو عمدا. يغسل ويصلى عليه به يفتى. وفي الشامية: لأنه فاسق غير ساع في الأرض بالفساد وإن كان باغيا على نفسه كسائر فساق المسلمين. (الدر المختار مع الشامي:۲/ ۲۱۱، سعيد).

په شرح د منية المصلي کي راځي:

وعندهما يصلى عليه واختاره شمس الأئمة الحلوانى رحمه الله لأن دمه هدر فصار حتف أنفه ولأنه مسلم عاص غير ساع فى الأرض فسادا فلا يقاس على البغاة وقطاع الطريق. (شرح منية المصلى: ص ۵۹۱، سهيل).

په فتاوى مفتي محمود کي راځي:

چي پر دې کس بايد ضرور د جنازې لمونځ وسي. لحديث: صلوا على كل بر وفاجر. (فتاوى مفتي محمود: ۳/ ۷۸). همدا ډول وګورئ: (امداد الفتاح: ص ۶۳۱، فصل فيمن لايصلى عليه، بيروت-كتاب الفتاوى: ۳/ ۱۸۳). والله تعالى اعلم.

د روژې په مياشت کي د مرګ فضيلت

سوال: کله چي يو کس د روژې په مياشت کي د دنيا څخه رحلت وکي نو په دې کي څه فضيلت سته او که نه؟

الجواب: د روژې په مياشت کي د مرګ راتګ انشاء الله تعالى د اجر او بخښني باعث دئ ځکه د روژې مبارکي مياشتي ته تر نورو مياشتو يو ځانګړي فضيلت ورکول سوی دئ. په دغه مياشت کي فرض، نفل او د بل هر نېک کار ثواب زياتيږي، د دې مياشتي په لومړی برخه رحمت ده او د منځ په برخه کي يې بخښنه کيږي او په اخيرنۍ برخه کي د دوزخ څخه ازادېدل پيدا کيږي له همدې کبله د روژې په مياشت کي د مړو څخه د قبر عذاب ليري کيږي او د قيامت په ورځ الله جل جلاله ته دېر اميد سته چي د رحمتونو او بخښنو په سايه کي يې پټ کړي او و جنت ته داخليدل به ورنصيب وګرځوي.

څو روايتونه وګورئ:

۱_ په صحيح د ابن خزيمه کي راځي:

عن سلمان رضي الله عنه قال: خطبنا رسول الله ﷺ في آخر يوم من شعبان فقال: .... إلى قوله..... و هو شهر أوله رحمة، و أوسطه مغفرة، و آخره عتق من النار» (صحيح ابن خزيمة: ٤/ ٦٨/ ١٨٨٧، باب فضائل رمضان....، المكتب الاسامى - وكذا فى شعب الايمان للبيهقى: ٣/ ٣٠٥/ ٣٦٠٨، دار الكتب العلمية، بيروت).

۲_ په حلية الاولياء كي راځي:

عن ابن مسعود رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: من وافق موته عند انقضاء رمضان دخل الجنة، ومن وافق موته عند انقضاء عرفة دخل الجنة، ومن وافق موته عند انقضاء صدقة دخل الجنة. (حلية الاولياء: ٥/ ٢٣، دار الفكر - وفيض القدير: ٦/ ٣٠٥).

٣_ وعن خيثمة قال: كان يعجبهم أن يموت الرجل عند خير يعمله إما حج وإما عمرة وإما غزوة وإما صيام رمضان. (حلية الاولياء: ٤/ ١١٥).

٤_ عن أنس بن مالك رضي الله عنه: «إن عذاب القبر يرفع عن الموتى فى شهر رمضان وكذلك فتنة القبر ترفع عمن مات يوم الجمعة أوليلة الجمعة». (احكام الميت والقبور لابن رجب، باب اهل القبور، واسناده ضعيف).

٥_ په مصنف د عبد الرزاق كي راځي:

عن عطاء قال: إذا مرض الرجل فى رمضان فلم يصح حتى مات، فليس عليه شيء غلب على أمره وقضاءه. (مصنف عبد الرزاق: ٤/ ٢٣٧/ ٧٦٣٣).

٦_ په مسلم شريف كي راځي:

عن أبى هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: «الصلوات الخمس والجمعة إلى الجمعة ورمضان إلى رمضان مكفرات ما بينهن إذا اجتنبت الكبائر». (رواه مسلم: ١/ ١٢٢). والله تعالى اعلم.

د اولياء كرامو پر زيارتونو د گنبدو جوړولو حكم

سوال: د اولياء كرامو پر زيارتونو گنبدي جوړول يا پوښونه پر هوارول او يا څراغونه پر لگول څه حكم لري؟

الجواب: د اولياء كرامو پر زيارتونو گنبدي جوړول يا پوښونه پر هوارول يا څراغونه پر لگول يا گلونه يا داسي نور څه پر پاشل دا ټول كارونه د شريعت خلاف دي او حرام دي، فقهاوو دغه ټول بدعت او ناروا گرځولي دي له همدې كبله د دغه ډول بدعتونو او خرافاتو څخه پرهيز كول لازم او ضروري دي.

وگورئ په حديث شريف كي راځي:

عن جابر رضي الله عنه قال: نهى رسول الله ﷺ: أن يجصص القبر وأن يقعد عليه وأن يبنى عليه.

(رواه مسلم:١/ ٣١٢).

قال الملا على القارى رحمه الله فى المرقات: « من ابتدع بدعة ضلالة لايرضاها الله ورسوله ......» وهى ما أنكره أئمة المسلمين كالبناء على القبور وتجصيصها. (مرقات:١/٢٤٦، امدادية، ملتان).

په شرحه د منية المصلي كي راځي:

ويكره تجصيص القبر وتطيينه وبه قالت الأئمة الثلاثة، لما روى عن جابر رضي الله عنه: نهى رسول الله ﷺ عن تجصيص القبور وأن يكتب عليها وأن يبنى عليها. رواه مسلم...... وعن أبى حنيفة رحمه الله أنه يكره أن يبنى عليه بناء من بيت أو قبة أو نحو ذلك لما مر من الحديث آنفا.

(شرح منية المصلى: ص ٥٩٩، سهيل - ومثله فى الفتح القدير:٢/ ١٤٠، دار الفكر - والفتاوى الخانية على هامش الهندية:١/ ١٩٤ - والفتاوى السراجية على هامش قاضى خان: اولين ص ١٤١).

په فتاوى هنديه كي راځي:

ویسنم القبر قدر الشبر، ولایربع، ولایجصص..... ویکره أن یبنی علی القبر. (الفتاوی الهندیة:۱/ ۱٦٦).

په مالا بدمنه کي رائحي:

آنچه بر قبور اولیاء عمارت هائی رفیع بنا کند وچراغان روشن می کند و ازین قبیل هر چه می کند حرام است یا مکروه. (مالا بدمنه:۹۱، کتب خانه محمودیه، دیوبند).

په احسن الفتاوی کي رائحي:

د عمارت جوړولو او پلستر کولو ممانعت صراحةً په حدیث کي راغلی دئ. (احسن الفتاوی:٤/ ۱۸۹).

مطلب دا چي د اولیاوو پر قبرونو گنبدي یا نور ابادي پر جوړولو کوم صحیح روایت او یا عقلي دلیل موجود نه دئ بلکي د دې پر خلاف ډېر دلائل او حجتونه موجود دي. وفیها کفایة لمن له هدایة. (مستفاد از راه سنت:ص ۱۸۰-۱۸۵).

همدا ډول وګورئ: (فتاوی فریدیه:۱/ ۳۱۵، ۲۸۸ – واحکام میت:۱۸٦، ۱۹۱، از مولانا داکتر عبد الحی صدیقی – وامداد الاحکام:۱/ ۲۰۱ – وفتاوی رحیمیه:۵/ ۹۸ – ومآة مسائل:ص ۷۱، مسئله ۲۷).

دا هم یاد ساتل په کار دي چي کله فقهاء مطلق مکروه یاد کړي مراد ورڅخه مکروه تحریمي ده.

وګورئ په فتح القدیر کي رائحي:

اختلف أصحاب الشرع في معنی المکروه، فروي عن محمد رحمه الله أنه نص علی أن کل مکروه حرام، إلا أنه لما لم یجد فیه نصا قاطعا لم یطلق علیه لفظ الحرام فکان نسبة المکروه إلی الحرام عنده کنسبة الواجب إلی الفرض في أن الأول ثابت بدلیل قطعي والثاني ثابت بدلیل ظني. وروي عن أبي حنیفة رحمه الله وأبي یوسف رحمه الله أنه إلی الحرام أقرب. (نتائج

الانکار ۲۰۰ فتح القدیر: ۱۰/ ٤، کتاب الکراهیة، دار الفکر – وکذا فی البحر الرائق: ۸/ ۱۸۰، کتاب الکراهیة، کوئتة).

که څه هم په ځینو کتابونو کي د دې جواز لیکلي دئ لکه: درمختار: ۲/۲۳۷، تقریرات رافعی: ۲/۱۲۳، او داسي نور البته دا ضعیف او د اعتبار وړ نه دي.

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (فتاوی دار العلوم زکریا جلد اول، باب (۷) رد بدعت). والله ﷻ اعلم.

د لېوني د جنازې په لمانځه کي د نابالغه د دوعاء ویلو حکم

سوال: یو لېونی سړی مړ سو د ده د جنازې په لمانځه کي به د بالغ دعاء ویل کیږي او که د نابالغه؟

الجواب: په دغه صورت کي به د نابالغه دعاء ویل کیږي البته که چیري یې د بالغ دعاء وویل هم لمونځ صحیح کیږي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

ولا یستغفر فیها لصبي ومجنون ومعتوه لعدم تکلیفهم، بل یقول بعد دعاء البالغین «اللّٰهم اجعله لنا فرطا، وجعله لنا ذخرا وشافعا مشفعا» . (الدر المختار: ۲/ ۲۱۵، سعید).

په مراقي الفلاح کي راځي:

ولا یستغفر لمجنون وصبی إذ لاذنب لهما، ویقول فی الدعاء: اللّٰهم اجعله فرطا.....

(مراقی الفلاح: ۲۱۵، باب احکام الجنائز، بیروت – ومثله فی البحر الرائق: ۲/ ۱۸٤، کوئتة). والله ﷻ اعلم.

مړه پیدا سوي کوچني ته غسل، کفن او د لمانځه ورکولو حکم

سوال: یو کوچني د مور د نس څخه مړ پیدا سو، و ده ته غسل، کفن او د جنازې لمونځ ورکول کیږي او که نه؟

الجواب: په دې پوښتل سوي صورت کي که چیري پر کوچني باندي د پیدایښت په وخت کي د ژوند کوم نخښي نه معلومېدئ نو د صحیح قول پر اساس غسل به ورکول سي او په یو ټوکر کي به یې ونغښتي او ښخ به یې کړي او د جنازې لمونځ به نه پر کوي.

وګورئ په حاشیه الطحطاوي کي راځي:

وإن لم يستهل غسل وإن لم يتم خلقه في المختار لأنه نفس من وجه وأدرج في خرقة وسمي ودفن ولم يصل عليه. قوله في المختار: وظاهر الرواية منع الكل، وكذا لا يرث، ولا يورث، اتفاقا لأنه كجزء الحي كما في الزيلعي والحموي، وحاصل ما في المصنف أنه بالنظر لكونه نفسا من وجه يغسل، ويصلى عليه، وبالنظر لكونه جزء آدمي لا ولا، فاعملنا الشبهين، فقلنا: يغسل عملا بالأول، ولا يصلى عليه عملا بالثاني، ورجحنا خلاف ظاهر لرواية، قوله لأنه نفس من وجه، الأولى ما في ملتقى الأبحر حيث قال إكراما لبني آدم، وإنما كان نفسا لأنه يبعث وإن لم ينفخ فيه الروح على أحد القولين. (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح: ۵۹۸، قديمى – وكذا فى الدر المختار مع الشامية: ۲/ ۲۲۸، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د پیدایښت په وخت کي د مړ سوي کوچني د نامه ایښودلو حکم

سوال: که چیري کوچنی مړ پیدا سو نو د ده نوم ایښول کیږي او که نه؟

الجواب: په دې پوښتل سوي صورت کي که کوچنی مړ پیدا سي او که ژوندي ټوله اندامونه یې پوره وي او که نه په هر صورت د کوچني نوم ایښودل کیږي ځکه دغه کوچنی د مور او پلار له پاره وجنت ته د داخلېدلو سبب دئ.

په مراقی الفلاح کي راځي:

وإن لـم يستهل وإن يتم خلقه في الـمختار لأنه نفس من وجه وأدرج في خرقة وسمي ودفن ولم يصل عليه ويحشر إن بان بعض خلقه هو الذى يقتضيه مذهب أصحابنا لأن يثبت له -. امة بنى آدم بدليل ثبوت الأحكام الشرعية له كاستيلاد، وانقضاء عدة، نـهر، وقد قالوا: إن السقط يحيى فى الآخرة، وترجى شفاعته. (مراقى الفلاح مع حاشية الطحطاوى:۵۹۸، قديمى).

په فتاوى شامي كي راځي:

ووجهه أن تسميته تقتضي حشره إذ لا فائدة لـها إلا في ندائه في الـمحشر باسمه وذكر العلقمي في حديث « سموا أسقاطكم فإنهم فرطكم » الحديث.... (الشامى:۲/ ۲۲۸،سعيد).

يعني د ناتمامه كوچنيانو نوم كښيږدي وجنت په تللو كي ستاسو مخكښان وي .والله ﷻ اعلم.

بېله اوداسه د جنازې د لمانځه كولو د راګرځولو حكم

سوال: كه چيري امام د جنازې لمونځ ادا كړي او وروسته دا معلومه سول چي امام اودس نه درلودئ نو د لمانځه راګرځول ضروري دي او كه نه؟ سره د دې چي مقتديانو يې اودس درلودئ؟

الجواب: په پورتنى صورت كي د جنازې د لمانځه راګرځول ضروري دي.

په بدائع الصنائع كي راځي:

أنـهم لو صلوا على جنازة والإمام غير طاهر فعليهم إعادتها ؛ لأن صلاة الإمام غير جائزة لعدم الطهارة فكذا صلاتـهم ؛ لأنـها بناء على صلاته . (بدائع الصنائع:۲/ ۳۱۵، سعيد).

په درمختار كي راځي:

الطهارة..... شرط نى حق الـميت والإمام جـميعا فلو أم بـلا طهارة والقوم بـها أعيدت.

(الدر المختار مع الشامى:۲/ ۲۰۸، سعيد).

په البحر الرائق كي راځي:

ولو صلى الإمام بلا طهارة أعادوا لأنه لاصحة لها بدون الطهارة فإذا لم تصح صلاة الإمام لم تصح صلاة القوم. (البحر الرائق:۲/ ۱۷۹، کوئتة). والله تعالیٰ اعلم.

د جنازې په لمانځه کي يوازې په درو تکبيرونو سره د لمانځه حکم

سوال: امام د جنازې په لمانځه کي درې تکبيرونه وويل او سلام يې وګرځوئ په دې وخت کي چا څه نه وويل، کله چي يې مړی قبر ته کښته کړئ نو ټولو خلکو وويل چي درې تکبيرونه ويل سوي دي اوس څه کول په کار دي او که چيري و قبر ته خاوره وراچول سوې وو، بيا د درو تکبيرونو يقين راغلئ نو بيا څه کول په کار دي؟

الجواب: د جنازې په لمانځه کي څلور تکبيرونه ويل فرض دي له همدې کبله په درو تکبيرونو د جنازې لمونځ سوی نه دئ، نو که يې مړی و قبر ته ور کښته کړی وي او خاورې هم نه وي وراچولي مړی به را واخلی او دوهم ځل به د جنازې لمونځ ورکړي او که يې خاوري وراچولی وي نو څنګه چي مړی يو څه وخت مخکي و قبر ته کښته سوی دئ له همدې کبله پر قبر باندې به په څلور تکبير سره دوهم واري د جنازې لمونځ وکړي.

په حاشية الطحطاوي کي دي:

أن الإمام إذا اقتصر على ثلاثة فسدت فيما يظهر، وإذا فسدت على الإمام فسدت على المأموم لترک رکن من أرکانها. (حاشية الطحطاوی علی مراقی الفلاح:ص ۵۸۷، فصل الصلاة علیه، قدیمی).

په درمختار کي راځي:

ور کنها شیئان (التکبیرات) الأربع...... (والقیام). (الدر المختار:۲/ ۲۰۹، سعید).

همدارنګه په درمختار کي راځي:

و إن دفن و أهيل عليه التراب بغير صلاة أو بها بلا غسل أو ممن لا ولاية له صلى على قبره استحسانا ما لم يغلب على الظن تفسخه. وفي الشامي: قوله وأهيل عليه التراب، وإن لم يهل أخرج وصلى عليه كما قدمناه. (الدر المختار مع ردالمحتار:۲/ ۲۲٤، سعيد).

په البحر الرائق کي راځي:

فإن دفن بلا صلاة صلى على قبره ما لم يتفسخ، لأن النبي ﷺ صلى على قبر امرأة من الأنصار. (البحر الرائق:۲/ ۳۱۹، كوئته) والله ﷻ اعلم.

د يوه کوچني چي نسب ثابت نه وي د هغه کفن، د جنازې لمونځ، ښخولو او داسي نورو حکم

سوال: يوه مسلمان سړي د يوه غير مسلماني نصراني ښځي سره د خط په ذريعه نکاح وکړه يعني په خوله يې ايجاب او قبول ونه کړ وروسته يې د ښځي څخه کوچنی پيدا سو يا يو مسلمان سړی د يوې هندو ښځي سره صرف په نامه نکاح وکړه او کوچنی يې ورڅخه پيدا سوه او يا يو مسلمان سړی د يو کافري ښځي سره زنا وکړه او د دې څخه يې کوچنی پيدا سو په دې درو سره صورتونو کي کوچنی تر بلوغ مخکي مړ سو، اوس د دغه کوچني جنازه، کفن، ښخېدل او داسي نور په اسلامي طريقه کيږي او که نه؟

الجواب: په دوهم او دريم صورت کي د زنا په واسطه د کوچنی پيدا کېدل ښکاره دي همدا راز د لومړی صورت هم دا حکم دئ ځکه نکاح يوازي په خط نه کيږي البته په مور او پلار کي چي کوم يو غوره وي نو کوچنی د هغه تابع دئ. دلته به د مسلمان پلار تابع وي او مسلمان شمارل کيږي نو په اسلامي طريقه يې د کفن، د جنازې د لمانځه او ښخېدلو اجازه ده.

وګورئ په فقه اسلامي کي راځي:

عقد الزواج لا يصح انعقاده بالكتابة إذا كان العاقدان حاضرين في مجلس واحد، إلا حال العجز عن النطق كالخرس؛ لأن الزواج يشترط لصحته حضور الشهود وسماعهم كلام العاقدين، وهذا لا يتيسر في حال الكتابة. (الفقه الاسلامی وإدلته:٤/ ١٠٤، دار الفكر)

په درمختار کي راځي:

ورأيت في فتاوى الشهاب الشلبي قال: واقعة الفتون في زماننا مسلم زنى بنصرانية فأتت بولد فهل يكون مسلما؟ أجاب بعض الشافعية بعدمه وبعضهم بإسلامه، وأفتى قاضي القضاة الحنبلى بإسلامه أيضا وفى الشامى: قلت يظهر لي الحكم بالإسلام للحديث الصحيح « كل مولود يولد على الفطرة حتى يكون أبواه هما اللذان يهودانه أو ينصرانه » فإنهم قالوا: إنه جعل اتفاقهما ناقلا له عن الفطرة فإذا لم يتفقا بقي على أصل الفطرة أو على ما هو أقرب إليها ولأن الكفر أقبح القبيح فلا ينبغي الحكم به لشخص بدون أمر صريح. (الدر المختار مع الشامی:٣/ ١٩٧، سعيد).

په امداد الفتاح کي راځي:

(إلا أن يسلم أحدهما) ثم يموت الصبى لأنه يتبع خيرهما دينا فيصلى عليه. (امداد الفتاح:٦٢٨، بيروت).

همدا راز په بخاري شريف کي د جريج د حديث څخه دا معلوميږي زنا کونکي پلار ته هم پلار ويل کيږي.

وګورئ په بخاري شريف کي راځي:

وقال الليث : حدثني جعفر ابن ربيعة عن عبد الرحمن بن هرمز قال : قال أبو هريرة رضي الله عنه : قال رسول الله ﷺ: نادت امرأة ابنها وهو في صومعة قالت: يا جريج قال: اللهم أمي وصلاتي،

قالت: يا جريج قال: اللهم أمي وصلاتي، قالت: يا جريج قال: اللهم أمي وصلاتي، قالت: اللهم لا يموت جريج حتى ينظر في وجه المياميس، وكانت تأوي إلى صومعته راعية ترعى الغنم فولدت، فقيل لها: ممن هذا الولد؟ قالت: من جريج، نزل من صومعته، قال جريج: أين هذه التي تزعم أن ولدها لي قال: يا بابوس من أبوك؟ قال: راعي الغنم. (رواه البخاري: ١/ ١٦١). والله ﷻ أعلم.

تر ښخېدلو وروسته پر قبر د نصيحت کولو حکم

سوال: په ځينو سيمو کي دا عادت دئ چي د مړي تر ښخېدلو وروسته د قبر سره په ولاړه يو کس مختصر بيان کوي ايا دغه کار د شريعت موافق دئ او که نه؟

الجواب: امام بخاري رحمه الله يو باب ايږدي (باب موعظة المحدث عند القبر) د دې څخه معلوميږي چي د محدث له پاره د قبر سره د مړي تر ښخېدلو مخکي د انتظار په وخت کي نصيحت کول وي او که وروسته تر ښخېدلو وي روا دي همدا راز د حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه روايت دئ ((چي زما تر ښخېدلو وروسته)) زما د قبر سره څه وخت ودرېږئ چي زه ورسره اشنا سم او د الله ﷻ د ملائکه وو جواب ورکړم.

وګورئ امام بخاري رحمه الله فرمايي:

باب موعظة المحدث عند القبر وقعود أصحابه حوله.... عن علي رضي الله عنه قال : كنا في جنازة في بقيع الغرقد فأتانا النبي ﷺ فقعد وقعدنا حوله ومعه مخصرة فنكس فجعل ينكت بمخصرته ثم قال: ما منكم من أحد ما من نفس منفوسة إلا كتب مكانها من الجنة والنار وإلا قد كتب شقية ، أو سعيدة فقال: رجل يا رسول الله أفلا نتكل على كتابنا وندع العمل فمن كان منا من أهل السعادة فسيصير إلى عمل أهل السعادة وأما من كان منا من أهل الشقاوة فسيصير الى عمل أهل الشقاوة، قال أما أهل السعادة فييسرون لعمل السعادة وأما أهل الشقاوة فييسرون

لعمل الشقاوة ثم قرأ: ﴿ فأما من أعطى واتقى ﴾ الآية. (رواه البخارى:۱/ ۱۸۲، باب موعظة المحدث عند القبر، فيصل).

په مسلم شريف کي د حضرت عمر بن العاص رضي الله عنه واقعه بيان سوي ده:

.... فإذا أنامت فلا تصحبنى نائحة ولانار، فإذا دفنتمونى فسنوا على التراب سنا ثم أقيموا حول قبرى قدر ما تنحر جزور ويقسم لحمها حتى أستأنس بكم وأنظر ماذا أرجع به رسل ربى. (رواه مسلم شريف:۱/ ۷٦، باب كون الاسلام يهدم ما قبله، فيصل).

په ابو داؤد شريف کي راځي:

عن عثمان بن عفان رضي الله عنه كان النبى صلى الله عليه وسلم إذا فرغ من دفن الميت وقف عليه، فقال « استغفروا لأخيكم وسلوا له بالتثبيت فإنه الآن يسأل ». (أبو داود شريف :۲/ ۱۰۳، باب الاستغفار عند القبر للميت فى وقت الانصراف، سعيد).

په فتاوى عالمګيري کي راځي:

ويستحب إذا دفن الميت ان يجلسوا ساعة عند القبر بعد الفراغ بقدر ما ينحر جزور ويقسم لحمها. (الفتاوى الهندية:۱/ ۱٦٦).

که چي د ښخېدلو وروسته ناسته کول ښه دي، نو په دې وخت کي تلاوت کول يا د دين خبري اورېدل روا دي او د ښخېدلو وروسته پر قبر باندي د سورة بقره لومړی او اخرني برخه ويل هم ثابت دي.

وګورئ په مجمع الزوائد کي راځي:

وعن عبد الرحمن بن العلاء بن اللجلاج قال: قال لي أبي: يا بني إذا أنا مت فالحد لي لحدا فإذا وضعتني في لحدي فقل: بسم الله وعلى ملة رسول الله صلى الله عليه وسلم ثم سن التراب علي سنا ثم اقرأ

عند رأسي: بفاتحة البقرة وخاتمتها، فإني سمعت رسول الله ﷺ يقول ذلك . رواه الطبراني في الكبير ورجاله موثقون. (مجمع الزوائد:۳/ ٤٤).

په مشکوة شریف کي راځي:

عن عبد الله بن عمر رضي الله عنه قال: سمعت رسول الله ﷺ يقول: إذا مات أحدكم فلا تحبسوه وأسرعوا به إلى قبره وليقرأ عند رأسه فاتحة البقرة في قبره الكتاب وعند رجليه بخاتمة البقرة. رواه البيهقي فى شعب الايمان، وقال: والصحيح انه موقوف عليه. (مشكاة شريف:۱/ ۱٤۹، باب دفن الميت).

وګورئ په مغني کي د امام احمد بن حنبل رحمه الله واقعه بیان سوی ده:

روي عنه (أحمد) أنه قال : أنه قال : القراءة عند القبر بدعة وروي ذلك عن هشيم قال أبو بكر : نقل ذلك عن أحمد جماعة ثم رجع رجوعا أبان به عن نفسه، فروى جماعة أن أحمد نهى ضريرا أن يقرأ عند القبر وقال له: إن القراءة عند القبر بدعة، فقال له محمد بن قدامة الجوهري: يا أبا عبد الله ما تقول في مبشر الحلبي ؟ قال ثقة، فأخبرني مبشر عن أبيه أنه أوصى اذا دفن يقرأ عنده بفاتحة البقرة وخاتمتها، وقال سمعت ابن عمر يوصي بذلك قال أحمد بن حنبل فارجع فقل للرجل يقرأ. (المغنى:۲/ ٤۲٥، بيروت). والله ﷻ

د حضرت عمرو العاص رضي الله عنه پر واقعه سوال

سوال: د حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه پر دغه واقعه چي څه وخت زما د قبر سره ودریږئ چي زه د قبر سره اشنا او الفت پیدا کړم، سلفي حضرات سوال کوي چي دا واقعه د هغه حدیث څخه خلاف ده په کوم کي چي د منکر او نکیر د سوال او جواب له پاره راتلل د خلکو تر تګ وروسته ثابت دئ.

عن أنس ﷺ عن النبي ﷺ قال: العبد إذا وضع في قبره وتولي وذهب أصحابه حتى إنه ليسمع قرع نعالهم أتاه ملكان ..... الحديث. (رواه البخاري). **د دې څه جواب دئ؟**

الجواب: د حضرت عمرو بن العاص ﷺ په واقعه کې د ((تولى)) څخه ((فرغوا عن دفنه)) مراد دئ ((أى تولى اصحابه عن التدفين وذهبوا عن التدفين)) که چیرې د دې څخه د خلکو تګ مراد سي نو که دیوه کس پر قبر باندې تر یوه کال پورې خلک کښېنستل نو هم به سوال او جواب نه ورڅخه کیږئ؟ والله ﷻ اعلم.

د قبر د خاوند د ځینو کراماتو ثبوت

سوال: ځیني خلک وایي چې د فلاني پر قبر د نور شعاوی یا رڼاوي لیدل کیږي یا دا وایي چې حیوانات د هغه پر قبر نه خیژي یا دا وایي چې هغه ځوک چې نژدې ورته ښخ سوي وي خلک یې ښه ګڼي ایا دغه خبرې صحیح دي او که نه؟

الجواب: ډېر وختونه د بزرګانو له قبرو څخه خلاف عادت شیان ښکاره کیږي چې له هغو څخه انکار کول له مشاهدې څخه د انکار کولو سره برابر وي تر داسې حده چې هغو حضراتو لا هم دا خبره منلې ده چې ځوک په شریعت کې د بدعاتو پلټنه په خودبین سره کوي.

وګورئ په اقتضاء الصراط المستقیم کې حافظ ابن تیمیه رحمه الله فرمایي:

وكذلك ما يذكر من الكرامات، وخوارق العادات، التي توجد عند قبور الأنبياء والصالحين، مثل نزول الأنوار والملائكة عندها وتوقي الشياطين، والبهائم لها، واندفاع النار عنها وعمن جاورها، وشفاعة بعضهم في جيرانه من الموتى، واستحباب الاندفان عند بعضهم، وحصول الأنس والسكينة عندها، ونزول العذاب بمن استهانها، فجنس هذا حق، ليس مما نحن فيه. (اقتضاء الصراط المستقيم: ۲/ ۲۵۵، مكتبة الرشد، الرياض). والله ﷻ اعلم.

د بې وارثه مړي د مال حکم

سوال: یو سړي مړ سو او له چا سره چي مړ سوی دئ هغه ته یې د میراث خورو معلومات نه سته، نو اوس د ده له مال سره باید څه وکړل سي او هغه وصیت هم کړی نه دئ؟

الجواب: که چیري دغه سړی په خپله فقیر وي نو په خپله دې استعمال کړي او که فقیر نه وي نو بیا دې پر فقراوو تقسیم کړي.

وګورئ په فتاوی سراجیه کي راځي:

غريب مات في بيت رجل وليس له وارث معروف وصاحب الدار فقير، فله أن يتصدق على نفسه كذا ذكره في فتاوى سمرقند. (فتاوى السراجية على هامش الخانية:۲/ ٤۹، كوئتة). والله تعالى اعلم.

د څلورو مذاهبو په رڼا کي د تلاوت یا د بل شي څخه د ثواب رسولو حکم

سوال: خلک و هدیرو ته ځي او په ولاړه تلاوت کوي او دا ثواب مړي یا د هدیري والاوو ته هبه کوي نو ځینی سلفیان پر دې رد کوي نو څلور مذهبونه په دې کي څه وایي یعنی د مړی له پاره د ثواب په نیت د تلاوت څه حکم دئ؟

الجواب: په مذاهب اربعه (په څلورو مذهبو کي) دغه عمل روا او مفید دئ. د احنافو د مشهور کتاب کنز الدقائق په شرح کي علامه زیلعی په باب د حج من الغیر کي لیکلي دي:

الأصل في هذا الباب أن الإنسان له أن يجعل ثواب علمه لغيره عند أهل السنة والجماعة صلاة كان أو صوما أو حجا أو صدقة أو قراءة القرآن أو الأذكار إلى غير ذلك من جميع أنواع البر، يصلي ذلك إلى الميت وينفعه. (شرح كنز الدقائق:۲/ ۸۳).

په هدایه باب الحج عن الغیر (۲۹٦/۱) کي هم همدغه مضمون سته

ابن الحاج مالکي په المدخل کي لیکلي دي:

لو قرأ في بيته وأهدى إليه لوصلت، وكيفية وصوله أنه إذا فرغ من تلاوته وهب ثوابها له أو يقول: اللّهم اجعل ثوابها له فإن ذلک دعاء بالثواب والدعاء يصل بلا خلاف.
(المدخل:١/ ٢٦٦).

علامه محمد بن خليفة وشتاني ابی مالکی رحمه الله په شرح مسلم کي د جريد تينو تر تسبيح لاندي وايي:

وأخذت منه تلاوة القرآن على القبر لأنه إذا رجى التخفيف بتسبيح الشجر فالقرآن أولى.
(إكمال إكمال المعلم شرح مسلم للأبي:٢/ ١٢٥، باب الدليل على نجاسة البول، بيروت).

د شوافعو سرخيل امام نووی رحمه الله فرمايي:

ويستحب للزائر يعنى زائر القبور أن يسلم علي المقابر ويدعو لمن يزوره ولجميع أهل المقبرة والافضل أن يكون السلام والدعاء بما ثبت في الحديث ويستحب إن يقرأ من القرآن ما تيسر ويدعو لهم عقبها نص عليه الشافعي واتفق عليه الاصحاب. (المجموع شرح المهذب:٥/ ٣١١، دار الفكر).

په حنابله وو کي موفق الدين ابن قدامه رحمه الله فرمايي:

وأي قربة فعلها ، وجعل ثوابها للميت المسلم ، نفعه ذلك ، إن شاء الله. (المغنى:٢/ ٤٢٥).

حافظ ابن قيم حنبلي په خپل كتاب الروح کي فرمايي:

واختلفوا في العبادة البدنية كالصوم والصلاة وقراءة القرآن والذكر فمذهب الإمام أحمد وجمهور السلف وصولها وهو قول بعض أصحاب أبى حنيفة رحمه الله، نص على هذا الإمام أحمد رحمه الله، في رواية محمد بن يحيى الكحال قال: قيل لأبى عبد الله الرجل يعمل الشيء من الخير من صلاة أو صدقة أو غير ذلك فيجعل نصفه لأبيه أو لأمه قال: أرجو أو قال الميت

يصل إليه كل شيء من صدقة أو غيرها، وقال أيضا: اقرأ آية الكرسي ثلاث مرات وقل هو الله أحد وقل إن فضله «أى ثوابه» لأهل المقابر. (كتاب الروح:ص ٤٩، المسألة السادسة عشرة، دار الفكر، بيروت). والله تعالى اعلم.

د نبي کريم ﷺ ژوند د اهل سنت والجماعت په نزد

سوال: دا خبره خو منل سوې ده چي د نبي کريم ﷺ وفات د ربيع الاول په مياشت کي سوی دئ مګر تر هغه وروسته د ده په قبر کي د ده له جسد مبارک سره د ده د روح تعلق سته او که نه؟ که چيري د روح تعلق له جسد سره وي نو د دې تعلق له وجي درود شريف اوري او که نه؟ دغه دا د احاديثو او د مشايخ د اقوالو په رڼا کي واضح کړئ؟

ځيني خلک وايي: ﴿ لا يسمعوا دعاءكم ولو سمعوا ما استجابوا لكم ويوم القيامة يكفرون بشرككم ولا ينبئك مثل خبير﴾. (سورة فاطر:١٤).

په دې آيت کي دا خبره ښکاره سوه چي کوم بزرګان چي کافران يا بل څوک رابولي هغه خبري نه اوري يعني له آيت څخه د هغو د نه اورېدو نفي ښکاره سوه.

الجواب: ټول اهل سنت والجماعت پر دې خبره سره متفق دي چي انبياء کرام عليهم الصلوٰة والسلام په خاص ډول حضرت محمد ﷺ ته په قبر کي برزخي ژوند حاصل دئ او د ژوند په ټولو لوازماتو سره متصف دئ او د هغو ژوند د شهداوو تر ژوند هم لوړ دئ همدا ډول تقريبا له يوسلو پنځوس احاديثو څخه چي په هغو کي د قبر د عذاب او د ثواب او د حيات (د ژوند) ذکر دئ نو په دغه احاديثو سره د انبياء کرامو ژوند په دلالت النص سره ثابت دئ همدا ډول په ډېرو احاديثو کي د الفاظ ښکاره ذکر دئ چي انبياء عليهم الصلاة والسلام په خپلو قبرو کي ژوندي دي.

د نبي کريم ﷺ تر وفات وروسته د روح تعلق له جسد سره موجود دئ او دغه ژوند د بنوري رحمه الله له قوله سره سم دا د دنيوي ژوند په شان دئ بلکي تر هغه لا قوي دئ ځکه په دنيا کي هر وخت جسم ته د روح خاصيتونه نه حاصليږي او په برزخي ژوند کي ورته حاصليږي له دې سبب هغه ژوند

دنيوي ژوند په ډول هم دئ او د برزخي ژوند په ډول هم دئ نو ځکه د دنيوي ژوند په مثل بلکي تر هغه هم قوي دئ. او د دغه ژوند له سببه نبي كريم ﷺ اوريدل كوي او جواب هم وركوي.

د نبي كريم ﷺ دژوند مختصر دليلونه په لاندي ډول دي:

الف _ په قران كريم كي په ډيرو ځايو كي د نبي كريم ﷺ دژوند ثبوت اشارة او دلالت موجود دئ:

١ _ الله تعالى فرمايي:

﴿ واسأل من أرسلنا من قبلك من رسلنا أجعلنا من دون الرحمن آلهة يعبدون ﴾. (سورة الزخرف الاية:٤٥).

تر دغه آيت لاندي امام جوزي رحمه الله فرمايي:

أنه لما أسري به جمع له الأنبياء فصلى بهم ، ثم قال له جبريل : سل من أرسلنا قبلك، الآية. فقال : لا أسأل ، قد اكتفيت، رواه عطاء عن ابن عباس رضي الله عنهما وهذا قول سعيد بن جبير رحمه الله، والزهري رحمه الله، وابن زيد رحمه الله؛ قالوا : جمع له الرسل ليلة أسري به ، فلقيهم ، وأمر أن يسألهم ، فما شك ولا سأل . (زاد المسير فى علم التفسير:٧/ ٣١٩، بيروت، ومثله فى : التفسير القرطبى:١٦/ ٨٣، وتفسير الطبرى:٢١/ ٦١٢).

حضرت مولانا انور شاه كشميري رحمه الله فرمايي:

قوله تعالى: واسئل من أرسلنا..... يستدل به على حياة الأنبياء. (مشكلات القرآن، ص ٣٧٧، سورة الزخرف).

٢ _ ﴿ ولقد آتينا موسى الكتاب فلا تكن في مرية من لقائه ﴾. (سورة الم سجدة: الآية:٢٣).

علامه آلوسى رحمه الله فرمايي:

عن أبي العالية .... ﴿ وسئل من أرسلنا ﴾ ..... وأراد بذلك لقاءه صلى الله تعالى عليه وسلم إياه ليلة الإسراء كما ذكر في الصحيحين ، وغيرهما ، وروي نحو ذلك عن قتادة وجماعة من السلف ،..... وكان المراد من قوله: ﴿ فلا تكن في مرية من لقائه ﴾ على هذا وعده تعالى نبيه عليه الصلاة والسلام بلقاء موسى وتكون الآية نازلة قبل الإسراء . (روح المعانی:۲۱/ ۱۳۸ . وكذا فی زاد المسیر:٦/ ٣٤).

۳_ ﴿ بل أحياء عند ربهم يرزقون (١٦٩) فرحين بما آتاهم الله من فضله ﴾ (سورة ال عمران:١٦٩).

٤_ ﴿ ولا تقولوا لمن يقتل في سبيل الله أموات بل أحياء ولكن لا تشعرون ﴾. (سورة البقرة:الآية:١٥٤).

د دغو دواړو آياتونو په اړه علامه ابن الحجر رحمه الله فرمايي:

قلت: وإذا ثبت أنهم أحياء من حيث النقل فإنه يقويه من حيث النظر كون الشهداء أحياء بنص القرآن، والأنبياء أفضل من الشهداء. (فتح الباری:٦/ ٤٨٨، کتاب احادیث الانبیاء).

يعنى كله چي له نقل څخه دا خبره ثابته سوه چي شهيدان ژوندي دي او انبياء كرام عليهم السلام تر شهيدانو افضل دي نو ځكه د دغه آيت څخه د هغو ژوند په طريقه اولى سره ثابتيږي.

باء _ د نبي كريم ﷺ ژوند د احاديثو په رڼا كي:

١_ وعن أنس بن مالك رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: الأنبياء أحياء في قبورهم يصلون. رواه أبو يعلى والبزار وجال أبی يعلى ثقات. (مجمع الزوائد:۸/ ۲۱۱، باب ذکر الأنبيا، ومسند أبی یعلی الموصلی:۷/ ٤٤٥، رقم:۳۳۳۱، وحیاة الأنبیاء للبیهقی:ص ۳).

دغه حديث محدثينو او فقهاوو صحيح ګرځولی دئ.

قال الهيثمي رحمه الله: ورجال أبي يعلى ثقات. (مجمع :٨/ ٢١١، دار الفكر).

قال الملا على القارى رحمه الله: وصح خبر الأنبياء أحياء فى قبورهم يصلون. (مرقاة:٣/ ٢٤١، باب الجمعة).

قال ابن حجر رحمه الله: وصححه البيهقي. (فتح البارى:٦/ ٤٨٨).

٢_ عن أبى هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: « من صلى على عند قبرى سمعته، ومن صلى على غائبا أبلغته». (رواه البيهقى فى شعب الإيمان:٢/ ٢١٥، رقم:١٥٨٣).

په تنزية الشريعه كي ذكر دي:

من صلي علي عند قبري سمعته ومن صلى علي غائيا وكل الله بها ملكا يبلغني، وكفا أمر دنياه وآخرته، وكنت له وشهيدا وشفيعا. (خط) من حديث أبى هريرة رضي الله عنه ولا يصح، فيه محمد بن مروان وهو السدى الصغير، وقال العقيلى: لا أصل لهذا الحديث. (تعقب) بأن البيهقى أخرجه فى الشعب من هذا الطريق، وتابع السدى عن الأعمش فيه أبو معاوية، أخرجه أبو الشيخ فى الثواب (قلت) وسنده جيد كما نقله السخاوى عن الحافظ ابن حجر رحمه الله والله أعلم. وله شواهد من حديث ابن مسعود وابن عباس وأبى هريرة، أخرجها البيهقى، ومن حديث أبى بكر الصديق أخرجه الديلمى ومن حديث عمار أخرجه العقيلى من طريق على بن قاسم الكندى وقال: على بن القاسم شيعى فيه نظر، لا يتابع على حديثه. انتهى. وفى لسان الميزان (٤/ ٢٤٩): أن ابن حبان ذكر على ابن القاسم فى الثقات، وقد تابعه عبد الرحمن بن صالح وقبيصة بن عقبة، أخرجهما الطبرانى. (تنزية الشريعة المرفوعة:١/ ٣٣٥، دار الكتب العلمية. ومثله فى اللآلى المصنوعة:١/ ٢٥٩، دار الكتب العلمية).

لنډه دا ده چي د ابو الشيخ په سند سره دا حديث قوي او غوره دئ او محدثين دا صحيح كړى او د دې څو شاهدان هم بيانوي په دې حديث كي ښكاره ده كله چي د نبي كريم ﷺ له قبر مبارك سره درود شريف ويل كيږي نو دى ﷺ يې په خپله اوري.

۳ـ عن أوس بن أوس رضي الله عنه عن النبي ﷺ قال : إن من أفضل أيامكم يوم الجمعة، فيه خلق آدم عليه السلام، وفيه قبض، وفيه النفخة، وفيه الصعقة، فأكثروا علي من الصلاة فإن صلاتكم معروضة علي. قالوا يا رسول الله! وكيف تعرض صلاتنا عليك وقد أرمت؟ قال: إن الله عز و جل قد حرم على الأرض أن تأكل أجساد الأنبياء عليهم السلام. (سنن النسائى:۱/ ۲۰۳-۲۰٤ – وكذا فى المستدرك للحاكم:٤/ ٥٦٠، رقم:۸٦۸۱ – وسنن ابن ماجه:۱/ ۷٦- وابو داؤد:۱/ ۲۱٤).

امام حاكم رحمة الله عليه، علامه ذهبى رحمة الله عليه، ابن خزيمه رحمة الله عليه، ابن حبان رحمة الله عليه، دار قطنى رحمة الله عليه، نووى رحمة الله عليه، ابن كثير رحمة الله عليه، ابن حجر رحمة الله عليه، ابن القيم رحمة الله عليه، علامه منذرى رحمة الله عليه او شيخ عبد الحق رحمة الله عليه او نور دغو ټولو حضراتو دغه حديث صحيح ګرځولى دئ.

دغه حديث هم پر خپل دلالت ښكاره دئ چي انبياء عليهم السلام په قبرو كي ژوندي دي:

٤ـ عن ابن مسعود رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: إن لله ملائكة سياحين في الأرض يبلغوني من أمتي السلام. (نسائى:۱/ ۱۸۹، مسند احمد:۱/ ٤٥۲، رقم ٦٤۳۲۱، مصنف ابن أبى شيبة:٦/ ٤٤، المجلس العلمى: رقم:۸۷۹٦، مصنف عبد الرزاق:۲/ ۲۱٥).

علامه هيثمى رحمة الله عليه، نسائي رحمة الله عليه، سخاوي رحمة الله عليه، دارمى رحمة الله عليه، ابو نعيم رحمة الله عليه، بيهقى رحمة الله عليه او ابن حبان دغه حديث صحيح ګرځولى دئ.

٥ـ عن أبي الدرداء رضي الله عنه قال : قال رسول الله ﷺ : أكثروا الصلاة علي يوم الجمعة ؛ فإنه مشهود ، تشهده الملائكة ، وإن أحدا لن يصلي علي ، إلا عرضت علي صلاته ، حتى يفرغ منها،

قال : قلت : وبعد الموت ؟ قال : وبعد الموت ، إن الله حرم على الأرض أن تأكل أجساد الأنبياء ، فنبي الله حي يرزق. (رواه ابن ماجه:ص ۱۱۸).

په فيض القدير كي ذكر دي:

قال الدميرى: رجاله ثقات. (فيض القدير:۲/ ۸۷، المكتبة التجارية الكبرى).

جيم _ د نبي كريم ﷺ ژوند د علماوو او مشائخ د اقوالو په رونا كي:

۱ _ حافظ ابن حجر رحمة الله عليه فرمايي:

إن حياته ﷺ في القبر لايعقبها موت، بل يستمر حيا، والأنبياء أحياء في قبورهم. (فتح الباري:۷/ ۲۹).

۲ _ امام بيهقى رحمة الله عليه فرمايي:

إن الله جل ثناءه رد إلى الأنبياء عليهم السلام أرواحهم، فهم أحياء عند ربهم كالشهداء. (حياة الأنبياء، ص ۲۲، حديث ۲۱).

۳ _ ملا على قاري رحمة الله عليه فرمايي:

المعتقد المعتمد أنه صلى الله عليه وسلم حى في قبره كسائر الأنبياء في قبورهم وهم أحياء عند ربهم، وإن لأروحهم تعلقا بالعالم العلوى والسفلى كما كانوا في الحال الدنيوى فهم بحسب القلب عرشيون وباعتبار القالب فرشيون. (تسكين الصدور، ص ۲۳۱، بحواله شرح الشفاء:۲/ ۱٤۲، طبع مصر).

۴ _ علامه سمهودى رحمة الله عليه وايي:

لاشك في حياته صلى الله عليه وسلم بعد وفاته وكذا سائر الأنبياء عليهم الصلاة والسلام أحياء في قبورهم حياة أكمل من حياة الشهداء التى أخبر الله تعالى بها في كتابه العزيز.

(تسكين الصدور، ۲۳۰ –بحواله وفاء الوفاء:۲/ ٤۰٥).

۵_ علامه سيوطى رحمة الله عليه ليكي:

فأقول: حياة النبى ﷺ فى قبره هو وسائر الأنبياء معلومة عندنا علما قطعيا لما قام عندنا من الأدلة فى ذلک وتواترت به الأخبار. (الحاوى للفتاوى:۲/ ۱۷۸).

همدا ډول علامه سيوطى رحمة الله عليه وايي:

قال المتكلون المحققون من أصحابنا: إن نبينا صلى الله عليه وسلم حى بعد وفاته. (الحاوى للفتاوى:۲/ ۱۸۰)

او همدا ډول ليکي: سيوطى رحمة الله عليه:

وقال الشيخ تقى الدين السبكى: حياة الأنبياء والشهداء فى قبروهم كحياتهم فى الدنيا ويشهد له صلاة موسى عليه السلام فى قبره، فإن الصلاة تستدعى جسدا حيا. (الحاوى للفتاوى:۲/ ۱۸٤، رسالة إنباء الأذكياء بحياة الأنبياء).

٦_ مولانا شبير احمد عثمانى رحمة الله عليه فرمايي:

إن النبى ﷺ حى كما هى تقرر وإنه يصلى فى قبره بأذان وإقامة. (فتح الملهم:۳/ ٤۱۹، قديم نسخه).

۷_ علامه عينى رحمة الله عليه د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه د قول ((ولا يذيقک الله الموتتين)) په شرحه کي ليکي:

وهما الموتتان الواقعتان لكل أحد غير الأنبياء عليهم الصلاة والسلام، فإنهم لايموتون فى قبورهم بل هم أحياء. (عمدة القارى:۱۱/ ٤۰۲-٤۰۳، باب قبل باب مناقب عمر رضي الله عنه).

۸_ علامه شرنبلالى الحنفى رحمة الله عليه ليکي:

ومما هو مقرر عن المحققين أنه صلى الله عليه وسلم حي يرزق متمتع بجميع الملاذ والعبادات غير أنه حجب عن أبصار القاصرين عن شريف المقامات. (نورالإيضاح:ص ۱۸۹، فصل فی زیارة النبی ﷺ).

۹_ ملا علي قاري رحمة الله عليه ليكي:

إن الأنبياء أحياء فی قبورهم فيمكن لهم سماع صلاة من صلى عليهم. (مرقاة:۳/ ۲۳۸، مكتبة امدادية، ملتان).

۱۰_ شيخ عبد الحق محدث دهلوی رحمة الله عليه فرمايي، چي د انبياوو عليهم السلام حيات (ژوند) متفق عليه دئ او په دې کي د هيڅ چا اختلاف نه سته.

۱۱_ علامه شامی رحمة الله عليه ليکلي دي:

وبهذا التقرير اندفع ما أورده المقدسي على قولهم « ولا رسول بعده » من أنهم إن أرادوا أن رسالته مقصورة على حياته، فممنوع، إذ قد صرح في منية المفتي بأن رسالة الرسول لا تبطل بموته، ثم قال: ويمكن أن يقال إنها باقية حكما بعد موته وكان استحقاقه بحقيقة الرسالة، لا بالقيام بأمور الأمة اهـ. ولا يخفى ما في كلامه من إيهام انقطاع حقيقتها بعده فقد أفاد في الدر المنتقى أنه (أی القول بأن رسالته صلى الله عليه وسلم باقية بعد موته حكما فقط) خلاف الإجماع. قلت وأما ما نسب إلى الإمام الأشعري إمام أهل السنة والجماعة من إنكار ثبوتها بعد الموت، فهو افتراء وبهتان والمصرح به في كتبه وكتب أصحابه خلاف ما نسب إليه بعض أعدائه لأن الأنبياء عليهم الصلاة والسلام أحياء في قبورهم. اهـ. (شامی:٤/ ١٥١، مطلب فی ان رسالته صلى الله عليه وسلم باقية بعد موته، سعيد).

۱۲_ د احنافو شخه ابن عقيل رحمة الله عليه فرمايي:

هو صلى الله عليه وسلم حي في قبره يصلي: (آپ کی مسائل اور ان کا حل: ١٠/ ٤٩٩، بحوال الروضة البهية: ص ١٤).

١٣_ علامه عبد الوهاب نجدي رحمة الله عليه فرمايي:

والذى نعتقد أن رتبة نبينا صلى الله عليه وسلم على مراتب المخلوقين على الإطلاق، وأنه حى فى قبره حياة مستقرة أبلغ من حياة الشهداء المنصوص عليها فى التنزيل، إذ هو أفضل منهم بلا ريب، وأنه يسمع من يسلم عليه. (تسكين الصدور: ٢٦٣، بحوالة اتحاف النبلاء، ٤١٥).

١۴_ له غير مقلدينو څخه قاضي شوكاني رحمة الله عليه ليكي:

وقد ذهب جماعة من المحققين إلى أن رسول الله ﷺ حي بعد وفاته، وإنه يسر بطاعات أمته وأن الأنبياء لايبلون، مع أن مطلق الأدراك كالعلم والسماع ثابت لسائر الموتى. (نيل الأوطار: ٣/ ٣٠٤، باب فضل يوم الجمعة).

د نبي كريم ﷺ ژوند د ديوبند د علماوو له نظره:

د مولانا شبير احمد عثماني حواله په فتح الملهم كي تېره سوه.

١۵_ حكيم الامت مولانا اشرف اعلي تهانوي رحمة الله عليه فرمايي:

بيهقي او نور له حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت كوي چي نبي كريم ﷺ وفرمايل: چي انبياء عليهم السلام په خپلو قبرو كي ژوندي كيږي او لمنځونه كوي. (كذا فى المواهب).

او دغه لمونځ تكليفي نه دئ بلكي د خوند اخستلو له پاره دئ او د هغو له دغه ژوند څخه دا مه فهموه چي تا ته يې هر ځاى رابلل يعنى ننګول روا دي.

١٦_ المهند على المفند د ديوبند د علماوو پر اتفاقي او اجتماعي عقائدلو مشتمل دئ په هغه كي مولانا خليل احمد سهار نپوري رحمة الله عليه فرمايي:

عندنا وعند مشايخنا حضرة الرسالة صلى الله عليه وسلم حي في قبره الشريف، وحياته صلى الله عليه وسلم دنيوية من غير تكليف، وهي مختصة به صلى الله عليه وسلم وبجمع الأنبياء والشهداء، لابرزخية كما هي حاصلة لسائر المؤمنين بل لجميع الناس، كما نص عليه العلامة السيوطي رحمه الله في رسالته « إنباء الإذكياء بحياة الأنبياء » حيث قال: قال الشيخ تقي الدين السبكي: حياة الأنبياء والشهداء في القبر كحياتهم في الدنيا ويشهد له صلاة موسى عليه السلام في قبره فإن الصلاة تستدعي جسدا حيا إلى آخر ماقال فثبت بهذا أن حياته دنيوية برزخية لكونها في عالم البرزخ، ولشيخنا شمس الإسلام والدين محمد قاسم العلوم على المستفيدين قدس الله سره العزيز في هذا المبحث رسالة مستقلة دقيقة المأخذ بديعة السملك، لم يرمثلها، قد طبعت وشاعت في الناس واسمها « آب حيات » أي ماء الحياة. انتهى. (المهند على المفند:ص ٤٣-٤٤، السوال الخامس).

۱۷_ همدارنګه دنبي کريم ﷺ دژوند عقيده دا اجماعي مسئله ده لکه څنګه چې دمولانا شيخ عبدالحق محدث دهلوی رحمه الله په حواله کې تېره سوه.

همدا ډول علامه سخاوی رحمه الله فرمايي:

نحن مؤمن ونصدق بأنه صلى الله عليه وسلم حي يرزق في قبره، إن جسده الشريف لاتأكله الأرض، والإجماع على هذا. (القول البديع:ص ۱۷۲، دار الكتب العربى).

۱۸_ دنبي کريم ﷺ دژوند څخه منکرين يې له معتزله او دهغو په مثل له خلکو لکه اهل سنت والجماعت څخه ايستلی دي:

قال العلامة العيني رحمه الله في شرح البخاري: من أنكر الحياة في القبروهم المعتزلة ومن نحا نحوهم . (عمدة القاري:۱۱/ ۴۰۳، ملتان).

د نبي کریم ﷺ د ژوند پر موضوع د علامه بنوري رحمه الله په وینا مولانا سر فراز خان صفدر صاحب یو ډېر ښه کتاب د (تسکین الصدرو) په نامه چاپ کړی دئ چي په هغه کتاب کي ده پر هر کونج په تفصیل سره رڼا اچولې ده او دا خبره یې ثابته کړې ده چي ټول اهل سنت والجماعت پر دې خبره سره متفق دي چي انبیاء کرام په خپلو قبرو کي ژوندي دي او د هغوی ژوند د شهیدانو تر ژوند هم لوړ دئ او د منکرینو د دلائلو یې په تفصیل سره جوابونه ورکړي دي.

پر دغه کتاب د دیوبند د لویو علماوو تصدیقونه هم سته او د ټولو رایه دا ده چي دا کتاب جامع، محقق، معتدل، مدلل او په هر مسئله کي د جمهورو مذهب اختیار کونکی دئ.

د څو هغو حضراتو نومونه چي د هغو تصدیقونه او دوهم وار نظرونه د کتاب په شروع کي دي.

۱ _ مسند العلماء صدر المدرسین حضرت مولانا فخر الدین احمد صاحب د دار العلوم دیوبند مخکني شیخ الحدیث.

۲ _ صدر المفتین حضرت مولانا سید مهدی حسن صاحب رحمه الله دار العلوم دیوبند مفتي اعظم.

همدا ډول په کتاب کي یې نومونه ذکر دي رجوع ورته وکړئ. له دې څخه پرته د نورو ډېرو لویو علماوو تصدیقونه او تائیدونه د کتاب په شروع کي موجود دي. والله تعالی اعلم.

د نبي کریم ﷺ پر ژوند سوال او د هغه جواب

سوال: ځیني حضرات وایي چي دغه عقیده د قرآن کریم خلاف ده ځکه په قرآن کریم کي راغلي دي: ﴿إن تدعوهم لا يسمعوا دعاءكم﴾.؟

الجواب: د دې جواب په تفسیر مظهری کي دئ:

(إن تدعوهم) لقضاء حاجتكم (لا يسمعوا دعاءكم) لانها جمادات، (ولو سمعوا) على سبيل الفرض أو على تقدير كونهم ذا شعور كابليس (ما استجابوا لكم) لعدم قدرتهم على الإنفاع أو لتبرئهم منكم ومما تدعون لهم من الالوهية كعيسى وعزير والملائكة .(تفسير مظهری:۸/ ۵۰).

او که چیري دا عام کړل سي او هغو انبیاء علیهم السلام ته ورشامل سي له چا چي ځیني خلک کومک غواړي نو بیا د ابراهیم ﷺ په دې وینا کي ﴿ فإنهم عدو لي إلا رب العالمین ﴾. (سورة هود الآیة:۷۷).

ضمیر د ذو العقولو له پاره دئ نو ټول انبیاء علیهم السلام چي د ده تر مخته تېر سوي دي هغه به د ده دښمنان سي.

د دغه آیت مطلب تعلق د انبیاوو د اورېدلو سره نه دئ.

علامه ابن القیم رحمه الله وایي:

وأما قوله تعالى ﴿ وما أنت بمسمع من في القبور ﴾ فسياق الآية يدل على أن المراد منها أن الكافر الميت القلب لا تقدر على اسماعه اسماعا ينتفون به كما أن من في القبور لا تقدر على إسماعهم إسماعا ينتفعون به، ولم يرد سبحانه أن أصحاب القبور لا يسمعون شيئا البتة كيف وقد أخبر النبي ﷺ أنهم يسمعون خفق نعال ...... وشرع السلام عليهم بصيغة الخطاب الذي يسمع. (كتاب الروح:ص ٥٥).

مطلب دا چي په ایت کي مطلق د مړو د اورېدو نفی نه ده راغلې بلکي له ژوندو کافرانو څخه نفی ده کوم چي نفع رسونکي کېدای سي. والله تعالى اعلم.

دوهم سوال او جواب:

سوال: په حدیث کي راغلی دي چي الله تعالى پر مځکه د انبیاء علیهم السلام جسدونه خوړل حرام کړي دي نو بیا د دې حدیث څه مطلب دئ چي موسی ﷺ د یوې سپین سرى ښځي په وینا د یوسف ﷺ هډوکی یو وړل، که چیري دغه روایت صحیح وي نو د هغه بل څه مطلب دئ؟

الجواب: لوړ ذکر سوی روایت درست دئ او مطلب یې دا دئ چي موسی ﷺ ټول جسد وړی وو، په دې کي مجاز مرسل دئ او مجاز مرسل ودې ته وایي چي یو جزء ذکر کړي او مراد له هغه څخه ټول جسد کړي او دا ډېر استعمالیږي.

وګورئ حدیث شریف:

أخرجه أبو يعلى في « مسنده» (١/ ٣٤٤) والحاكم (٢/ ٤٠٤ -٤٠٥ و ٥٧١-٥٧٢). من ثلاث طرق عن يونس بن أبى إسحاق عن أبي بردة : عن أبي موسى قال : أتى النبي ﷺ أعرابيا فأكرمه، فقال له : ائتنا، فأتاه فقال رسول الله ﷺ : « سل حاجتك » فقال : ناقة بركبها وأعنزا يحلبها أهلي فقال رسول الله ﷺ : عجزتم أن تكونوا مثل عجوز بني إسرائيل ؟ فقال أصحابه يا رسول الله!وما عجوز بني إسرائيل؟ قال: إن موسى لما سار ببنى إسرائيل من مصر ضلوا الطريق فقال : ما هذا ؟ فقال علماؤهم (نحن نحدثک): إن يوسف لما حضره الموت أخذ علينا موثقا من الله أن لا نخرج من مصر حتى ننقل عظامه معنا، قال : فمن يعلم موضع قبره ؟ قالوا ماندري أين قبر يوسف إلا عجوز من بني إسرائيل فبعث إليها فأتته فقال : دلوني على قبر يوسف قالت : لا والله لا أفعل) حتى تعطيني حكمي، قال : ما حكمك ؟ قالت : أكون معك في الجنة، فكره أن يعطيها ذلك، فأوحى الله إليه أن أعطها حكمها فانطلقت بهم إلى بحيرة، موضع مستنقع ماء، فقالت : أنضبوا هذا الماء فأنضبوا قالت : احفروا واستخرجوا عظام يوسف فلما أقلوها إلى الأرض إذا الطريق مثل ضوء النهار.

والسياق لأبى يعلى الزيادات مع الرواية الأخرى للحاكم وقال: صحيح على شرط الشيخين وقد حكم أحمد وابن معين أن يونس سمع من أبى بردة حديث« لانكاح إلا بولى» ووافقه الذهبى.

أقول (الشيخ الألبانى: إنما هو على شرط مسلم وحده فإن يونس لميخرج له البخارى فى «صحيحه» وإنما فى «جزء القراءة ».

(فائدة) كنت استشكلت قديما قوله في هذا الحديث « عظام يوسف » لأنه يتعارض بظاهره مع الحديث الصحيح : « إن الله حرم على الأرض أن تأكل أجساد الأنبياء» حتى وقفت على حديث ابن عمر رضي الله عنه « أن النبي صلى الله عليه وسلم لما بدن ، قال له تميم الداري : ألا أتخذ لك منبرا يا رسول الله يجمع أو يحمل عظامك ؟ قال : بلى فاتخذ له منبرا مرقاتين ». أخرجه أبو داود (١٠٨١) بإسناد جيد على شرط مسلم . فعلمت منه أنهم كانوا يطلقون «العظام » و يريدون البدن كله ، من باب إطلاق الجزء و إرادة الكل ، كقوله تعالى ﴿(و قرآن الفجر)﴾ أي : صلاة الفجر . فزال الإشكال و الحمد لله ، فكتبت هذا لبيانه . (سلسلة الأحديث الصحيحة:١/ ٥٥٩).

يه علوم البلاغة كي ذكر دي:

المجاز المرسل: وهو ما كانت العلاقة بين ما استعمل فيه وما وضع له ملابسة غير التشبيه ...... و علاقات هذا المجاز كثيرة (منها) الجزئية بمعنى أن الشيء يتضمنه وغيره شيء أخر..... من هذا قوله تعالى: ﴿ قم الليل إلا قليلا ﴾ أى صل وقوله تعالى: ﴿لاتقم فيه أبدا ﴾ أى الاتصل ...... قال معن بن أوس:

أعلمه الرماية كل يوم ۞ فلما اشتد ساعده رمانى

وكم علمته نظم القوا فى ۞ فلما قال قافية هجانى.

(علام البلاغة المبحث الرابع فى المجاز المرسل: ٢٥٠-٢٥١، بيروت). والله ﷻ اعلم.

د مړي له پاره د ديدن د وصال د لفظ د استعمالولو حکم

سوال: ځيني خلک د مړي په اړه وايي چي د هغه ديدن وسو ځيني سلفي حضرات دا بې ادبي بولي ځکه چي د وصال لفظ يعنی ديدن دا خو په عشق مجازي کي استعماليږي؟

الجواب: وصال له محبوب سره وملاقات کولو ته وايي او دا له عشق مجازي سره خاص نه دئ او د الله ﷻ له پاره هم دغه لفظ استعمالېدلای سي.

په بخاري شريف کي يې وګورئ:

عبد الرحمن، عن أبي بكرة رضي الله عنه قال: خطبنا النبي ﷺ يوم النحر...... إلى قوله فإن دماءكم وأموالكم حرام عليكم كحرمة يومكم هذا في شهركم هذا في بلدكم هذا إلى يوم تلقون ربكم، ألا هل بلغت؟ قالوا: نعم، قال اللهم اشهد إلى آخر الحديث..... (رواه البخاري:۱/ ۲۳۵).

په شمائل ترمذي کي راځي:

عن سهل بن سعد رضي الله عنه أنه قيل له: ..... فقال سهل ما رأى رسول الله ﷺ النقى حتى لقى الله تعالى...... (شمائل ترمذی:۹، باب ماجاء فی صفة خبز رسول الله ﷺ).

ژباړه: نبي کريم ﷺ دوډئ ونه ولیده تر داسي وخته چي له الله ﷻ سره يې ملاقات وسو.

مطلب يې دا دئ چي د محبوب له پاره د وصال لفظ استعماليږي. والله تعالی اعلم.



قال الله تعالى: ﴿ وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴾. (سورة النور، الآية: ٥٦).

قال رسول الله ﷺ ﴿ اتقوا الله ربكم وصلوا خمسكم وصوموا شهركم وأدوا زكاة أموالكم وأطيعوا ذا أمركم تدخلوا جنة ربكم ﴾. (رواه الترمذى)

كتاب الزكاة

اول ..... باب

د زكات د واجبېدلو بيان

اول .... فصل

پر سپینو او سرو زرو او (زېوراتو) د زکات د واجبېدلو حکم

د کعبې شریفې د پوښ پر زرو د زکات حکم

سوال: د کعبې پر پوښ چې کوم کار کیږي هغه د زرو په تارو سره کیږي که چیري د یو چا سره د کعبې د پوښ لوړه حصه وه نو په هغه کې په برابره اندازه زر وي که چیري له یو چا سره دوه یا درې گزه د کعبې پوښ وي نو پر دغه سړي د هغه زکات سته او که نه؟

الجواب: که چیري له یو چا سره د کعبې شریفې پوښ په دومره اندازه وو چې په هغه کې زر د نصاب په اندازه وي نو پر ده باندې د کال تر تېرېدو وروسته زکات واجب دئ.

په درمختار کې یې وګوړئ:

وسببه أی سبب افتراضها ملک نصاب حولی نسبة للحول لحولانه علیه تام. (الدر المختار مع الشامی:۲/ ۲۵۹، کتاب الزکاة، سعید).

په هدایه کې راځي:

وإذا كان الغالب على الورق الفضة فهو في حكم الفضة وإذا كان الغالب عليها الغش فهو في حكم العروض ......لأن الدراهم لا تخلو عن قليل غش لأنها لا تنطبع إلا به وتخلو عن الكثير فجعلنا الغلبة فاصلة وهو أن يزيد على النصف اعتبارا للحقيقة ...... إلا أن في غالب الغش لا بد من نية التجارة كما في سائر العروض إلا إذا كان تخلص منها فضة تبلغ نصابا لأنه لا يعتبر في عين الفضة القيمة ولا نية التجارة . (الهداية:۱/ ۱۹۵، باب زكاة المال، شركة علمية).

په جدید فقهی مسائل نومي کتاب کې راځي:

په تو کرانو کې ځینی وختو سپین او سره زر او د بل شی تارونه لګول سوي وي، په پخوا زمانه کې د دې رواج او استعمال یو څه ډېر وو . پاته سو د سپینو او د سرو زرو هغه او به چې جلا کېدای نه

سي پر دي په هر حال کي زکات واجب نه دئ ځکه چي هغه يوازي او يوازي يو رنګ (colour) دئ او سپين او سره زر نه دي.

پاته سو د سپينو او د سرو زرو هغه اجزا وي کوم چي باقي پاته کيږي او له يو شي سره لګول کيږي او د هغو جلا کول آسانه نه وي نو داحنافو د اصولو او د فقهي له جزئياتو څخه دا معلوميږي چي د هغو په سپينو او سرو زرو کي زکات واجب وي که څه هم هغه ښځي د سنګار او د زينت له پاره استعمالوي.

علامه مسعود کاساني رحمه الله وايي:

لا يعتبر في هذا النصاب صفة زائدة على كونه فضة فتجب الزكاة فيها سواء كانت دراهم مضروبة ، أو نقرة ، أو تبرا ، أو حليا مصوغا ، أو حلية سيف ، أو منطقة أو لجام أو سرج أو الكواكب في المصاحف والأواني ، وغيرها إذا كانت تخلص عند الإذابة إذا بلغت مائتي درهم ، وسواء كان يمسكها للتجارة ، أو للنفقة ، أو للتجمل ، أو لم ينو شيئا . (بدائع الصنائع:۲/ ۱٦).

د علامه کاساني له دې وضاحت څخه معلوميږي چي داحنافو په نزد په توکرانو کي لګول سوي د سپينو او سرو زرو پر اجزاوو هم زکات واجب دئ د ډېرو علماوو دغه رايه ده او مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله همدغه فتوا ورکړې ده.

پر سپينو او سرو زرو او زېوراتو د زکات د واجبېدلو حکم

سوال:

الف _ آيا د سپينو او سرو زرو زکات جلا ورکول کيږي او که د دواړو پر مجموعه زکات واجبيږي؟

باء _ که د زېوراتو نرخونه جلا جلا وي، نو له دې وجه د ټولو زکات به باسي او که د هر يوه جلا جلا زکات به باسي؟

الجواب: الف _ كه سره زر د نصاب په اندازه وي او سپين زر هم د نصاب په اندازه وي نو دې د دواړو جلا جلا زكات ادا كړي او يا دې دواړه سره ګډ كړي، د نرخ په اعتبار دې اداء كړي او په كوم يوه كي چي د فقيرانو ګټه وي د هغه نرخ دي ولګوي.

او كه چيري د دواړو نصاب پوره نه وو مګر د دواړو په ګډېدو سره له دواړو څخه پوره كېدئ نو بيا هم د قيمت په اعتبار سره زكات واجب دئ او كه د دواړو په ګډېدو سره بيا د يوه نصاب نه پوره كېدئ نو بيا زكات واجب نه دئ.

باء _ يوازي او يوازي د سپينو او سرو زرو پر زېوراتو زكات واجب دئ او د هغه تفصيل د (الف) په تفصيل كي تېر سوېږ د هغه مطابق يې ادا كړئ.

په بدائع الصنائع كي وګورئ:

وهذا الذي ذكرنا كله من وجوب الضم إذا لم يكن كل واحد منهما نصابا بأن كان أقل من النصاب فأما إذا كان كل واحد منهما نصابا تاما ولم يكن زائدا عليه لا يجب الضم بل ينبغي أن يؤدي من كل واحد منهما زكاته ولو ضم أحدهما إلى الآخر حتى يؤدى كله من الفضة أو من الذهب فلا بأس به عندنا ولكن يجب أن يكون التقويم بما هو أنفع للفقراء رواجا وإلا فيؤدى من كل واحد منهما ربع عشره . (بدائع الصنائع:۲/ ۲۰، فصل فى مقدار الواجب، سعيد وكذا فى الشامى:۲/ ۳۰۳، باب زكاة المال، سعيد).

په هدايه كي راځي:

ويضم الذهب إلى الفضة للمجانسة من حيث الثمنية ومن هذا الوجه صار سببا ثم يضم بالقيمة عند أبى حنيفة وعندهما بالأجزاء. (الهداية:۱/ ۱۹۶).

په فتاوى هنديه كي راځي:

ولو ضم أحد النصابين إلى الأخرى حتى يؤدي كله من الذهب أو من الفضة لا بأس به لكن يجب أن يكون التقويم بما هو أنفع للفقراء قدرا ورواجا ، وإلا فيؤدي من كل واحد ربع عشره كذا في محيط السرخسي . (الفتاوى الهندية:١/ ١٧٩).

په ترمذي شريف كي راځي:

عن عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده، أن امرأتين أتتا رسول الله ﷺ وفي أيديهما سواران من ذهب، فقال لهما: أتؤديان زكاته ؟ قالتا: لا، قال فقال لهما رسول الله ﷺ أتحبان أن يسوركما الله بسوارين من نار، قالتا: لا، قال: فأديا زكاته. (ترمذى شريف:١/ ١٣٨، باب ماجاء فى زكاة الحلى، فيصل). والله ﷻ اعلم.

له نغدو پيسو سره د سرو زرو په ګډولو سره د زكات حكم

سوال: كه له يو چا سره نقدي پيسې او نيمه حصه سره زر وي او سره زر او نقدي دواړه نصاب ته ورسيږي نو زكات واجب دئ او كه نه؟

الجواب: په ياده سوې مسئله كي كه چيري د دې دواړو په ګډېدو سره نصاب پوره كيږي نو زكات واجب دئ او كه چيرې نصاب نه پوره كيږي نو بيا زكات واجب نه دئ.

په فتاوى هنديه كي راځي:

وتضم قيمة العروض إلى الثمنين والذهب إلى الفضة قيمة كذا في الكنز حتى لو ملك مائة درهم خمسة دنانير قيمتها مائة درهم تجب الزكاة عنده ...... يجب أن يكون التقويم بما هو أنفع للفقراء قدرا ورواجا . (الفتاوى الهندية:١/ ١٧٩، فى زكاة الذهب والفضة).

په فتاوى رحيميه كي راځي:

كه چيري نقدي پنځه روپۍ او درې تولې سره زر تر ضرورت زيات وه نو له دې سبب زكات واجبيږي چي نقدى پيسې سپين زر او سره زرو په حكم كي دي او درې تولى زر او نقدي پنځه

روپي چي سره ګډې کړي نو دوو پنځوس نیمو تولو له نرخ سره برابرېږي نو له دې سبب زکات واجبېږي.

دا په هغه وخت کي ده چي کله سپین زر د نصاب معیار جوړ کړي، مګر که چیري سره زر د نصاب معیار وو نو بیا زکات واجب نه دئ. د دې تفصیل وروسته راځي. والله تعالیٰ اعلم.

د سپینو او د سرو زرو پر پزه یا غوږ او نورو د زکات حکم

سوال: یو چا د ضرورت له سبب د سپینو یا د سرو زرو پزه یا غوږ جوړ کړی وو نو اوس پر دې زکات واجب دي او که نه؟

الجواب: په یاده سوې مسئله کي که د سرو او سپینو زرو جوړ سي اعضاء داسي وي چي په اساني سره جلا کېدای او ختلای سي نو په دې صورت کي زکات واجب دئ مګر که چیري را جلا کېدای او راختلای نه سي نو دا د انسان د اندام د کېدو په سبب زکات پکښي واجب نه دئ.

په ترمذی شریف کي دي:

عن عمرو بن شعیب عن أبیه عن جده، أن امرأتین أتتا رسول الله ﷺ وفي أیدیهما سواران من ذهب، فقال لهما: أتؤدیان زکاته ؟ قالتا: لا، قال فقال لهما رسول الله ﷺ أتحبان أن یسورکما الله بسوارین من نار، قالتا: لا، قال: فأدیا زکاته. (ترمذی شریف: ۱/ ۱۳۸، باب ماجاء فی زکاة الحلی، فیصل).

په امداد الفتاوی کي راځي:

که چا د سرو زرو پزه جوړه کړه او پر مخ یې ولګوله او دغه پزه بې حرج او تکلیفه جلا کېدای هم سولای نو پر دې پزه زکات واجب دئ مګر پر غاښ چي کوم سره زر لګېدلي وي یا یې ډک کړي وي هغه دغه ډول نه سي جلا کېدای نو ځکه په هغه کي زکات واجب نه دئ. (امداد الفتاوی: ۲/ ۴۹).

د سرو زرو پر جوړ سوی غاښ یا پزه زکات:

په جدید فقهی مسائل نومي کتاب کي راځي:

په ځینی حالاتو کي د ځینی خاصو مصلحتو له سبب د سرو او سپینو زرو جوړ سوي اندامونه استعمالیږي لکه پزه، د غاښ حصه او یا لکه غاښونه د سرو او یا د سپینو زرو څخه ډکول یا د سرو زرو غاښ په تار سره تړل او داسي نور د دغو شیانو حکم دا دئ چي که چیري په اسانۍ سره جلا کېدای سوای نو په دې کي زکات واجب دئ، لکه څنګه چي نبي کریم ﷺ په زېوراتو کي زکات واجب کړی دئ، مګر که چیري په اسانۍ سره نه جلا کېدئ بلکي هغه په یوه جلا طریقه سره لګول سوی وي او د انسان د جسم یو اندام جوړ سوي چي د هغه جلا کېدل ممکن نه وي نو اوس هغه د انسان په اساسي ضروریاتو کي داخل سو او په دې ډول شیانو کي زکات نه واجبیږي. ملخص (از جدید فقهی مسائل: ۱/ ۲۰۸). دغه ډول وګورئ: ایضاح المسائل: صـ۱۰۸، نعیمیه. والله ﷻ اعلم.

د سرو زرو سره چي یو څه سپین زر وي نو د زکات یې څه حکم دئ؟

سوال: که چیري د سرو زرو سره سپین زر ګډ کړل سي نو د سرو زرو حساب به وي او که د سپینو زرو حساب به وي؟

الجواب: که چیري یو څه اندازه د سرو زرو او یو څه اندازه د سپینو زرو وه نو دواړه سره ګډ کړه که چیري د هغه نرخ دوو پنځوس نیمي تولو سپینو زرو ته ورسېدئ نو بیا زکات واجب دئ.

په فتاوی هندیه کي راځي:

وتضم قيمة العروض إلى الثمنين والذهب إلى الفضة قيمة كذا في الكنز حتى لو ملك مائة درهم خمسة دنانير قيمتها مائة درهم تجب الزكاة عنده . (الفتاوى الهنديۃ:۱/ ۱۷۹، فصل فی زكاة الذهب والفضة، وكذا فی الهداية:۱/ ۹۶، فصل فی العروض).

په هدایه کي راځي:

ثم قال يقومها بما هو أنفع للمساكين احتياطا لحق الفقراء قال وهذا رواية عن أبي حنيفة رحمه الله عليه . (الهداية:۱/ ۱۹۵، فصل فی العروض، شركة علمية).

په بهشتي زېور کي راځي:

که له یو چا سره نه د سرو زرو نصاب پوره وي او نه د سپینو زرو نصاب پوره وي بلکي دواړه لږ لږ ورسره وي نو چي دواړه سره ګډ کړي دوو پنځوس نیمي تولو ته رسیږي یا داوه نیمی تولې سرو زرو سره برابر سي نو زکات واجب دئ او که چیري دواړه کم وه چي دیوه نصاب سره هم نه برابرېدئ نو بیا زکات واجب نه دئ. (بهشتی زیور، دریمه حصه: ۲٤۰، دار الاشاعت). والله ﷻ اعلم.

د سرو او سپینو زرو د نصاب اندازه

سوال: د سپینو او سرو زرو نصاب څه شی دئ؟

الجواب: د سرو زرو نصاب ۸۷ ګرام او ۴۸۰ ملی ګرام دئ.

او د سپینو زرو نصاب ٦١٢ ګرام او ۳۵ ملی ګرام دئ.

په کتاب الفتاوی کي راځي:

د سرو زرو نصاب شل مثقاله دئ چي اوه نیمي تولې جوړېږي او په نوی وزنو کي ۸۷ ګرامه ۴۷۹ عشاري کیږي او د سپینو زرو نصاب دوه سوه درهم دئ چي دوو پنځوس نیمي تولې جوړېږي او په نوي وزنو کي ۳۵ ګرمه ٦۲۱ عشاره کیږي. (کتاب الفتاوڤ دریمه حصه: ۲٦۱، د زکات نصاب، نعیمه و احسن الفتاوی:٤/ ۲٥٤).

په جواهر فقه کي راځي:

د سرو زرو شرعي نصاب شل مثقاله دئ او د مثقال وزن څلور نیمي ماشې دئ نو د سرو زرو نصاب د تولې له حسابه اوه نیمي تولې سو او د سپینو زرو نصاب دوه سوه درهمه دئ او دیوه درهم وزن درې ماشې او یو (رتی چي د ماشې اتمه برخه ده) او د هغه پنځمه حصه نو د حساب له را استلو څخه معلومه سوه چي د سپینو زرو نصاب دوپنځوس تولې او شپږ ماشې دئ. (جواهر الفقه: « اوزان شرعیه»:۱/ ٤۲۳، دار العلوم کراچی).

په هدایه کي راځي:

ليس فيما دون مائتي درهم صدقة لقوله عليه الصلاة والسلام: ليس فيما دون خمس أواق صدقة » والأوقية أربعون درهما،...... ليس فيها دون عشرين مثقالا من ذهب صدق .

(الهداية:۱/ ۱۹٤، فصل فی الفضة والذهب، شركة علمية – وبدائاع الصنائع:۲/ ۱٦). والله ﷻ اعلم.

په نوې اندازه کې د شرعي اوزانو د اندازې احکام

سوال: صاع، مد، میل، فرسخ، فقیز، وسق، د سرو او د سپینو نصاب او دیت اندازه او داسې نور نصاب په نوې اندازه او ترازو کې څه شی دي؟

الجواب: د اوزان شرعیه اندازه په د نوې ترازو او اندازه په اعتبار سره لاندنی نقشه وګورئ.

صاع	۳ء۱۸۴۲۷۲ کیلو ګرام	۸ رطل	۴ مد	۲۷۳ توله	۱۰۴۰ درهم
مد	۰۶۸ء۷۹۶ ګرام	۲ رطل	—	۲۵ء۶۸ توله	۲۶۰ درهم
رطل	۰۳۴ء۳۹۸ کیلو ګرام	—	۱/۲ مد	۱۲۵ء۳۴ توله	۱۳۰ درهم
وسق، ۶۰ صاع	۵۶۳۲ء۱۹۱ کیلو ګرام	۴۸۰ رطل	۲۴۰ مد	۱٦۳۸۰ توله	٦۲۴۰۰ درهم
توله	٦٦۴ء۱۱ ګرام	—	—	—	۸۰۹۵ء۳ درهم
۞ قفیــز، ۱۲ صاع	۲۱۱۲٦۴ء۳۸ کیلو ګرام	۹٦ رطل	۴۸ مد	۳۲۷٦ توله	۱۲۴۸۰ درهم

۞ حاشية الهداية:۳/ ۲٤: وفي بعض كتب اللغة أن القفيز مكيال قدر اثنا عشر صاعا.

درهم	۰۶۱۸ء ۳ گرام سپین زر	ــــ	ــــ	ــــ
مثقال، دینار	۳۷۴ء ۴ گرام	ــــ	ــــ	ــــ
نصاب ذهب	۴۸ء ۸۷ گرام سره زر	۲۰ دینار	۱/۲ء۷تولہ سرہ زر	ــــ
نصاب فضة	۳۵ء ۶۱۲ گرام سپین زر	۲۰۰ دراهم	۵۲۱/۲ تولہ سپین زر	ــــ
قیراط	۷ء ۲۱۸ ملی گرام	ــــ	ــــ	ــــ
اقل مهر	۶۱۸ء ۳۰ گرام سپین زر	۱۰ دراهم	۶۲۵ء ۲ تولہ سپین زر	۳۱,۵ ماشه
مهر فاطمی (۱)	۱۵۳۰ گرام ۹۰۰ملی گرام	۵۰۰ دراهم	۲۵ء ۱۳۱ تولہ سپین زر	ــــ
دیة	۶۱۸ء ۳۰ کیلو گرام سپین زر	۱۰۰۰۰ دراهم	۲۶۲۵ تولہ سپین زر	ــــ
اوقیه	۴۷۲ء ۱۲۲ گرام	۴۰ درهم	۵ء ۱۰ تولہ	ــــ

لوړه ذکر سوې نقشه د شرعي اوزانو له حساب جوړه سوې ده په. (احسن الفتاوی: ٤/ ۹۳). کي یې هم دغه ذکر کړې ده د درهم له مشهوره حساب څخه یې اختلاف کړي دئ نو له دې سبب د احسن الفتاوی مطابق نقشه به دا وي.

درهم	۴۰۲ء ۳ گرام	ــــ	ــــ
دینار	۸۶ء ۴ گرام	ــــ	ــــ

نصاب ذهب	۴۸۹ء ۸۷ گرام	۲۰ دنیار	۷۱/۲ توله سره زر (۲)
نصاب فضة	۳۵ء۶۱۲ گرام	۲۰۰ دراهم	۲/۱ ء ۱۵ توله (۳)
قیراط	۲۳۹۴ء ۰ گرام	———	———
اقل مهر	۰۲ء ۳۴	۱۰ دراهم	۹۱۶ء ۲ توله
دنبي کريم ﷺ دلوړو شخه د فاطمې رضي الله عنها مهر مشهور دئ (۴)	۹۶ء۱۶۳۲ گرام	۴۸۰ دراهم	۱۴۰ توله
دالنبي ﷺ دازواج مهر	۱۷۰۱ گرام	۵۰۰ دراهم	۸۳ء ۱۴۵ توله
دية	۰۲ء ۳۴ کیلو گرام	۱۰۰۰۰ دراهم	۶۶ء۲۹۱۶ توله
اوقیه	۰۸ء۱۳۶ گرام	۴۰ دراهم	۶۷ء ۱۱ توله

۱_ زموږ د فتوی مطابق مهر فاطمي ۴۸۰ درهمه دئ، د هغه تفصیل په کتاب النکاح کي په باب المهر کي وګورئ.

په ۲_ او ۳_ لمبر کي مو د احتیاط په سبب مشهور قول اختیار کړی دئ.

٤_ عن ابن عباس أن النبی ﷺ حین زوج علیا فاطمة، قال: یا علی لاتدخل علی أهلک حتی تقدم لهم شیئا، فقال: مالی شیء یا رسول الله! قال: أعطهادرعک الحطمیة، قال ابن أبی رواد: فقومت الدرع أربعمائة وثمانین درهما. وراه انطبرانی فی الأوسط والکبیر باختصاره، وفیه سعید بن زنبور ولم أجد من ترجمه وبقیة رجاله ثقات. (مجمع الزوائد: ٤/ ٢٨٣).

۵_ عن أبی سلمة قال: سألت عائشة رضي الله عنها كم كان صداق نساء النبی ﷺ؟ قالت: كان صداقه فی أزواجه اثنتی عشرة أو قية ونشا. هل تدری ماالنش؟ هو نصف أوقية، وذلك خمسمائة درهم. (رواه ابن ماجه: ۱/ ۱۳۵).

گز	۹۱۴۴ء ۰ سانتي متر	ــــــ	ــــــ	ــــــ
ذراع	۷۲ء ۴۸ ساتنی متر	ــــــ	ــــــ	ــــــ
میـــــل شرعی	۸۲۸۸۰۰ء ۱ کیلـو متر	۲۰۰۰ گز	۱۳۶۳۶۳۶ء ۱ میل انګرېزي	ــــــ
میـــــل انګرېزي	۶۰۹۳۴۴۰ء ۱ کیلو متر	۱۷۶۰ گز	ــــــ	۸۸۰۰ء ۰ میل شرعی
فرسخ	۴۸۶۴ء ۵ کیلو متر	۶۰۰۰ گز	۴۰۹۰۹۰۸ء ۳ میل انګرېزي	۳ میل شرعی
مســافت قصر	۲۴۸۵۱۲ء ۷۷ کیلو متر	۸۴۴۸۰ گز	۴۸ میل انګرېزي	۲۴ء ۴۲ میل شرعي

تقریبا ۷۸ کیلو متره دا قول اکثرو لویو علماوو اختیاره کړی دئ.

او ۴۵ شرعي میل (۲۹۶ : ۸۲) کیلو متره د خوارزم دامامانو دغه مفتی به قول دئ کوم چې د نورو حضراتو هم اختیار کړی دئ مګر د هغه اندازه یې ۷۸ کیلو متره کړې ده او حال دا چې ۴۵ شرعي میله د کیلو متره د جوړولو څخه د هغه اندازه له ۸۲ کیلو متره څخه لږ پورته کیږي او ۴۷ شرعي میل (۷۸۲۴ : ۸۷) کیلو متره ځیني عالمانو دا قول اختیاره کړی دئ.

استار	۹۱۷ء۱۹ گرام	۱/۱۶۰ صاع	ــ	ــ	۴۰/میل	ــ	۷۰۶۴۵ء۱ توله	۱/۲۰ رطل	۶ء۵ دراهم
إردب	۴۲۲۵۲۸ء۷۶ کیلو	۲۵ صاع	۱۲	۲	۹۶ مد	ــ	۶۵۵۲ توله	۱۹۲	۲۴۹۶۰

	گرام		فرق	فقیز				رطل	دراهم
جديب	١٥٢،٥٦,٨٤ كيلو گرام	٤٨ صاع	٢٤ فرق	٤ قفيز	١٩٢ مد	—	١٣٠٤ توله	٣٨٤ رطل	٤٩٩٢٠ درهم
حمل	١٩١،٠٥٦٣٢ كيلو گرام	٦٠ صاع	٣٠ فرق	٥ فقيز	٢٤٠ مد	اوسق	١٦٣٨٠ توله	٤٨٠ رطل	٦٢٤٠٠ دراهم
فرق	٦،٣٦٨٥٤٤ كيلو گرام	٢ صاع	—	—	٨ مد	—	٥٤٦ توله	١٦ رطل	٢٠٨٠ دراهم
فرق	٢٠٦،٩٧٧٦٨ كيلو گرام	٦٥	—	—	٦٢٠ مد	—	١٥٥٤٥ توله	٥٢٠ رطل	٦٧٦٠٠ دارهم
قلة	٦،٣٦٨٥٤٤ كيلو گرام	٢ صاع	—	—	٨ مد	—	٥٤٦ توله	١٦ رطل	٢٠٨٠ دراهم
عرق	٤٧،٧٦٤٠٨ كيلو گرام	١٥ صاع	—	—	٦٠	—	٤٠٩٥ توله	١٢٠ رطل	٥٢٠٠ دراهم
مكتل	٤٧،٧٦٤٠٨ كيلو گرام	١٥ صاع	—	—	٦٠ مد	—	٤٠٩٥ توله	١٢٠ رطل	٥٢٠٠ دراهم
كر	٢٢٩٢،٦٧٥٨٤ كيلو گرام	٧٢٠ صاع	٣٦٠ فرق	٦٠ قفيز	٢٨٨٠ مد	١٤ وسق	١٠٦٥٥٠ توله	٥٧٦٠ رطل	٧٤٨٨٠٠ دراهم
كيلجة	١،٤٩٢٦٢٧٥ كيلو گرام	—	—	—	١ ،٧/٨ مد	—	١٢٧،٩٦٩ توله	٣،٧٥ رطل	٤٨٧،٥ درهم.
كوز	٤،٧٧٦٤٠٨ كيلو گرام	١،١/٢ صاع	—	—	٦ مد	—	٤٠٩،٥ توله	١٢ رطل	١٥٦٠ دارهم
مكوك	٤،٧٧٦٤٠٨ كيلو گرام	١،١/٢ صاع	—	—	٦ مد	—	٤٠٩،٥ توله	١٢ رطل	١٥٦٠ دارهم

جوزة	١٧،٤٩٦ گرام	٤ مثقال	—	—	—
حزمة	١٧،٤٩٦ گرام	٤ مثقال	—	—	—

دانق	۰ء۵۱۰۳ گرام	———	۱/٦ دراهم	———	———
طسوج	۰ء۱۲۷۵۷۵ گرام	———	———	۱/۴ دانق	———
حش	۲۳٦ء٦۱ گرام	———	۲۰ دراهم	———	۱/۲ اوقية

برید	۲۱ء۹۴۵٦ کیلومتر	۲۴۰۰۰ گز	۴ فرسخ	۱۳ء٦۳٦۳٦۳۲ میل انګریزي	۱۲ میل شرعي
حبل	۲ء۴۸۷ سانتي متر	۸ء۵۳۲ گز	۱۰ ذراع	———	———

په دغه حساب کي ((المقايس والمقادير عند العرب)) للشهيدة النسية محمد فتحى الحريرى، بنياد حساب جوړ کړی دئ. والله ﷻ اعلم.

که زېور تر نصاب کم وه مګر قېمت يې د سپينو زرو د نصاب په اندازه وه نو د زکات حکم يې؟

سوال: له يوې ښځي سره يوازي د سرو زرو زېورات دي او نصاب يې کم دئ مګر د سپينو زرو له نصاب سره برابر دئ نو پر هغه زکات واجب دئ او که نه؟

الجواب: په پوښتل سوې صورت کي تفصيل دا دئ، چي که چيري له دې ښځي سره يوازي د سرو زرو زېورات وي او تر نصاب هم کم وي او له دې سره نوري نقدی پيسې يا سپين زر شی هم نه سته نو په داسي حال کي پر دې ښځي زکات نه واجبيږي.

په بدائع الصنائع کي يې وګوري:

وأجمعوا على أنه لا تعتبر القيمة في الذهب والفضة عند الانفراد في حق تكميل النصاب ، حتى أنه إذا كان له إبريق فضة وزنه مائة درهم وقيمته لصناعة مائتان، لا تجب فيه الزكاة باعتبار القيمة، وكذلك إذا كان له آنية ذهب وزنها عشرة وقيمتها لصناعتها مائتا درهم لا تجب فيها الزكاة باعتبار القيمة . (بدائع الصنائع فى مقدار الواجب، سعيد – واكذا في الفتاوى الهندية: ١/ ١٧٩، فصل فى زكاة الذهب والفضة). والله ﷻ اعلم.

د سرو او سپينو زرو په ګډول کي د صاحبينو مذهب

سوال: د سرو او سپينو په ګډولو کي د صاحبينو مذهب څه دئ؟

الجواب: د صاحبينو په نزد سره او سپين زر د اجزاوو په اعتبار سره ګډيږي مثلاً د سپينو زرو له نصاب څخه دوې دريمې ولري او د سرو زرو د نصاب يوه دريمه ورسره وي نو زكات واجب دئ او كه سره زر د نصاب له يوې دريمې كم وه بيا زكات واجب نه دئ.

په فتاوى شامي كي راځي:

وقالا: بالإجزاء فإن كان من هذا ثلاثة أرباع نصاب ومن الآخر ربع ضم أو النصف من كل أو الثلث من أحدهما والثلثان من الآخر، فيخرج من كل جزء بحسابه. (فتاوى الشامى: ٢/ ٣٠٣، باب زكاة المال، سعيد – وبدائع الصنائع: ٢/ ٢٠ – والهداية: ١/ ١٩٥). والله ﷻ اعلم.

پر نغدو او زرو د زكوة حكم

سوال: كه يو څه روپۍ نغدي وي چي نصاب ته نه رسيږي او يو څه تر نصاب كم سره زر وي ايا زكات ورباندي فرض دئ او كه نه؟

الجواب: كه يې په قيمت سره د سپيو زرو نصاب پوره كاوه نو زكات واجب دئ او كه نه واجب نه دئ.

په فتاوى هنديه كي راځي:

وتضم...... الذهب إلى الفضة قيمة كذا في الكنز حتى لو ملك مائة درهم وخمسة دنانير قيمتها مائة درهم تجب الزكاة عنده. (فتاوى هندية:۱/ ۱۷۹، فصل في زكاة الذهب والفضة – وكذا في الهداية:۱/ ۱۹٦، فصل في العروض).

په هدايه کې راځي:

ثم قال: يقومها بما هو أنفع للمساكين احتياطا لحق الفقراء، قال: وهذا رواية عن أبي حنيفة رحمه الله. (الهداية:۱/ ۱۹٥، فصل في العروض، شركة علمية، - والشامي:۲/ ۲۹۹، سعيد).

په فتاوى رحيميه کې راځي:

که پنځه روپۍ نقدي او درې تولې سره زر چې تر ضرورت زيات وي نو زکات ځکه واجبيږي چې نقدي روپۍ د سرو او سپينو زرو په حکم کې دي او درې تولې سره زر او پنځه روپۍ نقدي چې سره ګډې کړي نو دوه پنځوس نيمې تولې نرخ ورڅخه جوړيږي نو ځکه زکات واجبيږي.

دزيات تفصيل له پاره وګورئ: (په آپ کې مسائل اور ان کا حل:۳ / ۳٥٤-۳٥٥، او جديد فقهى مسائل:٦/ ١٤). **والله تعالى اعلم.**

د سرو او سپينو زرو د نرخ د بدلېدلو په وخت کې د نصاب د شمېرلو حکم

سوال: په اوسني وخت کې د سرو او سپينو زرو نرخ هر وخت بدليږي نو زکات څنګه ادا کړل سي؟

الجواب: په کومه ورځ چې د پيسو مالک جوړ سي او هغه د نصاب اندازې ته ورسيږي نو له دې ورځې څخه د حولان حول (د کال د بدلېدو) حساب کيږي بيا د کال پر ختم کېدو پر ده زکات واجب دئ او که چيري د سرو او سپينو زرو نصاب ته نه رسېدئ څو د تجارت مال يا د يو بل شي په ګډولو سره د سپينو زرو نصاب جوړيږي نو د سپينو زرو د نصاب له اعتباره دې اداء کړي.

په هدايه کې يې وګورئ:

ليس فيما دون مائتي درهم صدقة، لقوله عليه الصلاة والسلام: « ليس فيما دون خمس اواق صدقة » والأوقية أربعون درهما، فإذا كانت مائتين وحال عليها الحول ففيها خمسة

دراهم، لأنه عليه الصلاة والسلام كتب إلى معاذ ﷺ أن خذ من كل مائتي درهم خمسة دراهم ومن كل عشرين مثقالا من ذهب نصف مثقال. (الهداية: ۱/ ۱۰٤، باب زكاة المال).

په درمختار کي راځي:

وسببه ملك نصاب حولى تام، وفي الشامي: (قوله نصاب) هو ما نصبه الشارع علامة على وجوب الزكاة من المقادير المبينة في الأبواب الآتية، وهذا شرط في غير زكاة الزرع والثمار ...... قوله نسبة للحول لحولانه عليه أي لأن حولان الحول على النصاب شرط لكونه سببا وهذا علة للنسبة . (الدر المختار مع الشامي: ۲/ ۲۵۹، سعيد).

په كتاب الفتاوى كي راځي:

په زكات كي حساب د هغه تاريخ له لحاظه كيږي په كوم تاريخ كي چي دى اول ځل د زكات د نصاب مالك جوړ سوى وي نو په دې وخت چي كومي پيسې يا سره او سپين زر يا سامان د تجارت يا داسي قرض وي چي د كښلو هيله يې وي نو د دې شيانو حساب كيږي او پر هر زري د پنځه وېشتو روپيو له لحاظه زكات ادا كيږي په دې كي د وخت د تلو او راتلو لحاظ نه كيږي بلكي پر هغه تاريخ چي كوم مال يا بل شى چي د زكات د مالونو څخه وي موجود وي له هغه څخه زكات ادا كيږي.

(كتاب الفتاوى، دريمه حصه، صـ ۲٦٥، نعيميه). والله ﷻ اعلم.

له خاوند سره هيڅ شى نه سته او له مايني سره ګېڼې دي نو په دې كي د زكات څه حكم دئ؟

سوال: كه چيري د خاوند ديوه شى تنخوا نه وي خو له مايني سره يې ګېڼې دي نو ايا زكات واجب دئ او كه نه؟ او كه واجب وي نو د ادا كولو يې څه طريقه ده؟

الجواب: كه چيري د خاوند تنخوا يا يو بله ګټه نه وه بيا هم پر مايني يې زكات لازم دئ ځكه چي هغه خپله د ګېڼو مالكه ده . په دې شرط به زكات اداكوي چي هغه ګېڼې نصاب ته ورسيږي.

په ترمذي كي راځي:

عن عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده : أن امرأتين أتتا رسول الله ﷺ وفي أيدهما سواران من ذهب، فقال لهما: أتؤديان زكاته، قالتا: لا، قال فقال لهما رسول الله ﷺ أتحبان أن يسوركما الله بسوارين من نار، قالتا: لا، قال: فأديا زكاته. (ترمذي شريف:۱/ ۱۳۸، باب ماجاء في زكاة الحلي، فيصل).

پہ هدايه کې راځي:

الزكاة واجبة على الحر العاقل البالغ المسلم إذا ملك نصابا ملكا تاما وحال عليه الحول. (الهداية:۱/ ۱۸۵).

پہ کفايت المفتی کې راځي:

ښځه دخپلو ګېڼوو او د واده د سامان مالکه ده او د هغې پر ذمه د هغو شيانو زکات واجيبږي نو څنګه چې له هغې سره د زکات د ادا کولو روپۍ نه وي نو له دې سببه دا يې له خاوندہ اخلې او ادا کوي يې، يا د ښځې په امر او اجازه سره يې خاوند ادا کوي، که چيرې خاوند د دې له طرفه زکات اداء نه کړي او روپۍ يې هم نه ورکوي نو پر ښځه زکات واجب دئ، خپل سامان دې خرڅ کړي او زکات دې اداء کړي ځکه چې دا د دې پر ذمه واجب دئ. (کفايت المفتی:اول باب کتاب الزکاة).

پہ کتاب الفتاوی کې راځي:

پہ قرآن او په حديث کې پر سرو او سپينو زرو مطلق زکات واجب کړل سوی دئ په (سورت توبه) بلکې په احاديثو کې رسول الله ﷺ په ښکاره د هغه ګېڼو په اړه د زکات تلقين ثابت کړی دئ کومې ګېڼې چې صحابياتو ښځو اغوستلې. (ترمذي).

نو له دې سببه د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد پر سرو او سپينو زرو په هر وخت کې زکات واجب دئ که څه هم هغه د ګېڼوو په شکل کې وي او که نه وي او که څه هم دغه ګېڼې تر استعمال لاندې وي او که نه وي په هر صورت کې زکات واجب دئ. (کتاب الفتاوی، دريمه حصه: ص ۲۸۰). والله تعالیٰ اعلم.

په ګرو کړل سوي ګڼو کي د زکات حکم

سوال: د ګرو کړل سوي ګڼو زکات پر چا واجب دئ؟ پر راهن او که پر مرتهن؟

الجواب: ګڼو مالک راهن دي او له مرتهن سره فقط د امانت په شکل پراته دي نو ځکه زکات پر راهن واجبيږي او د زکات د واجبېدلو تفصيل په لاندي ډول دئ:

۱_ که چيري قرض پنځوس زره وو او د ګڼو نرخ اويا زره وو نو د پنځوس زرو د قرض له منعه کولو وروسته خالي پر شل زرو زکات واجب دئ.

۲_ د پنځوس زره قرضه ده او نرخ دو پنځوس زره دئ نو دوه زره له نصاب څخه کمي دي نو له دې سببه زکات نه واجبيږي که يې چيري بيا يو بل شی ورسره ګډ کړي (نقدي روپي يا بل شی) او نصاب پوره سو نو بيا زکات واجب دئ.

۳_ که چيري د ګڼو نرخ تر قرض کم وُو نو زکات واجب نه دئ.

په فتاوی شامي کي يې وګوريئ:

قلت: لكن أرجع شيخ مشايخنا السائحاني في قول الشارح « بعد قبضه » إلى المرتهن كما رأيته بخطه في هامش نسخته، ويؤيده أن عبارة البحر هكذا: ومن موانع الوجوب الرهن إذا كان في يد المرتهن لعدم ملك اليد، وليس فيها ما يدل على أنه لا يزكيه بعد الاسترداد.

(الشامي: ۲/ ۲٦۳، سعيد).

علامه شامي رحمه الله د علامه سائحاني رحمه الله له عبارت څخه دا پايله راخيستې ده چي له دې څخه دا نه معلوميږي چي د ګرو سوي مال تر اخيستو وروسته پر راهن زکات واجب نه دئ، (د مال تر اخيستلو وروسته هم بايد پر راهن زکات واجب سي).

په فتاوی هنديه کي راځي:

ولا على الراهن إذا كان الرهن في يد المرتهن، هكذا في البحر الرائق. (الفتاوى الهندية: ۱/ ۱۷۲).

له دې عبارته څه ته دا معلومه سوه چې تر څو دا ګرو کړل سوی شی له مرتهن سره وي نو پر راهن زکات واجب نه دئ مګر د راهن و لاس ته تر راتلو وروسته باید زکات واجب سي.

په فتاوی فریدیه کي راځي:

په ګروي کي د اېښودل سوي ګېڼو زکات

سوال: په دې مسئله کي علماء څه وايي چې يو سړی وايي زما د ښځي ګېڼې لږ او ډېر شل تولې سره زر دي ما هغه ګېڼې د قرض د اداء کولو له پاره له ښځي څخه واخستې او په کابل بانک کي مي ګرو کړې تقريبا دوه کاله تېر سوي دي چې ما درې زره روپۍ د دې ګېڼو پر کفالت اخيستي دي ايا داسي ګېڼه چې په خپله قبضه کي هم نه وي او تر قرض لاندي هم وي په دې کي زکات سته او که نه؟

الجواب: تا چې هر کال د دې ګېڼو له نرخه له بانک څخه يا له يو بل چا څخه قرضه اخيستې ده هغه جلا کړه له پاته ګېڼو څخه ژر تر ژره زکات اداء کړه، په دې شرط چې تر نصاب کم سوي نه وي.

لنډه دا چې که چيري زيد له عمر سره لس تولې سره زره په ګروي کېښول او پر زيد د عمر دوو تولو په اندازه هم قرض دئ نو پر زيد لازمه ده چې د اته (۸) تولو زکات اداء کړي ځکه دا اته (۸) تولې د زيد له عمر سره د امانت په شکل پرتې دي. والله ﷻ اعلم.

د هغه سرو زرو د زکات حکم چې کچره انهه فيصده پر غالبه وي

سوال: که چيري له يو ښځي سره د سرو زرو ګېڼې وې نو پر دې زکات واجب دئ او که نه، ځکه پر دې زرو کچره غالب سوې ده؟

الجواب: د متونو او د فقهي د عامو کتابو په رڼا کي که چيري کچره پر زرو غالبه سوه نو زکات نه لازميږي مګر د احتياط له پاره زکات اداء کول ښه دي.

په البحر الرائق کي يې وګورئ:

فإن غلب الغش فليس كالفضة كالستوقة فينظر إن كانت رائجة أو نوى التجارة اعتبرت قيمتها فإن بلغت نصابا من أدنى الدراهم التي تجب فيها الزكاة، وهي التي غلبت فضتها وجبت فيها الزكاة وإلا فلا، وإن لم تكن أثمانا رائجة، ولا منوية للتجارة فلا زكاة فيها، إلا

أن يكون ما فيها من الفضة يبلغ مائتي درهم بأن كانت كثيرة ويتخلص من الغش ؛ لأن الصفر لا تجب الزكاة فيها إلا بنية التجارة ، والفضة لا يشترط فيها نية التجارة فإن كان ما فيها لا يتخلص فلا شيء عليه ؛ لأن الفضة فيه قد هلكت، كذا في كثير من الكتب ، وفي غاية البيان: الظاهر أن خلوص الفضة من الدراهم ليس بشرط بل المعتبر أن تكون في الدراهم فضة بقدر النصاب . (البحر الرائق:۲/ ۲۲۸، باب زكاة المال، كوئتة).

په بهشتي زېور کي راځي:

که چيري سره او سپين زر صاف نه وه بلکي په هغه کي يو څه شی ګډ وو مثلا له سپينو زرو سره ډېره ګډه وه نو بايد وکتل سي چي سپين زر غالبه دي که چيري زر زيات وه د هغه هغه حکم دي کوم حکم چي د سپينو زرو دئ يعنی که چيري دومره اندازې ته ورسېده کوم چي لوړ بيان کړل سو نو زکات واجب دئ او که چيري زيات وه نو بيا چي کوم حکم د کچري او د او سپنی او نورو شيانو دئ نو هغه حکم د دې هم دئ. (بهشتي زيور دريمه حصه). والله تعالى اعلم.

په پلاټيم (Plaelmum) او ټائيټايم (T ite mvm) کي د زکات حکم

سوال: ايا په پلاټيم او په ټائيټايم کي زکات لازم دئ کله چي هغه د تجارت له پاره نه وي؟

الجواب: په دې صورت کي د تجارت د نيت د نه موجود والي په سبب زکات لازم نه دئ.

په درمختار کي راځي:

(وشرطه) أي شرط افتراض أدائها ...... (وثمنية المال كالدراهم والدنانير) لتعينهما للتجارة بأصل الخلقة، فتلزم الزكاة كيفما أمسكهما ولو للنفقة، (أو السوم) بقيدها الآتي (أو نية التجارة) في العروض إما صريحا ولا بد من مقارنتها لعقد التجارة كما سيجيء أو دلالة بأن يشتري عينا بعرض التجارة. (الدر المختار:۲/ ۲٦۷، سعيد).

په هدايه کي راځي:

فصل في العروض: الزكاة واجبة في عروض التجارة كائنة ما كانت ...... ولأنها معدة للستياء بإعداد العرب، فأشبه المعد بإعداد الشرع، وتشترط نية التجارة ليثبت الإعداد. (الهداية: ۱/ ۱۹۵).

په فتح القدير کي ذکر دي:

فصل في العروض: العروض جمع عرض بفتحتين حطام الدنيا، كذا في المغرب والصحاح، والعرض بسكون الراء المتاع وكل شيء فهو عرض سوى الدراهم والدنانير ..... قوله وتشترط نية التجارة لأنه لما لم تكن للتجارة خلقة فلا يصير لها إلا بقصدها فيه وذلك هو نية التجارة. (شرح فتح القدير: ۲/ ۲۱۷، دار الفكر).

په نور الايضاح کي راځي:

ولازكاة في الجواهرو اللآلي إلا أن يتملكها بنية التجارة كسائر العروض. (نور الايضاح: ۱۶۰).

په حاشيه طحطاوي کي راځي:

(ولا زكاة في الجواهر واللآلىء) قال في الدر: الأصل أن ما عدا الحجرين والسوائم إنما يزكي بنية التجارة عند العقد، فلو نوى التجارة بعد العقد أوا شترى شيئا للقنية ناويا أنه إن وجد ربحا باعه، لا زكاة فيه. (حاشية الطحطاوی علی مراقی الفلاح: ۳۹۱). والله ﷻ اعلم.

په ملغلرو او جواهراتو (قيمتي ډبرو کي) د زکات د واجبېدلو حکم

سوال: که ځيري زه ملغلري او جواهر په دې نيت واخلم چي کله حاجت پېښ سي نو زه دا خرڅ کړم او حاجت په ترسره کړم ځکه چي د پيسو او د ملک د روپيو اعتبار نه سته او د ملغلرو او جواهرو قيمت ډېر وي نو زکات پر کيږي او که نه؟

الجواب: په یاد پوښتل سوي صورت کي ملغلري او جواهر کوم چي د تجارت له پاره نه دي اخیستل سوي بلکي د حاجت او د ضرورت د پوره کولو له پاره یې اخیستي دي نو ځکه زکات واجب نه دئ.

په درمختار کي یې وګورئ:

لا زكاة في اللآلي والجواهر كاللؤلؤ والياقوت و الزمرد وأمثالها، درر عن الكافي، وإن ساوت ألفا اتفاقا، في نسخة ألوفا، إلا أن تكون للتجارة، والأصل أن ما عدا الحجرين (أي الذهب والفضة) إنما يزكى بنيه التجارة...... وشرط مقارنتها لعقد التجارة وهو كسب المال بالمال بعقد شراء أو إجارة أو استقراض ولو نوى التجارة بعد العقد أو اشترى شيئا للقنية ناويا أنه إن وجد ربحا باعه، لا زكاة عليه. (الدر المختار مع الشامی:۲/ ۲۷۳، سعيد).

په فتاوی هندیه کي ذکر سوي دي:

وكذا لا (زكاة في) الجوهر اللؤلؤ والياقوت والبلخش والزمرد ونحوها إذا لم يكن للتجارة. (الفتاوى الهندية:۱/ ۱۷۲، کتاب الزکاة).

په جدید فقهي مسائل کي راځي:

له سرو او سپینو زرو پرته شریعت د مځکي پر خزانو په بل شی کي زکات واجب کړی نه دئ د دې اصل مطابق په ملغلرو او جواهرو کي زکات واجب نه دئ، د هغه شخه پرته کوم چي د تجارت په مقصد اخیستل سوي وي.

په جدید فقهي مباحث کي ذکر دي:

فقهاوو پر دې صراحت کړی دئ که چیري له روپیو او سوائم حیوانان شخه پرته په سامان او نورو شیانو کي زکات په هغه وخت کي واجبیږي چي کله د تجارت مال وي بلکي فقهاوو پر دې هم تصریح کړې ده چي ملغلري او جواهر که چیري د تجارت له پاره نه وي که څه هم د ډېرو پیسو وي خو بیا هم زکات واجب نه دئ، نو ځکه په ذکر کړل سوي صورت کي هم د احنافو په نزد زکات نه

واجبيږي که يې هغه ملغلري او جواهر د مالدارۍ له پاره محفوظ کړي وي او کـه د ښايـسـت لـه پـاره وي، که چيري يو څوک خپله سرمايه د جواهرو او د ملغلرو په شکل له زکات څخه د ځان خلاصولو پر ته ديو بل هدف له پاره محفوظ کړي نو د الله ﷻ په نزد هم له دغه سړي سره حساب نه کيږي.

په نوی دور کي د عرفي روپيو له پاره د نصاب د معيار حکم

د ثمن عرفی د روپيو د زکات د اداء کولو له پاره ډېر ځله فقهاء نصاب سپين زر معيار بولي مګر په اوسني دور کي د سرو او سپينو زرو تر منځ ډېر لوی فرق سته چي د هغه په سبب سره زر په ډېر لوړ نرخ ودرېدل او سپين زر بې حيثيته وبلل سو او د شريعت غرض دا دئ چي زکات پر مالدار سړي باندي فرض سي نو که چيري سپين زر د نصاب معيار جوړ کړي نو پر هر سړي چي ديو څه سرو زرو او ديو څو روپيو مالک سي زکات واجب سي او حال دا چي په خپله د حاجت د پوره کېدلو له پاره پيسې نه سته او په خپله ضرورت مند دئ او معامله به چپه سي نو له دې کبله د زکات د واجبېدلو له پاره د نصاب معيار بايد سره زر وي.

په الفقه الحنفي کي يې وګورئ:

والذی يظهر لی أن تقدير النصاب بالذهب أولی من تقديره بالفضة مع ارتفاع تكاليف المعيشة ونزول قيمة الفضة نزولا ملحوظا، فقل أن تجد من لايملک نصابا من الفضة، وإذا كان الأمر كذاک، فلن تجد فقيرا تؤدی إليه الزكاة، فالأنفع للفقراء والأغنياء اعتبار نصاب الذهب، والله أعلم. (الفقه الحنفی وادلته:۱/ ۳۵۲، زكاة الأوراق المالية، بيروت).

په جديد فقهی مسائل کي راځي:

په اوسني زمانه کي څنګه چي د سرو او سپينو زرو په نرخ کي ډېر فرق موجود دئ نو د زکات واجبېدل نصاب د سپينو زرو له نصاب څخه مقرر کړل سي او که د سرو زرو؟

علامه يوسف القرضاوي ليکلي دي، چي د زماني د اکثره علماوو رايه دا ده چي د سپينو زرو نصاب اصل مقرر کړل سي او له هغه څخه نصاب تعين کړي.

د دې پر خلاف ځيني نور علماء لکه شيخ ابو زهره رحمة الله عليه، شيخ خلاف رحمة الله عليه او شيخ حسن رحمة الله عليه د سرو زرو نصاب اصل روا ګڼلی دئ.

علامه يوسف القرضاوي هم دغه راجح بللې ده، ځکه د زکات مالونه چې کله موازنه او وکتل سي چې پر پنځو اوښانو زکات دئ او پر څلوېښتو بزو زکات دئ او پر شپیته کاسو خروما باندي او پر کشمشو زکات دئ نو مونږ ته معلومه سوه چې په دې زمانه کي د نصاب له ټولو نصابو سره نژدې سره زر دي او سپين زر نه دي نو ځکه مناسبه دا ده چې د زکات د نصاب له پاره سره زر اصل وبولي او په دې کي که څه هم د فقيرانو ګټه کمه ده مګر د عامو خلکو د کوم چا چې زکات پر ذمه دئ د هغو له پاره اساني ده. له دې پرته چې په اوسنۍ زمانه کي د سپينو زرو د نصاب په اعتبار پر ډېر کم مقدار باندي زکات واجبيږي کوم چې د اسلام د عدل او انصاب له تقاضا څخه خلاف معلوميږي.

دغه ډول د دې مسئلې اړوند مياشتنۍ د الحق په نامه له دار العلوم حقانيه اکوړه خټک څخه د مفتي مختار الله حقاني صاحب تفصيلي مضمون چاپ سوي چې پر پنځو حصو مشتمل دئ د هغه مضمون لنډيز په لاندي ډول دئ:

د نبي کريم ﷺ په زمانه کي د درهم او دينار حساب د قيمت په اعتبار سره يو او سره برابر وو نو له دې سببه فقهاء حضراتو د تجارت په مال کي د مال خاوند ته اختيار ورکړی دئ چې هغه د تجارت له ماله څخه د زکات د اداء کېدلو له پاره له سرو او سپينو زرو څخه له کوم يوه سره چې يې خوښه وي قيمت دي ولګوي چې د هغه نرخ د دواړ نصابو مطابق سي نو په دې مالو کي زکات واجب دئ مګر نن سبا د سرو او سپينو زرو د مځکي او د اسمان فرق سته نو له دې کبله د اوسني وخت تقاضاوي مخته کښيږدي د تجارت د مال د دغه نصاب د قيمت اعتبار وکړي چې په هغه کي مالکانو ته څه مشکل مخ ته رانه سي او حال دا چې سره زر له اولې زمانې څخه تر ننه پوري پر خپل ځای ولاړه دي او د هغه په نرخ کي يو ډول تغير نه دئ راغلی نو د بنياد له پاره همدغه سی شی په کار دئ کوم چې پر خپل ځای پاته وي نو له دې سببه د تجارت په مالو کي د سرو زرو نصاب د زکات د وجوب له پاره معيار بللی دئ او مناسب هم دغه دئ ځکه چې په نړۍ واله سطه سره زر هغه شی دئ چې د شيانو د تعين له پاره په کار راځي او په دغو سره خرڅول او رانيول کيږي. او سپينو زرو ته څوک ګوري لا نه. او نه په هغه کي نن سبا د دې صلاحيت سته، نو ځکه په اوسني وخت کي د موجوده حالاتو له کبله ځيني

علماء سره زر او موجوده پیسې د نصاب معیار ګرځولي دئ چي په دې کي امام ابو زهره رحمه الله، شیخ وهبه زحیلی رحمه الله، شیخ یوسف قرضاوي رحمه الله، شیخ الازهر شیخ جاد الحق علی جاد الحق رحمه الله، ډاکټر حمید الله، پروفیسر محفوظ احمد، مولانا محمد شعیب مفتاحي، ډاکټر علی جمعه الاستاذ بجامعة الازهر، شیخ خلاف او شیخ حسن او داسي نور شامل دي.

سرو زرو د نصاب د معیار بلونکو یو څو دلیلونه وګورئ:

۱_ علامه یوسف قرضاوی په فقه الزکات کي وايي:

إن الفضه تغيرت قيمتها بعد عصر النبى ﷺ ومن بعده و ذلک لاختلاف قيمتها باختلاف العصور كسائر الأشياء، وأما الذهب فاستمرت قيمته ثابتة إلى حد بعيد ولم تختلف قيمة النقود الذهبية باختلاف الأزمنة، لأنها وحدة التقدير في كل العصور، وهذا ما اختاره الأساتذة: أبو زهرة وخلاف وحسن فى بحثهم عن الزكاة، ويبدو لى أن هذا القول سليم الو جهة قوى الحجة. (فقه الزكاة:١/ ٢٦٤).

۲_ علامه قرضاوی دوهم دلیل دا بیان کړی دئ:

فبالمقارنة بين الأنصبة المذكورة فى أموال الزكاة كخمس من الإبل، أو أربعين من الغنم، أو خمسة أو سق من الزبيب أو التمرف نجد أن الذى يقاربها فى عصرنا هو نصاب الذهب لانصاب الفضة. إن خمس إبل أو أربعين شاة تساوى قيمتها نحو أربع مائة دينار أو جنيه، أو أكثر، فكيف يعد الشارع من يملک أربعا من الإبل أو تسعا وثلاثين من الغنم فقيرا، ثم يوجب الزكاة على من يملک نقدا لايشترى به شاة واحدة؟ وكيف يعتبر من يملک هذا القدر الضئيل من المال غنيا. (فقه الزكاة:١/ ٢٦٤).

۳_ علامه قرضاوى درېيم دليل دا وركوي:

قال العلامة ولي الله الدهلوي في كتابه القيم (حجة الله البالغة، الجزء الثاني ص ٥٠٦): «إنما قدر (النصاب) بخمس أواق (من الفضة) لأنها مقدار يكفى أقل أهل بيت سنة كاملة، إذ كانت الأسعار موافقة في أكثر الأقطار واستقرئ عادات البلاد المعتدلة في الرخص والغلاء تجد ذلك» فهل نجد الآن في أي بلد من بلاد الإسلام: أن خمسين أو نحوها من الريالات المصرية أو السعودية أو القطرية أو الروبيات الباكستانية أو الهندية ونحوها تكفى لمعيشة أسرة سنة كاملة، أو شهرا واحدا، أو حتى أسبوعا واحدا؟ إنها في بعض البلاد التي ارتفع فيها مستوى المعيشة كبلاد النفط (البترول) لا تكفى بعض الأسر المتوسطة لنفقات يوم واحد فكيف يعد من ملكها غنيا في نظر الشرع الحكيم؟ هذا بعيد غاية البعد.

ولهذا كان الأولى أن نقتصر على تقدير النصاب في عصرنا بالذهب وإذا كان التقدير بالفضة أنفع للفقراء والمستحقين، فهو إجحاف بأرباب الأموال وأرباب الأموال في الزكاة ليسوا هم الرأسماليين وكبار الموسرين، بل هم جمهور الأمة. (فقه الزكاة: ۲/ ۲٦٥).

۴_ د دې زمانې محقق علامه وهبه الزحيلى وايي:

يقدر نصابها كما أبنت بسعر صرف نصاب الذهب المقرر شرعا وهو عشرون دينارا أو مثقالا ...... والأصح تقدير النصاب الورقي بالذهب؛ لأنه المعادل لنصاب الأنعام (الإبل والبقر والغنم)، ولارتفاع مستوى المعيشة وغلاء الحاجيات. (الفقة الاسلامى وادلته: ۲/ ۷۷۳، زكاة الاوراق النقدية، دار الفكر).

۵_ ډاکټر علی جمعه الاستاذ بالجامعه الازهر وايي:

والرأی فی ذلک عندی أن الله قد خلق فی الذهب خصائص ثمن لاتوجد فی غيره، وأنه ثابت النسبة بينه وبين باقی السلع والعروض غالبا إلی يومنا هذا، وأن الله قد بدأ به فی كتابه فهو يصلح دائما معيارا للتقويم. (جديد فقهی مباحث:۷/ ۶۷۵).

۶_ د شيخ الازهره شيخ جاد الحق علی جاد الحق رايه:

النصاب الشرعی للمال النقدی الذی تجب فيه الزكاة بعد استفاء باقی الشروط هو ما تقابل قيمته بالنقود الحالية قيمة « ۸۵» جراما من الذهب. (الأزهر من فتاوی فضيلة الإمام:ص ۶۷).

۷_ مولانا محمد شعيب مفتاحی وايي:

مناسب دا ده چي د زکات د نصاب له پاره سره زر اصل وګرځول سي، په دې کي که څه هم د اول قول برعکس د فقيرانو په حق کي ګټه کمه ده مګر د عامو خلکو پر ذمه زکات واجب دئ او د هغو په حق کي اساني ده له دې څخه پرته په اوسنی زمانه کي سپينو زرو د نصاب له اعتباره پر ډېر کم مقدار مال زکات واجبيږي کوم چي د اسلامی عدل او انصاب خلاف معلوميږي.

۸_ مولانا خالد سيف الله رحمانی وايي:

پر دوهمه رايه سره زر معيار وي او د سکي له پاره معيار نن ورځ سره زر دي او د سپينو زرو هغه د زرو قوت ختم سوی دئ. (د اسلام نظام عشر او زکات، د مال د تجارت نصاب:صـ ۷۳).

۹_ د عربو د يوه لوی جماعت د علماوو هم دغه فيصله ده.

په جديد فقهی مسائل نومي کتاب کي راځي:

په نوي زمانه کي د ځينو علماوو خصوصا د عربو د عالماوو دغه رايه دا ده چي د تجارت د مالو او د کاغذی روپو په نرخ کي د سرو زرو نصاب بايد معيار جوړ کړل سي او د دې په ذريعه د مال معلومات وکړل سي.

قد قرر مؤتمر علماء السملمين الثانی ومؤتمر البحوث الإسلامية الثانی عام سنة ۱۳۸۵ هـ/ سنة ۱۹٦۵ م، فی شأن الزكاة...... وأن يكون تقويم نصاب الزكاة فی نقود التعامل المعدنية والأراق النقدية وعروض التجارة على أساس قيمتها ذهبا. تعليق الدكتور مصطفى كمال وصفى على الشرح الصغير: ۱/ ۵۸٦، (جدید فقهی مباحث: ۷/ ۸۱۰، تقویم عروض، إدارة القرآن).

۱۰ _ شریعت پر مالدارو خلکو زکات واجب کړی دئ. (بخاری شریف: ۱/ ۱۹۳).

که چیري سپین زر د زکات معیار جوړ کړل سي نو زکات به د مالدارو پر ځای د فقیرانو پر وړو باندي راسي ځکه چي نن سبا تقریبا په هر کور کي یوه یا نیمه توله د سپینو زرو ګېڼې خامخا سته او څه ناڅه نقدي روپي له هر سړی سره سته نو چي دواړه سره ګډ کړي د سپینو زرو نصاب ته رسیږي نو اختري او د کوچنی اختر صدقه به پر واجب سي او د کال په تېړدو سره به زکات هم پر واجب سي حال دا چي د دغه سړی حالت دا دئ چي د زامنو او کور خاوندی دئ او په خپله د زکات مستحق دئ نو پر دغه سړی زکات واجبول اسانی نه بلکي سختي ده.

همدغه ډول که چیري سره زر موجود لا نه وو خو نور داسي شیان موجود وو چي تر اصلي حاجت زیات وه او د سپینو زرو له نرخه نصاب ته رسېدل نو دا سړی په مالدارانو کي داخلیږي چي د هغه په سبب د ده له پاره زکات اخستل روا نه دي او حال دا چي دی د زکات مستحق دئ.

۱۱ _ د دغو دلائلو په وړاندي او د ضرورت په وجه اسلامي هیواد کویټ هم د رواج کړل سوی پیسو له پاره د نصاب معیار سر زر مقرر کړي دي او هغه ته یې قانوني شکل ورکړئ دئ ځکه چي (وزارت الاقاف والشئون الاسلامية) **څخه په نشر سوو رسالو کي د دې ذکر موجود دئ.**

إذا بلغ ما يملكه المسلم منها ما قيمته عشرون مثقالا من الذهب فنحسب البنكنوت على أساس نصاب الذهب لأن لها مقابلا ذهبيا فی بنک الدولة هو ما يسميه الاقتصاديون بالغطاء الذهبی......وعلى هذا يجب أن يراعى كل إنسان القيمة السائدة للذهب فی بلده وقت إخراج الزكاة. (بحواله منهاج: ص ۱۰، سنة ۱۹۹٦ م، اپریل تا جون).

د زیات تفصیل له پاره وګوري. (ماهنامه الحق، اګست ۲۰۰۲، جنوری – فروری _ ۲۰۰۲ م). والله ﷻ اعلم.

دوهم ...... فصل

پر نغدو پیسو، قرض، د کور پر سامان او داسي نورو شیانو د زکات د واجبېدلو حکم

د طالبانو په پیسو کي د زکات حکم

سوال: مور او پلار چي خپلو زامنو ته پیسي ورکوي ایا په هغو پیسو کي زکات شته او که نه؟ همدا ډول که چیري یو طالب د خپل خرڅ له پاره تجارت وکړي نو پر دې مال زکات شته او که نه؟

الجواب: که چیري پیسي د نصاب په اندازه وي او پوره کال دیوه بالغ طالب په لاس کي وي نو پر ده زکات لازم دئ او که داسي نه وي نو لازم نه دئ. همدا ډول تر خرڅ وروسته چي کوم مال پاته سي او د نصاب په اندازه وي نو د کال تر تیرېدو وروسته زکات لازم دئ او د نابالغه په مال کي زکات نه شته.

وګورئ په فتاوی شامی کي راځي:

وسببه أی افتراضها ملک نصاب حولی نسبة للحول لحولانه علیه تام، قوله ملك نصاب فلا زكاة في سوائم الوقف والخيل المسبلة لعدم الملك. (الشامی:۲/ ۲۵۹، سعید).

په البحر الرائق کي ذکر دي:

في المعراج الدارية في فصل زكاة العروض : أن الزكاة تجب في النقد كيفما أمسكه للنماء أو للنفقة. (البحر الرائق:۲/ ۲۰٦، کوئتة – وکذا فی الشامی:۲/ ۲٦۲، سعید).

په فتاوی هندیه کي ذکر دي:

وأما شرط وجوبها: ومنها الملک التام وهو ما اجتمع فيه الملک و اليد ..... کذا فی السراج الوهاج. (الفتاوی الهندیة:۱/ ۱۷۲).

په فتاوی محمودیه کي ذکر دي:

د تجارت د مال د زکات د اداء کولو طریقه د کال په تیرېدو چي څومره اندازه مال موجود وي په هغه وخت کي چي د هغه څومره نرخ وي د هغه له حسابه زکات اداء کړئ.

په عمدة الفقه کي راځي:

یو شرط دا دئ چي د نصاب د مال په اندازه به وي او پوره مالک وي او هغه دا ده چي پر دغه مال به د ده قبضه هم وي او مالک به یې هم وي.

په احسن الفتاوی کي راځي:

سوال: له یوه سړي سره څو زره روپۍ دي او پر هغه کال هم تېر سوي دئ خو له ده سره نه کور سته او نه د کور سامان او واده یې هم کړي نه دئ او د دې ضرورتو له پاره روپۍ جمع کوي نو پر دې زکات فرض دئ او که نه؟

الجواب: پر دې سړي زکات فرض دئ، که چیري یې د کال تر پوره کېدلو مخکي د کور په جوړولو یا د کور په سامان کي استعمال کړي نو بیا زکات واجب نه دئ. قال ابن عابدین رحمة الله علیه تحت قوله (وفسره ابن ملک) فإذا كان معه دراهم أمسكها بنية صرفها إلى حاجته الأصلية لا تجب الزكاة فيها إذا حال الحول وهي عنده، لكن اعترضه في البحر بقوله ويخالفه ما في المعراج في فصل زكاة العروض: أن الزكاة تجب في النقد كيفما أمسكه للنماء أو للنفقة وكذا في البدائع في بحث النماء التقدير اهـ، قلت: وأقره في النهر و الشرنبلالية و شرح المقدسي وسيصرح به الشارح أيضا ونحوه قوله في السراج سواء أمسكه للتجارة أو غيرها وكذا قوله في التاترخانية نوى التجارة أو لا (إلى قوله) وكذا ما سيأتي في الحج من أنه لو كان له مال ويخاف العزوبة يلزمه الحج به إذا خرج أهل بلده قبل أن يتزوج وكذا لو كان يحتاجه لشراء دار أو عبد، فليتأمل . والله أعلم . رد المحتار:۲/ ۷. (احسن الفتاوی:٤/ ۲۹۱، سعید). والله تعالی اعلم.

د اصلي حاجت له پاره جمع کړل سوي روپیو د زکات حکم

سوال: که چیري یوه سړي د خپل کور د ضرورت له پاره یو لک روپۍ ایښي وي مګر تر اوسه یې کور جوړ کړی نه دئ نو د کال په تیرېدو سره پر دې زکات واجب دئ او که نه؟

الجواب: په یاد صورت کي پر دې یو لک روپیو د کال تر تیرېدو وروسته زکات لازم دئ.

وګورئ په فتاوی شامی کي راځي:

وسببه أی افتراضها ملک نصاب حولی نسبة للحول لحولانه علیه تام، قوله ملك نصاب فلا زكاة في سوائم الوقف والخيل المسبلة لعدم الملك. (الشامی:۲/ ۲۵۹، سعید).

په البحر الرائق کي ذکر دي:

في المعراج الدارية في فصل زكاة العروض : أن الزكاة تجب في النقد كيفما أمسكه للنماء أو للنفقة. (البحر الرائق:۲/ ۲۰۶، کوئتة).

په احسن الفتاوی کي راځي:

سوال: له یوه سړي سره څو زره روپۍ دي او پر هغو کال هم تېر سوی دئ مګر د دغه سړي سره نه کور سته او نه د کور سامان سته او تر اوسه یې واده هم کړي نه دئ د دغو اړتیاوو له پاره روپۍ جمع کوي نو پر ده زکات فرض دئ او که نه؟

الجواب: پر ده زکات فرض دئ او که چیري یې د کال تر پوره کېدلو د مخه د کور په جوړولو او د کور په شیانو کي استعمال کړي نو بیا زکات فرض نه دئ. قال ابن عابدین رحمه الله تحت قوله (وفسره ابن ملک) فإذا كان معه دراهم أمسكها بنية صرفها إلى حاجته الأصلية لا تجب الزكاة فيها إذا حال الحول وهي عنده، لكن اعترضه في البحر بقوله ويخالفه ما في المعراج في فصل زكاة العروض: أن الزكاة تجب في النقد كيفما أمسكه للنماء أو للنفقة وكذا في البدائع في بحث النماء التقدير اهـ، قلت: وأقره في النهر و الشرنبلالية و شرح المقدسي وسيصرح به

الشارح أيضا ونحوه قوله في السراج سواء أمسكه للتجارة أو غيرها وكذا قوله في التاترخانية نوى التجارة أو لا (إلى قوله) وكذا ما سيأتي في الحج من أنه لو كان له مال ويخاف العزوبة يلزمه الحج به إذا خرج أهل بلده قبل أن يتزوج وكذا لو كان يحتاجه لشراء دار أو عبد، فليتأمل . والله أعلم . رد المحتار:۲/ ۷. (احسن الفتاوی:٤/ ۲۹۱، سعيد).

په فتاوی دار العلوم ديوبند کي راځي:

که چيري خپل ټول ضرورتونه بند کړي او ديوه خاص ضرورت له پاره روپۍ جمع کوي نو د کال په تېرېدو سره پر ده زکات واجب دئ. والله ﷻ اعلم .

د اصلي حاجت تعريف او د هغه شمول

سوال: فقهاء وايي چي زکات په هغه مال کي دئ چي تر اصلي حاجت زيات وي نو د اصلي حاجت شمول څه دئ؟ او کوم شيان په دې کي داخل دي؟

الجواب: په اصلي حاجت کي هغه شيان داخلېږي چي له هغو پرته د انسان ژوند تېرول سخت سي. د حوائج اصلی دوه ډولونه دي:

۱ _ حاجت اصلي حقيقي: په دې کي هغه ټول شيان داخل دي چي د هغه څخه پرته د انسان د هلاکت خطره وي لکه ضروري نفقه او خرڅونه، د اوسېدلو کور، د جنګ آلآت او د يخ او ګرمۍ کالي او هغه کالي چي هغو ته په خپل موسم کي هر وخت ضرورت ورته پيدا کيږي.

۲ _ حاجت اصلي تقديري: په دې کي ټول هغه شيان داخل دي چي انسان د هغو په اړه هر وخت په صحی معنی فکر کوي مثلا هغه قرض چي اداء يې واجب وي، د کسب او د کور ضروري سامان، د سپرتيا حيوان او د عالمانو له پاره ديني کتابونه دا ټول په حاجت اصلی کي شامل دي نو ځکه که چيري له يو چا سره نغدي روپۍ موجود وي مګر پر دې سړي قرض هم وي نو زکات وربانديواجب نه دئ.

د فقهاوو کرامو له بيان کړل سوي جزئياتو څخه دوې خبرې ښکاره سوي چي د حاجت اصلی هيڅ حد نه سته چي په هغه کي د ډېر والی او د کموالی اجازه نه وي بلکي ازادي وي مګر د حاجت

لفظ او د اصلی معنی پاته کېدل په دغه دائره کې تریوه جائزه حده پوري د ازادۍ اجازه سته مثلاً د خام کور پر ځای پوخ کور، د نل پر ځای ټانکۍ، د خره پر ځای موټر سائیکل یا جیپ موټر او داسې نور الآت په صنعتي شیانو کې د لاس پر ځای ماشین.

دغه ډول دژوند په لویو مکاناتو کې ټیلفون او یخچال کولر د موسم په اعتبار سره د یخ او ګرمۍ الآت او اسباب دغه ډول مزدور یا منیځه موټروان چي موټر چلولای سي که چیري کورنۍ خوشحاله وو.

همدا ډول د زامنو د تربیت سامان او د درس سامان مطلب داسې نوي شیان چي د ورځي دژوند په ضرورتو کي داخل دي چي د دې اصل وضاحت د فقهاوو په تصریحاتو کي په بنیادي ډول موجود دي. دا ټول په حاجت اصلی کي داخل دي مګر ټي وي او نور داسې فحش او ناروا شیان په حاجت اصلیه کي داخل نه دي . د اولاد نکاح په حاجت اصلی داخل نه ده، ځکه چي که چیري هغه بالغ وي نو د نکاح ذمه داري پر اولاد باندي ده او که چیري نابالغه وي نو نکاح ضروري نه ده پر پلار یوازې د نابالغه اولاد نفقه واجبېږي دغه ډول د خپل کور جوړول په حاجت اصلی کي داخل نه دي ځکه د ژوند تېرولو له پاره د کرایې کور هم بس دئ او د کور د جوړولو له پاره جمع کړل سوي روپۍ باندي د کال په تیرېدو سره زکات واجبېږي.

په درمختار کي ذکر دي:

فارغ عن الحاجة الأصلية، لأن المشغول بها كالمعدوم، وفسره ابن ملك بما يدفع عن الهلاك تحقيقا كثيابة أو تقديرا كدينه. وفى الشامي: (وفسره ابن ملك، وذلك حيث قال: وهي ما يدفع الهلاك عن الإنسان تحقيقا كالنفقة ودور السكنى وآلات الحرب والثياب المحتاج إليها لدفع الحر أو البرد، أو تقديرا كالدين، فإن المديون محتاج إلى قضائه بما في يده من النصاب دفعا عن نفسه الحبس الذي هو كالهلاك، وكآلات الحرفة وأثاث المنزل ودواب الركوب وكتب العلم لأهلها، فإن الجهل عندهم كالهلاك، فإذا كان له دراهم

مستحقة بصرفها إلى تلك الحوائج صارت كالمعدومة، كما أن الماء المستحق بصرفه إلى العطش كان كالمعدوم. (الدر المختار مع الشامي: ۲/ ۲٦۲، سعيد – وكذا في البدائع الصنائع: ۲/ ۱۱، سعيد). والله ﷻ أعلم.

پر چیک باندي د زکات د واجبېدلو حکم

سوال: که چیري یو سړی د نصاب خاوند وي او د کال تر تېرېدو د مخه هغه ته یو چا ته د مال چیک ورکړئ نو تر اوسه هغه له بانک څخه پیسې نه دي را ایستلي تر داسي محاله چي کال پر تېر سو نو اوس پر دې سړی څه وخت زکات واجب دئ څنګه چي چیک ورکړئ او که له بانک څخه د پیسو د را ایستلو وروسته؟

الجواب: کله چي چیک ده ته ورکړل سو دا حکمي قبضه ده مګر هغه چیک چي د هغه پر شاه پیسې وي خالي نه وي خاص په هغه وخت کي چي کله بانک چیک جاري کړي، پر دغو روپیو قبضه حکمي ده نو له دې وجه چي وصول سي نو زکات واجب دئ ځکه چي هغه هر وخت وغواړي له بانک څخه پیسې را ایستلای سي د دې مثال داسي دئ لکه یو څوک چي یو چا ته په صندوق کي پیسې هبه کړي نو که چیري صندق خلاص وو او بند نه وو نو دا د قبضې سره برابر دئ ځکه چي هر وخت وغواړي هغه یې ورلای سي او که چیري قلف وي نو بیا دا قبضه نه ده، نو دغه ډول دلته هم د دې چیک په ذریعه چي کله وغواړي مال را ایستلای سي.

بلکي په ځینو معاملاتو کي په خپله چیک هم چلېدلای سي کوم چي غټ معاملات دي چي په هغه کي چیک استعمالیږي پاته سوه دغه خبره چي بانک هغه منسوخ کړي نو د دې تعلق له قبضې سره نه دئ بلکي دا ده د مال ور رد کول دي او هغه په ډالرو کي که چیري د چا ډالر غلا کړل سو نو د هغه مال ممکن دئ چي بانک څخه د ختم کړل سي په هر حال په پوښتل سوي صورت کي څنګه چي چیک لاس ته راوړي د زکات حکم ورته متوجه کیږي که څه هم دا پیسې په کلو په بانک کي پرتې وي.

وګورئ په الدر المختار کي راځي:

والتمكن من القبض كالقبض فلو وهب لرجل ثيابا في صندوق مقفل ودفع إليه الصندوق لم يكن قبضا لعدم تمكنه من القبض، وإن مفتوحا كان قبضا لمكنه منه، فإنه كالتخلية في البيع اختيار. (الدر المختار:٥/ ٦٩٠، كتاب الهبة، سعيد).

په البحر الرائق كي راځي:

ولو وهب لرجل ثيابا فى صندوق مقفل و دفع إليه الصندوق لم يكن قبضا، وإن كان الصندوق مفتوحا كان قبضا لأنه يمكنه القبض، كذا فى المحيط. (البحر الرائق:٧/ ٢٨٦). والله سبحانه وتعالى اعلم.

د ښځي د واده د سامان د زكات د واجبېدلو حكم

سوال: ښځي ته سامان (لوښي) په واده كي وركول كيږي ايا پر دې زكات سته او كه نه؟ او دا خبره ياد وساته چي دغه سامان په كلو نه دئ استعمال سوى او نرخ يې تر ډېرو روپيو زيات دئ؟

الجواب: په ياد سوي صورت كي پر سامان زكات لازم نه دئ مگر اخترى او د كوچني اختر صدقه لازم ده.

په هدايه كي يې وگورئ:

وليس في دور السكنى وثياب البدن وأثاث المنازل ودواب الركوب وعبيد الخدمة وسلاح الاستعمال زكاة، لأنها مشغولة بالحاجة الأصلية وليست بنامية أيضا . (الهداية:١/ ١٨٦، كتاب الزكاة).

په فتاوى هنديه كي راځي:

وأما شروط وجوبها فمنها...... فراغ المال عن حاجته الأصلية، فليس في دور السكنى وثياب البدن وأثاث المنازل ودواب الركوب وعبيد الخدمة وسلاح الاستعمال زكاة ، وكذا

طعام أهله وما يتجمل به من الأواني إذا لم يكن من الذهب والفضة. (الفتاوى الهندية:۱/ ۱۷۲، كتاب الزكاة).

په كفايت المفتي كي ذكر دي:

په كور كي د استعمال سامان د زكات په نصاب كي شمار نه دئ. والله ﷻ اعلم.

د مسجد او مدرسې پر جمع سوی روپيو د زكات حكم

سوال: ايا د مسجد او مدرسې روپۍ كه د نصاب په اندازه وي نو زكات لازم دئ او كه نه؟

الجواب: د مسجد او د مدرسې روپۍ كه څه هم د نصاب په اندازه وي زكات پر لازم نه دئ.

وګورئ په ردالمختار كي راځي:

وسببه ملك نصاب حولي تام فارغ عن دين له مطالب من جهة العباد: سواء كان لله كزكاة وخراج، وقال بن عابدين رحمه الله قوله كزكاة: فلو كان له نصاب حال عليه حولان فلم يزكه فيهما لازكاة عليه في الحول الثاني. (الدر المختار مع ردالمحتار:۲/ ۲۵۹، كتاب الزكاة، سعيد).

په جديد فقهى مسائل نومي كتاب كي راځي:

د كوم مال چي مالك معلوم نه وي بلكي د يو مسجد يا مدرسې يا يوي بلي اداري وي د هغه مالك په مال كي زكات واجب نه دئ دا د ملک العلماء علامه كاساني بيان دئ.

ولا تجب الزكاة في سوائم الوقف والخيل المسبلة لعدم الملك وهذا ؛ لأن في الزكاة تمليكا والتمليك في غير الملك لا يتصور. (جديد فقهى مسائل:۲/ ۵۰).

په جديد فقهى مباحث نومي كتاب كي راځي:

اسلامی مدارس او مسجدونه او نوري داسي لويي قومي اداري او بيت المال او داسي نور شيان حقيقي شخص نه بلل كيږي بلكي دا ټول شيان په حكمي اشخاصو كي داخل دي او شريعت زكات د حقيقي شخص پر تام ملک واجب كړی دئ او د حكمي شخص پر ملک واجب نه دئ نو ځكه په مدرسو او مسجدونو او د داسي نورو قومي ادارو پر مال او پر بيت المال زكات واجب نه دئ.

فلا زكاة فی سوائم الوقف والخيل المسبلة لعدم الملك وهذ لأن فی الزكاة تمليكا والتمليك فی غير الملك لايتصور. بدائع:۲/ ۹، شامی:۲/ ۲۵۹. (جدید فقهی مباحث:۶/ ۲۸۵، ادارة القرآن والعلوم الاسلامية).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

د مسجد او د مدرسې د چندې روپۍ که د زکات و نصاب ته ورسيږي او کال هم پر تېر سو په دې کي زکات نه سته. د مدرسې يا د مسجد له مهتمم سره چي کومي پيسې د مدرسې يا دمسجد جمع کيږي نو په دې پيسو کي زکات فرض نه دئ.

په کفايت المفتی کي راځي:

د محلې هغه روپۍ چي د جماعت يا د محلې دانتظام له پاره چي کوم انتظام کونکي دي د هغو مشترکي روپۍ چي د خلکو د ضرورتو له پاره يې جمع کړي وي يا د مسجد روپۍ وي نو په دې کي زکات نه سته.

په فتاوی محموديه کي راځي:

د مسجد يا مدرسې پيسې چي د نصاب په اندازه وي نو په دې کي زکات نه سته. (فتاوی محموديه:۹/ ۳۲۷، جامعه فاروقيه).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (په جديد فقهی مسائل:۷/ ۷۳۵، ادارة القرآن دار العلوم الاسلامية کتاب الفتاوی، دريمه حصه ص ۲۶۷، اهم فقهی فيصلی: ۵۵، ادارة القرآن کراچی، ايضاح النوادر، دوهمه حصه:۲۳. والله ﷻ اعلم.

د حج له پاره په جمع کړل سوي روپيو کي د زکات حکم

سوال: يوه سړي په پاکستان يا افغانستان کي دحج له پاره په جمادی الثانی کي پيسې جمع کړې او د حج منظوري يې راغله مګر تر روژې پوري حج ته نه ولاړئ حال دا چي روژه د زکات مياشت ده بيا په ذی القعده کي ولاړئ ايا پر دغه سړي په روژه کي د دغو پيسو زکات واجب دئ او که نه؟ همدا ډول نفلي او د فرضي حج فرق سته او که نه؟

الجواب: په یاد سوي صورت کې چې کومې پیسې تر روژې وروسته ده ته ورکړل سوي دي پر هغو پیسو زکات لازم دئ او څوره پیسې چې حکومت د حج د ضرورتو له پاره اخیستی دي هغه له زکات څخه مستثنی دي یعنی پر هغو پیسو زکات لازم نه دئ.

په فتاوی شامی کې یې وګورئ:

إذا أمسكه لينفق منه كل ما يحتاج فحال الحول وقد بقي معه منه نصاب فإنه يزكي ذلك الباقي وإن كان قصد الإنفاق أيضا في المستقبل لعدم استحقاق صرفه إلى حوائجه الأصلية وقت حولان الحول، بخلاف ما إذا حال الحول وهو مستحق الصرف إليها. (شامی:۲/ ۲۶۲، سعید).

په احسن الفتاوی کې راځي:

د تګ او راتګ کرایه او د معلم او نورو د فیس له پاره چې کومې پیسې ورکړي دي په هغو پیسو کې زکات نه سته تر دې زیاتې پیسې کومې چې د وطن د پیسو په صورت کې ده ته بیرته ورکول کیږي له هغو څخه چې څومره تر اولی روژې پاتیږي په هغو کې زکات فرض دئ او کومې چې خرڅې سوی وي په هغو کې زکات نه سته. (قال فی الشامية: إذا أمسكه لينفق منه كل .... الخ). (احسن الفتاوی:٤/ ٢٦٤).

ځینی مفتیان وایي چې پر ټولو پیسو زکات فرض دئ په خیر الفتاوی کې یې وګوري:۳/۴۷۴، او نورو کی.

مګر کله چې سړي د حج له پاره پیسې جمع کوي او د هغو په بدله کې د حج حق ورته ورسیږي نو دا پیسې د حاجي له ملک څخه ووتلې مګر کومې پیسې چې وروسته دوهمه ځل لاس ته راسي نو په هغو کې زکات واجب دئ. کله چې پیسې له ملکیت څخه ووځي نو پر هغو زکات واجب نه دئ د دې مثال داسي دئ لکه یو چا ته چې مځکې او به کېدلو له پاره د ولې دوار حق ورسیږي او د هغه په عوض کې پیسې ورکړي نو دا پیسې له ملک څخه ووتلې. په هدایه کې یې د ولی دوار خرڅول روا کړي دي او یا د لاري د حق په عوض کې څوک پیسې ورکړي نو هغه پیسې له ملکیت څخه

وځي، يا څوک په اجاره کي ديوه کال کرايه دمخه اداء کړي نو دا پيسې هم له ملکيت څخه وځي او يا يو چا ته د چمپلانو د جوړولو اډر ورکړي نو که څه هم چمپل تر اوسه تيار نه وي مګر چي پيسې ورکړي هغه يې له ملکيت څخه وځي او دا مسئله د اجارې په ډول داسي ده چي حکومت د اجير پر ځای دئ او دا سړی د مستاجر پر ځای دئ او که يې چيري کرايه دمخه ورکړې وي نو هغه پيسې له ملکيت څخه وځي.

په عالمګيري کي راځي:

ثم الأجرة تستحق بأحد معان ثلاثة: إما بشرط التعجيل أو بالتعجيل، أو باستيفاء المعقود عليه، فإذا وجد أحد هذه الأشياء الثلاثة، فإنه يملكها، كذا في شرح الطحاوي. (الفتاوى الهندية: ٤/ ٤١٣، كتاب الاجارة، فى بيان متى تجب الاجرة).

په بدائع الصنائع کي راځي:

لأنهما لما شرطا تعجيل البدل لزم اعتبار شرطهما لقوله ﷺ «المسلمون عند شروطهم» وملك الآجر البدل حتى تجوز له هبته، والتصدق به، والإبراء عنه. (بدائع الصنائع: ٤/ ٢٠٣، فصل فى حكم الإجارة، سعيد).

نو له دې وجه حکومت د دې پيسو مالک جوړ سو او پر حاجي زکات لازم نه دئ او موږ په دغه مسئله کي د حضرت مفتي رشيد احمد د احسن الفتاوی تابع يو.

په کتاب الفتاوی کي راځي:

د حج په سفر کي سوې خرچه او په مکه معظمه کي د اوسېدلو خرچه دا د حاجي په اصلي ضرورتونو کي داخل دي په دې کي زکات واجب نه دئ تر دې زيات نور خرڅونه چي کوی يې هغه په اصلي ضرورتونو کي داخل نه دي د هغه مال زکات پر حاجي واجب دئ. (کتاب الفتاوی: دريمه حصه، صـ ٢٧٤). والله تعالى اعلم.

د حج تر منظورۍ وروسته چي حج ته ولاړ نه سي او د پیسو د بیرته لاس ته راتلو د زکات حکم

سوال: کله چي د حج منظوري وسي او هغه سړی ولاړ نه سي نو د حج ډېري پیسې بیرته لاس ته راځي نو اوس د دغو پیسو زکات پر ده واجب دئ او که نه؟

الجواب: په یاد سوي صورت کي د پیسو د بیرته لاس ته پر راتلو باندي زکات واجب دئ.

وګورئ په فتاوی شامی کي راځي:

إذا أمسكه لينفق منه كل ما يحتاجه فحال الحول وقد بقي معه منه نصاب فإنه يزكي ذلك الباقي وإن كان قصد الإنفاق أيضا في المستقبل لعدم استحقاق صرفه إلى حوائجه الأصلية وقت حولان الحول. (شامی:۲/ ۲۶۲، سعید).

په طحطاوی کي راځي:

وفی معراج الدراية والبدائع: إن الزكاة تجب فی النقد كيف أمسكه للنماء أو للنفقة.

(طحطاوی علی مراقی الفلاح:۷۱۵، قدیمی).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

د حج له پاره پر جمع کړل سوو روپیو زکات واجب دئ. (فتاوی دار العلوم دیوبند:۶/ ۱۱۵). والله تعالی اعلم.

پر حرام مال د زکات حکم

سوال: که چیري دیو چا لاس ته حرام مال ورغلئ او یا هغه ته د سود پیسې په لاس ورسي نو پر دې پیسو زکات واجب دئ او که نه؟

الجواب: په یاد پوښتل سوي صورت کي که چیري له یو چا سره خاص د سود یا حرام مال وي نو پر دې مال کي زکات نه سته، نو ځکه که یې مالک معلوم وي نو تر مالکه پوري دې ور ورسوي او که

چیري مالک یې معلوم نه وي نو صدقه کول یې واجب دي لکه څرنګه چي په شامی کي راغلی دي:

(لأن سبیل الکسب الخبیث التصدق إذا اتعذر الرد علی اربابها). (شامی).

او که چیري له یو سړي سره حلال مال وي خو په هغه حرام ګډ سوي وي لکه د رشوت یا د سود حاصل سوي زیاتي پیسې او د دواړو جلا والی ممکن هم وي د هغه همدغه حکم دئ که چیري اصل مالک موجود وو نو تر هغو پوري یې رسول ضروري دي او که مالک یې معلوم نه وي نو بیا دې بېله د ثواب د نیته پر فقیرانو مصرف کړي او که چیري په دواړو کي جلا والی مشکل وي نو د امام صاحب په نزد حرام مال له حلال سره په ګډېدلو سره د احرام مال هم د دغه سړي په ملک کي داخلیږي نو له دې کبله پر دغه مخلوط مال زکات واجب دئ ځکه چي په دغه قول کي اسانی ده او هم پکښې د فقیرانو ډېره ګټه ده نو ځکه فقهاوو دغه قول اختیار کړی دئ.

په درمختار کي راځي:

ولو خلط السلطان المال المغصوب بماله، ملکه فتجب الزکاة فیه ویورث عنه، لأن الخلط استهلاك إذا لم یمکن تمییزه عند أبي حنیفة رحمه الله ...... وإلا فلا زکاة کما لو کان الکل خبیثا، کما فی النهر عن الحواشی السعدیة. (الدر المختار: ۲/ ۲۹۰، سعید).

وفی الشامی: (کما لو کان الکل خبیثا) فی القنیة: لو کان الخبیث نصابا لا یلزمه الزکاة، لأن الکل واجب التصدق علیه فلا یفید إیجاب التصدق ببعضه. (شامی: ۲/ ۲۹۱، سعید).

په فتاوی بزازیه کي راځي:

لو بلغ المال الخبیث نصابا لایجب فیه الزکاة، لأن الکل واجب التصدق. (الفتاوی البزازیة علی هامش الهندیة: ۲/ ۸٦).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (امداد الفتاوی: ۲/ ۱٤، امداد الاحکام: ۲/ ۳، کفایت المفتی: ٤/ ۲٥٦، احسن الفتاوی: ٤/ ۲۸۳، فتاوی حقانیه: ۳/ ٥۲۳، او جدید فقهی مباحث: ۷/ ٦۳۷. والله تعالی اعلم.

پر قرض باندي د زکات حکم

سوال: ۱_ ما و زید ته لس زره روپۍ قرض ورکړي دئ او هغه درې کاله وروسته د مکمل پور د اداء کولو وعده وکړه چي هغه وخت په ۲۰۰۴ مېلادي کال په جنوري کي بشپړ سو؟

۲_ او عمر شل زره روپۍ پر قرض اخیستي وې او وعده یې وکړه چي په قسطو به هره میاشت دوه زره ادا کوي؟

۱_ ایا پر ما په هغو درو کلونو کي زکات واجب دئ او که نه؟

۲_ د قسطو پر روپیو څنګه زکات اداء کړل سي؟

الجواب: ۱_ کله چي قرض وصول کړل سي نو د تېرو درو کلونو زکات ورکول هم واجب دي.

۲_ کوم وخت چي څومره اندازه پیسې وصول سي پر هغو پیسو زکات فرض دئ.

په مراقی الفلاح کي راځي:

وزكاة الدين على أقسام: فإنه قوي ووسط وضعيف، فالقوي وهو بدل القرض ومال التجارة إذا قبضه وكان على مقر ولو مفلسا أو على جاحد عليه بينة زكاة لما مضى ويتراخى وجوب الأداء إلى أن يقبض أربعين درهما، ففيها درهم، لأن ما دون الخمس من النصاب عفو لا زكاة فيه وكذا فيما زاد بحسابه . (مراقي الفلاح:۲٦۲، كتاب الزكاة، بيروت – وكذا في الشامي:۲/ ۳۰۵، سعيد).

په محیط برهاني کي راځي:

إذا قبض منها أربعين درهما يجب عليه الأداء بقدر ماقبض، هذا كله قول أبي حنيفة رحمة الله عليه. (المحيط البرهاني:۳/ ۲٤٦).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

د قرض تر وصول وروسته زکات ورکول واجب دي مګر که یې چیري د مخه تر وصول ورکړل سي نو دا هم روا ده کومه قرضه چي اوس د وصول وړ دئ او وروسته شاید چي قابل د وصول نه سي

پاته په دغه کي همدغه حکم دئ کوم چي تېر سو د زکات وجوب هغه وخت کیږي چي کله وصول سي مګر که یې فی الحال ورکړي بیا هم صحیح ده او قرض که چیري په قسطو وصول سي نو چي څومره وصول کیږي د هغه زکات دي ادا کړي او که یې چیري په یو وار د ټول مال زکات ورکړئ که د مخه وي او که ورروسته دا هم صحیح ده. (فتاوی دار العلوم دیوبند:٦/ ٩٦، مدلل او مکمل، دار الاشاعت).

په جدید فقهی مسائل نومي کتاب کي راځي:

هغه قرض چي یوه سړي ته یې ورکړی وي تاجر هغه سامان خرڅ کړی وو او د هغه قیمت پاته وو که چیري دغه پیسې په یو ځای لاس ته راسي نو د ټولو زکات اداء کول واجب دي او که چیري څو کاله وروسته لاس ته راسي نو د ټولو کلونو زکات په یوه وخت کي اداء کیږي.

که چیري دغه پیسې لږ لږ وصول کېدلې نو چي څومره وصول کیږي د هغو زکات دي هم ورسره اداء کړي مګر که چیري دغه پیسې د زکات تر نصاب (۱/۵۰) هم کمې وي نو بیا زکات واجب نه دئ او دې ته د فقهي په اصطلاح کي قوی پور وایي. (جدید فقهی مسائل: ۱/ ۲۱۲، نعیمیه). والله ﷻ اعلم.

د قرض زکات د پوروړي پر ذمه د کېدلو حکم

سوال: که چیري یو چا یو بل سړي ته قرض ورکړئ نو د دې قرض پیسې د دائن (پور ورکونکی) له ملکیت څخه وځي او د مدیون (پور وړي) په ملکیت کي داخل سوې نو زکات به یې څوک اداء کوي؟

الجواب: دا د قرض پیسې د دائن ملک دئ یا د هغه د ملکیت حق دئ نو له دې سبب پر دائن باندي زکات واجب دئ او پر مدیون باندي لازم نه دئ.

وګورئ په درمختار کي راځي:

فلا زکاة علی مکاتب لعدم الملك التام ولا في کسب مأذون ولا في مرهون بعد قبضه ولا فیما اشتراه لتجارة قبل قبضه ومدیون للعبد بقدر دینه فیزکي الزائد إن بلغ نصابا وعروض

الدين كالهلاك عند محمد ورجحه في البحر ولو له نصب صرف الدين لأيسرها قضاء ولو أجناسا صرف لأقلها زكاة. (الدر المختار: ۲/ ۲٦۳، سعيد).

په فتاوی هنديه کي راځي:

ومنها الملك التام وهو ما اجتمع فيه الملك واليد وأما إذا وجد الملك دون اليد كالصداق قبل القبض أو وجد اليد دون الملك كملك المكاتب، والمديون لا تجب فيه الزكاة كذا في السراج الوهاج. (الفتاوى الهندية: ۱/ ۱۷۳ – وطحطاوی علی الدر: ۱/ ۳۹۱).

په جديد فقهی مباحث نومي کتاب کي راځي:

هغه پور چي د مال د تجارت يا د قرض په طريقه لازم سوی وي او مديون د هغه اقرار هم کوي او پر اداء کېدلو باندي يې قادر هم وي او دائن په اسانۍ سره دغه قرض وصول کولای سي نو داسي پور ته قوی پور وايي او د دې زکات پر دائن باندي واجبيږي. (جديد فقهی مباحث: ٦/ ۲۸۸، دارة القرآن والعلوم الاسلامية وايضاح النودار دوهمه حصه: صـ ۳۰).

په کفايت المفتی کي راځي:

د پيسو پر مالک زکات اداء کول لازم دي او د قرض اخيستونکي پر ذمه لازم نه دئ. (کفايت المفتی: ٤۰/ ۲٦٦، دار الاشاعت).

په آپ کی مسائل نومي کتاب کي راځي:

اصل دا دئ چي د قرض د روپيو زکات د قرض ورکونکی پر ذمه لازم دئ او د قرض اخيستونکي پر ذمه لازم نه دئ، نو له دي کبله د دې پيسو زکات ستاسي پر ذمه لازم نه دئ بلکي د قرض ورکونکو پر ذمه لازم دئ او هغو ته په کار دي چي د دې مال زکات اداء کړي. (آپ کی مسائل اور ان کا حل: ۳/ ۳٥۱، مکتبه الدهيانوی). والله تعالى اعلم.

د نابالغه هلک مال چي له پلار سره د قرض په شکل پروت وي نو تر بالغ کېدلو وروسته يې د زکات حکم

سوال: يوه سړي له خپله نابالغه زوی څخه تر يوه وخته پوري پيسې په دې نيت د قرض په شکل اخيستي وي چي دوباره يې ورکوم، د قرض تر اخستلو وروسته ډېر وخت تېر سو تر داسي اندازي چي هلک بالغه سو او په دغه وخت کي پلار د ده د مال زکات نه وو اداء کړی اوس خبره دا ده چي زکات اداء کول لازم دي او که نه؟

الجواب: په ياد پوښتل سوي صورت کي د دغو پيسو حکم بعينه د قرض په ډول دئ يعني کله چي لاس ته راسي بيا يې زکات اداء کړي او له بلوغه وروسته چي څومره کلونه تېر سوي دي د ټولو زکات اداء کول لازم دي مګر تر بالغ کېدلو د مخه زکات لازم نه دئ او د کال شروع له بلوغ څخه شروع کيږي.

په فتاوی هنديه کي راځي:

وكذا الصبى إذا بلغ يعتبر ابتداء الوقت من وقت بلوغه. (الفتاوى الهندية: ١/ ١٧٢).

په مراقی الفلاح کي راځي:

وزكاة الدين على أقسام: فإنه قوي ووسط وضعيف، فالقوي وهو بدل القرض ومال التجارة إذا قبضه وكان على مقر ولو مفلسا أو على جاحد عليه بينة زكاة لما مضى ويتراخى وجوب الأداء إلى أن يقبض أربعين درهما، ففيها درهم، لأن ما دون الخمس من النصاب عفو لا زكاة فيه وكذا فيما زاد بحسابه . (مراقى الفلاح: ٢٦٢، كتاب الزكاة، بيروت – وكذا فى الشامي: ٢/ ٣٠٥، سعيد).

په محيط برهانی کي راځي:

إذا قبض منها أربعين درهما يجب عليه الأداء بقدر ماقبض، هذا كله قول أبى حنيفة رحمه الله عليه. (المحيط البرهاني: ٣/ ٢٤٦).

د زیات تفصیل لـه پاره وګوري: (فتاوی شامی:۲/ ۳۰۵، البحر الرائق:۲/ ۳۰۷، فتح القدير:۲/ ۱۶۷، الهنديه:۱/ ۱۷۲، احسن الفتاوی:٤/ ۲۶۱، فتاوی دار العلوم ديوبند:٦/ ۱۵۲، جدید فقهی مسائل:۱/ ۲۱۲، فتاوی محموديه:۳/ ۲۳۳). والله ﷻ اعلم.

قسطونه یا اوږد مدته قرض د زکات مانع نه دئ

سوال: د اوږد مدت قرض د مالک له اصل پیسو څخه وضع کیږي او که نه، او که پر تولو پیسو زکات لازم دئ؟ یعنی د اوږد مدت قرضه د زکات مانع دئ او که نه؟

الجواب: د اوږدې مودې په قرض کې د هر کال د قسط ادا له دغه زکات څخه جلا کړئ او پر پاته مال زکات واجب دئ یعنی ټول قرض له زکات څخه نه منع کوي او د زکات مانع نه دئ.

وګورئ په حاشیه طحطاوي کې راځي:

(قوله المؤجل) وقيل المهر المؤجل لايمنع لأنه غير مطالب به عادة بخلاف المعجل وقيل إن كان الزوج عزم على الأداء منع وإلا فلا، لأنه لايعد دينا بحر عن غاية البيان، وفى القهستانى والصحيح أن المؤجل غير مانع كما فى الجواهر. (حاشية الطحطاوى على الدر:۱/ ۳۹۱).

په فتاوی شامی کې راځي:

(قوله أو مؤجلا) عزاه في المعراج إلى شرح الطحاوي وقال: وعن أبي حنيفة رحمه الله لا يمنع وقال الصدر الشهيد: لا رواية فيه ولكل من المنع وعدمه وجه زاد القهستاني عن الجوهرة والصحيح أنه غير مانع . (شامى:۲/ ۲۶۱، سعيد).

په بدایع الصنائع کې راځي:

وعلى هذا يخرج مهر المرأة فإنه يمنع وجوب الزكاة عندنا معجلا كان أو مؤجلا ؛ لأنها إذا طالبته يؤاخذ به ، وقال بعض مشايخنا : إن المؤجل لا يمنع ؛ لأنه غير مطالب به عادة . (بدائع الصنائع:٢/ ٦).

په فتاوی تا تار خانیه کي راځي:

السراجية: الدين المؤجل قال بعضهم: يمنع الزكاة وذكر مجد الأئمة السرخسي رحمة الله عليه عن مشايخة أنه لايمنع. (الفتاوى التاتار خانية:٢/ ٢٩٢).

په جدید فقهی مباحث نومي کتاب کي راځي:

د زکات پر مسئله په فکر کولو کي ضروري ده چي د فقهي له جزئیاتو څخه پردی پورته کړي او د شریعت مقصد او احکام باید لحاظ کړل سي ښکاره خبره ده چي د زکات په سلسله کي د شریعت روح دا دئ چي انسان په خپل مال کي د خدای ﷻ له پاره د بندګانو حق هم احساس کړي او پر غریبانو یې خرڅ کړي نو له دې کبله د فقهاوو په نزد دا قاعده مقرره سوې ده چي یو ځای وجوب او عدم دواړه طرفه سره جمع سي نو هلته هغه جانب ته ترجیح ورکول ضروري دي چي په هغه کي د فقیرانو ګټه وي حال دا چي په اوسنۍ زمانه کي په تجارت او نورو کارو کي د قسطو کار رواج سوی دئ کوم چي په اوږد مدت او اسانه قسطو باندي د اداء کولو طلب کیږي او پوروړی له دغو پیسو څخه غټي ګټي حاصله وي او دا پیسې له ده سره پرتې نه وي بلکي په کاریې اچولي وي.

د فقهاوو په نزد دغه مال اوس د مال نامې یعنی د هغه مال حیثیت لري چي هغه زیاتیږي که چیري دغه پور له زکات څخه مانع وبلل سي نو فقیران به له خپل حق څخه محرومه پاته سي نو ځکه د حالاتو د بدلېدلو په سبب متاخرينو علماوو د ښځي د مهر پور د زکات مانع بللی نه دئ، دا خبره مناسبه ده چي د اوږدې مودې په قرض کي د هر کال اداء قسط د هغه کال له زکات څخه مستثنا کړی او پر نور مال باندي زکات واجب کړل سي پر دې د فقهاوو له دغې جزئي مسئلي څخه معلومات تر لاسه کیږي چي په هغه کي د ښځي د نفقې پور يې له زکات څخه مانع بللی نه دئ او وجه يې دا بیان کړې ده چي نفقه ټوله په یوه ځل نه واجبیږي بلکي لږ لږ واجبیږي ((لأنها تجب شيئا فشيئا

فتسقط إذا لم يوجد قضاء القاضي اوالتراضي)) بدائع امداد الفتاوی، دار العلوم. (جديد فقهی مباحث:۷/ ۷٤۹).

دزیات تفصیل له پاره وګوري: (جدید فقهی مسائل:۱/ ۲۱٤، نعیمیه او ایضاح النودار دوهمه حصه صـ ۳۷، مناسب ومعتدل حکم). **والله تعالیٰ اعلم.**

د مهر تر وصول مخکي د زکات حکم

سوال: که چیري د یوې ښځي مهر د خاوند پر ذمه واجب وي او تر اوسه یې اداء کړی نه وي نو پر ښځي د دې زکات واجب دئ او که نه؟

الجواب: په یاد سوي صورت کي د مهر تر وصول کېدلو د مخه زکات لازم نه دئ.

په البحر الرائق کي راځي:

قسم أبو حنيفة رحمه الله الدين على ثلاثة أقسام: قوي ..... وضعيف ...... وهو بدل ما ليس بمال كالمهر والوصية، وبدل الخلع ...... وفي الضعيف لا تجب ما لم يقبض نصابا ويحول الحول بعد القبض عليه. (البحر الرائق:۲/ ۲۰۷، کوئټة – والشامی:۲/ ۳۰٦، باب زكاة المال، سعيد، – والفقة على مذاهب الأربعة:۱/ ۹٦۱).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

پر ښځه د مهر تر وصول کېدلو د مخه زکات واجب نه دئ. (فتاوی دار العلوم دیوبند:٦/ ۵۷، وایضاح النوادر، دوهمه حصه:صـ ۱۱).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

سړی چي کله ښځي ته مهر ورکړي او هغه د نصاب په اندازه وي او پر هغه کال هم تېر سي نو بیا د دې ښځي پر ذمه زکات واجب دئ او که چیري هغه د نصاب تر اندازې کم وي او له دې ښځي سره نور دومره مال موجود دئ که چیري هغه مال له دغه مهر سره ګډ کړي نو نصاب پوره کیږي نو دا دي سره

ګډ کړي او زکات دي اداء کړي او که چیرې نصاب نه پوره کیږي نو بیا زکات لازم نه دئ، همدا ډول تر وصول کولو د مخه هم زکات نه سته. (فتاوی محمودیه:۹/ ۳۷۷، جامعه فاروقیه). والله ﷻ اعلم.

د ورکو پیسو د زکات حکم

سوال: له یوه سړي سره پیسې وې او پر هغو پیسو زکات واجب سوی وو او هغه ټولې پیسې ورڅخه ورکي سوي ایا زکات لازم دئ او که نه؟

الجواب: د پیسو تر ورکېدلو وروسته زکات لازم نه دئ.

په طحطاوي کي راځي:

ولا يضمن الزكاة مفرط غير متلف فهلاك المال بعد الحول يسقط الواجب وهلاك البعض حصته ويصرف الهالك إلى العفو قوله يسقط الواجب لتعلقه بالعين لابالذمة. (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح:۷۱۸، قديمى).

په درمختار کي راځي:

فلا يسقط الفطرة وكذا الحج بهلاک المال بعد الوجوب كما لايبطل النكاح بموت الشهود بخلاف الزكاة والعشر والخراج لاشتراط بقاء الميسرة عن نفسه، وفى الشامى: قوله بخلاف الزكاة فإنها تسقط بهلاك المال بعد الحول يعني سواء تمكن من الأداء أم لا لأن الشرع علق الوجوب بقدرة ميسرة والمعلق بقدرة ميسرة لا يبقى بدونها. (الدر المختار مع الشامى:۲/ ۳٦۱، سعيد). والله ﷻ اعلم.

په بانک کي د جمع سوو پیسو د زکات حکم

سوال: په بانک کي پر جمع سوو پیسو زکات لازم دئ او که نه؟

الجواب: په بانک کي پر جمع سوو پیسو زکات لازم دئ ځکه چي مالک په خپل اختیار سره جمع کړي دي او دغه پیسې د ده په ملک کي دي نو ځکه د کال په تېرېدلو سره زکات لازمیږي.

په جدید فقهی مسائل نومي کتاب کي وګورئ:

په بانک کي په کرنټ اکاونټ یعنی هغه ډول جمع سي پیسو کي چي په هغه کي سود نه وي او بانک والا تا ته هیڅ ګټه نه درکوي او نه هغه ستا څخه نفع غواړي. (فکس ډیازټ) نو په صورت چي یې په دغو دواړو صورتو کي جمع سي نو په جمع سوی روپو کي زکات واجب دئ او د زکات د واجبیدلو له پاره ملکیت او قبضه دواړه ضروري دي او په بانک کي جمع سوي روپۍ خو د جمع کونکي په ملکیت کي دي خو په ظاهره قبضه د بل چا ده مګر ده په خپل اختیار سره جمع کړي دي نو ځکه بانک د ده نائب دئ او دغه ډول د مالک قبضه هم بالواسطه ثابته ده نو ځکه فقهاوو پر امانت مال باندي زکات واجب کړی دئ ځکه چي د امین قبضه د مالک قبضه ده نو له دې سبب پر هر هغه جمع سوي مال زکات واجب دئ کوم چي مالک په خپل اختیار سره جمع کړی وي. (جدید فقهی مسائل: ۱/ ۲۱٦، نعیمیه).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (فتاوی دار العلوم دیوبند: ٦/ ١٣٤، و امداد الاحکام: ٢/ ٢٥، وفتاوی رحیمیه: ٢/ ١٤). والله ﷻ اعلم.

((ډیوزټ)) پر پیسو د زکات حکم

سوال: د ((ډیوزټ)) پر پیسو زکات واجب دئ او که نه؟ که چیر لازم وي نو پر چا لازم دئ؟

الجواب: د ((ډیوزټ)) پیسې د قرض په شان دي لکه څنګه چي د قرض زکات پر قرض اخستونکي دئ همدا ډول د ((ډیوزټ)) پیسو زکات هم لازم دئ او پر کرایه دار لازم دئ.

په مراقي الفلاح کي یې وګورئ:

وزكاة الدين على أقسام: فإنه قوي ووسط وضعيف، فالقوي وهو بدل القرض ومال التجارة إذا قبضه وكان على مقر ولو مفلسا أو على جاحد عليه بينة زكاة لما مضى ويتراخى وجوب الأداء إلى أن يقبض أربعين درهما، ففيها درهم، لأن ما دون الخمس من النصاب عفو لا زكاة فيه وكذا فيما زاد بحسابه. (مراقی الفلاح: ۲٦۲، کتاب الزکاة، بیروت - وکذا فی الشامی: ۲/ ۳۰۵، سعید).

په درمختار کي راځي:

فلا زكاة على مكاتب لعدم الملك التام ولا في كسب مأذون ولا في مرهون بعد قبضه ولا فيما اشتراه لتجارة قبل قبضه ومديون للعبد بقدر دينه فيزكي الزائد إن بلغ نصابا وعروض الدين كالهلاك عنه محمد ورجحه في البحر ولو له نصب صرف الدين لأيسرها قضاء ولو أجناسا صرف لأقلها زكاة. (الدر المختار:۲/ ۲٦۳، سعيد).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (ايضاح النوادر دوهمه حصه:صـ ۲۰، او جديد فقهى مسائل:۱/ ۲۱۷، نعيميه. والله تعالىٰ اعلم.

د کرايې پر پيسو د زکات حکم

سوال: کرايه دار مالک ته ديوې مياشتې پيسې د کرايې د مخه ورکوي نو د کال په تېرېدو سره زکات پر چا لازمېږي؟

الجواب: کرايه دار چي کومي پيسې د مخه د کور يا د دوکان مالک ته ورکوي نو د کور او دوکان مالک د دغو پيسو مالک جوړېږي او د دې زکات هم پر مالک باندې لازم دئ او پر کرايه دار دې زکات لازم نه دئ ځکه چي پر دغو پيسو وکرايه دار ته پوره ملکيت حاصل نه دئ. إذا عجل الأجرة لايملک الإسترداد. (شامى:٦/ ١٠، ايضاح النوادر دوهم حصه،صـ ١٠).

په جديد فقهى مسائل نومي کتاب کي راځي:

د مخه اداء کړل سوي پيسې د مالک په ملکيت کي داخلېږي نو ځکه د کور مالک به هغه زکات ادا کوي. ځکه چي ابن همام ليکلي دي:

وأما زكاة الأجرة المعجلة عن سنين في الإجارة الطويلة التي بفعلها بعض الناس عقودا ويشترطون الخيار ثلاثة أيام في رأس كل شهر فتجب على الآجر لأنه ملكها بالقبض. (فتح التدير:۲/ ۱۲۱).

د دمخه ورکړل سوي کرايې زکات پر مالک باندي واجب دئ. (جدید فتهی مسائل: ۱/ ۲۱۸). والله تعالیٰ اعلم.

دریم .... فصل

د تجارت او د کرايې پر مال د زکات حکم

په تجارتي سامان کي د خرڅولو او که د رانیولو وقیمت ته اعتبار دئ؟

سوال: یوه سړي د خپل دوکان د مال زکات باسي نو د کوم قیمت په اعتبار سره دی زکات اداء کړي د رانیولو او که د خرڅولو د قیمت په اعتبار سره او د کوم وخت د قیمت اعتبار دئ؟

الجواب: په یاد صوي صورت کي د تجارت د سامان د زکات په اداء کولو کي د خرڅولو وقیمت ته اعتبار ورکول کیږي.

په فقه الاسلامی وادلته کي یې وګورئ:

يقوم التاجر العروض أو البضائع التجارية في آخر كل عام بحسب سعرها في وقت إخراج الزكاة، لا بحسب سعر شرائها، ويخرج الزكاة المطلوبة. (الفقه الاسلامی وأدلته: ۲/ ۷۹۲، ۷۶۰، دار الفكر).

په فقه علی المذاهب الاربعه کي راغلي:

وتعتبر قيمتها في البلد الذي فيه المال حتى لو أرسل تجارة إلى بلد آخر فحال عليها الحول اعتبرت قيمتها في تلك البلد فلو أرسلها إلى مفازة اعتبرت قيمتها في أقرب الأمصار إلى تلك المفازة. (الفقه على المذاهب الأربعة: ۱/ ۶۰۷).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کي راغلي:

سوال: له سوداګر سره مال موجود دئ او اوس د کال تر تېرېدو وروسته زکات اداء کوي نو د دغه مال د رانیولو قیمت ته اعتبار ورکول کیږي او که د بازا د نرخ لحاظ کیږي؟

الجواب: د تجارت د مال چي کوم قیمت په بازار کي د زکات د اداء کولو په وخت کي دئ د هغه په اعتبار سره دې اداء کړي که هغه قیمت د رانیولو تر قیمت زیاتوي او که کم وي. د شامی په حواله. (فتاوی دار العلوم دیوبند:٦/ ١٤١).

په جواهر الفتاوی کي ذکر دي:

په مال کي که سره او سپين زر وي او که مال د تجارت وي په ټولو کي د زکات د واجبېدلو له پاره د خرڅولو د قیمت اعتبار دئ او د رانیولو د قیمت ته يې اعتبار نه دئ. (جواهر الفتاوی:١/ ٦٣، امداد الفتاوی:٢/ ٤٢).

په کفایت المفتی کي راځي:

د سرو او سپينو زرو د زکات د اداء کولو له پاره اوسني (موجوده) نرخ معتبر دئ. (کفایت المفتی:٤/ ٣٠١). والله تعالیٰ اعلم.

د تېرو کلو د زکات د اداء کېدلو په وخت کي د قیمت لګولو حکم

سوال: که چيري يوه سړي د تېرو شو کلونو زکات نه وي اداء کړی او اوس يې اداء کوي نو د کوم قیمت په اعتبار سره دي زکات اداء کړي یا د يوه چا د تجارت پر مال زکات په روژه کي واجب سوی وو او تر شلورو میاشتو پوري يې زکات اداء نه کړئ او د شلورو میاشتو تر تېرېدلو وروسته د تجارت د سامان قیمت لوړ سو نو په دې وخت کي د روژې اعتبار کیږي او که د اداء کولو د وخت اعتبار کیږي؟ د جدید فقهی مباحث او جدید فقهی مسائل له عباراتو څخه معلومیږي چي د اداء د ورځي اعتبار کیږي.

په جدید فقهی مباحث کي يې وګورئ:

د قیمت په اعتبار سره د زکات د اداء کولو په سلسله کي د کومي ورځي قیمت معتبر دئ، په دې کي دوه قوله دي. يو قول دا دئ چي پر مال کومه ورځ کال تېر سو او د مال د زکات اداء واجب سوه، نو د دې ورځي د قیمت اعتبار کیږي.

دوهم قول دا دئ چي کومه ورځ چي زکات اداء کوي د هغې ورځي د قیمت اعتبار کیږي.

اوس سوال پیدا کیږي چې د مال خاوند له دغو دوو قولو څخه پر کوم قول عمل وکړي چې د هغه مطابق زکات اداء کړي نو له فکر کولو څخه معلومیږي چې د زکات د اداء د ورځې قیمت معتبر کیږي. (جدید فقهی مباحث:٧/ ٥٦٧، ادارة القرآن والعلوم).

الجواب: په یاد سوي صورت کې که چیري دا سړی د څو کالو د زکات اداء کول غواړي نو د وجوب یعنی په کومه ورځ چې کال پوره سوی دئ او زکات واجب سوی دئ دې ورځې ته اعتبار دي دغه ډول کله چې په روژه کې کال ختم سوی وو او زکات واجب سوی وو او د څلورو میاشتو اداء کول غواړي نو بیا هم د زکات د واجبېدلو د ورځې په اعتبار سره زکات اداء کیږي او ډېر فقهی عبارتونه د دې موافق دي.

د امام ابو حنیفه ﷺ هم دغه قول دئ که څه هم ځینی حضراتو د اداء د ورځې قول اختیار کړی دئ مګر په دې کې مشکلات مخته راځي ځکه چې په را روانه ورځ کې قیمت زیاتیږي چې د هغه په سبب هر ورځ په قیمت لګولو کې هم مشکل دئ نو له دې سببه د وجوب د ورځې قول یې اختیار کړی دئ.

فقهی عبارتونه وګورئ لاندي ذکر دي:

په درمختار کې راځي:

وتعتبر القيمة يوم الوجوب، وقالا: يوم الأداء. وفي السوائم يوم الأداء إجماعا، وهو الأصح، ويقوم في البلد الذي المال فيه. وفي الشامي: قوله وهو الأصح أي كون المعتبر في السوائم يوم الأداء إجماعا هو الأصح فإنه ذكر في البدائع: أنه قيل: إن المعتبر عنده فيها (السوائم) يوم الوجوب وقيل يوم الأداء، وفي المحيط: يعتبر يوم الأداء بالإجماع وهو الأصح . (شامی:٢/ ٢٨٦، باب زکاة الغنم، سعید).

په فتاوی تاتار خانیه کې راځي:

وفى الولو الجية: يقوم يوم حال عليها الحول بالغة ما بلغت بعد أن كانت قيمتها فى أول الحول مائتين ويزكى من مائتى درهم خمسة دراهم. (الفتاوى التاتار خانية:٢/ ٢٣٨، زكاة عروض التجارة، إدارة القرآن).

په يوه بل ځاى كي ذكر دي:

رجل له مائتا قفيز حنطة للتجارة حال عليها الحول وقيمتها مائتا درهم حتى وجبت عليها الزكاة، فإن أدى من عينها أدى ربع عشر عينها خمسة أقفزة حنطة وإن أدى من قيمتها ربع عشر القيمة أدى خمسة دراهم، فإن لم يؤد حتى تغير سعر الحنطة إلى زيادة وصارت تساوى أربعمائة فإن أدى من عين الحنطة أدى ربع العشر خمسة أقفزة بالاتفاق، وإن أدى من القيمة أدى خمسة دراهم قيمتها يوم حولان الحول الذى يوم الوجوب عند أبى حنيفة رحمه الله وعندهما يؤدى عشرة دراهم قيمتها يوم الأداء. (الفتاوى التاتار خانية:٢/ ٢٤١، زكاة عروض التجارة، إدارة القرآن).

دغه ډول ذكر سوى دي:

ولو كانت له جارية للتجارة قيمتها مائتا درهم فزادت فى عينها بعد الحول حتى صارت أربعمائة لايجب فى الزيادة شىء...... ولو زاد سعرها بعد الحول فصار أربعمائة فعند أبى حنيفة رحمه الله تعتبر قيمتها يوم تمام الحول لايجب إلا خمسة دراهم. (الفتاوى التاتار خانية:٢/ ٢٤٤، زكاة عروض التجارة).

په فتاوى هنديه كي ذكر سوي دي:

وإن أدى القيمة تعتبر قيمتها يوم الوجوب لأن الواجب أحدهما ولهذا يجبر المصدق على قبوله. (الفتاوى الهندية:١/ ١٨٠، الفصل الثانى فى العروض).

په احسن الفتاوی کي راځي:

سوال: د سرو زرو په زکات کي د څه وخت قیمت معتبر دئ؟ ایا د وجوب وخت معتبر دئ که د اداء کېدو وخت معتبر دئ؟

الجواب: د سرو او سپینو زرو او د عشر (لسمي برخي) د دغو شیانو په زکات کي د وجوب د وخت قیمت معتبر دي مګر د څرکونکو حیواناتو په زکات کي د اداء کولو د وخت قیمت معتبر دئ.

(احسن الفتاوي:٤/ ٢٦٨).

په فتاوی فریدیه کي راځي:

سوال: په دې مسئله کي علماء څه وایي چي سره زر په سل روپۍ یوه توله رانیولې وي او اوس په اته سوه (۸۰۰) روپۍ توله ده نو زکات څنګه اداء کړل سي؟

الجواب: د کال د تېرېدو په وخت کي چي کوم نرخ وي هغه معتبر دئ. (فتاوی فریدیه:٣/ ٤١٤، باب الزکات فی الاموال). والله ﷻ اعلم.

په تهوک او پرچون کار وبار کي د قیمت لګولو حکم

سوال: په یوه دوکان کي ځیني شیان په تهوک (Wholesale) نرخ خرڅیږي او ځیني شیان په پرچون (Retal) نرخ خرڅیږي په دواړو کي زکات په کوم قیمت باید اداء کړي؟

الجواب: د تجارت په موالو کي د زکات مدار د خرڅولو پر قیمت باندي وي نو ځکه (Retal) پرچون کي په خرڅ سوو شیانو کي د پرچون (Retal) نرخ اعتبار کیږي او په تهوک (Wholesale) نرخ کي به خرڅ سوي شیانو کي د زکات په اداء کولو کي د تهوک (Wholesale) د نرخ اعتبار کیږي.

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (ایضاح النوادر:٢/ ٤٤ – وجدید فقهی مسائل:١/ ٢٢٠ – وجدید مباحث :٧/ ٥٦٨). والله ﷻ اعلم.

د تجارت پر کور یا پلازه کي د زکات حکم

سوال: د تجارت پر کور کي د زکات څه حکم دئ؟

الجواب: د تجارت کور د تجارت له مال څخه دئ نو ځکه د هغه پر ټول مال زکات فرض دئ.

په الفقه الحنفی وادلته کي يې وګورئ:

روى البيهقي عن مجاهد في قوله تعالى: ﴿أنفقوا من طيبات ما كسبتم﴾. (البقرة: الاية:٢٦٧). قال: التجارة، ومما أخرجنالكم من الأرض، قال: النخل، وروى أيضا عن سمرة بن جندب رضي الله عنه: أما بعد فإن رسول الله ﷺ كان يأمرنا أن نخرج الصدقة من الذى نعد للبيع (سنن أبى داؤد:١/ ٢٢٥)..... فالزكاة واجبة فى عروض التجارة كائنة ما كانت إذا بلغت قيمتها نصابا من الذهب، أو الفضة. (الفقه الحنفى وادلته:١/ ٢٥٣، زكاة عروض التجارة، بيروت).

په احسن الفتاوی کي راځي:

د تجارت پلازه د تجارت مال دئ نو ځکه پر هغه زکات فرض دئ او هر شی چي د خرڅولو په نيت رانيول سي هغه د تجارت په مال کي داخل دئ. (احسن الفتاوی:٤/ ٢٩٥).

په ايضاح المسائل نومي کتاب کي راځي:

د تجارت پلازه د تجارت د مال څخه ده نو ځکه د هغه پر ټول مال زکات فرض دئ. (ايضاح المسائل:صـ ١٠٦). والله تعالى اعلم.

د تجارت په کتابو کي د زکات حکم

سوال: د تجارت پر کتابو زکات لازم دئ او که نه؟

الجواب: کوم کتابونه چي د تجارت له پاره وي او پر هغو کال هم تېر سي نو زکات اداء کول يې لازم دئ.

په الفقه الحنفی کي يې وګورئ:

روى البيهقي عن مجاهد في قوله تعالى: ﴿أنفقوا من طيبات ما كسبتم﴾. (البقرة: الاية:٢٦٧). قال: التجارة، ومما أخرجنالكم من الأرض، قال: النخل، وروى أيضا عن سمرة بن جندب رضي الله عنه: أما بعد فإن رسول الله ﷺ كان يأمرنا أن نخرج الصدقة من الذى نعد للبيع

په امداد الاحکام کي راځي:

د تجارت په کتابو کي د زکات حکم، کوم کتابونه چي له تاجره سره موجود وي او پر هغو کال هم تېر سوی وي نو له هغو زرو کتابو څخه پنځه ويشت (پاملرنه: بايد په دغه عمل وکړي)، کتابونه په زکات کي بايد وايستل سي يا د پنځه ويشتو قيمت بايد ورکړل سي کوم چي د فقيرانو ته اسانه او ګټور وي. (امداد الاحکام: ۲/ ۳۱). والله اعلم ﷻ.

د چرګانو پر فارم او دماهيانو پر حوض د زکات حکم

سوال: د چرکانو پر فارم او د ماهيانو پر حوض زکات لازم دئ او که نه؟

الجواب: د چرګانو پر فارم او د ماهيانو د حوض پر مځکه زکات لازم نه دئ او د هغه پر سامان باندي زکات لازم دئ مګر د چرګانو او د ماهيانو په رانيولو کي که يې د خرڅولو نيت کړی وي نو د کال په تېرېدو سره د هغو پر مال زکات واجب دئ.

په ايضاح المسائل کي راځي:

په خپله د چرګانو پر فارم او د ماهيانو پر حوض مال زکات واجب نه دئ که يې چيري د ماهيانو په تالاب او د هغو د نسل د ډېرېدو په وخت کي د خرڅولو نيت کړی وي نو د هغو پر مال زکات واجب دئ مګر که چيري د سېلاب په راتلو سره ماهيان له حوض څخه ووتل نو بيا پر هغو زکات واجب نه دئ او کوم چي پاته دي پر هغو زکات واجب دئ. (ايضاح المسائل: صـ ۱۰۷).

په احسن الفتاوی کي راځي:

د چرګانو پر فارم او د ماهيانو د حوض پر مځکه او د هغه چي کوم نور سامان دئ پر دې شيانو زکات واجب نه دئ. چرګان او د هغو د کوچنی کوچنی بچيانو د رانيولو په وخت کي که چيري د خرڅولو نيت کړی وو نو اوس د دې پر مال زکات لازم او که چيري د چرګانو پر ځای يې د هغو د هګيو او د چيچانو د خرڅولو نيت کړی وي نو زکات فرض نه دئ. په حوض کي ماهيان او يا د هغو بچيان که چيري تر اخيستلو وروسته ور واچول نو اوس پر دغو زکات فرض دئ او که نه وي نو

فرض نه دئ، د چرګانو د فارم او د ماهیانو د حوض پر ګټه په هر صورت کي زکات لازم دئ. (احسن الفتاوی:۴/ ۳۰۰). والله تعالیٰ اعلم.

پر کار خانه، د اوړو میل، ماشین او موټر باندي د زکات حکم

سوال: که چیري دیو چا په تصرف کي کار خانه یا میل یا ماشین یا موټر یا یو بل داسي شی وي نو اوس پر دغه سړي زکات لازم دئ او که نه؟

الجواب: په یاد سوي صورت کي پر کار خانه، میل او ماشین باندي زکات لازم نه دئ او که یې چیري د دغو شیانو تجارت کوئ نو بیا د دغو شیانو پر مال زکات واجب دئ.

په هدایه کي یې وګوروئ:

وليس في دور السكنى وثياب البدن وأثاث المنازل ودواب الركوب وعبيد الخدمة وسلاح الاستعمال زكاة لأنها مشغولة بالحاجة الأصلية وليست بنامية أيضا وعلى هذا كتب العلم لأهلها وآلات المحترفين لما قلنا. (الهداية:۱/ ۱۸۶، كتاب الزكاة).

په جواهر الفقه کي راځي:

د کار خانې او د میل پر ماشینانو زکات واجب نه دئ مګر په دې کي چي کوم مال جمع کیږي پر هغه مال زکات فرض دئ. (جواهر الفقه:۱/ ۳۸۵، مسائل الزکاة، دار العلوم کراچی).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

دورځني کار پر الاتو کي زکات نه سته لکه څنګه چي په درمختار کي راغلی دي:

وکذ لک الآت المحترفین. (فتاوی دار العلوم دیوبند:۶/ ۹۳، وامداد الفتاوی:۲/ ۴۲، وایضاح المسائل: ص ۱۰۶). والله تعالیٰ اعلم.

د تجارت په پلازو کي د زکات حکم

سوال: که چیري د یو چا په تصرف کي دېري پلازي وي چي دی د هغو تجارت کوي نو د کال د تېرېدو وروسته د هغه پلازي چي ده خرڅي کړي نه دي زکات واجب دئ او که نه؟

الجواب: په یاد پوښتل سوي صورت کي د تجارت په پلازو کي د کال تر تېرېدو وروسته زکات واجب دئ.

په بدائع الصنائع کي یې وګورئ:

وأما أموال التجارة فتقدير النصاب فيها بقيمتها من الدنانير والدراهم فلا شيء فيها ما لم تبلغ قيمتها مائتي درهم أو عشرين مثقالا من ذهب فتجب فيها الزكاة ، وهذا قول عامة العلماء ...... لنا ما روي عن سمرة بن جندب رضي الله عنه أنه قال « : كان رسول الله ﷺ يأمرنا بإخراج الزكاة من الرقيق الذي كنا نعده للبيع ...... وقال ﷺ : هاتوا ربع عشر أموالكم » .

(بدائع الصنائع:۲/ ۲۰، فصل فی أموال التجارة، سعید).

په هدایه کي راځي:

الزكاة واجبة في عروض التجارة كائنة ما كانت إذا بلغت قيمتها نصابا من الورق أو الذهب لقوله عليه الصلاة والسلام فيها يقومها فيؤدي من كل مائتي درهم خمسة دراهم ولأنها معدة للستنماء بإعداد العبد فأشبه المعد بإعداد الشرع ويشترط نية التجارة ليثبت الإعداد.

(الهداية:۱/ ۱۹۵، فصل فی العروض، شرکة علمية).

په کفایت المفتی کي راځي:

که چیري د کورونو یا د نورو ځایونو تجارت کیږي نو د تجارت د مال کېدو په اعتبار د هغو پر قیمت زکات واجبیږي.

په احسن الفتاوی کي راځي:

د تجارت په نیت سره رانیول سوې مځکه او کور که يې د خرڅولو له پاره جوړ کړی وي نو پر موجود مځکه او کور زکات واجب دئ. (احسن الفتاوی:٤/ ٢٩٩). والله ﷻ اعلم.

د کرايې پر کور د زکات حکم

سوال: ما يو کور په کرايه ورکړی دئ ايا د دې پر قیمت هر کال زکات واجب دئ او که د کرايې پر پیسو زکات واجب دئ؟

الجواب: په یاد سوي صورت کې د کور پر قیمت زکات لازم نه دئ، مګر که چیري د کرايې روپۍ د نصاب په اندازه وي یا يې له نورو سره ګډې کړې نو د نصاب په اندزاه سي نو د کال په تېرېدو سره زکات لازم دئ.

په البحر الرائق کې راځي:

ولو آجر عبده أو داره بنصاب إن لم يكونا للتجارة لا تجب ما لم يحل الحول بعد القبض في قوله ، أبى حنيفة رحمه الله . (البحر الرائق:٢/ ٢٠٨، کوئتة).

په درمختار کي راځي:

ولازكاة على مكاتب...... ولاثياب البدن وأثاث المنزل و دور السكنى ونحوها وكذا الكتب. قال الشامي: ونحوها أي كثياب البدن الغير المحتاج إليها وكالحوانيت والعقارات.

(الدر مع الشامی:٢/ ٢٦٤ -٢٦٥، سعید).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

د جایداد (کور او داسې نورو ځایونو) پر قیمت زکات لازم نه دئ بلکي پر کرایه زکات لازم دئ کله چي هغه يوازې او يا د بل سره د ګډېدو په سبب نصاب ته ورسيږي او کال هم پر تېر سي. (فتاوی دار العلوم دیوبند:٦/ ١٣٣).

په آپ کی مسائل اور ان کا حل نومي کتاب کي راځي:

سوال: زما دوه کورونه دي، په يوه کور کي زه خپله اوسېږم او بل مي په کرايه ورکړئ دئ نو زکات د کور پر مال لازم دئ او که د کور پر کرایه؟

الجواب: په دې صورت کي زكات د كور پر قيمت لازم نه دئ بلکي د دغه كور پر كرايه لازم دئ البته كله چي نصاب ته ورسيږي. (آپ كى مسائل اور ان كا حل:۳/ ۳۷۱).

په كفايت المفتي كي راځي:

۱_ پر كور او د كور پر قيمت په هيڅ حال کي زكات لازم نه دئ كه په هغه کي اوسيږي او كه نه پكښي اوسيږي (ځكه چي په دې کي دپرښت نه راځي) او كه چيري د كورو تجارت كوي نو بيا د تجارت د مال په حيثيت د هغه پر قيمت زكات لازم دئ.

۲_ زكات د كور پر قيمت لازم نه دئ بلکي د هغه پر ګټه زكات لازم دئ. (كفايت المفتي:٤/ ٢٦٣).

په ايضاح المسائل كي راځي:

ديو چا په تصرف کي زيات كور يا دوكان دئ او په كرايه يې وركړئ دئ يا يې موټر يا ماشين په كرايه وركړئ وي نو د دغو شيانو پر قيمت زكات لازم نه دئ بلکي پر كرايه يې زكات لازم دئ او د كال تر تيرېدو وروسته او يا له شروع څخه د روپيو او يا د سرو زرو نصاب پوره دئ نو د دغو شيانو د كرايې په راتګ سره د كال د تيرېدو ضرورت نه سته بلکي كرايه دي له نورو پيسو سره ګډه كړي او زكات دي اداء كړي. (مجمع الانهر:۱/ ۲۲، امداد الفتاوى:۲/ ٤١، ايضاح المسائل:صـ ۱۰۵، نعيميه).

د لسو لكو پر كور د زكات حكم

سوال: يوه سړي خپل د لسو لكو روپو كور په كرايه وركړئ دئ او د هغه د ګټې ذريعه يوازي او يوازي دغه د كرايې ګټه ده او هغه كرايه د كاله شلرويشت زره روپۍ ده او هغه د دغه كور له زكات څخه پنځه ويشت زره (د لسو لكو څخه دوه نيم فيصد) اداء كوي نو اوس مطلب د خبره دا ده چي په دې صورت کي د زكات د ساقط كېدلو څه حيله سته؟

الجواب: كوم كور چي د تجارت له پاره وي د هغه پر قيمت زكات سته او كوم كور چي د كرايې له پاره وي نو د هغه پر قيمت زكات نه سته، كه چيري كرايه له نور مال سره د ګډېدو په وجه نصاب پوره نو زكات سته او كه نه پوره سو نو بيا زكات نه سته.

وګورئ په البحر الرائق كي راځي:

ولو آجر عبده أو داره بنصاب إن لم يكونا للتجارة لاتجب ما لم يحل الحول بعد القبض في قول أبي حنيفة رحمه الله. (البحر الرائق:٢/ ٢٠٨، كوئتة).

په درمختار کي راځي:

ولازكاة على مكاتب...... ولاثياب البدن وأثاث المنزل و دور السكنى ونحوها وكذا الكتب. قال الشامي: ونحوها أي كثياب البدن الغير المحتاج إليها وكالحوانيت والعقارات. (الدر مع الشامي:٢/ ٢٦٤ -٢٦٥، سعيد).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

د کور یا پلازې پر قیمت زکات لازم نه دئ بلکي پر کرایه یې زکات لازم دئ او کله چي نصاب ته ورسیږي او پر هغه یوازي یا له نورو پیسو سره کال تېر سي نو بیا زکات لازم دئ. (فتاوی دار العلوم دیوبند:٦/ ١٣٣).

په آپ کی مسائل اور ان کا حل نومي کتاب کي راځي:

سوال: زما دوه کوره دي په یوه کي زه په خپله اوسیږم او هغه بل مي په کرایه ورکړی دئ نو ایا زکات د کور پر قیمت لازم دئ او که پر کرایه؟

الجواب: په دې صورت کي زکات د کور پر قیمت لازم نه دئ بلکي د هغه پر کرایه زکات لازم دئ البته کله چي نصاب ته ورسیږي. (آپ کی مسائل اور ان کی حل:٣/ ٣٧١).

په کفایت المفتی کي راځي:

پر کور او یا د هغه پر قیمت په هیڅ حال کي زکات لازم نه دئ که پکښې اوسیږي او که نه (ځکه چي زیاتېدونکی نه دئ) او که چیري د کورو تجارت وي نو بیا د مال تجارت په حیثیت د هغه پر قیمت زکات لازم دئ.

٢_ زکات د کور پر قیمت نه سته بلکي د هغه پر کرایه زکات لازم دئ. (کفایت المفتی:٤/ ٢٦٣-٢٦٤).

په ایضاح المسائل کي راځي:

د یو چا په تصرف کي یو کور زیات دئ او په کرایه یې ورکړی دئ یا موټر دئ یا ماشین دئ او داسي نور شیان دي چي په کرایه یې ورکړی دي نو د دغو شیانو پر قیمت زکات واجب نه دئ بلکي د هغو شیانو پر کرایه د کال تر تیریدو وروسته زکات واجب دئ او یا له شروع څخه د پیسو یا د سرو او یا د سپینو زرو نصاب پوره دئ نو اوس پر دغه کرایه د کال د تیریدو ضروت نه سته، بلکي کرایه دي له هغو نورو پیسو سره ګډه کړي او زکات دي اداء کړي. (مجمع الانهر:١/ ٢٢، امداد الفتاوی:٢/ ٤١).

(ایضاح المسائل:صـ ١٠٥، نعیمیه).

په کتاب الفتاوی کي راځي:

پر کور هغه وخت زکات لازمیږي کله چي یې د تجارت له مقصده څخه لاس ته راوړی وي او که چیري کور تر ضرورت زیات وو مګر د تجارت له مقصد څخه یې لاس ته نه وي راوړی بلکي د ده مقصد په کرایه ورکول وي یا یې په یو بل کار کي استعمالول وي نو اوس په دغه کور کي زکات واجب نه دئ. (کتاب الفتاوی، دریمه حصه، صـ ٢٧١).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (فتاوی محمودیه:٩/ ٤٢٥، جامعه فاروقیه، جدید فقهی مسائل:١/ ٢٠٥). والله تعالیٰ اعلم.

په کرایه د ورکړل سوي ځمکي د زکات حکم

سوال: که یو چا ځمکه په کرایه ورکړی وي نو زکات پر چا واجب دئ؟

الجواب: د ځمکي کرایه چي نصاب ته ورسیږي او پر هغه کال هم تیر سي نو بیا د ځمکي پر مالک زکات لازم دئ او که داسي نه وي نو زکات لازم نه دئ.

په درمختار کي یې وګورئ:

ولازكاة على مكاتب...... ولاثياب البدن وأثاث المنزل و دور السكنى ونحوها وكذا الكتب. قال الشامي: ونحوها أي كثياب البدن الغير المحتاج إليها وكالحوانيت والعقارات.

(الدر مع الشامي:٢/ ٢٦٤ -٢٦٥، سعيد).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

د کور، مځکي یا پلازې پر قیمت زکات لازم نه دئ بلکي د هغو کرایه چي کله یوازي او یا د نورو پیسو سره ونصاب ته ورسیږي او کال پر تېر سي نو زکات پر لازم دئ. (فتاوی دار العلوم دیوبند:٦/ ١٣٣).

په آپ کی مسائل اور ان کا حل نومي کتاب کي راځي:

سوال: زما دوه کوره دي په یوه کي زه خپله اوسېږم او یو مي په کرایه ورکړی دئ، ایا زکات د کور پر قیمت لازم دئ او که پر کرایه؟

جواب: په دې صورت کي د کور پر قیمت زکات واجب نه دئ البته د دغه کور کرایه چي کله نصاب ته ورسیږي نو زکات پر لازم دئ. (آپ کی مسائل اور ان کا حل:٣/ ٣٧١). والله تعالیٰ اعلم.

د دوبي په صابونه او نورو شیانو کي د زکات حکم

سوال: که چیري دوبي د کالو له پاره صابون یا رنګ کېښوئ نو د کال په پوره کېدو سره پر ده زکات لازم دئ او که نه؟

الجواب: د دوبي پر صابون او نورو شیانو زکات لازم نه دئ ځکه چي داسي شیان چي د هغو اثر په مصنوعي شیانو کي نه پاتېږي نو پر هغو شیانو زکات واجب نه دئ مګر که یې چیري رنګ رانیوئ او د هغه قیمت ونصاب ته ورسېدئ نو بیا زکات پر لازم دئ.

په فتاوی هندیه کي یې وګورئ:

وأما إذا كان يبقى أثرها في المعمول كما لو اشترى الصباغ عصفرا أو زعفرانا ليصنع ثياب الناس بأجر وحال عليه الحول كان عليه الزكاة إذا بلغ نصابا ، و إن لم يبق كذلك العين أثر في المعمول كالصابون والحرض لا زكاة فيه . (الفتاوى الهندية:١/ ١٧٢، جديد فقهى مسائل:١/ ٢٠٩). والله تعالیٰ اعلم.

د کور کرایه یې څو کاله نه ده اداء کړې نو پر دې د زکات حکم

سوال: په کرایه ورکړل سوي کور کرایه څو کاله کیږي چي نه ده وصول سوې او پر هغه قرض پاته ده نو اوس د کور پر مالک د دغه زکات سته او که نه؟ همدا ډول تر وصول وروسته د تېرو کالو زکات سته او که نه؟

الجواب: په یاد پوښتل سوي صورت کي د کرایې پر پیسو تر قبضې د مخه زکات نه سته او تر قبضې وروسته د کال تر تېرېدو وروسته یوازي د هغه کال زکات واجب دئ او د تېرو کالو زکات لازم نه دئ.

په البحر الرائق کي راځي:

ولو آجر عبده أو داره بنصاب إن لم يكونا للتجارة لاتجب ما لم يحل الحول بعد القبض. (البحر الرائق:۲/ ۲۰۸، کوئتة).

په فتاوی شامي کي راځي:

لكن قال في البدائع إن رواية ابن سماعة أنه لا زكاة فيه حتى يقبض المائتين ويحول الحول من وقت القبض هي الأصح من الروايتين عن أبي حنيفة رحمه الله، ومثله في غاية البيان.

(شامي:۲/ ۳۰۶، باب زكاة المال، سعيد).

په جدید فقهي مسائل نومي کتاب کي راځي:

که چیري پر قوي او کمزوري پور نظر وکړل سي نو ښکاره معلومیږي چي د فقهاوو په دغو عباراتو کي له اجرت څخه د غلام اجرت مراد دئ ځکه چي د پور په دا دواړو ډولو کي د پور له پاره د مال عوض کېدل اهمیت لري او ښکاره خبره ده چي د غلام خدمت د احنافو په نزد د مال په درجه کي دئ. همدا ډول د ازاد سړي اجرت ضعیف پور بولي، چي پر ده باندي د ملازمینو ملکیت خو حاصل دئ مګر قبضه او تصرف یې پر حاصل نه دئ، نو ځکه پر دغو پیسو د تېرو سو ورځو زکات واجب باید نه سي . د هند له علماوو څخه مفتي شفیع صاحب رحمه الله او مفتي جمیل احمد صاحب رحمه الله

و همدې ته ترجیح ورکړې ده چې پر دغو پیسو باندې د تېرو ورځو زکات لازم نه دئ. (جدید فقهی مسائل: ۱/ ۲۱۶، نعیمیه).

په جدید فقهی مباحث کې راځي:

د فقهاوو کرامو له دغو عباراتو څخه معلومه سوه چې د ملک تام له پاره ملک قبضه تصرف ټول ضروري دي. ملک تام ته په نورو لفظو کې ملک مطلق او ملک کامل هم وايي: په بدائع الصنایع کې يې د ملک مطلق شرح کړې ده کوم چې اوس د ملک تام سره تېره سوه چې مالک ته پر شی ملک تصرف قبضه ټول وي.

د بدائع الصنائع عبارات دا دئ: منها الملک المطلق وهو أن يكون مملوكا له رقبة ويدا.

بدائع :۲/ ۹، شامی:۲/ ٤. (جدید فقهی مباحث:۷/ ٥٣٥، ادارة القرآن والعلوم الاسلامية).

په بل ځای کې راځي:

د زکات د فرضیت له پاره د مالک وملک تام پر مال ضروري دئ که چیري مالک ته ملک تام حاصل وي نو په دغه صورت کې پر مالک په دغه مال کې زکات فرض دئ او که داسې نه وي نو بیا فرض نه دئ. (فتاوی عالمگیری:۱/ ۱۷۲، شامی:۱/ ٥). (جدید فقهی مباحث:۷/ ٥٣٦، ادارة القران والعلوم الاسلامیه). **د زیات تفصیل وګوری:** (احسن الفتاوی: ٤/ ٢٦١). والله ﷻ اعلم.

کومي پیسې چې حکومت له ملازمینو څخه کاټوي پر هغو د زکات حکم

سوال: کومي پیسې چې حکومت له ملازمینو څخه کاټوي پر هغو پیسو زکات واجب دئ او که نه؟

الجواب: تنخوا څخه چې حکومت کومي روپۍ کاټوي هغه د استحقاق په مثل دي او ملکیت نه دئ نو ځکه تر وصول د مخه پر هغه زکات نه سته او حکومت چې پر دغو پیسو کوم سود ورکوي هغه سود نه دئ ځکه چې سود پر خپل مال باندې د زیاتوالی په شرط سره راځي او دغه روپۍ د ده مملوکه روپۍ نه دي که چیري خپلې پیسې په بانک کې جمع کړي او د هغه شرط کړل سوې ګټه واخلی نو دې ته سود وايي او دا حرام دئ.

په فتح القدير کي يې وګورئ:

فنقول قسم أبو حنيفة الدين إلى ثلاثة أقسام:إلى قوله....... وضعيف وهو بدل ما ليس بمال كالمهر والوصية وغيره إلى قوله .... وفي الضعيف لا تجب ما لم يقبض نصابا ويحول الحول بعد القبض عليه . (فتح القدير:۲/ ۱٦۷، كتاب الزكاة، دار الفكر).

په بدائع الصنائع کي راځي:

وأما دين الوسط فما وجب له بدلا عن مال ليس للتجارة (إلى قوله) وفيه روايتان عنه ، وروى ابن سماعة عن أبي يوسف رحمه الله عن أبي حنيفة رحمه الله أنه لا زكاة فيه حتى يقبض المائتين ويحول عليه الحول من وقت القبض وهو أصح الروايتين عنه الخ. (بدائع اصنائع:۲/ ۱۰، سعيد).

په جديد فقهي مباحث کي راځي:

د حکومت په ادارو کي چي کومه برخه د فنډ په نامه د ملازمينو له تنخوا ځخه کموي او جمع کوي يې او پر هغه نوري هم زياتوي او محفوظ وي يې او د خدمت په ختمېدلو سره اصلي روپيي سره له زياتو روپيو دوباره ځايه وملازم ته ورکول کيږي نو په دغه صورت کي تفصيل دا دئ چي د فنډ د انعام پيسې په اتفاق سره د قوي دين (پور) په دائره کي داخل نه دي او د ضعيف پور په دائره کي يې داخلول ډېر راجح دي ځکه چي د ملازم پر دغو پيسو اوس د قبضې د نه کېدلو په سبب د ملازم په ملکيت کي نه داخليږي نو ځکه زياتي پيسې به د سود په دائره کي داخلي نه وي او په ضعيف پور کي تر قبضې وروسته په اتفاق سره د تېرو کالو زکات نه لازميږي نو ځکه د فنډ يعنی انعام پر حصه باندي د تېرو کالو زکات واجب نه دئ. (امداد الفتاوی:۲/ ٤۹، فتاوی محموديه:۳/ ٥۱، کفايت المفتی:٤/ ۲٤٦، ۲۸۸، جواهر الفتاوی:۱/ ۳۸٥، فتاوی رحيميه:٥/ ۱٤۷، عزيز الفتاوی: صـ ۳٦۸).

په کفايت المفتی کي راځي:

پر فنډ یعنی انعام چي د محکمې له طرفه کومي پیسې ورکول کیږي او دغه ډول د دوارو ځایو روپیو پر مجموعه چي کوم د سود زیادت ورکول کیږي دا ټولي پیسې روا دي او دا شرعي سود نه دئ که څه هم د محکمې والا دغه ته سود وایي او د دې ټولو پیسو د زکات حکم دا دئ چي د پیسو تر رسېدو وروسته زکات اداء کیږي او تر رسېدو مخکي یې زکات لازم نه دئ. (کفایت المفتی:۸/ ۹۷، دار الاشاعت).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

د ملازمانو له تنخوا ځخه یو څه روپۍ ګرځول کیږي او بیا له هغو سره یوه څه نوري پیسې ګډه وي او په وخت د ملازمت (خدمت) د ختمېدلو کي یې ورکوي او هغه یو دولتي انعام بلل کیږي. د دغو روپیو د تېرو کالو زکات واجب نه دئ او په راتلونکي کي تر وصول وروسته چي پر نصاب پوره کال تېر سي نو بیا زکات لازم دئ. وعند قبض مائتين مع حولان الحول بعده أي بعد القبض من دين ضعيف وهو بدل غير مال كمهر و دية وبدل كتابة. الدر المختار:۲/ ۴۹، باب زكاة المال، سعيد. (فتاوی دار العلوم دیوبند:۶/ ۳۳۱، مدلل ومکمل).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (ایضاح النوادر دوهمه حصه،صـ ۳۱، مکتبه علمیه سهار نپور، و جدید فتهی مسائل: از مولانا برهان الدین سنبهلی: صـ ۱۲۴، اداره اسلامیات، لاهور، فتاوی قاضی خان:۱/ ۲۵۲، فتاوی عالمگیری:۱/ ۱۷۱). **والله تعالیٰ اعلم.**

د حکومت پر هبه سوي مال د زکات حکم

سوال: **د حکومت پر هبه سوي مال زکات لازم دئ او که نه؟ که چیري لازم وي نو څه وخت دې اداء کړي د ټولو روپیو تر رسید وروسته او که هر کال؟**

الجواب: **پینشن فنډ د حکومت له طرفه هبه ده او په هبه کي تر قبضې د مخکي ملکیت نه راځئ نو ځکه تر وصول وروسته چي کله کال پر تېر سي نو بیا زکات واجب دئ که چیري له دې سره نوري روپۍ هم وي نو دا دي په دا نورو ګډي کړي او کله چي کال پوره سي نو د دغو پیسو زکات دي هم له هغو نورو پیسو سره اداء کړي.**

په کفایت المفتي کي راځي:

دغه پيسې کومي چي ملازم ته د انعام په ډول ورکول کيږي روا دي ځکه چي دا د حکومت له طرفه يو ډول تعاون او هبه ده. (کفایت المفتی:۸/ ۹۷، دار الاشاعت).

د حکومت هبه سوی مال بعينه د انعام د مال په ډول دئ او د دې حوالې مورد ته ذکر کړې. والله ﷻ اعلم.

د تجارت پر حصو يا سرمايې د زکات حکم

سوال: د تجارت پر حصو يا سرمايه زکات واجب دئ او که نه؟

الجواب: د تجارت پر سرمايه زکات واجب دئ.

په جديد فقهي مباحث نومي کتاب کي يې وګورئ:

د فقهي له عباراتو څخه معلوميږي چي د زکات د اداء کولو په وخت کي د اصلي روپيو او ګټمي چي کوم ماليت دئ پر هغه زکات واجب دئ، نو ځکه د تجارت په مال کي پر اصلي سرمايه او منافع دواړو باندي زکات واجبيږي. په دې کي د بازار د قيمت اعتبار نه کيږي مګر که چيري يو سړی د حصو د اخستلو او خرڅولو کاروبار کوي نو په دې وخت کي د زکات د اداء کولو په وخت کي په بازار کي چي د دغه حصو څومره قيمت وي د هغه په اعتبار زکات واجبيږي. (جديد فقهي مباحث:٦/ ٢٥١)/

په ايضاح المسائل کي راځي:

که چيري يو چا په کمپنۍ کي حصې او سرمايه واخستل او شرکت يې وکړئ نو د دې پر راس المال او منافع پر دواړو زکات لازم دئ. (امداد الفتاوی:۲/ ۲۱). (ایضاح المسائل: صـ ۱۰۶، نعیمیه).

په کتاب الفتاوی کي راځي:

څنګه چي حصې د تجارت د مال نمائندګي کوي او د تجارت په مال کي زکات واجب دئ، ځکه چي په حصو کي د هغه د مارکېټ د قيمت له لحاظه زکات واجب دئ. (کتاب الفتاوی:دريمه حصه، صـ ۲٦۸، نعيميه).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (فتاوی محمودیه:۹/ ٤٢٠، جامعه فاروقیه، فتاوی رحیمیه:۲/ ١٤، فتاوی دار العلوم دیوبند:٦/ ١٤٠). والله ﷻ اعلم.

د عمارتي کار خانې پر حصو د زکات حکم

سوال: دیوه سړي سره د عمارتي کار خانې حصې دي نو اوس د هغه پر ګټه زکات اداء کړي او که د حصو پر قیمت او که پر دواړو؟

الجواب: په دې پوښتل سوي صورت کي که چیري کمپنۍ تجارت کوي نو د حصو پر اصلي پیسو او منافع دواړو زکات لازم دئ او که چیري کمپنۍ تجارت نه کوي او یوازي کرایه اخیستل کیږي، نو بیا پر منافع زکات لازم دئ او پر اصلي پیسو لازم نه دئ.

په کفایت المفتی کي وګورئ:

کله چي کمپنۍ تجارت کوي نو زکات پر جمع سوي پیسو باندي دئ او که چیري د کرایې له پاره وي نو بیا پر جمع سوي مال زکات لازم نه دئ، بلکي پر حاصل سوي منافع زکات لازم دئ. (کفایت المفتی:٤/ ٢٥٧، شیرز پر زکات، دار الاشاعت).

په فتاوی رحیمیه کي راځي:

پر حصو زکات سته که چیري کمپنۍ د تجارت له پاره وه مثلا ټوکران، اوسپنه، د مشتري سامان او داسي نور شیان خرڅوي یا سیمټ خرڅوي نو د حصو پر قیمت او پر منافع پر دواړو زکات لازم دئ او که چیري کمپنۍ د تجارت له پاره نه وي نو یوازي کرایه وصول کوي لکه د ریل ګاډي کمپنۍ او داسي نور، نو بیا پر اصل قیمت زکات نه سته، بلکي خالي پر کرایه زکات سته. (فتاوی رحیمیه:۲/ ١٤).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

که چیري د کار خانې مځکه او د تعمیراتو ماشینان د خرڅولو له پاره نه وه بلکي د ګټي د حاصلولو ذریعه وي نو پر دغو شیانو زکات لازم نه دئ بلکي د هغو شیانو پر کرایه نغدو پیسو په ټول زکات واجب دئ. (فتاوی محمودیه:۹/ ٤٢٧، جامعه فاروقیه).

وګورئ په هدایه کي راځي:

وليس في دور السكنى وثياب البدن وأثاث المنازل ودواب الركوب وعبيد الخدمة وسلاح الاستعمال زكاة لأنها مشغولة بالحاجة الأصلية وليست بنامية أيضا وعلى هذا كتب العلم لأهلها وآلات المحترفين لما قلنا. (الهداية: ۱/ ۱۸۶، كتاب الزكاة). والله تعالى اعلم.

د کار خانې پر احتياطي پيسو د زكات حكم

سوال: کار خانه د ټول کال تر کار وبار وروسته د منافع حساب کوي او له هغه څخه يو څه حصه د احتياط په ډول محفوظ وي ځکه چې که چيري په راتلونکي کي يو نقصان وسو، نو په دې سره به پوره سي او پاته نفع د حصو د مالکانو تر منځ وېشي، نو اوس سوال دا دئ چې دغه احتياطي پيسې چې کار خانې محفوظه کړي دي پر دې زکات سته او که نه؟ يعنی د حصو مالک د دې زکات اداء کوي او که نه؟ حال دا چې د ده په قبضه کي نه دي او نه يې د تصرف حق لري؟

الجواب: په پوښتل سوي صورت کي د منافع هغه حصه چې کمپنۍ د احتياط په ډول محفوظه کړې ده د دې زکات هم د حصو پر مالکانو لازم دئ ځکه چې دا د قوي پور په حکم کي دئ، همدا ډول کمپنۍ دغه پيسې دوهم ځل په سرمايه کي داخلي کړي او نوري منافع يې تقسيم کړي ځنګه چې په هغه کمپنۍ کي چې حصې يې د تجارت له پاره وي پر اصل قيمت او پر منافع دواړو باندي زکات لازم دئ نو ځکه د حصو مالکان د سرمايې زکات هم له منافع سره اداء کوي.

په جديد فقهي مباحث نومي کتاب کي يې وګورئ:

د فقهي له عباراتو او تصريحاتو او د اصولو په اعتبار د زکات د اداء کولو په وخت کي پر اصلي پيسې او منافع باندي زکات واجب دئ ځکه چې په تجارتي مالو کي پر اصل سرمايه او منافع دواړو باندي زکات واجيبږي په دې کي د بازار د قيمت اعتبار نه کيږي مګر که چيري يو سړی د حصو کار وبار کوي نو په داسي وخت کي د زکات اداء په بازار کي چې د دغه حصې کوم قيمت وي د هغه قيمت په اعتبار سره زکات واجب دئ. (جديد فقهي مباحث: ۶/ ۲۵۱، ادارة القرآن والعلوم الاسلاميه).

په بدائع الصنائع کي راځي:

أما القوي فهو الذي وجب بدلا عن مال التجارة كثمن عرض التجارة من ثياب التجارة. وعبيد التجارة ، أو غلة مال التجارة ولا خلاف في وجوب الزكاة فيه. (بدائع الصنائع:۲/ ۱۰. سعيد).

په امداد الفتاوی کي راځي:

په ابتدايي شرکت کي د اصل شريک چي کومي مثلا سل روپۍ وي له هغه څخه يو څه حصه په عمارتو او په الآتو کي لګېدلې ده د هغه زکات واجب نه دئ او يو څه حصه په تجارت لګېدلې وي پر دې د ګټي سره زکات واجب دئ که هغه نفع و دغه شريک ته پوره رسېدلي وي او که يو څه په سرمايه کي شامل سوي وي، مثلا که د سلو روپيو څخه شل روپۍ په عمارتو او الآتو کي ولګيږي او اتيا (۸۰) په تجارت کي ولګيږي او پر هغه اتيا (۸۰) پنځلس (۱۵) نفع څخه لس وشريک ته ورسېدې او پنځه (۵) په سرمايه کي داخل کړل سوې نو اوس زکات د (۹۵) روپيو واجب دئ.(امداد الفتاوی:۲/ ۲۱). والله ﷻ اعلم.

چي مشتري د مخه پيسې اداء کړي نو د زکات حکم

سوال: يوه سړي په لک نغدو روپيو کور کرايه کړئ او تر اوسه تيار نه دئ او مشتري يو لک روپۍ اداء کړې نو د کال په پوره کېدو سره زکات پر چا واجب دئ؟

الجواب: په ياد پوښتل صورت کي کله چي مشتري دمخه پيسې اداء کړي نو د مشتري له ملکيت څخه وځي او د بائع په ملکيت کي داخلی سوې نو ځکه د دغه اداء کړل سوی روپيو زکات پر مشتري لازم نه دئ بلکي پر بائع لازم دئ.

په جديدي فقهي مباحث کي يې وګورئ:

د مخه د اداء کړل سوی روپيو څنګه چي د مشتري له ملکيت څخه وتلي دي او پر دغو پيسو نه د مشتري ملکيت سته او نه قبضه نو ځکه د دې زکات پر مشتري لازم نه دئ البته بائع ته پر دغه تام ملک حاصل دئ نو زکات پر بائع واجب دئ.

په البحر الرائق کي راځي:

رجل اشترى عبدا للتجارة يساوي مائتي درهم ونقد الثمن ، ولم يقبض العبد حتى حال الحول فمات العبد عند البائع كان على بائع العبد زكاة المائتين ...... أما على البائع فلأنه ملك الثمن وحال الحول عليه عنده البائع...... إلى قوله: ولا زكاة على المشتري ؛ لأن الثمن زال عن ملكه إلى البائع فلم يملك المائتين حولا كاملا ..... فلا تجب عليه الزكاة .البحر الرائق:٢/ ٢٠٣، كوئتة. (جديد فقهي مباحث:٦/ ١٧٣، إدارة القرآن).

په جدید فقهي مسائل نومي کتاب کي راځي:

تر کومه ځایه چي دمخه پیسې ورکول دي دا خو ښکاره خبره ده چي دا پیسې د کور د مالک په ملکیت کي راځي نو ځکه د کور پر مالک زکات واجب دئ ځکه چي ابن همام رحمه الله لیکلي دي:

وأما زكاة الأجرة المعجلة عن سنين في الإجارة الطويلة التي بفعلها بعض الناس عقودا ويشترطون الخيار ثلاثة أيام في رأس كل شهر فتجب على الآجر لأنه ملكها بالقبض. (فتح التدير:٢/ ١٢١)

نو ځکه د مخه ورکړل سوی ورپیو زکات د کور پر مالک واجب دئ یعنی پر کرایه دار د دې زکات لازم نه دئ. (جدید فقهي مسائل:١/ ٢١٧، نعیمیه، وفتاوی حقانیه:٣/ ٥٠٧).

همدا ډول دغه صورت استصناع هم جوړېدلای سي چي مشتري ګویا د مځکي مالک ته په لسو منزلو کي د پنځم منزل اډر د مشتري له پاره ورکړی دئ او د کور مالک دغه جوړ وي او ورحواله کوي يې نو دا داسي دئ لکه یو چا ته چي د مېز یا د الماری له پاره اډر ورکړل سي او قیمت د مخه ورکړي، نو پیسې د مشتري له ملک څخه وزي ځکه د دې زکات د مځکي پر مالک لازم دئ مګر د دې استصناع رواج د متقدمینو فقهاوو په زمانه کي نه وو او اوس سته.

په بدائع الصنائع کي وګورئ:

أما صورة الاستصناع فهي أن يقول إنسان لصانع من خفاف أو صفار أو غيرهما : اعمل لي خفا ، أو آنية من أديم أو نحاس ، من عندك بثمن كذا ، ويبين نوع ما يعمل وقدره وصفته ، فيقول الصانع : نعم .

وأما جوازه ، فالقياس : أن لا يجوز ؛ لأنه بيع ما ليس عند الإنسان ، لا على وجه السلم ، ويجوز استحسانا ؛ لإجماع الناس على ذلك ؛ لأنهم يعملون ذلك في سائر الأعصار من غير نكر .... وأما شرائط جواز ...... ن يكون مما يجري فيه التعامل بين الناس من أواني الحديد والرصاص ، والنحاس والزجاج ، والخفاف والنعال . (بدائع الصنائع:۵/ ۲، کتاب الاستصناع). والله ﷻ اعلم.

په مشترک کار وبار کې د زکات واجبېدلو حکم

سوال: یوه مشترکه کارخانه ده چې په هغه کې څو خصه لرونکي شریک دي نو ایا پر کمپنۍ زکات واجب دئ او که نه؟ او د دغه زکات د اداء کولو څه طریقه ده؟

الجواب: د کمپنۍ د خپل ذات په اعتبار سره نه ده بلکې د تاجرانو په تجارت سره ده نو ځکه د کار وبار د حصه دارو زکات پر ټولو روپیو یا پر ټول مال واجب نه دئ بلکې د هر شریک زکات د هغه د حصې په حساب سره واجب دئ نو د کوم شریک حصه چې تر نصاب پورې نه وي رسېدلې او له دې څخه پرته نور مال هم نه لري نو پر دې زکات واجب نه دئ او د هر شریک د خپلې حصې زکات دئ چې په خپله به یې اداء کوي.

په الفتاوی شامی کې راځي:

ولا تجب الزكاة عندنا في نصاب مشترك من سائمة ومال تجارة وإن صحت الخلطة ...... وإن تعدد النصاب تجب إجماعا ، ويتراجعان بالحصص ، وبيانه في الحاوي ، فإن بلغ نصيب أحدهما نصابا زكاه دون الآخر ؛ قوله : في نصاب مشترك المراد أن يكون بلوغه

النصاب بسبب الاشتراك وضم أحد المالين إلى الآخر بحيث لا يبلغ مال كل منهما بانفراده نصابا . قوله : وإن تعدد النصاب، أي بحيث يبلغ قبل الضم مال كل واحد بانفراده نصابا فإنه يجب حينئذ على كل منهما زكاة نصابه . (فتاوی شامی:۲/ ۳۰۴، سعید).

په بدائع الصنائع کي راځي:

فأما إذا كانت (السوائم) مشتركة بين اثنين فقد اختلف فيه قال أصحابنا : إنه يعتبر في حال الشركة ما يعتبر في حال الانفراد وهو كمال النصاب في حق كل واحد منهما، فإن كان نصيب كل واحد منهما يبلغ نصابا تجب الزكاة وإلا، فلا . (بدائع الصنائع:۲/ ۲۸، سعید).

همدا ډول وګورئ: (فتاوی دار العلوم:۶/ ۶۷، مدلل ومکمل – وایضاح النوادر:۲/ ۳۹- وامداد الفتاوی:۳/ ۱۳۰، - وفتاوی حقانیه:۳/ ۵۰۴). والله ﷻ اعلم.

د بیع وفاء پر روپیو د زکات و جواب حکم

سوال: یوه سړي له بله ځخه یو شی په پنځوس زره رانیوئ، بائع ومشتري ته وویل چي زه ستا پیسې درکړم نو ته ما ته مبیع راکړه دلته د اداء کړل سوي قیمت زکات پر چا واجب دئ؟

الجواب: په یاد پوښتل سوي صورت کي دغې بیع ته دفقهاوو په اصطلاح بیع الوفاء وایي او دډېرو په نزد دا روا ده او بائع د پیسو مالک دئ ځنګه چي مشتري د مبیعې مالک وه نو ځکه د دغو پیسو زکات پر بائع لازم دئ.

په درمختار کي راځي:

وبيع الوفاء ذكرته هنا تبعا للدرر، صورته أن يبيعه العين بألف على أنه إذا رد عليه الثمن رد عليه العين. وسماه الشافعية بالرهن المعاد ويسمى بمصر بيع الأمانة وبالشام بيع الإطاعة، قيل هو رهن فتضمن زوائده، وقيل بيع يفيد الانتفاع به، وفي إقالة شرح المجمع عن النهاية: وعليه الفتوى (الدر المختار:۵/ ۲۷۶، سعید).

وقال ابن عابدين الشامي رحمه الله: في بيان ماتغير بالعرف: وإفتاء هم عن طين الشارع للضرورة وبيع الوفاء به. (شرح عقود رسم المفتي:۳۹).

دزيات تفصيل له پاره وګورئ: (البحر الرائق:٦/ ٧، كوئته – والفتاوى البزازية على هامش الهندية:٤/ ٤٠٥ – والخانية على هامش الهندية:٢/ ١٦٥ – وامداد الفتاوى:٣/ ١٠٦-١٠٩ – وامداد المفتين:٢/ ٨٣٨ -- والمقالات الفقهية:٣٢٩-٣٥٦).

په دغو ټولو کتابو کي د بيع الوفاء جواز ليکلي سوی دئ او د زکات په اړه يې وګورئ.

په فتاوى قاضي خان کي راځي:

وفي بيع الوفاء المعهود بسمرقند تجب زكاة الثمن على البائع. (فتاوى قاضي خان على هامش الهندية:١/ ٢٥٤، فصل في اموال التجارة).

په فتاوى شامي کي راځي:

قالوا: ثمن المبيع وفاء إن بقي حولا فزكاته على البائع لأنه ملكه. (فتاوى الشامي:٢/ ٢٦١، مطلب في زكاة ثمن المبيع وفاء، سعيد). والله تعالى اعلم.

څلورم .... فصل

د حيوانانو د زکات بيان

پر غويو د زکات حکم

سوال: خلک غوايي ساتي او د هغو فارم نو پر داسي غويو زکات سته او که نه؟

الجواب: که چيري يو چا د غويو فارم جوړ کړی وي او د هغو زياتونه کوي نو په دې کي زکات واجب دئ. فقهاوو چي د حيوانانو مطابق کوم تفصيلونه ويلي د هغه مطابق دې زکات اداء کړي او که چيري په خپله د هغو ساتنه نه کوي بلکي د رانيولو او خرڅولو له پاره وي نو بيا پر قيمت زکات واجب دئ.

په الدرالمختار کي راځي:

(نصاب البقر و الجاموس) ولو متولدا من وحش وأهلية..... إلى (ثلاثون سائمة) غير مشتركة (وفيها تبيع) الخ.

په فتاوی شامي کي راځي:

(سائمة) فلو علوفة فلا زكاة فيها إلا إذا كانت للتجارة، فلا يعتبر فيها العدد بل القيمة. (شامی:٢/ ٣٠٤).

په احسن الفتاوی کي راځي:

د کومو حیواناتو د خوراک انتظام چي له کور څخه وي دباندي يې څرېدل لږ وي نو پر هغو زکوة نه سته، البته که چيري يې د تجارت په نيت رانيولي وه نو زکات د هغو پر قيمت فرض دئ. (احسن الفتاوی:٤/ ٢٧٢).

په فتاوی قاضي خان کي راځي:

الزكاة فرض على المخاطب إذا ملك نصابا ناميا حولا كاملا والمال النامي نوعان السائمة ومال التجارة، أما السائمة فهي الراعية التي تكتفي بالرعي، يطلب منها العين وهو النسل واللبن، فإذا علفها في مصر أو غير مصر فهي علوفة وليست بسائمة. (فتاوی قاضی خانه:١/ ٢٤٥)، **د زيات تفصيل له پاره وګوري:** (كتاب الفتاوى: ٣/ ٣٤٦، جانور كى زكات، مكتبه نعيميه). والله ﷻ اعلم.

په فارم کي پر مرغانو او بزو د زکات حکم

سوال: يوه سړی د سلو (١٠٠) کالو له پاره فارم په کرايه رانيوئ او په هغه کي مورغان، بزې، غوايي تړل سته ايا پر دغه زکات واجب دئ او که نه؟ تکليف يې سته؟

الجواب: په پوښتل سوي صورت کي که چيري دغه حيوانان د نسل د ډېرولو له پاره وي او د نصاب په اندازه وي نو د کال تر پوره کېدو وروسته د شرط او قاعدي سره سم زکات لازم دئ او که چيري د تجارت له پاره وي نو بيا پر قيمت باندي زکات لازم دئ او د فارم کرايه ورسره منافات نه لري.

په فتاوی شامي کي راځي:

السائمة شرعا المكتفية بالرعى...... قلت: لكن فى القاموس: الكلأ كجبل العشب رطبه ويابسه فلم يقيده بالمرعى......(شامى:٢/ ٢٧٥، سعيد).

په فتاوی هنديه کي راځي:

فإن كانت تسام فى بعض السنة وتعلف فى البعض فإن اسيمت فى أكثرها فهى سائمة وإلا فلا. (الفتاوى الهندية:١/ ١٧٦).

په فتاوی قاضي خان کي راځي:

أما السائمة فهى الراعية التى تكتفى بالرعى. (فتاوى قاضى خان:١/ ٢٤٥). والله تعالىٰ اعلم.

پر آسانو د زکات حکم

سوال: ایا هغه آسان چي د نسل د ډېرولو له پاره ساتل کیږي په هغو کي زکات سته او که نه؟

الجواب: د نسل د ډېرولو له پاره چي کوم آسان ساتل کیږي په هغو کي زکات نه سته.

په درمختار کي راځي:

ولا شىء فى خيل سائمة عندهما وعليه الفتوى، خانية وغيرها.... وفى الشامى: وقيد بالسائمة لأنها محل الخلاف، أما التي نوى بها التجارة فتجب فيها زكاة التجارة اتفاقا، كما يأتي، قوله عندهما: لما في الكتب الستة من قوله عليه الصلاة والسلام: « ليس على المسلم في عبده وفرسه صدقة ». زاد مسلم: « إلا صدقة الفطر » قوله وعليه الفتوى، قال الطحاوي: هذا أحب القولين إلينا، ورجحه القاضي أبو زيد في الأسرار، وفي الينابيع وعليه الفتوى وفي الجواهر: والفتوى على قولهما، وفي الكافي: هو المختار للفتوى، وتبعه الزيلعي و البزازي

تبعا للخلاصة، وفي الخانية قالوا: الفتوى على قولهما تصحيح العلامة قاسم. قلت وبه جزم في الكنز . (الدر المختار مع الشامي: ٢/ ٢٨٢، سعيد).

دزیات تفصیل له پاره وګورئ: (الفتاوى الهندية: ١/ ١٧٨ – وفتاى قاضى خان: ١/ ٢٤٩ – والبحر الرائق: ٢/ ٢١٦ – وتبيين الحقائق: ١/ ٢٦٥ – و درر الحكام فى شرح غرر الاحكام: ١/ ١٧٧). والله ﷻ اعلم.



قال الله تعالى: ﴿ أثمر وآتوا حقه يوم حصاده ﴾. (سورة الانعام، الآية: ١٤١)

وقال رسول الله ﷺ ﴿ فيما سقت السما والعيون أو كان عشريا العشر وما سقى بالنضح نصف العشر ﴾ (بخارى شريف).

دوهم .... باب

د عشر او خراج بيان

د هندوستان او پاکستان د مځکو حکم

سوال: په پاکستان او هندوستان کي ځيني ولې انګرېزانو جوړي کړي دي له دغو ولو څخه اوبه سوي مځکه عشري ده که خراجي؟

الجواب: په دې پوښتل سوي صورت کي څرنګه انګرېزانو د تک په وخت کي دغه ولې مسلمانانو ته هبه کړي وې او مسلمانانو له هغو څخه په پيسو اخستې وې او نه يې قهرا ځيني اخيستي دي نو ځکه پر دې خراج نه بلکي نصف عشر يعنى شلمه حصه ده.

په جواهر الفقه کي راځي:

هغه مځکي چي د پاکستان تر قائم کېدلو د مخه ابادي نه وې او د يو چا په ملکيت کي نه وې بيا انګرېزي حکومت هغه آبادي کړې او پر خلکو يې د ملک په ډول تقسيم کړې په هغه کي چي کومي

ځمکي مسلمانانو ته په قیمت یا پرته له قیمت څخه رسېدلي دي هغه ځمکه عشري ده. (جواهر الفقه:۲/ ۲۵۸).

له دغو عبارت څخه معلومه سوه چي داوبو درسولو ذرایع که څه هم انګرېزانو تیار کړي دي مګر هغو د ملکیت په ډول پر خلکو تقسیم کړي نو اوس عشري سوې.

په امداد الفتاوی کي راځي:

ویجب أی العشر فی مسقی سماء أو سیح کنهر إلی قوله ویجب نصفه فی مسقی غرب أی دلو کبیر ودالیة أی دولاب لکثرة المؤنة.....

له دې څخه دا معلومه سوه چي په باراني ځمکه کي عشر (لسمه حصه) ده او که په څاه یا حوض اوبه کړل سوی کي نصف عشر (شلمه حصه) ده او که چیري یو ځمکه په دواړو سره اوبېدله نو بیا د غالب اعتبار دئ او که چیري دواړه سره برابر وو نو بیا یې په حاصل کي په نیم کي لسمه او په نیم کي شلمه حصه ده. (امداد الفتاوی:۲/ ٦٠، فصل العشر والخراج). والله ﷻ اعلم.

په باران سره اوبه سوې د ولي د ځمکي د عشر حکم

سوال: که چیري نهري ځمکې له څو کالو څخه په باران سره اوبېدله او داوبو د نهر ضرورت یې نه وو نو اوس عشر لازم دئ او که نصف عشر (شلمه حصه) لازم ده؟

الجواب: په پوښتل سوي صورت کي عشر یعنی لسمه حصه لازمه ده.

په فتاوی شامي کي راځي:

ویجب أی العشر فی مسقی سماء أو سیح کنهر..... قوله ﷺ: «ما سقت السماء ففیه العشر. (الدر المختار مع الشامي:۲/ ٦، ۳۲۵، باب العشر، سعید).

په جواهر الفقه کي راځي:

که چري د یوې ځمکي اوبه کېدل یو څه په باران او یو څه له څاه څخه وي نو په دې کي د اکثر اعتبار کیږي چي کوم یو ډېر دئ وهغه ته اعتبار ورکول که چیري د باران اوبه هغه پر زیات وي لسمه

واجب دئ (جواهر الفقه: ۲/ ۲۸۰، دار العلوم کراچی، فتاوی محمودیه: ۹/ ۴۳۵، مبوب ومرتب، امداد الفتاوی: ۲/ ٦۰). والله ﷻ اعلم.

په جنوبي افريقا، استراليا او نورو کي د عشر حکم

سوال: جنوبي افريقا او داسي نورو هيوادو کي ايا لسمه واجب ده او که نه؟

الجواب: په کومو هيوادو کي چي مسلمانان د دار الاسلام په ډول په ارامه ژوند کوي او د هغو په تصرف کي ځمکي وي نو لسمه حصه پر واجب ده. د مبسوط د عبارت څخه هم دغه مطلب معلوميږي. أرأيت قوما من أهل الحرب أسلموا على دارهم أتكون أرضهم من أرض العشر؟

قال: نعم

همدا ډول د جنوبي افريقا چي کومي ځمکي د مسلمانانو په ملکيت کي راسي لسمه او شلمه پر لازم ده.

که چيري هغه ځمکه له کافر څخه واخلي بيا هم عشر لازم دئ لکه څنګه چي له شروع څخه د ده په ملکيت کي راغلي وي، ځکه چي تر دې د مخه دا ځمکه نه عشري وه او نه خراجي ځکه چي هلته د خراج او د عشر نظام نه سته لکه څنګه چي حضرت تهانوي رحمه الله ليکي دي.

۲_ په مبسوط کي چي چيري دا ليدل سوي دي که چيري يو سړی دار الحرب ته داخل سو د هغه ځای په غرو کي د ده لاس ته يو څه ورغله په دې کي عشر نه سته، دا يوه جلا مسئله ده، په دې صورت کي د هغه سړي په غره کي کښت کړی نه دئ بلکي هلته د امن له پاره ولاړئ او هغه يو شی پيدا کړئ.

په هدايه کي راځي:

ومن دخل دار الحرب بأمان فوجد في دار بعضهم ركازا رده عليهم ...... وإن وجده في الصحراء فهو له لأنه ليس في يد أحد على الخصوص فلا يعد غدرا ولا شيء فيه.

(الهداية: ۱/ ۲۰۰، باب فی المعادن الوكاز – وكذا فی المبسوط: ۲/ ۲۱۵، باب المعادن، إدارة القرآن).

په دې کي پنځه هم نه سته ځکه چي د غنيمت مال په حکم کي نه دئ.

په كتاب الخراج كي راځي:

قال أبو يوسف رحمة الله عليه: فأما ما سألت عنه يا أمير المؤمنين من حد أرض العشر من حد أرض الخراج فكل أرض أسلم أهلها عليها وهى من أرض العرب أو أرض العجم فهى لهم وهى أرض العشر، بمنزلة المدنية حين أسلم عليها أهلها وبمنزلة اليمن، وكذلك كل من لاتقبل منه الجزية ولايقبل منه إلا الإسلام أو القتل ومن عبدة الأوثان من العرب فأرضهم أرض عشر، وإن ظهر عليها الإمام لأن رسول الله ﷺ قد ظهر على أرضين من أرض العرب وتركها فهى أرض عشر حتى الساعة، وأيما دار من دور الأعاجم قد ظهر عليها الإمام وتركها فى أيدى أهلها فهى أرض خراج، وإن قسمها بين الذين غنموها فهى أرض عشر..... (كتاب الخرج:٦٩، فصل حد أرض العشر من أرض الخراج، إدارة القرآن).

همدا ډول وګورئ: (فتاوى شامي:٤/ ١٧٨، سعيد – وفتاوى قاضى خان:١/ ٢٧٠ – وجواهر الفقه:٢/ ٢٨١). والله تعالى اعلم.

په خپله شنه سوي وښو کي د زکات حکم

سوال: که چيري ديو چا په مځکه کي وابنه په خپله راشنه سي نو ايا په دې کي لسمه سته او که نه؟

الجواب: په پوښتل سوي صورت کي په خپله راشنه سوی وښو کي عشر يعنى لسمه نه سته مګر که چيري ديو چا وابنه مقصد وو او مځکه يې د دې له پاره خاصه کړې وه نو بيا لسمه واجب ده.

په فتاوی قاضي خان کي راځي:

ولايجب العشر فى التبن ولا فى الحطب والحشيش. (فتاوى قاضى خان:١/ ٢٧٦، فصل فى العشر).

په فتاوی هنديه کي راځي:

فلا عشر فى الحطب والحشيش والقصب. (الفتاوى الهندية:١/ ١٨٦).

په هدایه کي راځي:

قال أبو حنيفة رحمه الله فی قلیل ما أخرجته الأراضی وکثیره العشر سواء سقی سیحا أو سقته السماء إلا القصب والحطب والحشیش. (الهداية:١/ ١: ٢).

په اهم فقهي فیصلي نومي کتاب کي راځي:

د درختو او ونو په شمول او داسي نورو شیانو پر داسي مځکني حاصل عشر واجب دئ چي د هغه د حاصلو څخه مقصد زیادتي وي کوم چي د ګټي د غرض له پاره پیدا کیږي نو ځکه ټول غذایي شیان، میوه جات او ګلانو باندي لسمه واجب ده مګر په خپله راشنه سوي درختي او وابنه چي له هغه څخه مقصد ګټه نه وي نو پر دې عشر یعني لسمه واجب نه ده. (اهم فقهي فيصلي، ترتيب حضرت قاضي مجاهد الاسلام قاسمي رحمه الله، صـ ٦٢، ادارة القرآن). والله تعالی اعلم.

پر وقف کړل سوي مځکه د لسمي حکم

سوال: ایا په وقف سوي مځکه کي لسمه لازم ده او که نه؟

الجواب: په پوښتل سوي مسئله کي د موقوفه مځکي پر حاصل لسمه لازم ده.

په جدید فقهي مباحث نومي کتاب کي راځي:

د وقف مځکو په حاصل کي لسمه واجب ده ځکه چي د عشر د اداء کولو ایت او حدیث دي ته هم شامل دي، د لسمي د وجوب له پاره ملک شرط نه دئ بلکي د حاصل مالک کېدل شرط دي، د لسمي د وجوب سبب حاصل لرونکی او د حاصل کېدل شرط دي او ښکاره خبره ده چي په وقفي مځکو کي دا دواړه موجود دي نو ځکه عشر واجب دئ.

علامه کاساني رحمه الله لیکي:

وكذا ملك الأرض ليس بشرط لوجوب العشر وإنما الشرط ملك الخارج فيجب في الأراضي التي لا مالك لها وهي الأراضي الموقوفة لعموم قوله تعالى ﴿ ومما أخرجنا لكم من

الأرض، وآتوا حقه يوم حصاده ﴾. « بدائع الصنائع:۲/ ٥٦ ». (جديد فقهي مباحث:۹/ ۸۱، ادارة القرآن والعلوم الاسلامية).

په امداد الاحکام کې راځي:

هغه وقفي مځکه چې له مسجد سره اړه ولري هم لسه وربانديې سته. وكذا ملك الأرض ليس بشرط للوجوب لوجوبه في الأراضي الموقوفة. « الفتاوى الهندية:۱/ ۱۹۱ ». (امداد الاحکام:۲/ ۳۵، باب العشر والخراج، دار العلوم کراچی).

په فتاوی قاضي خان کې راځي:

ويجب العشر في الأراضي الموقوفة وأرض الصبيان والمجانين إن كانت عشرية وإن كانت خراجة ففيها الخراج. (الفتاوى القاضي خان:۱/ ۱۷٦، على هامش الهندية).

په درمختار کې راځي:

ويجب مع الدين وفي أرض صغير ومجنون ومكاتب ومأذون ووقف ..... وفي الشامي: إن ملك الأرض ليس بشرط لوجوب العشر وإنما الشرط ملك الخارج، لأنه يجب في الخارج لا في الأرض، فكان ملكه لها وعدمه سواء بدائع. (الدر المختار مع الشامي:۲/ ۳۲٦، باب العشر، سعيد).

په بدائع الصنائع کې راځي:

فيجب في الأراضي التي لا مالك لها وهي الأراضي الموقوفة لعموم قوله تعالى ﴿ يا أيها الذين آمنوا أنفقوا من طيبات ما كسبتم ومما أخرجنا لكم من الأرض ﴾ وقوله عز وجل: ﴿وآتوا حقه يوم حصاده ﴾ وقول النبي ﷺ : ما سقته السماء ففيه العشر وما سقي بغرب ، أو

دالية ففيه نصف العشر ؛ ولأن العشر يجب في الخارج لا في الأرض فكان ملك الأرض وعدمه بمنزلة واحدة .(بدائع الصنائع:۲/ ٥٦، سعيد – والفتاوى الهندية:۱/ ۱۸٥). والله ﷻ اعلم.

په کور کي پر مېوه داره درخته د لسمي حکم

سوال: که چيري ديو چا په کور کي مېوه داره درخته ولاړه وي نو په دې کي لسمه واجب ده او که نه؟

الجواب: په دې پوښتل سوي صورت کي لسمه واجب نه ده.

په فتاوي خانيه کي راځي:

رجل في داره شجرة مثمرة لاعشر فيه وإن كانت البلدة عشرية بخلاف ما إذا كانت في الأراضي. (الفتاوى الخانية على هامش الهندية:۱/ ۲۷۷).

په فتاوى هنديه کي راځي:

ولو كان في دار رجل شجرة مثمرة لا عشر فيها كذا شرح المجمع لابن الملك. (الفتاوى الهندية:۱/ ۱۸٦).

په جديد فقهي مباحث نومي کتاب کي راځي:

د کور پر باموياد هغه سره متصل پر ځمکه چي کوم سبزي راشنه کيږي پر هغو لسمه نه سته ځکه چي هغه د تجارت له پاره نه وي او د کور ځمکه عشري ځمکه نه ده نو ځکه له هغه ځخه پر حاصل سوي سبزيو او مېوو باندي عشر يعنی لسمه واجب نه ده. (جديد فقهي مباحث:۹/ ۸۰، ادارة القران، وجديد فقهي مسائل:۲/ ۱۰۸، نعيميه). والله ﷻ اعلم.

په تجارتي مځکه کي د عشر (لسمي) حکم

سوال: که چيري څوک مځکه د تجارت له پاره رانيوله او په هغه کي يې کښت وکړ نو په دې کي عشر (لسمه) حصه سته او که نه؟

الجواب: په پوښتل سوي صورت کي لسمه واجب ده ځکه د لسمي د وجوب شرط د مځکي حاصل دئ نو مځکه که د تجارت وي او که عاريي وي او که وقفي وي.

په بدائع الصنائع کي راځي:

فيجب في الأراضي التي لا مالك لها وهي الأراضي الموقوفة لعموم قوله تعالى ﴿ يا أيها الذين آمنوا أنفقوا من طيبات ما كسبتم ومما أخرجنا لكم من الأرض ﴾ وقوله عز وجل: ﴿وآتوا حقه يوم حصاده ﴾ وقول النبي ﷺ : ما سقته السماء ففيه العشر وما سقي بغرب ، أو دالية ففيه نصف العشر ؛ ولأن العشر يجب في الخارج لا في الأرض فكان ملك الأرض وعدمه بمنزلة واحدة .(بدائع الصنائع:٢/ ٥٦، سعيد – والفتاوى الهندية:١/ ١٨٥). والله ﷻ اعلم.

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (الفتاوى الهندية:١/ ١٨٥ – وحاشية الطحطاوى على الدر:١/ ٤١٩ – وجواهر الفقه:٢/ ٢٧٧ – وفتاوى محموديه:٩/ ٤٣٨، مبوب ومرتب). والله ﷻ اعلم.

د عسلو په مچمچيو کي د عشر حکم

سوال: ځيني خلک د عسلو په مچمچيو او د هغو له پاره خاص ځای جوړه وي او تکليفونه وړي ايا د دغو مچمچيو په عسلو کي عشر سته او که نه؟

الجواب: په پوښتل سوي صورت کي د عسلو په مچمچيو کي لسمه لازم ده ځکه چي د لسمي د وجوب علت دا ليکل سوی چي مچمچيو ګلان او مېوه خوري او ګلان او مېوه لګول کيږي نو معلومه سوه چي کوم ګلان او مېوه لګول کيږي او د هغه حفاظت وي نو په هغو کي هم عشر (لسمه) واجب ده.

په البحر الرائق کي راځي:

قوله يجب في عسل أرض العشر ومسقى سماء وسيح بلا شرط نصاب وبقاء إلا الحطب والقصب والحشيش أي يجب العشر فيما ذكر أما في العسل فللحديث « في العسل العشر » ولأن النحل يتناول من الأنوار والثمار، وفيهما العشر فكذا فيما يتولد منهما. (البحر الرائق:۲/ ۲۳۷، باب العشر، كوئتة – وكذا في الشامي:۲/ ۳۲۵، سعيد – والمبسوط:۲/ ۲۱٦، إدارة القرآن).

په فتاوی هنديه کي راځي:

ويجب العشر في العسل إذا كان في أرض العشر. (الفتاوى الهندية:۱/ ۱۸٦ – وكذا في فتاوى قاضي خان:۱/ ۲۷٦). والله ﷻ اعلم.

د غنمو په پراړه کي د عشر حکم

سوال: د غنمو په پراړه کي عشر لازم دئ او که نه؟

الجواب: په پوښتل سوي صورت کي که چيري غنمو دانه نيولي وه او تر پخېدو وروسته يې پرې کړل نو په دې کي عشر واجب نه دئ لکه څنګه چي اکثره داسي کيږي او که چيري يې د دانې تر پخېدو دمخه پرې کړل سي نو عشر واجب دئ ځکه چي پروړ مقصد دئ.

په فتاوی هنديه کي راځي:

ولا عشر فيما هو تابع للأرض كالنخل والأشجار وكل ما يخرج من الشجرة كالصمغ والقطران لأنه لا يقصد به الاستغلال كذا في البحر الرائق، ولا يجب في البزور التي لا تصلح إلا للمزارعة والتداوي كبزر البطيخ. (الفتاوى الهندية:۱/ ۱۸٦، في زكاة الزرع).

په درمختار کي راځي:

وتسميته زكاة مجازا إلا فيما لا يقصد به استغلال الأرض نحو حطب وقصب فارسي وحشيش وتبن وسعف وصمغ وقطران وغيره. (الدر المختار:۲/ ۳۲۷). والله ﷻ اعلم.



قال رسول الله ﷺ : ﴿ إذا أديت زكاة مالک فقد قضيت ما عليک﴾. (رواه ترمذی شریف).

دریم .... باب

د زکات د اداء کولو بیان

فقیر ته د چیک په ورکولو سره د زکات د اداء کېدو حکم

سوال: که چیري یوه سړی وفقیر ته چیک ورکړي چي د هغه په ذریعه دي له بانک څخه پیسې را وباسي مګر پیسې څلور، پنځه ورځي وروسته لاس ته راځي ایا زکات اوس اداء سو او که له بانک څخه تر اصولی وروسته اداء کیږي؟

الجواب: په پوښتل سوي صورت کي د چیک وصول کول دا د حکمي قبضې سره برابر دئ نو ځکه د چیک په وصول کېدلو سره زکات اداء سو.

وګورئ په الدرالمختار کي راځي:

والتمكن من القبض كالقبض فلو وهب لرجل ثيابا في صندوق مقفل ودفع إليه الصندوق لم يكن قبضا لعدم تمكنه من القبض وإن مفتوحا كان قبضا لتمكنه منه فإنه كالتخلية في البيع اختار. (الدر المختار:٥/ ٦٩٠، كتاب الهبة، سعيد).

په البحر الرائق کي راځي:

ولو وهب لرجل ثيابا في صندوق مقفل ودفع إليه الصندوق لم يكن قبضا وإن كان الصندوق مفتوحا كان قبضا لأنه يمكنه القبض كذا في المحيط .(البحر الرائق:٧/ ٢٨٦، كتا الهبة، كوئتة- والمحيط البرهانی:٧/ ١٦٩، الفصل الثانی فيما يجوز فی الهبة ومالايجوز، مكتبة الرشيدية). والله ﷻ اعلم.

په نوټ سره د زکات د اداء کولو حکم

سوال: په نوټ سره زکات اداء کيږي او که نه؟ ځيني خلک وايي چي تر څو نوټ په سرو او سپينو زرو سره نه وي بدل کړل سوی نو تر هغه وخته زکات نه اداء کيږي ايا دا صحيح ده؟

الجواب: په تېره زمانه کي د علماوو تر منځ يو څه اختلاف وو، د اشرف علي تهانوي رحمه الله او حضرت مفتي شفيع رحمه الله او د نورو ډېرو علماوو دا رايه ده چي دا خالي يوه وعده ده او د دې حيثيت د قرض د سند دئ مګر په اوسني زمانه کي تقريبا اتفاق پر دې خبره دئ چي اوس نوټ په خپله د ماليت حيثيت اختياره کړی دئ يعني نوټ په خپله مال او ثمن دئ، خالي سند نه دئ او نه خالي وعده ده نو ځکه پر نوټ زکات هم لازم دئ که چيري د نصاب په اندازه وو او په هغه سره د زکات اداء کول هم درست دئ فقير چي يې د نوټ مالک کړ نو زکات اداء سو.

د اوسني دور محقق وهبه زحيلي رحمه الله وايي: والحق وجوب الزكاة فيها (الأوارق النقدية) لأنها أصبحت هي أثمان الأشياء، وامتنع التعامل بالذهب. (الفقه الاسلامی وادلته:۲/ ۷۷۲، زکاة الارواق النقدية، دار الفكر).

له پېښور څخه په خپره سوې مياشتنۍ ((العصر)) کي هم دغه ډول مضمون چاپ سوی دئ وې ګورئ؟

نوټ په خپله ثمن عرفي جوړی سوی دئ نو ځکه د نوټو په ذريعه د زکات په اداء کولو کي هيڅ شبه نه سته بلکي في الحال اداء ګڼل کيږي او دغه قوي قول دئ.

دغه ډول ليکلي دي چي په نوې زمانه کي کاغذي نوټونه عرفي ثمن جوړ بدل دا بديهي حقيقت جوړ سوی دئ، چي په انساني معاشره د هغو په ذريعه تبادله او د رانيولو قوت تسليم کړی دئ که نه ذاتي حيثيت د هغه تر هغه کاغذي پر زو زيات نه دئ. (ماهنامه العصر، جامعه عثمانيه پشاور،صـ ۳۰).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (جديد فقهي مسائل ۱: ۲۲٤). والله تعالى اعلم.

د بانک په ذریعه د زکات د اداء کولو حکم

سوال: په پاکستان کي خلک په بانکو کي روپۍ ایږدي او د حکومت قانون دا دئ چي له دغو روپیو څخه زکات جلا کوي، پیسې جمع کونکی ته دا خبره معلومه ده بلکي د بانک په کاغذانو کي دغه خبره موجوده ده نو له دغي کاټ سوي سره زکات اداء کیږي او که نه؟ ځیني خلک وایي چي زکات نه اداء کیږي او لاندي سوالونه کوي:

۱ _ بانک مقروض دئ هغه زکات له خپله ماله څخه اداء کړي، یعنی پیسې د بانک په ملکیت کي دي او د مالک په ملکیت کي نه دي؟

۲ _ په حقیقت کي بانک د سود له پیسو څخه یو برخه کاټ کړه مثلا د سود شرح اووه نیمي فیصد ده نو د دې پوره ځای پنځه فصده روپۍ مالک ته ورکړي نو کاټ سوي سود سو زکات نه سو؟ په دې مسئله کي ستا څخه رایه ده؟

الجواب: د هدایې له یوه عبارت څخه دا معلومیږي چي که چیري د یو چا پر بل د زرو نغدو قرضه وي او قرض غوښتونکي ومقروض ته وویل، د دې زرو روپیو یو غیر متعین غلام رانیسه نو مقروض غلام رانیوئ او د قرض غوښتونکي تر قبضې د مخه د مقروض په لاس کي مړ سو نو دا د مقروض له مال څخه هلاک سو او که چیري قرض غوښتونکي قبضه کړئ بیا تر هغه وروسته مړ سو نو دا د قرض غوښتنکي له مال څخه هلاک سو او دا د امام صاحب رحمه الله په نزد ده او د صاحبینؒ په نزد په دې دواړو صورتو کي د قرض غوښتونکي له مال څخه هلاک سو یعنی مقروض د قرض غوښتونکي له طرفه څخه وکیل بالقبض دئ او د وکیل قبضه د مؤکل قبضه ده بیا تر دې یو څو لیکي وروسته هدایه وایي، پر خلاف د دې صورت چي قرض غوښتونکي مقروض ته د صدقې کولو حکم وکړي (صدقه د قرض غوښتونکي له مال څخه اداء کیږي) ځکه چي دلته هغه خپل مال د الله جل جلاله له پاره صدقه کړه او الله جل جلاله معلوم دئ. پر دې مسئله د بانک مسئله قیاس کړه د بانک د مسئلې په صورت کي په بانک کي د پیسو د جمع کولو په وخت کي ګویا که مالک په خپله رضاء او رغبت دا ویلي وي چي ته زما له طرفه زکات اداء کوه، نو کله چي بانک دغه داسي زکات اداء کړي نو زکات صحیح اداء کیږي او فقیر وکیل بالقبض سو کوم چي د الله جل جلاله له طرفه نائب جوړ سوی دئ او قبضه کوي بیا

دخپل ځان له پاره قبضه کوي، نو ګویا فقیر له اصلي مالک څخه قبضه کوي نو د بانک زکات اداء کول د اصل مالک د زکات اداء کولو په ډول دئ.

د هدایې په عبارت کې راځي:

ومن له على آجر ألف درهم فأمره أن يشتري بها عبدا عينه فاشتراه، فمات في يده قبل أن يقبضه الآمر مات من مال المتشري، وإن قبضه الآمر فهو له، وهذا عند أبي حنيفة رحمه الله عليه وقالا: هو لازم للآمر إذا قبضه المأمور ...... بخلاف ما إذا أمره بالتصدق، لأن جعل المال الله تعالى وهو معلوم/ (الهداية:۳/ ۱۸٦-۱۸۷).

همدغه ډول دغه مسئله له هغو مسئلو څخه ده چې پر کومو مسئلو چې د کراچې د تحقیق مجلس بحث کړی دئ او دا فصیله یې صادره کړې ده، چې د بانک زکات کاټول صحیح دئ.

همدا ډول د دغه اشکال جواب په احسن الفتاوی کې هم په تفصیل سره ذکر دئ. وګورئ: (احسن الفتاوی:٤/ ۳۱٤-۳۲٤).

مګر په دغه مسئله کې د لوړې مسئله په کتلو سره هیڅ سوال نه پاتیږي.

۲_ اشکال دا وو چې بانک په حقیقت کې د سود یو حصه کاټ کړه نو څکه د سود له پیسو څخه اداء وسوه نه د زکات له پیسو څخه؟

د دې جواب دا دئ چې په بانک کې پیسې اینبول کیږي هغه ډېر وخت د سود روپۍ نه وي مګر کومې اضافه د سود روپۍ چې د بانک له طرفه له حلالو روپیو سره ګډې سي او له ټولو روپیو څخه زکات اداء کړل سي نو زکات د حلال مال وطرف ته منسوبیږي او د سود روپۍ واجب الصدقه بلل کیږي، همدا ډول پر سړي لازم ده چې ټولې د سود روپۍ د ثواب د نیت څخه پرته صدقه کړي، مثلا یوه سړي یو لک (۱۰۰۰۰۰) روپۍ په بانک کې جمع کړې او پر هغه لس زره (۱۰۰۰۰) سود راغلئ بانک له دغو پیسو څخه شلو پنځتمه حصه (۲۷۵۰) دوه زره اوه سوه پنځوس روپۍ زکات به اداء کوي نو دوه نیم زره د یوه لک زکات دئ او دوه نیم سوه زکات نه دئ بلکې د سود پیسې یې صدقه

کړي، مګر پر انسان لازمه ده (۹۷۵۰) هم صدقه کړي او د سود مصرف هم فقیران دي نو ځکه په دې کي هیڅ حرج نه سته. (مستفاد از فتاوی حقانیه: ٤/ ۹۸).

دا لوړ چي ذکر سو دا تفصیل هغه وخت دئ چي کله بانک د دغه سړي زکات د سود تر راتلو وروسته اداء کړي، او که چیري سود د زکات تر اداء کېدو وروسته راغلئ مثلا د یوه لک ژکات (۲۵۰۰) اداء کړي، زکات یې په انعامي روپیو کي په بانک کي داخلي کړي بیا پر (۲۵۰۰) سود راغلئ نو دا زیادتي د فقیرانو په حق کي دي او د مالک په حق کي نه دي. نظیره إبل الزکات والأضحية إذ ولدت (مستفاد از فتاوی فریدیه: ۳/ ۳۸۰).

په درمختار کي راځي:

ولدت الأضحية قبل الذبح يذبح الولد معها، وعند بعضهم يتصدق به بلا ذبح. (الدر المختار: ٥/ ۳۲۳، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د ټولو زېوراتو د صدقه کولو څخه د تېرو کالو د زکات د اداء حکم

سوال: له یوه سړي سره ډېر زېورات وه او له ډېرو کالو څخه یې د هغه زکات اداء کړي نه وو بیا یې ټول زېورات د زکات په نیت یو چندې والا ته ورکړل نو ایا د ټولو کالو زکات اداء سو او که نه؟

الجواب: د ټولو زېوراتو د زکات په نیت ورکولو سره د تېرو ټولو کالو زکات هم اداء سو.

په هدایه کي راځي:

من تصدق بجميع ماله لاينوي الزكاة سقط فرضها عنه استحسانا لأن الواجب جزء منه فكان متعينا فيه فلا حاجة إلى التعيين. (الهداية: ١/ ١٨٨، كتاب الزكاة).

په شرح عنایه کي راځي:

فلو تصدق بالجميع سقط الجميع. (شرح العناية على هامش فتح القدير: ٢/ ١٧٠، كتاب الزكاة، دار الفكر).

پہ فتاوی هندیه کي راځي:

ولو دفع جميع النصاب إلى الفقير ينوي به.... يقع عما نوى. (الفتاوى الهندية:١/ ١٧١، كتاب الزكاة). والله ﷻ اعلم.

د زېوراتو په زکات کي د زېور يا د سرو زرو د ورکولو حکم

سوال: که چیري یوه سړی د زېوراتو زکات ورکوي نو د وزن په اعتبار سره دې اداء کي او که د قیمت په اعتبار سره؟

الجواب: که چیري یو سړی د سرو زرو زکات په سرو زرو سره اداء کول غواړي نو د قیمت اعتبار نه کیږي بلکه د وزن په اعتبار سره اداء کول يې په کار دي، مثلا په څلوېښت تولې کي یوه توله اداء کول او په هغه کي د جوړښت اعتبار نه کیږي او که چیري خلاف جنس اداء کول غواړي نو د ټولو زېوراتو قیمت وباسه او د هغه څلوېښتمه حصه اداء کړه.

پہ فتاوی شامي کي راځي:

أنه لو أدى من خلاف جنسه اعتبرت القيمة. (الشامي:٢/ ٢٩٧، سعيد).

پہ البحر الرائق کي راځي:

فلو أدى من خلاف جنسه تعتبر القيمة بالإجماع. (البحر الرائق:٢/ ٢٢٧، باب زكاة المال، كوئتة - وكذا في تبيين الحقائق:١/ ٢٧٨ - والفتاوى الهندية:١/ ١٧٩).

پہ فتاوی محمودیه کي راځي:

په سرو او سپینو زور کي قیمت نه کیږي بلکي د وزن اعتبار کیږي که چیري دوو سوه تولو د سپینو زرو زېور وي نو زکات پنځه تولې لازمیږي. (فتاوی محمودیه:٩/ ٣٧٨، مبوب مرتب).

دغه ډول ذکر سوی دي، که چیري په زکات کي سپین زر نه ورکوي او د هغه قیمت ورکوي نو په کوم قیمت باندي چي هغه په بازار کي خرڅیږي د هغه قیمت اعتبار کیږي. (فتاوی محمودیه:٩/ ٣٧٩، مبوب ومرتب). د زیات تفصیل له پاره لاندي کتابونه وګورئ: (کتاب

الفتاوی:۳/ ۳۷۹، از مولانا خالد سیف الله، اپ که مسائل اوران کا حل:٣/ ٣٦٤، امداد الفتاوی:٢/ ٤٩).

والله ﷻ اعلم.

د کال تر پوره کېدو د مخه د زکات د اداء کولو حکم

سوال: د کال تر پوره کېدو د مخه زکات اداء کول صحیح دي او که نه؟

الجواب: د زکات خاوند که چیري د کال تر پوره کېدو د مخه زکات اداء کړي نو زکات یې اداء کیږي.

په درمختار کي راځي:

ولو عجل ذو نصب زكاة لسنين أو لنصب صح لوجود السبب. (الدر المختار:٢/ ٢٩٣، كتاب الزكاة، سعيد).

په فتاوی هندیه کي راځي:

ويجوز تعجيل الزكاة بعد ملك النصاب، ولا يجوز قبله كذا في الخلاصة . وإنما يجوز التعجيل بثلاثة شروط: أحدهما أن يكون الحول منعقدا عليه وقت التعجيل، والثاني أن يكون النصاب الذي أدى عنه كاملا في آخر الحول . والثالث أن لا يفوت أصله فيما بين ذلك فإذا كان له النصاب من الذهب أو الفضة أو أموال التجارة أقل من المائتين فعجل الزكاة ثم كمل النصاب أو كانت له مائتا درهم أو عروض للتجارة قيمتها مائتا درهم فتصدق بالخمسة عن الزكاة وانتقص النصاب حتى حال عليه الحول والنصاب ناقص أو كان النصاب كاملا وقت التعجيل ثم هلك جميع المال صار ما عجل به تطوعا هكذا في شرح الطحاوي، وكما يجوز التعجيل بعد ملك نصاب واحد عن نصاب واحد يجوز عن نصب كثيرة كذا في فتاوى قاضي خان . فلو كان عنده مائتا درهم فعجل زكاة ألف فإن استفاد مالا أو ربح صار ألفا ثم تم

الحول وعنده ألف فإنه يجوز التعجيل وسقط عنه زكاة الألف ، وإن تم الحول ، ولم يستفد شيئا ثم استفاد فالمعجل لا يجزئ عن زكاتها فإذا تم الحول من حين الاستفادة كان له أن يزكي كذا في البحر الرائق، ويجوز التعجيل لأكثر من سنة لوجود السبب كذا في الهداية .

(الفتاوى الهندية:١/ ١٦٧، الباب الأول فى صفة الزكاة). والله ﷻ اعلم.

د ښځي له پاره د زېوراتو د زکات د اداء کولو حکم

سوال: يوه ښځه طلاق کړل سوې ده او د هغې سره خالي زېورات دي چې هغه د زکات تر نصاب زيات دي او د هغې سره نوري روپۍ نه سته نو هغه زکات څنګه بايد اداء کړي؟

الجواب: په پوښتل سوي صورت کي له ښځي سره تر نصاب زيات زېورات دي نو ځکه زکات ورکول لازم دي او که چيري له دې سره نغدي پيسې نه وي نو په هره مياشت کي دي لږ لږ پيسې اداء کړي بيا د زېوراتو د خرڅولو هيڅ ضرورت نه سته.

په ترمذی شريف کي راځي:

عن عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده : أن امرأتين أتتا رسول الله ﷺ وفي أيدهما سواران من ذهب، فقال لهما: أتؤديان زكاته ؟ قالتا: لا، قال فقال لهما رسول الله ﷺ : أتحبان أن يسوركما الله بسوارين من نار، قالتا: لا، قال :فأديا زكاته. (ترمذي شريف:١/ ١٣٨، باب ماجاء فی زكاة الحلی، فيصل).

په کفايت المفتي کي راځي:

ښځه د خپل زېور او د واده د سامان مالکه ده او د هغې پر ذمه د دغو شيانو زکات واجب دئ څنګه چي له هغې سره د زکات د اداء کولو له پاره روپۍ نه وي نو ځکه له خاوند څخه يې اخلی او زکات اداء کوي يا د هغې په امر او اجازه سره يې خاوند اداء کوي که چيري يې خاوند اداء نه کړي او نه پيسې ورکړي نو پر ښځه واجب ده چي هغه خپل دغه سامان خرڅ کړي او زکات يې اداء کړي ځکه چي واجب د هغې پر ذمه دئ. (کفايت المفتی:٤/ ٢٦٦، کتاب الزکات اول باب، دار الاشاعت چاپ).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

کوم زېور چي د ښځي په ملکیت او قبضه کي دي او د نصاب په اندازه دي د دې زکات د دې ښځي پر ذمه واجب دئ او که چیري یې د هغې خاوند احساناً د هغې له طرفه اداء کړي یا ښځه له هغه ځخه پیسې واخلي او اداء یې کړي یا خاوند چي کوم خرڅ هغې ته ورکوي له هغه ځخه یې اداء کړي نو دا روا ده او که نور هیڅ نه سي کولای نو بیا به دغه ښځه له خپلو زېورو ځخه زکات اداء کوي. (فتاوی دار العلوم دیوبند:٦/ ٢٨٥، مدلل ومکمل، چاپ دار الاشاعت).

په بل ځای کي راځي:

که چیر د اداء له پاره یو صورت نه وو نو خامخا داسي کیږي چي د زېوراتو یو ځه حصه د زکات په اندازه په زکات کي ورکول کیږي او دا د الله ﷻ فرض دئ. (فتاوی دار العلوم دیوبند:٦/ ١٠٩، مدلل ومکمل، چاپ دار الاشاعت).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

په لږ لږ ورکولو سره هم زکات اداء کیږي. (فتاوی محمودیه:٩/ ٤٦٦، مبوب ومرتب، جامعه فاروقیه).

په آپ کی مسائل اور ان کا حل نومي کتاب کي راځي:

ښځه دي یا د جیب خرڅ ځخه زکات اداء کړي او یا دي د زېوراتو یو حصه په زکات کي ورکړي.

(اپ کی مسائل اور ان کا حل:٣/ ٣٤٥). والله تعالیٰ اعلم.

په قسط د زکات د اداء کولو حکم

سوال: که چیري یوه سړي د زکات پیسې پر یوه ځای اداء نه کړې بلکي میاشت پر میاشت یې په قسط سره اداء کول غواړي نو د داسي کولو ځه حکم دئ؟

الجواب: د زکات پیسې په قسطو سره اداء کول هم درست دي او په دې سره زکات اداء کیږي.

په درمختار کي راځي:

وشرط صحة أدائها نية مقارنة له أي للأداء ولو حكما أو مقارنة بعزل ما وجب كله أو بعضه. (الدر المختار:۲/ ۲۷۰، سعید).

په کتاب الفتاوی کي راځي:

د زکات د اداء کولو له پاره شریعت ډېري اسانی ایښي دي، پر نصاب د کال د تېریدو تر مخه هم زکات اداء کولای سي او د کال تر تېریدو وروسته هم د مواقع او حالاتو په اعتبار سره په تاخیر سره اداء کېدلای سي مګر کوښښ کول په کار دي چي حتی الامکان ژر تر ژره زکات اداء سي، همدا ډول زکات پر یوه ځای هم ورکولای سي او په قسطو یې هم ورکولای سي، نو ځکه هر میاشت د سلو (۱۰۰) روپیو په لحاظ زکات اداء کول هم کافي دي. (کتاب الفتاوی: ۳/ ۳۲۳، چاپ زمزم).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

ټولي پیسې په یوه وار په روژه کي مصرفول ضروري نه دي بلکي په لږ لږ اداء کولو سره هم زکات اداء کیږي. (فتاوی محمودیه:۹/ ٤٦٧، مبوب ومرتب). والله ﷻ اعلم.

د زکات د پیسو په حواله کولو سره د زکات حکم

سوال: که څیري یو سړی د زکات روپۍ حواله کړي نو زکات اداء کیږي او که نه؟

الجواب: په پوښتل سوي صورت کي وفقیر ته د زکات د پیسو د حواله کولو سره زکات اداء کیږي (د حواله کونکي په حواله سره زکات اداء کیږي) که څیري په دې منځ کي هلاکي سوې نو دوهم وار زکات لازم نه دئ.

په فتاوی رحیمیه کي راځي:

د زکات پیسې په حواله لیږلای سي ځکه چي دا مجبوري ده. (فتاوی رحیمیه:٥/ ١٦٤).

په امداد الفتاوی کي راځي:

في الدر المختار مسائل متفرقة من كتاب الهبة: تمليك الدين ممن ليس عليه الدين باطل إلا في ثلاث: حوالة أو وصية وإذا سلطه أي سلط المملك غير المديون على قبضه أي الدين

فیصح حینئذ ومنه ما ولو وهبت من ابنها علی علی أبیه فالمعتمد الصحة للتسلیط **له دې جزیې «ومنه ما لو وهبت......» څخه دا معلومه سوه چي د تسلیط په صورت کي فی الحال ملکیت حاصلیږي که نه صحت به په تسلیط سره معلل سوي نه وای ځکه چي د قبضې حسي په وخت کي د هبې په صورت کي هیڅ شک نه سته بیا په دې کي د صحت د ترجیح هیڅ معنا نه سته، له دې څخه دا ثابته سوه چي تسلیط خپله تملیک دئ، که څه تر قبضې د مخه د دغه تسلیط څخه معزوله کول هم روا دي ځکه عقد تام نه دئ، چي کله تسلیط تملیک سو او د تملیک پر وخت د اداء نیت کافي دئ، په حواله کولو سره یقیني تسلیط دئ نو ځکه د حوالې د روانی په وخت کي نیت کافي دئ.** (امداد الفتاوی:۲/ ۲۵، داریه اداری کات په ذریعه د حوالی).

په ایضاح المسائل نومي کتاب کي راځي:

که چیري د زکات پیسې فقیر ته ورحواله کړل سي نو د زکات په نیت په حواله کولو سره زکات اداء کیږي، نو ځکه که بیا چیري په منځ کي یو ځای هلاک سوې نو دوهم وار زکات لازم نه دئ.

(ایضاح المسائل:صـ ۱۲۱) والله تعالیٰ اعلم.

د زکات پیسې د ګټې په کار کي د لګولو څخه د زکات د اداء کېدلو حکم

سوال: د زکات پیسې یو د ګټې په کار لګول او د هغه پیسې او ګټه پر فقیرانو تقسیم کول دا روا دي او که نه؟

الجواب: په پوښتل سوي صورت کي څرنګه چي د فقیر ملکیت رانه غلئ او په زکات کي د فقیرانو ملکیت ضروري دئ نو ځکه دا صورت ناروا دئ او په دې سره زکات نه اداء کیږي همدا ډول په دې کي په لاندي ډول خرابی هم سته.

۱_ زکات ژر تر ژره د کال تر ختمېدلو د مخه تقسیمول په کار دي، حال دا چي په دغه صورت کي د زکات مال بند سو او دغه ډول دا شبه هم سته چي یو څه وخت وروسته د کار خاني د کار کوونکو وارثان دا خپل وراثت وګڼي او په خپل منځ کي یې تقسیم کړی.

۲_ په زکات کي ملکيت يو حقيقت او ښکاره خبره ده او ﴿ وآتوا الزكاة ﴾. (اد وا زكاة أموالكم. (ترمذى: ۱/ ۱۳۳).

د دې پر ته فقهاوو د زکات په مال سره د مسجد جوړل يا تکفين او نور کول منع کړي دي ځکه چي په دغو شيانو کي تمليک نه سته.

په بدائع الصنائع کي راځي:

وقد أمر الله تعالى الملاك بإيتاء الزكاة لقوله عزو جل: ﴿ وآتوا الزكاة ﴾ والإيتاء هو التمليك ؛ ولذا سمى الله تعالى الزكاة صدقة بقوله عز وجل: ﴿ إنما الصدقات للفقراء .... ﴾ والتصدق تمليك. (بدائع الصنائع: ۲/ ۳۹، سعيد).

په فتح القدير کي راځي:

ولا يبنى بها مسجد ولا يكفن بها ميت، لانعدام التمليك وهو الركن، فإن الله تعالى سماها صدقة، وحقيقة الصدقة تمليك المال من الفقير. (فتح القدير: ۲/ ۲٦۷، دار الفكر - وكذا فى العناية شرح الهداية: ۲/ ۲٦۷، دار الفكر).

په درمختار کي راځي:

وافتراضها عمرى أى على التراخى، وصححه الباقانى وغيره، وقيل فورى أى واجب على الفور وعليه الفتوى، كما فى شرح الوهبانية. (الدر المختار: ۲/ ۲۷۱، سعيد).

په بهشتي زيور کي راځي: چي کله پر مال کال تېر سي نو فوراً دي زکات اداء کړي او په نيک کار کي تاخير کول ښه نه دئ. (بهشتى زيور، حصه ۳/ صفحه ۲۷).

زيات تفصيل لاندي کتابو کي وګورئ: (شامي: ۲/ ۳٤٤، سعيد چاپ، الفتاوى الهنديه: ۱/ ۱۸۸، تبين الحقائق: ۱/ ۳۰۰، كتاب الفتاوى: ۳/ ۳۰۰، فتاوى رحيميه: ۲/ ۸).

فقير ته د قرض په شكل د زكات د مال د وركول څخه د زكات د اداء كېدلو حكم

سوال: كه چيري يوه سړي د زكات پيسې وفقير ته د قرض په شكل وركړې چي په هغه كي د قرض پيسې اخيستل مطلوب وي نو زكات اداء سو او كه نه؟

الجواب: په پوښتل سوي صورت كي د نه ملكيت په سبب زكات ادا نه سو.

په بدائع الصنائع كي راځي:

وقد أمر الله تعالى الملاك بإيتاء الزكاة لقوله عزو جل: ﴿وآتوا الزكاة﴾ والإيتاء هو التمليك؛ ولذا سمى الله تعالى الزكاة صدقة بقوله عز وجل: ﴿إنما الصدقات للفقراء ....﴾ والتصدق تمليك. (بدائع الصنائع:۲/ ۳۹، سعيد).

په فتح القدير كي راځي:

ولا يبنى بها مسجد ولا يكفن بها ميت، لانعدام التمليك وهو الركن، فإن الله تعالى سماها صدقة، وحقيقة الصدقة تمليك المال من الفقير. (فتح القدير:۲/ ۲٦۷، دار الفكر - وكذا فى العناية شرح الهداية:۲/ ۲٦۷، دار الفكر).

په فتاوى رحيميه كي راځي:

د زكات پيسې فقير ته د قرض په شكل د وركولو اجازه نه سته تر څو چي ضرورت مند فقير د دې مالك نه سي جوړ زكات نه اداء كيږي. (فتاوى رحيميه:۳/ ۲۰۳، وفتاوى دار العلوم ديوبند:٦/ ۱۹۵).

والله تعالى اعلم.

د زكات د اداء كولو د وكيل جوړولو وروسته د پيسو د بيرته اخيستلو حكم

سوال: زيد وعمر ته د زكات پنځوس زره نغدي روپۍ وركړې چي فقيرانو ته يې ورسوه نو عمر تر اوسه زكات نه وو تقسيم كړى يا يې يو څه تقسيم كړى وو چي زيد وعمر ته وويل پيسې بيرته راكړه، زه يې په خپله تقسيموم او عمر د وركولو څخه انكار وكړ ايا زيد دغه پيسې بيرته اخيستلاى سي او كه نه؟

الجواب: په پوښتل سوي صورت کي که چيري زيد عمر د زکات له پاره وکيل جوړ کړی وو او د زکات تر اداء کولو د مخه يې هغه معزول کړی نو عمر معزول سو او اوس دي زيد پيسې خپله واخلي او په خپله دي زکات اداء کړي.

په فتاوی هنديه کي راځي:

که چيري يو سړی د دوو سو درهمو زکات پنځه درهم وکيل ته ورکړي، وکيل تر اوسه اداء کړي نه دئ بيا ورته معلومه سوه چي له ورکونکي سره له دوو سوو څخه يو درهم کم دئ يعنی د هغه زکات نه اداء کوي نو ورکونکی دوباره پنځه درهم له وکيل څخه اخيستلای سي مګر که چيري وکيل يې وفقير ته ورکړي بيا ورکونکي ته دا حق نه سته چي له وکيل څخه يې طلب کړي. رجل أدى خمسة من المائتين بعد الحول إلى الفقير، أو إلى الوكيل لأجل الزكاة، ثم ظهر فيها درهم ستوقة لم تكن تلك الخمسة زكاة لنقصان النصاب، وإذا أراد أن يسترد الخمسة من الفقير ليس له ذلك، وله أن يسترد من الوكيل إن لم يتصدق بها، هكذا في فتاوى قاضي خان.

(الفتاوى الهندية: ۱/ ۱۷۲).

نو معلومه سوه چي که چيري مال د صدقې په نيت وفقير ته ورکړل سي نو پيا بيرته نه راګرځي او کوم چي يې وکيل ته ورکړی دئ هغه بيرته راګرځي، مګر که يې چيري د مدرسې ناظم ته يا عامل ته ورکړي هغه بيرته نه راګرځي ځکه چي هغه د فقيرانو هم وکيل دئ نو ځکه که چيري د عامل په لاس کي هلاک سوې نو زکات اداء کيږي. ولو هلک المال فی يد العامل أوضاع سقط حقة وأجزأ عن الزكاة. (هندية: ۱/ ۱۸۸).

وفی الدر المختار: لايخرج عن العهدة بخلاف ما إذا ضاعت فی يد الساعی، لأن يده كيد الفقراء. (الدر المختار مع الشامی: ۲/ ۲۷۰، سعيد - وكذا فی امداد المفتين: جلد دوم ص ۱۰۸۵ - وامداد الفتاوى: ۳/ ۳۱۶ - وجديد فقهی مسائل: ۱/ ۲۲۷).

مګر فقهاوو دا مسئله لیکې ده چې یوه سړي وویل چې زه د فلاني له طرفه د پوره د وصول کولو وکیل یم او پور وړي له وکالت څخه انکار وکړئ او پور یې ورکړئ بیا هم پوره وړي دغه پیسې له وکیل څخه دوباره نه سي اخیستلای.

په درمختار کي راځي:

ادعى أنه وكيل عن الغائب بقبض دينه وفصدقه الغريم أمر بدفعه إليه ..... وكذا إذا لم يصدقه على الوكالة ودفع له ذلك على زعمه .... وفي الوجوه كلها الغريم ليس له الاسترداد حتى يحضر الغائب. (الدر المختار:٥/ ٥٣٢، سعيد).

په تکمله فتح القدير کي راځي:

« وفي الوجوه كلها » يعني الوجوه الأربعة المذكورة وهي: (١) دفعه مع التصديق من غير تضمين (٢) ودفعه بالتصديق مع التضمين، (٣) ودفعه ساكتا من غير تصديق ولا تكذيب، (٤) ودفعه مع التكذيب. ليس للغريم أن يسترد المدفوع حتى يحضر الغائب؛ لأن المؤدى صار حقا للغائب، إما ظاهرا وهو في حالة التصديق أو محتملا وهو في حالة التكذيب، كذا في عامة الشروح .(تكملة فتح القدير:٨/ ١٢٨، دار الفكر).

په ذکر سوي لوړو عباراتو کي د پور او د زکات د مسئلو تر منځ فرق ښکاره کیږي هغه داسي چي په پوره کي یې مدیون له وکیل څخه بیرته نه سي اخیستلای ځکه چي د داین حق قوي او مضبوط دئ او په زکات کي یې ورکونکی له وکیل څخه اخیستلای سي ځکه چي د فقیر حق مضبوط نه دئ او تر فقیره پوري په رسولو سره ثابتیږي، هو که چیري د دواړو له طرفه څخه وکیل وو نو بیا یې هم له وکیل څخه نه سي اخیستلای. والله تعالیٰ اعلم.

د زکات تر واجبېدلو وروسته پر مړه سوي د زکات د اداء کېدلو حکم

سوال: که چیري پر یو چا زکات واجب وو او تر اداء کولو د مخه یې هغه مړ سو ایا تر وفات مړه وروسته د هغه له مال څخه زکات ورکول کیږي او که نه؟

الجواب: د دې پوښتل سوي مسئلې څو صورتونه دي:

۱ _ زکات واجب وو او تر اداء کولو د مخه مړ سو نو د دغه له مال څخه تر مرګ وروسته زکات نه ورکول کیږي ځکه چي د زکات له پاره نیت شرط دئ او دلته نیت موجود نه دئ.

په فتاوی هندیه کي راځي:

إذا مات من علیه الزکاة سقطت الزکاة بموته، کذا في المحیط. (الفتاوی الهندیة:۱/ ۱۷٦).

په درمختار کي راځي:

وشرط صحة أدئها نیة مقارنة له أي للأداء ولو حکما. (الدر المختار:۲/ ۲٦۸، سعید).

۲ _ که چیري مړي وصیت کړی وو چي زما له مال څخه زکات اداء کړئ او د زکات مقدار تر ثلث کم یا ورسره برابر وي نو پر وارثانو باندي زکات اداء کول لازم دي.

۳ _ تر مرګ د مخه یې د زکات پیسې جلا کړې یا یې وکیل ته ورکړې بیا تر اداء د مخه مړ سو که چیري مړي وصیت کړی وو نو د ټول مال له دریمي حصي څخه اداء کیږي او که یې چیري وصیت کړی نه وو نو جلا سوي روپۍ په میراث کي ګډیږي او پر وارثانو تقسیمیږي ځکه چي د مؤکل په مرګ سره وکیل معزول سو نو ځکه اوس د وکیل تصرف نه صحیح کیږي. (مستفاد از حسن الفتاوی:٤/ ۲٦٥).

په درمختار کي راځي:

ولو مات فأداها وارثه جاز، وفي الشامی« جاز » في الجوهرة إذا مات من علیه زکاة، أو فطرة أو کفارة أو نذر لم تؤخذ من ترکته عندنا، إلا أن یتبرع ورثته بذلك وهم من أهل التبرع ولم یجبروا علیه، وإن أوصی تنفذ من الثلث. (الشامی:۲/ ۲٥۹، سعید).

همدا ډول راغلي دي:

لا يخرج عن العهدة بالعزل بل بالأداء للفقراء أو تصدق بكله، وفي الشامي: فلو ضاعت لا تسقط عنه الزكاة ولو مات كانت ميراثا عنه. (شامي:۲/ ۲۷۰،سيعد).

۴_ او که چیري مړي د زکات نیت کړی نه وو مګر بالغ وارث له خپلې حصې څخه دخپل مړه مورث زکات اداء کوي نو امید سته چي الله ﷻ یې قبول کړي او د هغه ذمه خلاصه سي.

په فتاوی شامي کي راځي:

إلا أن يتبرع ورثته بذلك وهم من أهل التبرع، ولم يجبروا عليه. (شامي:۲/ ۲۵۹، سعيد).

په کتاب الفتاوی کي راځي:

که چیري پر یو چا زکات واجب وو، نه هغه په خپله اداء کړئ او نه یې وصیت وکړئ نو د هغه پر وارثانو د زکات اداء کول واجب نه دي مګر اخلاقي او احساني حکم دا دئ ترڅو چي ممکن وي وارثان دي د هغه له طرفه د زکات د اداء کولو کوښښ وکړي ممکن الله ﷻ د دې په سبب و هغه ته مغفرت وکړي. (وما ذلک علی الله بعزیز). (کتاب الفتاوی:۳/ ۳۳۶). والله تعالی اعلم.

د زوی له طرفه د زکات د اداء کولو له پاره د صریحي اجازې حکم

سوال: یو سړی د خپل زوی له طرفه له څو کالو راهیسي زکات اداء کوي او زوی ته معلومه ده خو صراحةً اجازه نه ورکوي نو ایا زکات اداء سو او که نه؟

الجواب: په پوښتل سوي صورت کي د زوی له طرفه زکات اداء کیږي ځکه چي نفس اجازه ضروري ده هغه که صراحةً وي او که عرفاً وي او که سابقاً وي هره یوه اجازه بلل کیږي لکه څنګه چي د قرباني په باب کي فقهاوو فرمایلي دي، البته که صریحه اجازه واخلي په دې کي احتیاط دئ لکه څنګه چي دا د نورو فقهاوو قول دئ.

په هدایه کي راځي:

(ولایودی عن زوجته...... ولا عن أولاده الكبار وإن كانوا في عياله) لانعدام الولاية، ولو أدي عنهم أو عن زوجته بغير أمرهم أجزأه استحسانا لثبوت الإذن عادة .(الهداية:١/ ٢٠٩، باب صدقة الفطر).

په فتاوى هنديه كي رائحي:

ولا يؤدي عن زوجته ، ولا عن أولاده الكبار ، وإن كانوا في عياله ، ولو أدى عنهم أو عن زوجته بغير أمرهم أجزأهم استحسانا كذا في الهداية، وعليه الفتوى كذا في فتاوى قاضي خان .

(الفتاوى الهندية:١/ ١٩٣).

په فتاوى قاضي خان كي رائحي:

وليس على الرجل أن يضحى عن أولاده الكبار وامرأته إلا.بإذنهم، وعن أبى يوسف رحمة الله عليه انه يجوز بغير أمر هم استحسانا. (فتاوى قاضى خان:٣/ ٣٤٥).

په فتاوى شامي كي رائحي:

ولو ضحى عن أولاده الكبار وزوجته لا يجوز إلا بإذنهم وعن الثاني أنه يجوز استحسانا بلا إذنهم...... ولعله ذهب إلى أن العادة إذا جرت من الأب فى كل سنة صار كالإذن منهم .... فإن كان على هذا الوجه فما استحسنه أبو يوسف مستحسن. (شامى:٦/ ٣١٥، كتاب الاضحية، سعيد – وكذا فى الفتاوى البزازية على هامش الهندية:٦/ ٢٩٥، فصل السابع فى التضحية عن الغير). والله تعالى اعلم.

د اختري یا د قربانۍ غوښې په زکات کې د ورکولو حکم

سوال: د قربانۍ غوښې یو چا ته د زکات په نیت ورکول روا دي او که نه؟

الجواب: د قربانۍ غوښې د زکات په نیت ورکول روا نه دئ، ځکه چې په دغو غوښو یوه ذمه داري اداء سوې ده او دوهمه ذمه نه سي په اداء کېدلای. دا د مستعملو اوبو په شکل دي همدا ډول زکات د الله ﷻ له طرفه پور دئ او په پور او یا بله معاوضه کې د قربانۍ غوښې ورکول ورا نه دي.

په فتاوی شامي کې راځي:

وإذا رفع اللحم إلى فقير بنية الزكاة لايحسب عنها في ظاهر الرواية. (شامی:۲/ ۳۲۸، سعید).

په بدائع الصنائع کې راځي:

ولا أن يعطي أجر الجزار والذابح لما روي عن رسول الله ﷺ أنه قال: [من باع جلد أضحيته فلا أضحية له] وروي أن النبي ﷺ قال لعلي رضي الله عنه: تصدق بجلالها وخطامها ، ولا تعطي أجرا لجزار منها، وروي عن سيدنا علي كرم الله وجهه أنه قال : إذا ضحيتم فلا تبيعوا لحوم ضحاياكم...... (بدائع الصنائع:۵/ ۸۱، سعید). والله ﷻ اعلم.

د پوره وړي له خوا داین ته د زکات د پیسو د ورکولو حکم

سوال: که چیري پر یوه سړي قرض وو او د زکات مستحق هم وو او هغه ته یوه سړي وویل چې زه ستا قرضه اداء کوم او داین ته یې د پور وړي (مدیون) له طرفه روپۍ ورکړې نو زکات اداء سو او که نه؟

الجواب: په پوښتل سوي صورت کې دي دائن مدیون خبر کړي چې فلانی سړي زما له طرفه زکات اداء کوي وته یې زما له طرفه شخه وصول کړه نو په دې صورت کې داین اول وار د مدیون له طرفه قبضه کوي نو زکات اداء کیږي او کله چې تصرف پکښې وکړي نو دا به د ضمان قبضه وي نو ځکه قرض هم اداء کیږي.

په فتاوی شامي کې راځي:

والأصل أن القبضين إذا تجانسا أحدهما عن الآخر ، وإذا تغايرا ناب الأعلىٰ عن الأدنى لا عكسه القبضين الوديعة مع قبض الهبة يتجانسان لأنهما قبض أمانة ومع قبض الشراء يتغايران، لأنه قبض ضمان فلاينوب الأول عنه. (شامي:٥/ ٦٩٤، كتاب الهبه، سعيد).

مګر د امانت له قبضې څخه په تصرف کولو سره قبضه د ضمان جوړيږي.

په هدايه کې راځي:

وإن خلطها المودع بماله حتى لايتميز ضمنها. (الهدية:٣/ ٢٧٣).

په شرح مجله کې راځي:

ولو أنفق الوديع يعني الوديعة ثم رد مثله وخلطه بالباقي خلطا لايتميز معه ضمن الكل (تنوير) أي فيضمن البعض بالإنفاق والبعض بالخلط (طحطاوى). (شرح المجلة:١/ ٤٣٨، بيروت).

همدا ډول په بل ځای کې ذکر دي:

لو كان المبيع فى يد المشترى عارية أو وديعة أورهنا ثم اشتراه من مالكه لايصير قابضا بمجرد العقد لأن قبض العارية والوديعة والرهن قبض أمانة ولاينوب عن قبض الشراء لأن قبض الشراء مضمون بنفسه ولكن لوفعل المشترى فى فصل الوديعة والعارية ما يكون قابضا منه ثم أراد البائع أخذ المبيع ليحبسه بالثمن لم يكن له ذلك. (شرح المجلة:١/ ٤٣٨).

په فتاوى شامي کې راځي:

ومنه لو غصب شيئا ثم اشتراه صار قابضا بخلاف الوديعة والعارية إلا إذا وصل إليه بعد التخلية. (شامى:٤/ ٥٦١، مطلب فى حبس المبيع لقبض الثمن، سعيد).

د شامي له عبارت څخه معلومیږي که چیري د مودع په لاس کي ودیعت خرڅ کړل سي او تخلیه یې وکړه بیا چي کله د هغه لاس ته ورغله هغه تصرف پکښې وکړئ نو د مودع قبضه صحیح ده. نو دلته هم چي کله داین د قبضې کولو له پاره د مخه تصرف وکړي نو قبضه یې صحیح ده.

نو ځکه په پوښتل سوي صورت کي هم د داین قبضه اول د فقیر له طرفه قبضه وکالتي او نیابتي وه نو چي کله هغه په خپله قبضه ایږدي او پر هغه باندي تصرف کوي، نو د مخکنۍ وعدې په سبب قرض وصول کونکی جوړیږي او هغه وکالتي او نیابتي قبضه اوس اصلي قبضه یعنی د خپل ځان له پاره قبضه سوه او د مالدار زکات هم اداء سو او د مقروض فقیر قرضه هم اداء سوه.

مګر ښه او غوره دا ده چي د دائن ښځه د مدیون له طرفه څخه وکیل بالقبضه جوړه سي او تر قبض وروسته دې وخاوند ته ورکړي.

په الاشباه والنظائر کي راځي:

أويو كل المديون خادم الدائن بقبض الزكاة ثم بقضاء دينه فيقبض الوكيل صار ملكا للمؤكل. (الاشباه والنظائر: كتاب الحيل، ص ٤٢٨). والله ﷻ اعلم.

د قرض په نامه زکات ورکولو او د فقیر له طرفه یې د بېرته واپس کولو حکم

سوال: یوه سړي فقیر ته زکات ورکړئ او د قرض په نامه یې ورکړئ چي زه تا ته قرض درکوم بیا فقیر هغه زکات دوباره مالک ته ورکړئ مګر مالک نه اخیستئ وفقیر په زور ورکړئ نو اوس دغه پیسې دوهم وار واجب التصدق دي او که نه، ځکه چي ظاهري خو زکات اداء سو؟

الجواب: کوم مال چي واجب التصدق وي نو د ورکونکي له پاره د هغه اخیستل روا نه دي که چیري فقیر یې په خپله ورکوي نو یو بل چا ته دې ورکي مګر په خپله دغه پیسې نه سي استعمالولای. په هر صورت کي چي وي زکات اداء سو.

په فتاوی هندیه کي راځي:

ومن أعطى مسكينا درهما وسماها هبة أو قرضا ونوى الزكاة فإنها تجزئه في الأصح. (الفتاوى الهندية: ١/ ١٧١).

په درالمحتار کي راځي:

إنه لا اعتبار للتسمية فلوسماها هبة أو قرضا تجزئه في الأصح. (ردالمحتار:۲/ ۲۶۸، سعيد).

په فتاوی هنديه کي راځي:

فهي تمليك المال من فقير مسلم غير هاشمي ولا مولاه بشرط قطع المنفعة عن المملک من كل وجه لله تعالى، هذا في الشرع كذا في التبيين. (الفتاوی الهندية:۱/ ۱۷۰).

په امداد الاحکام نومي کتاب کي راځي:

که چیري زید له عمر څخه د هغه د قرض غوښتنه وکړه او دا يې ونه ویل چي دا د قرض روپۍ نه دي بلکي دا د هبې روپۍ دي نو زکات په سبب د نیت د زکات اداء کیږي مگر دغه پیسې بیا له عمر څخه اخیستل روا نه دي ځکه چي په دغه صورت کي دا بالکل عود فی الصدقه دئ (دوباره له هغه سړی څخه اخیستل دي) که چیري زید دغه پیسې له عمر څخه واخیستې نو پر ده لازمه ده چي په یو حیله يې دوباره عمر ته ورکړي که نه نو د زکات په اداء کي شبه پاته سوه. قال في الشامية تحت قول الدرر: وشرط صحة أدائها نية مقارنة له أي للأداء ما نصه أشار إلى أنه لااعتبار لتسمية فلو سماها هبة أو قرضا تجزيه على الأصح. شامی:۲/ ۲۶۸ – (امداد الاحکام:۲/ ۱۰ – وفتاوی رحیمیه:۳/ ۱۱۲ – واحسن الفتاوی:٤/ ۲٦۳). والله تعالی اعلم.

د فقير سره د زکات شی دئ د هغه تر مالداری وروسته د هغه شي د استعمال حکم

سوال: که چیري يو سړی فقير وو او هغه ته یو چا په زکات کي يو شی ورکړئ چي هغه شی استعمالوي، وروسته هغه فقير مالداره سو نو تر مالداری وروسته هغه دا شی استعمالای سي او که نه؟ ښکاره خو داسي دا معلومیږي چي باید استعمال يې نه کړي ځکه چي هغه اوس د نصاب خاوند دئ؟

الجواب: د نصاب تر خاوند کېدول وروسته هم هغه دغه شی استعمالولای سي.

په هدایه کي راځي:

إنه لاخبث فى نفس الصدقة وإنما الخبث في فعل الآخذ لكونه إذلالا به ولايجوز ذلك للغني من غير حاجة وللهاشمي لزيادة حرمته والأخذ «أى أخذ الصدقات » لم يوجد من المولى فصار كابن السبيل إذا وصل إلى وطنه والفقير إذا استغنى وقد بقي في أيديهما ما أخذا من الصدقة فإنه يطيب لهما. (الهداية:۳/ ۳۳۹، كتاب المكاتب، باب موت المكاتب وعجزه). والله ﷻ اعلم.

له فقير سره د زكات شيان دي د مالدار له پاره د هغو د استعمال حكم

سوال: ډېر ځله د فقير لاس ته د زكات شيان راسي مثلا كتابونه، لوښي او داسي نور شيان او د هغه كور ته مالداران خلک راځي نو دغه مالداران دغه شيان استعمالولای سي او كه نه يعني دا روا دي او كه نه؟

الجواب: د هدايې د دريم جلد كتاب المكاتب له عبارت څخه معلوميږي چي د مالدار له پاره د دغو شيانو استعمال د تمليک په ډول روا دئ او د اباحت په ډول ناروا دئ لكه څنګه چي په سوال كي ذكر دي.

وګورئ په هدايه كي راځي:

وهذا بخلاف ما إذا أباح للغني وللهاشمي لأن المباح له يتناوله على ملك المبيح فلم يتبدل الملک فلا تطبيه. (الهداية:۳/ ۳۳۹).

مګر په دې كي ډېر تكليف دئ مثلا د يو چا په كور كي د زكات فرش هوار دئ نو دى به هغو ته وايي دلته مه كښېنئ دا د زكات دئ، دوهم دا چي د زكات مال ښكاره كول هم يو ډول ذلت بلل كيږي نو څكه په دغه مسئله كي د هدايې د شارح د مصنف سعدي چلپي رحمه الله ميلان د استعمال د جواز طرف ته سوى دئ، او د دې كتاب د مصنف ميلان هم وهمدې لوري ته دئ.

د هدايې مصنف ووايي، چي په صدقه كي خبث او خرابي نه سته بلكي د هغې په اخيستلو كي خرابي ده نو څكه هاشمي او مالدار ته د زكات اخيستل ذلت دئ نو حضرت مولانا سعدي چلپي

رحمه الله وايي، كه چيري مالدار د فقير په كور كي د زكات شی استعمال كړي نو دا روا ده ځكه چي د ملك په طريقه يې نه دئ اخيستئ بلكي خالي د استعمال له پاره يې اخيستی دئ. ولا يجوز ذلك للغني من غير حاجة وللهاشمي لزيادة حرمته. أقول: فعلى هذا لو أباح الفقير للغنى أو الهاشمي ينبغي أن يطيب لهما عنده، إذ لا أخذ منهما كما لا يخفى (تكملة فتح القدير مع حاشية سعدى چلپی:۹/ ۲۱٤، دار الفكر).

همدا ډول د زكات په مال كي د زكات لفظ ويل چي دا د زكات مال دئ ضروري نه ده نو ځكه مالداران يې هم استعمالولای سي او كه چيري يې استعمال ناروا نه وای نو بيا يې بايد دا ويل ضروري وای چي دا د زكات مال دئ حال دا چي داسي نه ده. والله تعالی اعلم.

ځينو علماوو مالدار ته د استعمال اجازه نه ده وركړې د هغوی جواب

سوال: ځيني مفتيان وايي چي د مالدار له پاره حلال نه دي لكه مفتي رشيد احمد لدهيانوي رحمه الله په احسن الفتاوی كي د عدم جواز قول ليكي دئ همدا ډول دا يې هم ويلي دي چي كومو حضراتو چي اجازه وركړې ده هغو تحقيق كړی نه دئ، د هغوی عبارت وګورئ، اجازه وركونكو د ليكلو په وخت كي و كتابو ته رجوع كړې نه ده. (احسن الفتاوی:٤/ ٢٥٩) د دې څه جواب دئ؟

الجواب: د عدم جواز د عباراتو تر روا والي وروسته چي كله په هغه كي تكليف او حرج محسوس سو نو د دې مقابل حضرت مولانا سعدی چپلي رحمه الله د جواز اظهار وكړئ، د دې عبارت په سبب موږ هم د جواز طرف ته ميلان ښكاره كئ همدا ډول د فتاوی تا تارخانيې عبارت هم ستاسو په خدمت كي دئ.

په فتاوی تاتارخانيه كي راځي:

الفقير إذا أباح للغنى عين ما أخذ من الزكاة من الطعام هل يحل له التناول؟ قال بعض المشايخ: يحل. وإليه مال شيخ الإسلام. (الفتاوى التاتار خانية:٢/ ٢٦٨، إدارة القرآن). والله تعالی اعلم.

خپل قرض بل چا ته دحوالو کولو په وخت کي د زکات په نیت دزکات د اداء کېدلو حکم

سوال: که چیري مقرض ومستقرض ته وویل چي زما قرض فلاني ته ورکړه او په هغه کي مقرض د زکات نیت وکړئ نو زکات اداء سو او که نه؟

الجواب: په پوښتل سوي صورت کي که چیري مقرض د قرض تر اداء کېدو دمخه دزکات نیت کړی وو نو زکات اداء کیږي.

په فتح القدیر کي راځي:

قال: أعطى رجلا دراهم ليتصدق بها تطوعا فلم يتصدق حتى نوى الآمر من زكاة ماله من غير أن يتلفظ به ثم تصدق المأمور جازت عن الزكاة. (فتح القدير: ۲/ ۱۷۰، دار الفكر).

په نتائج الافکار کي راځي:

بخلاف ما نحن فيه؛ لأن التوكيل بالقبض يثبت فيه بأمر الآمر، وأنه يسبق الشراء، وبخلاف ما إذا وهب الدين من غير من عليه الدين حيث تصح الهبة ويثبت الأمر من الواهب للموهوب له بالقبض في ضمن الهبة؛ لأن الملك يتوقف إلى زمان القبض فيكون التوكيل بالقبض سابقا على التمليك معنى. (وبخلاف ما إذا أمره بالتصدق) جواب عن قياسهما على الآمر بالتصدق ولم يذكر في الكتاب وقد ذكرناه في سياق دليلهما (لأنه) أي الآمر بالتصدق (جعل المال لله تعالى) ونصب الفقير وكيلا عن الله عز وجل في قبض حقه، كذا في الكافي وغيره (وهو معلوم) أي الله تبارك وتعالى معلوم فكان كتعيين البائع في المسألة الأولى، وأما مسألة التصادق في الشراء، بأن لا دين له عليه فلأن الدراهم والدنانير لا يتعينان في الشراء عينا أو دينا ولكن يتعينان في الوكالات، فلما لم يتعينا في الشراء لم يبطل الشراء ببطلان الدين،

كذا ذكره الإمام المرغيناني وقاضي خان. (نتائج الأفكار:٨/ ٦٢، باب الوكالة فى البيع والشراء، دار الفكر).

په الدرالمختار کي راځي:

(ولو أمره) أي أمر رجل مديونه (بالتصدق بما عليه صح) أمره بجعله المال لله تعالى وهو معلوم (كما) صح أمره (لو أمر) الآخر المستأجرة بمرمة ما استأجره كما عليه من الأجرة وكذا لو أمره بشراء عبد يسوق الدابة وينفق عليها صح اتفاقا للضرورة، لأنه لا يجد الآخر كل وقت بجعل المؤجر كالمؤجر في القبض. (الدر المختار:٥/ ٥١٩، باب الوكالة بالبيع والشراء، سعيد).

په طحطاوی علی الدر المختار کي راځي: ولو أمره أى أمر رجل مديونه بالتصدق بما عليه صح أمره بجعله المال لله تعالى وهو معلوم (قوله بجعله المال لله) أى والفقير غائب عنه والباء للسببية. (طحطاوى على الدر المختار:٣/ ٢٧٣). والله ﷻ اعلم.

تر واجب مقدار د زيات زکات اداء کول او په راتلونکي زکات کي د هغه حسابولو حکم

سوال: يوه سړي تخمينا زکات اداء کړ بيا چي يې حساب وکړ نو معلومه سوه چي ده تر واجب مقدار زيات اداء کړی دئ نو د راتلونکي کال په زکات کي يې حسابولای سي او که نه؟

الجواب: په پوښتل سوي صورت کي زياتي پيسې د راتلونکي کال په زکات کي حساب ولای سي.

په فتاوی والوالجيه کي راځي:

رجل له أربع مائة درهم فظن أن عنده خمس مائة درهم فأدى زكاة خمس مائة، ثم ظهر أن عنده أربع مائة، فله أن يحتسب الزكاة للسنة الثانية، لأنه أمكن أن يجعل الزيادة تعجيلا.

(الفتاوی الو لواجية:١/ ١٩٣، الفصل الثالث فی تعجيل الزكاة، بيروت – وكذا فی الشامی:٢/ ٢٩٣، سعيد – والبحر الرائق:٢/ ٢٢٥، كوئتة).

په کتاب الفتاوی کي راځي:

سوال: يوه سړي لس زره روپۍ د زکات په ډول ورکړې مګر کله چي يې حساب وکئ نو پر هغه اته زره زکات واجب وو نو ايا هغه په راتلونکی زکات کي دغه حساب ولای سي او که نه؟

الجواب: هو، د نصاب تر مالک کېدو وروسته تر يوه کال زيات د نورو کالو زکات هم مخکي له وخته اداء کولای سي، نو دا داسي سوه لکه هغه چي د راتلونکي کال زکات هم اداء کړئ او دا روا دئ. (کتاب الفتاوی:٣/ ٣٢١، مولانا خالد سيف الله).

په امداد الاحکام نومي کتاب کي راځي:

تر واجب مقدار زياتي چي يې کومي پيسې ورکړي وي هغه د راتلونکي کال په زکات کي حساب ولای سي. (امداد الاحکام:٢/ ٢٢) والله تعالیٰ اعلم.

له مهتمم څخه د مدرسې پيسې ورکي سوې نو د زکات څه حکم دئ؟

سوال: يو چا د مدرسې مهتمم ته د زکات پيسې ورکړې هغه پيسې له هغه څخه ورکي سوې يا يو چا ور څخه غلا کړې او س دوې خبر مطلب دي:

١_ زکات اداء سو او که نه؟

٢_ مهتمم ضامن دئ او که نه؟

الجواب: ١_ د اکابرو اتفاق دئ چي مهتمم د طالبانو له خوا وکيل دئ او د وکيل قبضه د مؤکل قبضه ده نو ځکه زکات اداء سو.

٢_ مهتمم خو وکيل او امين دئ، نو ځکه هغه خوښه حفاظت کړی وو بيا هم ورکي سوې يا غلا سوې نو تاوان يې نه سته مګر که يې چيري کوتاهي کړې وي نو ضمان سته.

په ايضاح المسائل نومي کتاب کي راځي:

که چیري د مدرسې له مهتممانو څخه پیسې ورکي یا غلا سي او د هغو په حفاظت کي یې څه کمي کړې نه وه نو بیا پر ده تاوان لازم نه دئ او د مالک زکات هم اداء سو ځکه چي دغه خلک عملا و فعلا وعرفا د فقیرانو طالبانو وکیلان دي او د وکیل قبضه د فقیر قبضه ده.

که چیري هغو په حفاظت کي کوتاهي وکړه یا یې د زکات پیسې بدلي کړې یا یې له خپلو پیسو سره ګډې کړې نو پر هغو خلکو تاوان واجب دئ او له خپله جیبه څخه به وفقیرانو ته دومره روپۍ ورکوي. (ایضاح المسائل،صـ ۱۲۰، نعیمیه).

د مدرسې مهتمم که چیري د طالبانو وکیل وي نو د هغه قبضه د طالبانو قبضه ده نو ځکه زکات اداء سو او پر هیڅ زکات نه لازمیږي. (فتاوی محمودیه:۹/ ۵۱۳، مبوب ومرتب).

په امداد المفتین کي راځي:

د مدرسې مهتممان او د هغو مقرر سوي چنده وصول کونکي عاملین د فقیرانو وکیلان دي، د چندي ورکونکي وکالت خالي په دوندي درجه کي دئ چي هغو هغه خلک وکیلان منل او چنده یې ورکړه او د هغو حواله یې کړې نو کله چي د وکیل په حیثیت د هغو قبضې ته پیسې ورغلې نو هغه پیسې د فقیرانو ملک جوړ سو او د زکات ورکونکو زکات اداء سو. حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهی رحمه الله علیه هم د یو سوال په جواب کي ویلي دي، دغه طالبان او فقیران مجهول للکمیت والذات دي سره له دې د هغو وکالت د مهتممانو له پاره په عرفي ډول ثابت دئ او د هغو قبضه د فقیرانو قبضه سو. (امداد المفتین:۲/ ۱۰۸۵، اختیار الصواب، چاپ دار الاشاعت).

د زیات تفصیل له پاره لاندي کتابونه وګورئ: (فتاوی خلیلیه:۱/ ۱۵٤، باب المصرف، مکتبه الشیخ، وجدید فقهی مسائل:۱/ ۲۲٦، نعیمیه). والله تعالی اعلم.

که چیري یې د روغتون له پاره د زکات پیسې واخستې او ورڅخه غلا سوې نو د هغو حکم

سوال: یو روغتون دئ په هغه کي د زکات د حصول دفتر وو، په هغه کي دواوي اخیستل کیږي او پر غریبانو ویشل کیږي که یې چیري د دغه مقصد له پاره د زکات پیسې واخیستلې او هغه له وکیل څخه هلاک سوې نو ایا زکات اداء سو او که نه؟

الجواب: اکثره له روغتونو څخه ګټه اخستونکي د روغتونو د شاو خوا خلک وي لکه مدرسه په مدرسه کي د هغه طالبان مراد دي نو د روغتونو له مریضانو څخه فقیران مراد دي نو ځکه زکات اداء سو او دوهم وار زکات اداء کول لازم نه دي دغه مسئله بعینه د مدرسې د سفیر په ډول ده او د هغې دلائل موږ ذکر کړي دي. والله ﷻ اعلم.

د زکات د اداء کولو پر وخت د مهر د ګرځولو حکم

سوال: که چیري پر یو چا د ښځي مهر لازم وو او د هغه مقدار یو لک روپۍ دئ نو ایا د زکات اداء کېدو په وخت کي دغه پیسې کمیږي او که نه؟ او که پر ټول زکات لازم دئ؟

الجواب: که چیري خاوند د مهر د اداء کولو اراده نه وه کړې وه او یا ښځه عرفا مطالبه نه کوي نو پر ټولو اداء کول لازم دي او که یې چیري د اداء کولو اراده کړې وي نو بیا د مهر په اندازه کمیږي او پر هغه نورو زکات اداء کول لازم دي.

وګورئ په فتاوی هندیه کي راځي:

وذكر البزدوي في شرح الجامع الكبير قال مشايخنا رحمهم الله تعالى في رجل عليه مهر مؤجل لامرأته، وهو لا يريد أداءه: لا يجعل مانعا من الزكاة لعدم المطالبة في العادة، وأنه حسن أيضا هكذا في جواهر الفتاوى. (الفتاوى الهندية: ١/ ١٧٣).

که چیري سره له وروسته کېدلو د مهر دغه سړی او س اداء کول غواړي نو بیا زکات واجب نه دئ او که چیري اداء کول نه غواړي نو بیا واجب دئ. (امداد الفتين: ٢/ ٤٥١، فتاوی محمودیه: ٩/ ٣١٩، مبوب

ومرتب، جدید فقهی مسائل:۱/ ۳۲۱، فتاوی دار العلوم دیوبند:٦/ ٤٦، امداد الاحکام:۲/ ۲۵). والله سبحانه وتعالی اعلم.

د زکات د اداء کولو په وخت کې د مصرف کمولو حکم

سوال: که چیري یو چا د بل چا د کور د جوړولو له پاره پیسې واستولې یا یې د هغه د ضرورت له پاره د زکات په پیسو کتابونه واخیستل یا یې یوه سړي ته پیسې ور واستولې چې پر فقیرانو یې و وېشي نو اوس د کرایې پیسې راګرځولای سي او که نه؟

الجواب: په پوښتل سوي صورت کې اول خو دا کوښښ په کار دئ چې مصرف او داسې نور په نورو پیسو سره اداء کړي مګر که چیري یو بل صورت نه جوړېږي دئ نو بیا د زکات په پیسو سره په اداء کولو کې هیڅ پروا نه سته.

قال الله تعالى: ﴿ إنما الصدقات للفقراء والمساكين والعاملين عليها ﴾. (سورة التوبة:٦٠).

په کفایت المفتي کې راځي:

د زکات د پیسو وصول کونکو او راوړونکو ته د زکات له پیسو څخه په ورکولو کې اجازه سته که څه هم هغه مالدار وي. (کفایت المفتی:٤/ ٢٨٦).

مولانا خالد سیف الله وایي:

لکه څنګه چې د زکات او د عشر عاملین د فقیرانو د حقوقو د تحفظ له پاره مشغول وي همدا ډول د زکات او د عشر د حساب او کتاب او د وېش له پاره نور عاملین هم غوښتل کېدلای سي اکثر نقهاوو پر دغه مسئله بحث کړی نه دئ مګر علامه قرطبي رحمه الله دغه مسئله هم لیکلې ده:

الحادية عشرة: ودل قوله تعالى:﴿ والعاملين عليها ﴾ على أن كل ما كان من فروض الكفايات كالساعي والكاتب والقسام والعاشر وغيرهم فالقائم به يجوز له أخذ الأجرة عليه.

(الجامع لاحكام القرآن:٨/ ١١٣، دار الكتب العلمية).

که چيري فکر وکړل سي نو په عاملينو کي دخپل وسيع معنا په اعتبار يوازي حاصلونکي داخل نه دي بلکي د زکات جمع کونکي او وېشونکي او ټول کار کونکی مراد دي چي هغه په دې کي داخل دي.(اسلام کا نظام عشر وزکات، صـ ۱۱۵).

په اسلامي فقه کي رائې:

سوال: په ډېرو ځايو کي په ريل ګاډۍ يا طياره کي چي کوم سامان لېږل کيږي د دغو کرايه د زکات څخه ورکړل کېداې سي او که نه؟

جواب: د ځيني علماوو رايه دا ده چي له دې څخه کرايه ورنه کړل سي لکه څنګه چي په فتاوی دار العلوم ديوبند کي ذکر دي. (فتاوی دار العلوم ديوبند:٦/ ٣٣٥، فتاوی محموديه:٩/ ٤٨٣، فتاوی رحيميه:٢/ ١٠، فتاوی فريديه:٣/ ٣٩٧).

مګر د دې کرښو د لیکونکي په نزد د کرايې پيسې د زکات له پيسو څخه اداء کول روا دي که چيري موږ مزدور د غريب د کور د جوړولو له پاره غواړو يا موږ د زکات د سامان د رسولو له پاره ورکړو که چيري موږ مزدور ته له زکات څخه مزدوري ورنه کړو، نو بيا کور جوړېدلای نه سي او نه هغو ته سامان رسېدلای سي او دا د تمليک خلاف نه دئ ځکه چي تر ټولو اخراجاتو وروسته هغه شيان هم يو مستحق ته ورکول کيږي ځکه چي د دې حيثيت د کرايې نه دئ بلکي د قيمت د اداء کېدلو دئ که چيري موږ زکات يو بل ځای ته حواله کړو نو د حوالې فيس که د زکات له روپيو څخه اداء کړل سي نو دا د تمليک خلاف نه دئ ځکه چي دا ټول تر غريب پوري د پيسو د رسولو له پاره کيږي. (اسلامی فقه:١/ ٤٧٣). والله ﷻ اعلم.

د زکات د اداء کولو په وخت کي د حکومت د ټکس د وضع کولو حکم

سوال: ټکس کوم چي د حکومت له طرفه څخه لازم دئ که چير چا اداء نه کئ تر داسي وخته چي د زکات د اداء کولو وخت راغلئ نو وضع کيږي او که پر ټولو روپيو زکات لازم دئ (ټکس د زکات له وجوب څخه مانع دئ او که نه)؟

الجواب: که چيري د حکومت له طرفه څخه ټکس لازم سو او د هغه مقدار تعين سو مثلا دايې ورېل چي ستا پر دوکان دا کال پنځوس زره ټکس لګولی دئ چي پر تا يې اداء کول لازم دي، نو دا

پور دئ او د هغه تر وضع کولو وروسته د پاته پیسو زکات اداء کیږي، هو که چیري دوکاندار یا د کمپنۍ مالک کوښښ وکي او هغه یې ډیرش زره کړې نو شل زره پاته سوې نو د هغو شلو زرو زکات دي وروسته اداء کړي ځکه چي دا له پور څخه مستثنی سوي دي.

په حاشیه طحطاوی کي راځي:

وسببها أی سبب افتراضها أی الزكاة ملك نصاب حولى تام فارغ عن دين له مطالب من جهة العباد سواء كان لله كزكاة وخراج أو للعبد ولو كفالة أو مؤجلا ولو صداق زوجته المؤجل للفراق أو نفقة لزمته بقضاء أو رضى بخلاف دين نذر وكفارة وحج لعدم المطالب.

قوله له مطالب أى بالجبر والحبس وقوله من جهة العباد أى طلبا واقعا من جهة عبد وهو إمام الإمام فى الأموال الظاهرة..... أو الدائن فى دين العباد. (حاشية الطحطاوى على الدر المختار:۱/ ۳۹۰).

په شرح العنایه کي راځي:

وأما النوائب فهي ما يلحقه من جهة السلطان من حق أو باطل أو غير ذلك مما ينوبه صحت الكفالة بها ؛ لأنها ديون في حكم توجه المطالبة بها . (شرح العناية على الهداية:۷/ ۲۲۲).

په فتح القدیر کي راځي:

أما في زماننا فأكثر النوائب تؤخذ ظلما ، ومن دفع الظلم عن نفسه فهو خير له ، وإن أراد الإعطاء فليعط من هو عاجز عن دفع الظلم عن نفسه . (فتح القدير:۷/ ۲۲۳، دار الفكر).

په احسن الفتاوی کي راځي:

د راجح قول سره سم پور که مؤجل وي او که معجل وي د زکات د وجوب مانع دئ. (احسن الفتاوی:٤/ ۲۵۱) . والله ﷻ اعلم.

له وکیل څخه د زکات د پیسو د غلا کېدو په صورت کي د زکات د اداء کېدو حکم

سوال: یوه سړي وبل ته د زکات پیسي ورکړې او له وکیل څخه هغه د زکات پیسې ورکي یا غلا سوې نو زکات اداء سو او که نه؟ همدا ډول پر وکیل د دې تاوان سته او که نه؟

الجواب: که چیري مستحقین معلوم نه وه بلکي پر صحیح ورکولو یې د زکات پیسې خرڅ کول مقصد وو نو زکات اداء نه سو او دوهم وار زکات لازم دئ او وکیل امین دئ که چیري یې په حفاظت کي کوتاهي کړې نه وه نو بیا تاوان نه سته او که داسي نه وي نو بیا وکیل ذمه دار دئ او که چیري مستحقین معلوم وه مثلا د مدرسې مهتمم یا داسي نور وي نو د هغه حکم موږ ذکر کړی دئ.

په درمختار کي راځي:

الإيداع شرعا تسليط الغير على حفظ ماله صريحا أو دلالة ...... وهى أمانة، هذا حكمها مع وجوب الحفظ والأداء عند الطلب واستحباب قبولها، فلا تضمن بالهلاك. (الدر المختار: ٥/ ٦٦٤، سعيد – والفتاوى الهندية: ٤/ ٣٣٨).

په خلاصة الفتاوی کي راځي:

رجل عزل زكاة ماله ووضعها فى ناحية بيته، فسرقها سارق لايقطع يده للشبهة وعليه أن يزكيها. (خلاصة الفتاوى: ١/ ٢٣٨).

په درمختار کي راځي:

ولايخرج عن العهدة بالعزل بل بالأداء للفقراء...... وفى الشامى: فلو ضاعت لاتسقط عند الزكاة. (الدر المختار مع الشامى: ٢/ ٢٧٠، سعيد).

د زیات تفصیل له پاره لاندي کتابونه وګورئ: (فتاوی محمودیه: ٩/ ٤٨٠، مبوب مرتب، كفايت المفتى: ٤/ ٢٩٧، فتاوى فريديه: ٣/ ٢٧٥). والله تعالى اعلم.

که چیري وکیل د زکات پیسې په خپله مصرف کړي نو د زکات حکم

سوال: که چیري یوه سړي وبل ته د زکات پیسې ورکړې چي پر فقیرانو یې ووېشته څنګه چي وکیل په خپله مستحق وو نو ځکه هغه په خپل ځان مصرف کړې نو ایا زکات اداء سو او که نه؟

الجواب: که چیري وکیل د اعطاء لفظ ویلی نه وو نو بیا دوهم ته ورکول ضروري دي او که یې چیري ویلی وو چي څنګه چي ته غواړې استعمال یې کړه نو بیا که چیري دی مستحق وو نو په خپله یې استعمالولای سي.

د تبیین الحقائق په حاشیه کي راځي:

لو قال لرجل ادفع زكاتي إلى من شئت أو أعطها من شئت فدفعها لنفسه لم يجز وفي جوامع الفقه جعله قول أبي حنيفة رحمه الله وقال وعند أبي يوسف رحمه الله يجوز ولو قال ضعها حيث شئت جاز وضعها في نفسه، وقال في المرغيناني وكل بدفع زكاته فدفعها لولده الكبير أو الصغير أو زوجته يجوز ولا يمسك لنفسه. (حاشية تبيين الحقائق للشلبي: ۱/ ۳۰۵).

په درمختار کي راځي:

والوكيل أن يدفع لولده الفقير و زوجته لا لنفسه إلا إذا قال ربها ضعها حيث شئت .....

وفى الشامى: الوكيل إنما يستفيد التصرف من الموكل وقد أمره بالدفع إلى فلان فلا يملك الدفع إلى غيره، كما لو أوصى لزيد بكذا ليس للوصي الدفع إلى غيره فتأمل. (الدر المختار مع الشامي: ۲/ ۲٦۹، سعيد).

په فتاوی قاضي خان کي راځي:

رجل دفع زكاة ماله إلى رجل وأمره بالأداء فأعطى الوكيل ولد نفسه الكبير أو الصغير أو أمر أته وهم محاويج جاز ولايمسک لنفسه شيئا. (فتاوى قاضى خان على هامش الهندية: فصل فى اداء الزكاة: ۱/ ۲٦۱، فصل فى أداء الزكاة – والفتاوى الهندية: ۱/ ۱۸۹).

په بهشتي زېور کي راځي:

تا يوه سړي ته دوې روپۍ د زکات د ورکولو له پاره ورکړې نو اوس هغه اختيار لري که يې په خپله يو غريب ته ورکوي او که يې يو بل چا ته ورکوي چي هغه يې غريب ته ورکړي او هغه سړی که چيري يې وخپل قريب ته ورکړي دا هم دا صحيح دئ مگر که چيري هغه خپله غريب وي نو په خپله يې نه سي استعمالولای، مگر که چيري تا هغه ته ووېل چي څنګه ته غواړې هغه په وکړه او هر چا ته چي ستا خوښه وي ورېې کړه نو بيا يې په خپله استعمالولای سي. (بهشتی زيور: ص ۲۴۵). والله تعالی اعلم.

د وکيل د زکات د پيسو د بدلولو په صورت کي د زکات حکم

سوال: ما ته يوه سړي زره روپۍ راکړې او ووېل يې چي دغه پيسې په هندوستان کي فلاني سړي ته ورسوه ما د حوالې په ذريعه له نورو پيسو سره ور ورسولې هلته زما نمائنده له نورو پيسو څخه زکات اداء کړئ نو آيا زکات اداء سو او که نه؟

الجواب: له وکيله سره چي تر څو د زکات پيسې موجود وي او له نورو پيسو څخه يې زکات اداء کړي نو زکات اداء کيږي مگر که چيري د زکات پيسې خرڅ کړي او بيا يې له نورو پيسو څخه اداء کړي نو زکات اداء نه سو. څنګه چي په پوښتل سوي صورت کي اصلي پيسې موجودي دي نو ځکه زکات اداء سو، همدا ډول ځيني روپۍ په هندوستان کي نه چليږي نو دلته د زکات د رسولو مطلب هغه بدلول او د هغه وروسته رسول دي نو ځکه زکات اداء سو ځکه چي د بدلولو اجازه يې سته.

په درمختار کي راځي:

ولو تصدق بدراهم نفسه أجزأ إن كان على نية الرجوع وكانت دراهم! لـمؤكل قائمة .... وفى الشامى: أى الوكيل بدفع الزكاة إذا أمسک دراهم الـمؤكل ودفع من ماله ليرجع بدلها في دارهم الـمؤكل صح، بخلاف ما إذا أنفقها أولا على نفسه مثلا ثم دفع من ماله فهو متبرع . (الدر المختار مع الشامى:۲/ ۲۶۹، سعيد).

په احسن الفتاوی کي راځي:

زکات په هر حال کي اداء کیږي مګر د بدلولو جواز پر دې موقوفه دئ چي د مؤکل له طرفه دلالة یا صراحة اجازه موجود وي په اوسنی عرف کي د هغه اجازه ده نو ځکه د صراحة د اجازې ضرورت نه سته سره له دې چي صراحة اجازه اخیستل بهتر دي. (احسن الفتاوی:٤/ ٢٩٠).

په بهشتي زېور کي راځي:

تا دیوه فقیر له پاره ربو چا ته دوې روپۍ ورکړې مګر هغه بعینه هغه دوې فقیر ته ورنه کړې، بلکي له خپله ځانه یې ورکړې نو زکات اداء سو په دې شرط چي ستا روپۍ له هغه سره موجود وي مګر که چیري ستا روپۍ هغه خرڅي کړي او بیا یې له خپلو پیسو څخه اداء کړي نو بیا زکات اداء نه سو. (بهشتی زیورد زکات اداء کولو بیان:٢٤٥، چاپ دار الاشاعت). والله ﷻ اعلم.

په ځیني مدرسو کي د تملیک ځیني صورتونه رواج دي له هغو څخه د زکات د اداء کېدو حکم

سوال: په ځیني مدرسو کي د زکات د تملیک لاندي نظام دئ:

غریبانو طالبانو ته څلور سوه روپۍ ورکړي بیا بل ناظم درې سوه روپۍ د استوګنی، د تعلیم او د برق د مصرف اخلي او سل روپۍ طالب ته ورکوي په ښکاره خو دا نظام ډېر ښه دئ مګر د ځیني علماوو پر دې لاندي سوالونه کوي:

١_ که چیري یو طالب العلم غیر حاضر وي نو باید د غیر حاضرۍ د ورځو خرڅه وانه اخیستل سي حال دا چي په اخیستل سوو روپیو کي هیڅ ډول د واپس کېدو رواج نه سته؟

٢_ طالبانو ته د وظیفې تر ورکولو وړاندي که چیري هغه سړي مړ سو نو هغه پیسې امانت سوې او باید هغه پیسې وارثانو ته واپس کړل سي؟

٣_ د وظیفې تر وېش وړاندي که چیري کال پوره سو نو بیا زکات باید واجب کړل سي ځکه چي د مالک ملکیت باقي دئ؟

۴_ د خوراک عوض بیعه ده او د برق او استوګني او داسي نورو شیانو ورکول اجاره ده په یوه عقد کي بیعه او اجاره دواړه جمع کول صفقة فی صفقتین دئ کوم چي ممنوع دئ؟

الجواب: غریبانو طالبانو ته د زکات پیسې ورکول حقیقة تملیک دئ بیا چې کله طالب العلم درې سوه اداء کوي نو هغه احسانا تر شرط کړل سوي لاندي راځي یعنی د دغه احسان په بدله کي طالب ته خوراک او داسي نورو ورکول شرط سوي دي احسانا شرط کړل سوي شی هبه بالعوض ده که چیري یو طالب غیر حاضر سو د هغه پیسې ورکول ضروري نه دي، دغه ډول طالب ټول کال فیس جمع کړی دئ او د کال په منځ کي ولاړئ نو په دغه صورت کبي هم شرعا د پاته کال فیس واپس کول ضروري نه دي، ځکه په هبه بالعوض کي واهب موهوب واپس نه سي اخیستلای، مګر دلته موهوب مصرف کړل سوی او یا ګډ کړل سوی دئ کوم ته چې په عربي کي استهلاک وایي۔
احسانا شرط کړل سوي روا دئ، مولانا ظفر احمد عثماني لیکي دي هغه وګورئ:

سوال: په مدرسه کي له طالبانو څخه د داخلې او د میاشتي فیس اخیستل روا دي او که نه؟

الجواب: روا دئ، ځکه چې دا اجرت نه دئ بلکي دا چنده ده او په چنده کي شرط روا دئ ځکه چې په دې کي جبر نه لازمیږي او چا ته چې شرط منظور نه وي هغه ته دنه داخلې اختیار دئ.

ودلیله: أنه ﷺ قال لمن أضافه وعائشة ﵂ قال: لا، قال: فلا إذن حتی قال فی الثالثة: وعائشة ﵂ قال: نعم. مسلم شریف:۱/ ۱۷٦، (امداد الاحکام:۳/ ٦۰٦، کتاب الاجارة).

۲_ څنګه چې د مدرسې مهتمم یا ناظم د عامل په حکم کي دئ نو له دې کبله که چیري هغه سړی مړ سو او د هغه مال یې جلا ایښی وي نو بیا د غریبانو طالبانو له خوا د مهتمم یا د ناظم تر قبول وروسته نه واپس کیږي حال دا چې ډېر ځله پیسې د ګډیدو له کبله نه معلومیږي چې د چا پیسې مصرف سوي.

۳_ د وظائفو تر وېش وړاندي که چیري کال پوره سو نو زکات واجب نه دئ ځکه چې له عامل سره د زکات پیسې که چیري پرتي وي نو پر هغه زکات نه لازمیږي ځکه چې مهتمم یا ناظم د طالبانو وکیل دئ.

په نظام الفتاوی کې د حضرت مولانا سهارنپوري تحریر نقل کړی دئ:

د هغه په نزد د مدرسو روپۍ وقف نه دي مګر اهل مدرسه د بیت المال د عمال په مثل د ورکونکو او اخیستونکو له خوا وکیلان دي نو له دې کبله نه په هغه کي زکات ستره او نه یې ورکونکي بیرته اخیستلای سي. (نظام الفتاوی: ۱/ ۱۱۶).

په دغه عقد کي بیع او اجاره هم دواړه نه جمع کیږي بلکي د مدرسې د ورکول سوو شیانو په عوض کي فیس یو احسان او هبه ده. والله تعالی اعلم.



قال الله تعالی: ﴿ إنما الصدقات للفقراء والمساكين والعاملين عليها ...... ﴾

(سورة التوبة: ٦٠).

عن أبي جحيفة رضي الله عنه قال: ﴿ إن النبي ﷺ أخذ الصدقة من أغنيائنا وجعلها في فقرائنا ﴾. (رواه ترمذی شریف).

شلورم .... باب
د زکات د مصارفو بیان
د کور په پراخ کولو کي دزکات د پیسو د خرڅولو حکم

سوال: زما یو غریب ګاونډی دئ چي د هغه کور د هغه تر حاجت هم کوچني دئ او هغه دزکات مستحق هم دئ نو ایا د کور د لویولو له پاره هغه ته دزکات پیسې ورکول روا دي او که نه؟

الجواب: په پوښتل سوي صورت کي دزکات مستحق ته (هغه څوک چي له ده سره تر حاجت اصلیه زیات مال نه وي) هغه ته د کور د لویولو له پاره یا د نور زینت له پاره د زکات پیسې ورکول روا دي.

په درمختار کي راځي:

مصرف الزكاة والعشر هو فقير المقابل للمسكين لا للغنى وهو من له أدنى شىء أى دون نصاب أو قدر نصاب غير نام مستغرق فى الحاجة..... وفى الشامى: والحاصل أن المراد هنا الفقير المقابل للمسكين لا للغني، دون نصاب أي نام فاضل عن الدين فلو مديونا فهو مصرف كما يأتي، مستغرق في الحاجة كدار السكني عبيد الخدّمة وثياب البذلة وآلات الحرفة وكتب العلم للمحتاج إليها تدريسا أو حفظا أو تصحيحا........ والحاصل أن النصاب قسمان (١) موجب للزكاة وهو النامي الخالي عن الدين. (٢) وغير موجب لها وهو غيره، فإن كان مستغرقا بالحاجة لمالكه أباح أخذها وإلا حرمه ...... (الدر المختار مع الشامی:٢/ ٣٣٩، باب المصرف، سعيد).

په احسن الفتاوی کي راځي:

فقير ته دي تر نصاب کمي پيسې په قسطو باندي ورکړل سي او فقير دي پيسې په کور جوړولو کي خرڅوي که چيري له فقير سره ځکه نه وي نو اول دي ځکه ورته رانيسي او د هغه مالک دي يې جوړ کړي تر هغه وروسته په قسطو د زکات پيسې ورکول کيږي او فقير دي خپل کور جوړه وي او په دې ډول کور مکمل سي نو دا صورت روا دئ. (احسن الفتاوی:٤/ ٤٩٠، وايضاح المسائل:صـ ١١٥، چاپ نعیمیه). والله ﷻ اعلم.

د تخوا لرونکي حاجتمند له پاره د زکات اخيستلو حکم

سوال: يو سړی نوکري کوي او د هغه ښځه ناڅاپه ناجوړه سوه نو ځکه د هغه د دوا او داسي نورو شيانو مصارف زيات سوه له مياشتنی تنخوا څخه هغه ټول مصارف نه سي پوره کولای نو ايا د دې شخص له پاره د زکات اخيستل روا دي او که نه؟

الجواب: په دې پوښتل سوي صورت کي نوموړی شخص ته د زکات اخيستل روا دي.

په درمختار کي راځي:

مصرف الزكاة والعشر..... هو فقير، وهومن له أدنى شيء أى دون نصاب أو قدر نصاب غير نام مستغرق فى الحاجة. (الدر المختار مع الشامى:۲/ ۳۳۹، كتاب الزكاة، باب المصرف، سعيد).

په فتح القدير كي راځي:

والفقير من له أدنى شيء وهو ما دون النصاب أو قدر نصاب غير نام وهو مستغرق في الحاجة ...... ويجوز صرف الزكاة لمن لاتحل له المسئلة بعد كونه فقيرا ولايخرجه عن الفقير ملك نصب كثيرة غير نامية إذا كانت مستغرقة بالحاجة. (فتح القدير:۲/ ۲۶۱، باب من يجوز دفع الصدقة اليه ومن لايجوز، دار الفكر).

په فتاوى هنديه كي راځي:

ويجوز دفعها إلى من يملك أقل من النصاب وإن كان صحيحا مكتسبا كذا في الزاهدى. (الفتاوى الهندية:۱/ ۱۸۹، فى المصارف).

په فتاوى محموديه كي راځي:

د چا چي ضرورتونه په تنخوا سره نه پوره کيږي نو هغه هم د زکات مستحق دئ او هغه ته د زکات پيسې ورکول روا دي. (فتاوى محموديه:۹/ ۵۲۵، مبوب ومرتب).

په فتاوى رحيميه كي راځي:

د کوم چا چي تنخوا لږ وي او د نصاب مالک نه وي يعني د اووه نيمي تولې سرو زرو او يا د دوپنځوس نيمي تولې سپينو زرو يا د هغو د قيمت مالک نه وي نو ودغه سړي ته زکات ورکولای سي. (فتاوى رحيميه:۵/ ۱۵۲).

په كفايت المفتي كي راځي:

يو غير مستطيع مريض ته د زکات پيسې د علاج له پاره ورکول روا دي. (كفايت المفتى:۴/ ۲۷۴، چاپ دار الاشاعت). والله تعالى اعلم.

وغریب ورور یا خور ته د زکات ورکولو حکم

سوال: که چیري دیوه سړي ورور یا خور غریب وي نو مالدار ورور هغه ته زکات ورکولای سي او که نه؟

الجواب: ورور یا خور که د زکات مستحق وي نو زکات ورکول روا دي بلکي اولی دئ ځکه چي په دې کي صله رحمي هم ده.

په فتاوی هندیه کي راځي:

والأفضل في الزكاة والفطر والنذر الصرف أولا إلى الإخوة والأخوات ثم إلى أولادهم ثم إلى الأعمام والعمات ثم إلى أولادهم ثم إلى الأخوال والخالات ثم إلى أولادهم ثم إلى ذوي الأرحام ثم إلى الجيران ثم إلى أهل حرفته ثم إلى أهل مصره أو قريته كذا في السراج الوهاج .

(الفتاوى الهندية:١/ ١٩٠، فى المصارف).

په فتاوي تاتار خانیه کي راځي:

وفى المضمرات: الأفضل صرف الزكاتين، يعنى صدقة الفطر وزكاة المال إلى أحد هؤلاء السبعة، الأول: إخوته الفقراء وأخواته، ثم إلى أولادهم، ثم إلى أعمامه الفقراء.....

(الفتاوى التاتار خانية:٢/ ٢٧١، بمن توضع فيه الزكاة، إدارة القرآن).

په ایضاح المسائل کي راځي:

خپلو قریبانو (ورور، خور، عمه، خاله، ماما او دهغو اولادو ته) په زکات ورکولو کي دوه ډوله ثواب دئ، (١) د زکات د اداء کولو ثواب. (٢) د صله رحمي ثواب. مگر په دې کي شرط دا دئ چي دا خلک په صحیح ډول د زکات مستحق وي. (ایضاح المسائل:صـ ١١٠، نعیمیه، واحسن الفتاوی:٤/ ٢٦٩، فتاوی محمودیه:٩/ ٥٤١، مبوب ومرتب). والله ﷻ اعلم.

د مساجدو امامانو ته د زکات ورکولو حکم

سوال: زموږ په سیمه کي خلک امام دروي او د امام تنخوا نه ټاکي بلکي هغه ته د فصل تر پخېدو وروسته د هغه زکات ورکوي که چیري امام د زکات مستحق وي نو ایا زکات اداء سو او که نه؟ ایا دا اجرت نه دئ؟ زکات د اجرت په ډول ورکېدای سي او که نه؟

الجواب: په دې پوښتل سوي صورت کي د زکات ورکولو دوه صورتونه دي:

۱_ که چیري د مسجد امام د زکات مستحق وو نو زکات ورکول افضل دي.

۲_ که چیري امام ته د امامت په اجره کي زکات ورکړل سي نو په دې صورت کي زکات نه اداء کیږي که څه هم د امام له پاره د تنخوا په ډول اخستل روا دي.

د یادو صورتو په صرف نظر کولو سره افضل دا دئ چي د امام له پاره اجره مقرر کړل سي او بیا که چیري گذاره نه کېده نو بیا دي صدقات او زکات هم ورکوي.

په درمختار کي راځي:

التصدق على الإمام الفقير أفضل، وفي الشامي: أي من الجاهل الفقير. (الدر المختار مع الشامي: ۲/ ۳٤٥، سعيد).

په فتاوی هندیه کي راځي:

ولو نوى الزكاة بما يدفع المعلم إلى الخليفة، ولم يستأجره إن كان الخليفة بحال لو لم يدفعه يعلم الصبيان أيضاً أجزأه، وإلا فلا. (الفتاوى الهندية:۱/ ۱۹۰، باب المصارف).

په فتاوی فریدیه کي راځي:

که چیري د مسجد امام غریب وي نو هغه ته زکات ورکول روا دي مگر د اجرې او معاوضې په صورت کي روا نه دي او کوم امامان چي اغنیاء نه وي نو دغه واجبه صدقات که چیري د امامت په عوض کي ورکړل سي نو د ورکونکو ذمه نه خلاصیږي او که چیري د امامت په سبب یا پر امام د شفقت له مخي ورکړل سي نو بیا له شکه دا روا دي. والمتعارف هو الإعطاء له على وجه الترحم، والصلة ولذا ينوى المعطون الثواب والتقرب إلى الله، والأجير لايكون كذلك، وبالجملة منع

الإعطاء مطلقا خراب نظام أكثر المساجد. (فتاوى فريديه:٣/ ٥٣٧ – و آپ کی مسائل اور ان کا حل:٣/ ٤٠١).

په فتاوی مفتی محمود کي راځي:

که چيري دا معروف او مشهور وي چي خلک امام ته زکات يا عشر ورکوي او امام هم له دې کبله د دې غرض له پاره امامت کوي چي دغه خلک هغه ته زکات ورکړي که چيري خلک دغه زکات ورنه کړي نو دی امامت پرېږدي نو دا نه اجاره صحيحه سوه او نه فاسده په هر صورت کي لکه عقد داسي ضرور دئ ځکه چي که چيري دغه خلک هغه زکات ورنه کړي نو دغه امام امامت پرېږدي په دې صورت کي گويا احتياط په دې کي دئ چي اول لږ مال د هديې په ډول امام ته ورکړل سي او تر هغه وروسته دي د زکات مال يا عشر ورکړل سي ځکه چي په دې صورت کي هيڅ ډول عقد سوی نه دئ ځکه چي د خلکو پر ذمه د هغه هيڅ شی ورکول واجب نه دي، نو زکات په اجره کي نه حسابيږي نو ځکه اداء کول هم صحيح کيږي.

او که چيري يو ډول عقد نه وي سوي بلکي خلک که چيري زکات ورنه کړي او يا کم ورکړي خو هغه بيا هم امامت کوي صرف هغه دغه امامت د زکات او عشر له پاره وسيله جوړه کړې وي، بس دومره خبره ده چي هغه دا وايي که چيري امامت ونه کړم نو زکات نه راکوي، نو داسي امام ته بيله شکه زکات ورکول روا دي او زکات هم اداء سو، چي د دې مثالونه د فقهي په کتابو کي ډېر موجود دي که چيري امام خاص د الله ﷻ له پاره امامت کوي او د زکات او عشر طمع نه کوي نو په طريقه اولی سره اخيستل او ورکول ورا دي. (فتاوى مفتی محمود پاکستان:٣/ ٣٣٤-٣٣٦، فتاوى دار العلوم ديوبند:٦/ ٢١٣، مدلل ومكمل). والله ﷻ اعلم.

وتنخوا اخيستونکي مقروض ته د زکات ورکولو حکم

سوال: پر يوه سړي اويا زره روپۍ باندي دي او دغه قرض سمدستي پر هغه باندي ورکول لازم دي مگر د اداء کولو له پاره له هغه سړه پيسې نه سته، همدا ډول له هغه سره تر اصلي حاجت زيات هيڅ سامان هم نه سته مگر هغه ته په مياشت کي يو ځل تنخوا ورکول کيږي نو ايا دغه سړي ته زکات ورکول روا دي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کې دغه مقروض ته د قرض اداء کولو له پاره د زکات پیسې ورکول روا دي.

په ابو داؤد شریف کې راځي:

عن عطاء بن يسار أن رسول الله ﷺ قال: « لا تحل الصدقة لغنى إلا لخمسة، لغاز فى سبيل الله، أو لعامل عليها، أو لغارم، أو لرجل اشتراها بماله أو لرجل كان له جار مسكين فتصدق على المسكين فأهداها المسكين للغنى ». (رواه ابو داؤد:١/ ٢٣١).

په بذل المجهد کې راځي:

أو لغارم قيل: الغارم الذى عليه الدين أكثر من المال الذى فى يده أو مثله أو أقل منه لكن ماورائه ليس بنصاب. (بذل المجهود:٨/ ١٧٤).

په بحر الرائق کې راځي:

يجوز دفع الزكاة إلى من يملك ما دون النصاب أو قدر نصاب غير نام وهو مستغرق في الحاجة. (البحر الرائق:٢/ ٢٤٠، كوئته).

په فتاوی شامي کې راځي:

والحاصل أن النصاب قسمان: موجب للزكاة وهو النامي الخالي عن الدين، وغير موجب لها وهو غيره، فإن كان مستغرقا بالحاجة لمالكه أباح أخذها وإلا حرمه. (الشامي:٢/ ٣٣٩، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د زکات په پیسو کور جوړول او فقیر د هغه د مالک جوړولو حکم

سوال: که چیري یوه سړي د زکات په پیسو کور جوړ کړئ او فقیر یې د هغه کور مالک جوړ کړئ نو ایا زکات اداء سو او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي که کور د فقیر پر نامه کي او کاغذات یې فقیر ته ورکړل او د هغه کور مالک یې جوړ کړئ نو زکات اداء سو. مګر دا ضروري ده چي د کور تر جوړولو وروسته د مارکېټ د کورو مطابق قیمت تعین کړي، داسي نه وي چي پر کور دوه لکه روپۍ مصرف سوي وي او په مارکېټ کي د هغه قیمت دوه نیم لکه وي او زکات ورکونکی د هغه قیمت درې لکه لګولی وي نو د دې قیمت دي د عام بازار مطابق وټاکل سي مګر په دې کي دا یوه خرابي سته چي یوه فقیر ته تر نصاب زیات مال ورکړل سو مګر د فقیر د ضرورت په سبب او د هغه د بچیانو د استوګني له پاره او د یو شدید ضرورت د پوره کولو له پاره امید سته چي الله ﷻ دغه عمل قبول کړي او ورکونکي ته اجر عظیم ورکړي.

په درمختار کي راځي:

هي تمليک خرج الإباحة فلو أطعم يتيما ناويا الزكاة لا يجزيه إلا إذا دفع إليه المطعوم لأنه بالدفع إليه بنية الزكاة يملكه . (الدر المختار مع الشامی:۲/ ۲۵۷، کتاب الزکاة، سعید).

په احسن الفتاوی کي راځي:

که چیري د زکات پیسې مسکین ته ورنه کړي بلکي په هغو پیسو باندي کور جوړ کي او مسکین ته یې ورکي نو په دې کي هیڅ کراهت نه سته ځکه چي په دې سره مسکین د نصاب خاوند نه ګرځي.(أحسن الفتاوی:٤/ ٢٩٠).

په ایضاح المسائل کي راځي:

یوه سړي د زکات پیسې له اصلي مال څخه جلا نه کړې او په ټولو پیسو یې یو کور جوړ کړئ کومي پیسې چي خرڅ سوي وې د هغو حساب یې ولګاوي او یو مسکین یې د دې کور مالک جوړ کړئ او دا کور یې د هغه پر نام کړي او په هغه کي یې خپل ټول تصرف ختم کړئ نو دغه ډول کور

جوړول بلاکراهت روا دئ ځکه مسکین په دې سره مالدار او د نصاب خاوند نه ګرځي بلکې خالي د کور مالک یې جوړ کړ. (ایضاح المسائل:صـ ۱۱۵، نعیمیه). والله تعالی اعلم.

د زکات د وکیل په ذریعه د مسکین د قرض اداء کولو حکم

سوال: که چیرې یو سړی د ډېر قرض په سبب د زکات مستحق وي او که چیرې هغه زکات ورکړل سي هغه یې ضائع کوي نو له دې کبله دغه سړی یو بل شوک وکیل جوړولای سي چې د ده قرض اداء کړي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کې که چیرې فقیر خپل وکیل وټاکي او وکیل د زکات پیسې واخیستې او د فقیر له طرفه یې قرضه اداء کړه نو دا روا ده او زکات هم اداء کیږي او که یې چیرې وکیل جوړ نه کړ خالي اجازه یې ورته وکړه نو بیا هم زکات اداء سو او دا داسي سو لکه داین پور وړي چې په خپله د فقیر له پاره قبضه وکړه او په خپل جیب کې یې پیسې واچولې.

وګورئ په بدائع الصنائع کې راځي:

ولو قضى دين حي فقير إن قضى بغير أمره لم يجز ؛ لأنه لم يوجد التمليك من الفقير لعدم قبضه وإن كان بأمره يجوز عن الزكاة لوجود التمليك من الفقير ؛ لأنه لما أمره به صار وكيلا عنه في القبض فصار كأن الفقير قبض الصدقة بنفسه وملكه من الغريم . (بدائع الصنائع:۲/ ۳۹، ركن الزكاة، سعيد).

په فتاوی هندیه کې راځي:

ولو قضى دين الفقير بزكاة ماله إن كان بأمره يجوز وإن كان بغير أمره لايجوز. (الفتاوى الهندية:۱/ ۱۹۰، الباب السابع فی المصارف – وكذا فی الشامی:۲/ ۳۴۵، سعيد).

په احسن الفتاوی کې راځي:

که چیرې د مسکین قرض د هغه په اجازه سره اداء کړل سي نو دا روا ده او مسکین ته د زکات مقدار بیانول ضروري نه دي.(احسن الفتاوی:۴/ ۲۵۰).

په ایضاح المسائل کې راځي:

که چیري یو سړی ډېر قرضدار وي او د قرض اداء کولو له پاره د زکات د پیسو په ورکولو کي که چیري دا خطره وي چي هغه به یې په خپله وخوري او قرض به اداء نه کړي نو له مقروض مسکین څخه دي د هغه د قرض د اداء کولو اجازه واخلي او قرض دي اداء کړي نو د فقیر قرض هم اداء سو او د مالدار زکات هم اداء سو. (ایضاح المسائل:صـ ۱۱۳، نعیمیه). والله تعالی اعلم.

ومالدار طالب ته د زکات ورکولو حکم

سوال: ما په ځیني کتابو کي ویلي دي چي طالب یا عالم که څه هم مالدار وي نو هغه ته زکات ورکول روا دي ځکه چي هغه د دین په خدمت مشغول دئ که چیري هغه مسلسل زکات وانه خلي نو د هغه ژوند خرابیږي ایا دغه مسئله صحیح ده او که نه؟

الجواب: علامه طحطاوي رحمه الله او علامه شامي رحمه الله وایي، چي د مختار قول مطابق مالدار عالم یا طالب ته زکات ورکول روا نه دي ځکه چي د زکات له پاره مسکنت شرط دئ او په ځیني کتابو کي چي ذکر سوي دي هغه غیر معتبر دئ.

په درمختار کي راځي:

وعامل ...... فيعطى ولو غنيا لا هاشميا، لأنه فرغ نفسه لهذا العمل فيحتاج إلى الكفاية..... وبهذا التعليل يقوى ما نسب للواقعات من أن طالب العلم يجوز له أخذ الزكاة ولو غنيا إذا فرغ نفسه لإفادة العلم واستفادته لعجزه عن الكسب والحاجة داعية إلى ما لا بد منه. وفي الشامي: قوله (ما نسب للواقعات) ذكر المصنف أنه رآه بخط ثقة معزيا إليها، قلت: ورأيته في جامع الفتاوى ونصه وفي المبسوط: لا يجوز دفع الزكاة إلى من يملك نصابا إلا إلى طالب العلم والغازي ومنقطع الحج لقوله ﷺ « يجوز دفع الزكاة لطالب العلم وإن كان له نفقة أربعين سنة » وفيه أيضا....... وهذا الفرع مخالف لإطلاقهم الحرمة في الغني، ولم يعتمده أحد. ط. قلت: وهو كذالك والأوجه تقييده بالفقير، ويكون طلب العلم مرخصا

لجواز سؤاله من الزكاة وغيرها وإن كان قادرا على الكسب، إذ بدونه لايحل له السوال. (الدر المختار مع الشامي: ۲/ ۳٤۰، باب المصرف، سعيد – وكذا في حاشية الطحطاوي على الدر المختار: ۱/ ٤۲٤).

په درمختار کي راځي:

التصدق على العالم الفقير أفضل. (الدر المختار: ۲/ ۳٥٤، سعيد).

په فتاوی فريديه کي راځي:

ومالدار معلم او متعلم (ښوونکي او زده کونکي) ته زکات ورکول صحيح نه دي. (فتاوی فريديه: ۳/ ٥٥٤). والله ﷻ اعلم.

د مالدار سړي وکوچني زوی ته د زکات ورکولو حکم

سوال: يوه سړي چي هغه مالدار دئ د هغه کوچنی لور ده چي هغه د دوو مياشتو ده او د هغې په زړه کي د سوري په سبب په روغتون کي داخله ده او دا د سړی دومره توان نه لري چي د هغې خرڅ پر ځان يوسي نو ايا د دې بل له پاره هغه ته زکات ورکول يا ورکولای سي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي مالدار د نصاب خاوند سړي لور ته د زکات ورکول روا دي، البته د دې مور ته دي ورکړي، غالبا مور د نصاب مالکه نه وي که چيري د هغې په ملک کي يو څه زېورات وي نو هغه دي خاوند ته هبه کړي او زکات دي قبضه کړي او په خپل لور دې مصرف کړي يا له هغې سره چي کومي پيسې دي هغه دي پر خپلي لور مصرف کړي او بيا دي زکات قبضه کړي.

په بدائع الصنائع کي راځي:

وأما ولد الغني فإن كان صغيرا لم يجز الدفع إليه وإن كان فقيرا لا مال له؛ لأن الولد الصغير يعد غنيا بغنى أبيه وإن كان كبيرا فقيرا يجوز؛ لأنه لا يعد غنيا بمال أبيه فكان كالأجنبي ولو دفع إلى امرأة فقيرة وزوجها غني جاز. (بدائع الصنائع: ۲/ ٤۷، سعيد – وكذا في الفتاوى الهندية: ۱/ ۱۸۹، المصارف).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

د مالدار سړی اولاد (کوچنیو بچیانو) ته زکات او واجب صدقات ورکول روا نه دي او په دې سره زکات نه اداء کیږي. (فتاوی دار العلوم دیوبند:٦/ ٢١٢، مصارف زکات، مدلل ومکمل). والله ﷻ اعلم.

یتیم هلک چي د هغه مور مالداره وي هغه ته د زکات ورکولو حکم

سوال: یو یتیم هلک له خپلې مور سره اوسیږي او د هغه مور مالداره ده نو ایا و دې یتیم هلک ته زکات ورکول روا دي او که نه؟

الجواب: یتیم هلک که چیري پوهیدئ او قبضه یې هم کولای سوای او د زکات مستحق هم وي نو هغه ته زکات ورکول روا دي که څه هم د هغه مور مالداره وي او که هلک ډېر کوچنی وو او قبضه یې نه سوای کولای نو د هغه له طرفه که چیري د هغه ولي قبضه وکړي نو روا ده او زکات هم اداء کیږي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

فلو أطعم يتيما ناويا الزكاة لايجزيه إلا إذا دفع إليه المطعوم كمالو كساه بشرط أن يعقل القبض. وفى الشامى: ولا يخفى أن يشترط كونه فقيرا ولاحاجة إلى اشتراط فقر أبيه أيضا لأن الكلام فى اليتيم ولا أبا له فافهم. (الدر المختار مع الشامى:٢/ ٢٥٧، سعيد).

په طحطاوي کي راځي:

وطفل الغنية ولو أبوه ميتا لأنه لايعد غنيا بغناها ولو انحاز إليها، قوله لانتفاء المانع علة للجميع، والمانع أن الطفل يعد غنيا بغنى أبيه...... ولو لم يكن له أب فانتفى المانع فيها.

(حاشية الطحطاوى على الدر المختار:١/ ٤٢٨، باب المصرف، كوئته).

همدا ډول په یو بل ځای کي ذکر سوي دي:

ولايشترط فى المدفوع إليه البلوغ بل ولا العقل لأن تمليك الصبى صحيح لكن إن لم يكن عاقلا فإنه يقبض عنه وصيه أو أبوه أو من يعوله قريبا أو أجنبيا أو الملتقط وإن كان عاقلا

فقبض من ذکر وکذا قبضه بنفسه، بحر (حاشية الطحطاوی علی الدر المختار:۱/ ۳۸۸، کوئته – والشامی:۲/ ۳۲۲، سعید). والله تعالی اعلم.

د مدرسې په قرضه کې استازي ته د زکات ورکولو حکم

سوال: یو سړی د مدرسې استازي دئ هغه د مدرسې له پاره له یو چا څخه پر طالبانو باندې د مصرفولو له پاره قرضه اخیستې ده اوس دغه استازي ته یو چا زکات ورکړي نو هغه دغه زکات په قرضه کې ورکولای سي او که نه؟

الجواب: په دې پوښتل سوي صورت کې د طالبانو د وکیل تر قبضې وروسته د هغه مصارف فقیراء او مساکین دي او بل څوک نه دي نو ځکه دغه پیسې پر مستحقو طالبانو باندې تملکا خرچ کول ضروري دي ځنګه چې قرض استازي اخیستی دئ نو د طالبانو د زکات پیسې په دغه کې نه سي خرڅ کولای، مګر طالبانو ته دې د زکات پیسې په وظیفه کې ورکړي بیا دې له هغو څخه د مدرسې د تعلیم، خوراک او څښاک فیس وصول کړي او بیا دې هغه پر مدرسه خرڅ کړي که چیري یو چا استازي ته زکات ورکړئ نو هغه دغه زکات په خپل قرض کې خرڅ کولای سي.؛

په ایضاح النوادر کې راځي:

ډېرو اهل الفتاوی مهتمم د طالبانو او ورکونکو دواړو وکیل منلي دي د طالبانو د وکیل کېدو په سبب مهتمم او د هغه ماتحت خلکو په قبضه کولو سره دزکات ورکونکو زکات اداء کیږي حضرت مولانا خلیل احمد سهارنپوري رحمه الله وایي، چې د ورکونکو په حق کې د مدرسې والا د بیت المال د عمالو په مثل دئ او د طالبانو او اخیستونکو له طرفه وکیلان دي. (فتاوی خلیلیه:۱/ ۳۱۹).

او همدغه مضمون حضرت مفتي محمود حسن ګنګوهي رحمه الله په فتاوی محمودیه کې رانقل کړی دئ چې کله طالبانو د مهتمم اهتمام او قوانین ومنل او داخله یې واخیسته نو ګویا هغوی دا وویل چې ته زموږ وکیل یې. (فتاوی محمودیه:۲/ ۲۱۸).

او حضرت قطب عالم مولانا رشید احمد ګنګوهي، په صافو الفاظو کې مهتمم د طالبانو وکیل جوړ کړی دئ. (تذکرة الرشید:۱/ ۱٦٤، حاشیه فتاوی خلیله:۱/ ۳۲۰).

او حضرت مولانا متفي محمد شفیع صاحب یو څه اختلاف درلود مګر په خپل وروستی عمر کي یې له دغي فتوی څخه رجوع وکړه.(امداد المفتين:۲/ ۱۰۸۵).

مګر د مدرسه والو لـه پاره پـه صحیح مصرف کـي خرڅ کـول ضروري دي.(مخلص از ایضاح النوادر،حصه دوهم: صہ ۵۰-۵۳، چاپ نعیمیه).

په جواهر الفتاوی کي راځي:

د دیني مدرسو مهتممان او ناظمین د زکات د مال تر قبضې وروسته د طالبانو له خوراک او داسي نورو شیانو پرته په نورو ضرورتونو کي مثلا لکه د استاذانو او نورو ملازمینو تنخوا او یا د تعمیر د کار په مصرف ولو او یا د کتب خانې له پاره کتابونه اخیستل په دغو شیانو کي یې د تلملیک د حیلي پرته نه سي مصرف کولای، هغوی ته د دې قطعا اجازه نه سته چي له ذکر سوي مصارفو څخه پرته یې په یو بل مصرف کي د زکات مال مصرف کړي، ﴿ إنما الصدقات للفقراء والمساكين﴾. (سورة التوبة:۶۰).(جواهر الفتاوی:۱/ ۸۱).

پر همدې اساس ټولو فقهاء کرام په متفقه توګه لیکلي دي: ما يوضع في بيت المال أربعة أنواع .

الأول زكاة السوائم والعشور ، وما أخذه العاشر من تجار المسلمين الذين يمرون عليه ، ومحله ما ذكرنا من المصارف (أى الفقراء والمساكين)، الهندية:۱/ ۱۹۰ – كذا فى در المحتار:۲/ ۶۳ – بدائع الصنائع:۲/ ۶۸.

له دې څخه دا معلومه سوه چي لکه څنګه چي د بیت المال د زکات مالونه په غیر مصارفو کي مصرف ول روا نه دي همدا ډول د دیني مدرسو د زکات مال هم په غیر مصارفو کي په مصرفولو کي اجازه نه سته، البته د تملیک تر حیلې وروسته د مدرسې په نورو ضرورتونو کي د مصرفولو اجازه سته. (جواهر الفتاوی:۱/ ۸۱-۸۳، اسلامی کتب خانه کراچی).

د حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله رايه دا ده چي مهتمم د طالبانو د وكيل فرض كولو په صورت كي همدغه د زكات پيسې د استاذانو او د مدرسې په نورو ضرورتونو كي د مصرف ولو اجازه نه ستهٔ، بلكي د طالبانو پر خوراك او څښاك او داسي نورو ضرورتونو كي يې خرڅولای سي. (جديد فقهي مباحث: ۵/ ۱۶۰، مصرف زكات، چاپ ادارة القرآن). والله تعالى اعلم.

د زكات په پيسو د غريبو طالبانو د فيس اداء كولو حكم

سوال: زموږ د مدرسې طالبان مسكينان دي چي هغوى فيس نه سي اداء كولای، نو ايا د هغوى فيس د زكات په پيسو سره اداء كېدلای سي او كه نه؟

الجواب: په دې صورت كي د طالبانو مسكين والى او مستحق كېدو په سبب د هغوى فيس د زكات په پيسو اداء كول روا دي او د هغه صورت دا دئ چي مسكين طالب ته د وظيفې په شكل وركړل سي او بيا يې له هغه څخه د فيس په شكل وصول كړي، تولي پيسې دي نه وصول كوي بلكي يو څه دي د جيب د خرڅ له پاره ورته پرېږدي او بيا چي كوم فيس يې وصول كړی دئ هغه دي مدرسه په خپلو كارو كي مصرف كړي.

په قرآن كريم دي: ﴿إنما الصدقات للفقراء والمساكين ......﴾. (سورة التوبة: ۶۰).

په حديث شريف كي راځي:

تؤخذ من أغنيائهم وترد على فقرائهم. (رواه الترمذي: ۱/ ۱۳۶، باب ماجاء في كراهية أخذ خيار المال في الصدقة).

په البحر الرائق كي راځي:

هي تمليك المال من فقير ...... وقيد بالتمليك احترازا عن الإباحة ولهذا ذكر الولوالجي وغيره أنه لو عال يتيما فجعل يكسوه ويطعمه وجعله من زكاة ماله فالكسوة تجوز لوجود ركنه وهو التمليك وأما الإطعام إن دفع الطعام إليه بيده يجوز أيضا لهذه العلة وإن كان لم يدفع إليه ويأكل اليتيم لم يجز لانعدام الركن وهو التمليك ولم يشترط قبض

الفقير لأن التمليك في التبرعات لا يحصل إلا به ...... ولم يشترط البلوغ والعقل لأنهما ليس بشرط لأن تمليك الصبي صحيح لكن إن لم يكن عاقلا فإنه يقبض عنه وصيه ...... وإن كان عاقلا فقبض من ذكر كذا قبضه بنفسه والمراد أن يعقل القبض بأن لا يرمي به ولا يخدع عنه .(البحر الرائق:۲/ ۲۰۱، کتاب الزکاة، کوئته).

په فتاوی محموديه کي راځي:

غريب طالب ته د زکات پيسې يا قاعده يا سيپارې په ورکولو سره زکات اداء کيږي چي کله هغه طالب پوه وي او د قبضې اهليت هم لري يو مخ کوچنی ناپوه نه وي. (فتاوی محموديه:۹/ ۵۴۸، مبوب ومرتب).

د زيات تفصيل په له پاره کتابونه وګورئ: (ايضاح النوادر، دوهمه حصه،صـ ۴۸، مد زکات څخه فيس اداء کول، چاپ نعيميه، جديد فقهی مسائل:۱/ ۲۲۵). والله تعالی اعلم.

د اسلامي مکتب د شاګردانو فيس د زکات له پيسو څخه د اخيستلو حکم

سوال: علماء په دې اړه څه فرمايي، ځيني ديني درد لرونکي اسلامي مکتب جوړول غواړي په دغه مکتب کي مسکين او مالدار دواړه ډوله، خلک تعليم حاصلوي او د مکتب مصرف د شاګردانو څخه وصوليږي نو ايا د غريبو شاګردانو په فيس کي زکات ورکولای سي او که نه؟ او ايا د زکات په اړه دا ويل ضروري ده چي دا زکات دئ؟ او ايا په زکات کي تمليک ضروري دئ او که نه؟ او ايا د بالغ او نابالغ د زکات په وصول کېدو کي فرق سته او که نه؟ او که چيري ديوه سړي په کور کي تې وي او يا وي سي ار موجود وو او د هغه قيمت نصاب ته رسېدئ نو دا سړی مالدار حسابيږي او که نه؟

الجواب: د زکات پيسې شرعا هغو فقيرانو او مسکينانو ته په مالکانه ډول ورکول ضروري دي کوم چي د نصاب مالک نه وي او د نصاب مقدار دوه پنځوس نيمي تولې سپين زر يا اووه نيمي تولې سره زر يا د هغه په مقدار پيسې يا تر ضرورت زيات سامان دئ، د مکتب شاګردان که چيري بالغ وي او په خپله د نصاب مالکان نه وه نو هغوی ته زکات ورکولای سي که څه هم د هغوی پلار مالدار وي همدا ډول په زکات کي دا ويل هم ضروري نه ده چي دا د زکات مال دئ بلکي زکات د تحفې په نامه هم

ورکېدلای سي مګر په زکات کي د فقیر تملیک ضروري دئ او د مکتب شاګردان که چیري نابالغ وه او د هغوی پلار هم د زکات مستحق وو نو هغوی ته هم د زکات پیسې ورکول که په هر عنوان وي روا دي، مګر هو که چیري د هغوی پلار د زکات مستحق نه وو او زامن یې کوچنیان وه نو بیا یې وزامنو ته شرعا زکات ورکول ناروا دي. کوم شاګردان چي د زکات مستحق وي هغوی د ملک په ډول پیسې ورکول او دوباره د فیس په ډول ځني اخیستل روا دي. که چیري دیوه سړي په کور کي تې وي یا وي سي ار موجود وي او د هغه قیمت نصاب ته رسیږي نو هغه سړی د زکات مستحق نه دئ ځکه چي دا دواړه شیان تر ضرورت زیات دي او که د هغو قیمت د نصاب په اندازه وي مګر که چیري تې وي یا وي سي ار د پلار نه وو بلکي د مور وو نو بیا پلار د زکات مستحق حسابیږي او د هغه زامن چي کوم نابالغ دي او قبضه کولای سي هغه هم مستحق حسابیږي. د دې مسئلي دلایل په لوړه مسئله کي کتلای سئ. والله ﷻ اعلم.

د زکات پیسې د تملیک د حیلي وروسته د مدرسې په نورو ضرورتونو کي د مصرفولو حکم

سوال: زموږ د مدرسې زیاتي پیسې د زکات وي او په مدرسه کي مالدار او مسکینان دواړه درسونه وایي دغه مدرسه د ړندو خلکو د رسم الخط او سپیکر ته هم ضرورت لري پرته له دې د خارج هیواد ړانده خلک هم زموږ له خدماتو څخه فائده اخیستل غواړي او زموږ مقصد دادئ چي موږ د ړندو خلکو زیات خدمت وکړو نو ځکه یوه جائز حیله راته وښایاست چي موږ د زکات پیسې د الله ﷻ له پاره بدلي کړو هغه پیسې د مدرسې په ضرورتونو کي خرڅ کړو؟

الجواب: زکات د الله ﷻ له پاره په یوه حیله سره بدلول پرته له سخت ضرورت څخه روا نه دئ که چیري موږ په زکات کي حیلې کوو نو د زکات مقصد ختمیږي هو د تدبیر او حیلې څخه پرته د مدرسې د چلولو له پاره یو کار کولای سي هغه دا دئ چي پر طالبانو باندي فیس مقرر کړي او مسکینانو طالبانو ته پنځه سوه روپۍ د زکات ورکړي بیا دي د مدرسې د چلولو له پاره له هغه څخه مثلا څلور سوه روپۍ وصول کړي یو دي ورکړي هغه بل دي ور څخه وصول کړي بیا هغه وصول کړل سوي روپۍ د مدرسې په یوه بل کار کي خرڅ کړي مګر هو د دباندي خلکو ته یې نه سي ورکولای ځکه چي د مدرسې مال باید په مدرسه باندي مصرف سي. والله ﷻ اعلم.

د مدرسو استازي د عاملينو په حکم کي دي؟

سوال: د مدرسو استازي د عاملينو په حکم کي دي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي د راجح قول مطابق د مدرسو استازي او د چندې اخستونکي د زکات د عاملينو تر حکم لاندي داخل دي.

په جواهر الفقه کي راځي:

د حضرت مفتي محمد شفيع صاحب اول دا تحقيق وو چي د مدرسو مهتممان د صدقې د عاملينو په حکم کي نه دي بلکي د زکات ورکونکو وکيلان دي او بيا وروسته د حضرت گنگوهي رحمة الله عليه او حضرت تهانوي رحمة الله عليه د تحقيق پربناء حضرت مفتي صاحب له خپل اول تحقيق څخه رجوع وکړه او د دې قائل سو چي د نن سبا د مدرسو مهتممان او د هغوی تاکل سوي چنده وصول کونکي د صدقې د عاملينو په حکم کي دي او د فقيرانو وکيلان دي. (جواهر الفتاوی: ۱/ ۷٤، اسلامی کتب خانه).

په جديد فقهي مباحث کي راځي:

د مدرسو استازي او د چندې حاصلونکي د زکات د عاملينو تر حکم لاندي داخل دي او دحضرت مفتي کفايت الله رحمة الله عليه خو له شروع څخه دغه رايه وه چي د محصلينو استازي د زکات د عاملينو په حکم کي دي او حضرت مفتي محمد شفيع صاحب په امداد المفتين او معارف القرآن کي او حضرت مولانا تهانوي رحمة الله عليه په امداد الفتاوی کي اول که څه هم استازي او محصلين د عاملينو په حکم کي نه دي داخل کړي مگر د هغو حضراتو رايه هم په اخر کي بدله سوه. د تفصيل له پاره لاندي کتابونه وگورئ: (جواهر الفقه: ٤، فتاوی خليليه: ۱، امدا الفتاوی: ۱ ج). (جديد فقهی مباحث: ۷/ ۵۸٤).

مولانا خالد سيف الله وايي:

په کوم ځای کي چي شرعي نظام موجود نه وي هلته ديني اداري او درسگاوي د زکات په اجتماعي ډول په جمع کولو او مستحقينو ته د رسولو نظم کولای سي ځکه چي د ديني مدرسې طالبان د زکات بهترين مصارف دي هلته د هغو ادارو له طرفه د زکات د وصول کار کونکي د عاملينو

په حکم کي دي که څه هم هغه دامیر المسلین له طرفه څخه پر دغه کار مامور نه دئ مګر د زکات حق امیر ته د ورکولو څخه د شریعت چي کوم اصل مقصد دئ یعنی په اجتماعي توګه د زکات د وصولي او تقسیم نظم کول هغه همدا ډول پوره کیږي او اصل اعتبار د مقاصدو دئ.((الامور بمقاصدها)). (د اسلام د عشر او زکات نظام،صہ ۱۱۱، عاملین او موجوده محصلین).

حضرت مفتي کفایت الله رحمہ اللہ وایي :۔

د زکات د پیسو وصول کونکو ته د زکات له پیسو څخه اجره ورکول روا دي که څه هم هغه مالدار وي مګر په هیڅ حال کي هغوی ته د وصول کړل سوو تر نیمیي برخي زیات نه ورکول کیږي او یو مستحق ته د زکات پیسې د یو کار په عوض کي له تحصیله پرته او پر ته د زکات له جمع کولو ورکولای نه سي ځکه د زکات په اداء کولو کي تملیک بېله عوضه شرط دئ او د تعلیم او د تبلیغ ملازمینو ته تنخوا د اجارې د عقد په ډول ورکول کیږي کوم چي بېله عوضه تملیک نه دئ، البته که چیري هغوی ته د میاشتي د وظیفي په ډول ورکړل سي او د مستاجر په حیثیت د هغه د عمل پېژندنه وکړل سي او د اجیر په رقم له هغوی څخه مواخذه نه وي نو بیا هغوی ته له زکات څخه د میاشتي وظیفه ورکول روا ده.(کفایت المفتی:٤/ ۲۸٦، مصارف زکات).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (جدید فقهی مباحث کی:٦/ ۳۳۵). والله تعالیٰ اعلم.

د زکات ملازمین د عاملینو په حکم کي دي؟

سوال: که چیري یو اداره د زکات شعبه جوړه کي او په هغه کي یې یو څو ملازمین د وېش او حساب له پاره ټاکلي وي نو دا د عاملینو په حکم کي دي او که نه؟

الجواب: د زکات د شعبې ملازمین د عاملینو په حکم کي دي.

په درمختار کي راځي :

وعامل یعم الساعی والعاشر فیعطی ولو غنیا لاهاشمیا لأنه فرغ نفسه لهذا العمل فیحتاج إلی الکفایة والغنی لایمنع من تناولها. وفی الشامی: قوله یعم الساعی: هو من یسعی فی القبائل لجمع صدقة السوائم، قوله: فیحتاج إلی الکفایة: لکن لایزاد علی نصف ماقبضه.

(الدر المختار مع الشامی:۲/ ۳۳۹، باب المصرف، سعید – وکذا فی البحر الرائق:۲/ ۲٤۱، باب المصرف، کوئٹه).

په فتاوی هندیه کي راځي:

ومنها العامل وهو من نصبه الإمام لاستيفاء الصدقات والعشور كذا في الكافي، ويعطيه ما يكفيه ، وأعوانه بالوسط مدة ذهابهم ، وأيابهم ما دام المال باقيا إلا إذا استغرقت كفايته الزكاة فلا يزاد على النصف، كذا في البحر الرائق . (الفتاوی الهندية:۱/ ۱۸۸، باب المصرف).

زياتي حوالې په لوړه مسئله کي وګورئ. والله تعالیٰ اعلم.

که چيري خاوند مسلمان وو او ښځه او زامن يې کافران وه نو خاوند ته د زکات ورکولو حکم

سوال: خاوند اسلام قبول کړی دئ مګر د هغه ښځه او زامن کافران دي نو خاوند ته زکات ورکول روا دي او که نه؟

الجواب: په ياد صورت کي چي کله خاوند اسلام قبول کړ او هغه د زکات مستحق هم وي نو هغه ته د هغه په نيت زکات ورکول روا دي.

په حديث شريف کي راځي:

عن ابن عباس : أن رسول الله ﷺ بعث معاذا إلى اليمن فقال: له إنك تأتي قوما أهل كتاب فادعهم إلى شهادة أن لا إله إلا الله وأني رسول الله فإن هم أطاعوا لذلك فأعلمهم أن الله افترض عليهم خمس صلوات في اليوم والليلة فإن هم أطاعوا لذلك فأعلمهم أن الله افترض عليهم صدقة في أموالهم تؤخذ من أغنيائهم وترد على فقرائهم ..... (رواه الترمذی:۱/ ۱۳٦، باب ماجاء فی کراهية اخذ خيار المال فی الصدقة).

له دې حديث شريف څخه معلومه سوه چي مسلمان ته زکات ورکول ضروري دي او غير مسلم ته زکات ورکول روا نه دي او زکات هم نه اداء کيږي.

پہ البحرالرائق کي راځي:

قوله لا إلى ذمي أي لا تدفع إلى ذمي لحديث معاذ ﷺ « خذها من أغنيائهم وردها في فقرائهم » لا لأن التنصيص على الشيء ينفي الحكم عما عداه بل للأمر بردها إلى فقراء المسلمين فالصرف إلى غيرهم ترك للأمر ، وحديث معاذ ﷺ مشهور تجوز الزيادة به على الكتاب .... (البحر الرائق:۲/ ۲٤۲، باب المصرف، كوئته).

پہ فتاوی قاضیخان کي راځي:

مصرف الزكاة ما ذكر الله تعالى في قوله: ﴿ إنما الصدقات للفقراء ﴾. الآية. (فتاوى قاضيخان:۱/ ۳٦٥).

وفيه أيضا: ولا يجوز صرف الزكاة إلى الكافر حربيا كان أو ذميا. (الفتاوى الخانية على هامش الهندية:۱/ ۲٦۷ – وكذا في الشامي:۲/ ۲۸۰، سعيد – وبدائع الصنائع:۲/ ٤۹، سعيد). والله ﷻ اعلم.

دنیوي علومو حاصلونکي انجلۍ ته د زکات ورکولو حکم

سوال: یوه نجلۍ چي هغه دنیوي علوم حاصلوي او هغه د زکات مستحق هم ده نو د زکات پیسې هغې ته ورکول روا دي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي دنیوي علوم حاصلونکی بالغه نجلۍ که چیري د زکات مستحق وي نو هغې ته زکات ورکول روا دي.

پہ فتاوی هندیه کي راځي:

ويدفع إلى امرأة غني إذا كانت فقيرة ، وكذا إلى البنت الكبيرة إذا كان أبوها غنيا ؛ لأن قدر النفقة لا يغنيها. (الفتاوى الهندية:۱/ ۱۸۹، باب المصرف).

همدا ډول ذکر سوي دي:

ويجوز صرفها إلى من لا يحل له السؤال إذا لم يملك نصابا ، وإن كانت له كتب تساوي مائتي درهم إلا أنه يحتاج إليها للتدريس أو التحفظ أو التصحيح يجوز صرف الزكاة إليه كذا في فتاوى قاضي خان، سواء كانت فقها أو حديثا أو أدبا هكذا في محيط السرخسي . (الفتاوى الهندية:١/ ١٨٩، باب المصرف).

په فتاوى محموديه كي راځي:

كه چيري مستحق سړى مالک جوړ كړل سي نو زكات اداء كيږي كه څه هم هغه انګرېزي وايي مګر ديندار ته وركول افضل دي. (فتاوى محموديه:٩/ ٥٥٩، مبوب ومرتب). والله ﷻ اعلم.

د استاذانو په تنخوا كي د زكات د پيسو وركولو حكم

سوال: د ديني مدرسو د استاذانو په تنخوا كي د زكات پيسې وركول روا دي او كه نه؟

الجواب: په ياد صورت كي په تنخوا كي د زكات پيسې وركول روا نه دي مګر هو كه چيري مستحقو طالبانو ته د زكات پيسې وركول او له هغوي څخه تعليمي فيس وصول كړل سو نو اوس دغه پيسې په تنخوا كي وركول روا دي ځكه چي د زكات په پيسو كي بېله عوضه فقير د زكات مالک جوړول ضروري دي.

په كنز الدقائق كي راځي:

هی تمليک المال بغير عوض من فقير مسلم غير هاشمی ولا مولاه بشرط قطع المنفعة عن المملک من كل وجه لله تعالى. (كنز الدقائق:ص ٥٥، كتاب الزكاة، مكتبة امداديه).

په فتاوى محموديه كي راځي:

د واجبه صدقاتو د اداء كولو له پاره ضروري ده چي هغه پر مصارفو (فقيرانو او داسي نورو) باندي د تمليک بېله عوض په شكل مصرف كړل سي نو ځكه په تنخوا كي وركول روا نه دي كه چيري يې د مدرسې ملازمين ته د يوې حيلې پر ته په تنخوا كي وركړى نو زكات نه اداء كيږي. (فتاوى محموديه:٩/ ٦٠٥).

په ایضاح المسائل کي راځي:

داستاذ، ملازم او اشپز او داسي نورو په تنخوا کي زکات ورکول روا نه دي. (ایضاح المسائل: صـ ۱۱۸، چاپ نعیمیه). والله ﷻ اعلم.

په عربي مدرسو کي د راجمع کېدونکو روپیو حکم

سوال: په عربي مدرسو کي واجب صدقې او غیر واجبه یعنی عطیات او داسي نوري پیسې جمع کیږي د دې څه حکم دئ؟ ایا دغه پیسې د مالک له ملکیت څخه خارجیږي او که نه؟ دغه د کال په تېرېدو سره پر هغه زکات واجبیږي او که نه؟ همدا ډول د مالکانو زکات په څه وخت کي اداء کیږي تر مصرفولو وروسته او که د منتظمینو تر قبضې وروسته؟

الجواب: په مدرسو کي دېر ځله درې ډوله پیسې جمع کیږي:

۱_ دعطیاتو پیسې، هدیه، نفلي صدقې او داسي نور یعنی هغه پیسې چي هغه واجب التملیک نه دي.

۲_ د زکات، نذر او کفاراتو پیسې یعنی هغه پیسې چي هغه واجب التملیک دي.

۳_ هغه پیسې چي ورکونکي د یوه معلوم کار له پاره ورکوي مثلا فلانی وطاق په جوړه کړه یا فلانی فرش په رانیسه او داسي نور نو د هر یوه حکم وګوره په لاندي ډول دئ.

۱_ عطیات یعنی هغه پیسې چي هغه واجب التملیک نه دي، د هغو په اړه هم د مدرسو مهتممان او د هغو نائبان وکیلان دي مګر د عقل مندانو په مشوره سره د خرڅولو چي کومه ضابطه ده هغه د شرعي په حدودو کي معلومه او متعینه وي او یوازي تر دې ضابطه لاندي مصرف کول ضروري دي او بیا چیري چي عقل مندان نه وه او یا وه مګر د خرڅولو په اړه یو واضحه ضابطه پیدا سي نو بیا د اداري په خواني اهل علم او دیانت والا ذمه دارانو معمول ته کتل کیږي او د هغه پیروي کول کیږي مهتمم یا نور عاملین خپله رایه چلولای نه سي.

۲_ د زکات او داسي نوري پیسې کوم چي واجب التملیک وي په دغو پیسو کي د مدرسو مهتممان د ورکونکي له خوا من وجه وکیل وي ځکه چي د مهتمم قبضه من کل الوجوه د مستحق قبضه نه ده نو ځکه طالبانو یا د زکات مستحقو خلکو ته تملیکا ورکول ضروري دي او بله تملیکه

په يوه بل ضرورت كي مصرف كول روا نه دي همدا ډول دغه پيسې بايد له غير واجبة التمليك پيسو څخه جلا كېښودل سي، همدا ډول په دې پيسو كي دغه خلک د طالبانو وكيل او نائب وي نو ځكه دغه پيسې وركونكى تر وركولو وروسته دوباره اخيستلاى نه سي او نه د كال په تېرېدلو سره پر دغو پيسو زكات واجبېږي او د ډېر مقدار تر حاصلولو وروسته زيات حاصلولو ته ناروا هم ويلاى نه سي او نه يو مستحق غني كېدلاى سي. بيا وركونكى هم مختلف وي ځيني غواړي چي پر طالبانو يې مصرف كړي او نور بيا دا صراحت نه كوي بلكي دمدرسې له پاره يې وركوي نو په اول صورت كي دا ضروري ده چي بايد طالبان د هغو پيسو مالكان جوړ كړل سي او په دوهم صورت كي كه هر يوه مستحق ته د مدرسې وركړل سي نو دا كافي ده.

۳_ هغه پيسې كه وركونكى يې د يوه خاص كار له پاره وركړي د هغه حكم دا دئ چي په هغه كي مهتمم يوازي او يوازي د وركونكي وكيل وي، نو ځكه دغه ډول پيسې په مدرسه كي له ګډولو او هلاكولو څخه د ځان ساتلو له پاره په مدرسه كي جلا جلا كېښودل سي او د وركونكي د هدايت مطابق خرڅ كړل سي. (مخلص از نظام الفتاوی:۶ ۴ ۴ - ۵۰ ۴، اصلاحی کتب خانه). والله ﷻ اعلم.

د زكات د مالكانو د تصريح خلاف د زكات د پيسو د مصرفولو حكم

سوال: كه چيري يوه سړى په زلزله كي د مبتلاء سوو خلكو له پاره د زكات پيسې وركړي او هغه پيسې له يو څو وجوه څخه هلته مصرف نه سوې نو اوس دغه پيسې په يوه بل ځاى كي مصرفول او استعمالول روا دئ او كه نه؟

الجواب: په دې پوښتل سوي صورت كي د زكات پيسې په بل ځاى كي مصرفول روا نه دي او د مالكانو اجازه ضروري ده مګر كه چيري د مختلفو خلكو د زكات پيسې وي او ټولو ته خبر وركول مشكل وو او په هغه ټاكلي مصرف كي يې خرڅول هم ممكن نه وه نو په بل ځاى كي چي هغه هم د زكات مصرف وي د دې پيسو مصرفول روا دي.

په الفقه الحنفی وادلته كي راځي:

أما إذا عين الغنى الفقير للوكيل لم يجز له أن يدفع الزكاة إلى غيره. (الفقه الحنفی وادلته:۱/ ۳۴۰، بيروت).

په فتاوی شامي کي راځي:

وهنا الوكيل إنما يستفيد التصرف من المؤكل وقد أمره بالدفع إلى فلان فلا يملك الدفع إلى غيره. (شامي: ۲ ، ۲٦۹، سعيد).

په فتاوی محموديه کي راځي:

وکیل امین وي او د مؤکل د هدایت خلاف هغه ته حق نه ستته. (فتاوی محمودیه: ۹/ ٤۹٥) والله تعالیٰ اعلم.

د تي وي مالک ته د زکات ورکولو حکم

سوال: يو سړی په اصطلاحي ډول غريب دئ خو له هغه سره تي وي ستته او په عمومي ډول ژوند تيروي همدا ډول له هغه سره تر ضرورت زيات ډېر شيان دي نو ايا داسي سړی د زکات مستحق دئ او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي که چيري له هغه سره زوړ تي وي وي کوم چي د ډېر کم قيمت وي نو داسي سړی مالدار او د نصاب خاوند نه بلل کيږي مګر که چيري له تلويزون سره نور د تر ضرورت زيات شيان هم وه نو بيا هُغه د نصاب خاوند دئ مګر د هغه د کور نور افراد خو به د زکات مستحق وي هغه ته دي زکات ورکړل سي.

په فتاوی هنديه کي راځي:

لا يجوز دفع الزكاة إلى من يملك نصابا أي مال كان دنانير أو دراهم أو سوائم أو عروضا للتجارة أو لغير التجارة فاضلا عن حاجته الأصلية ، وهي مسكنه ، وأثاث مسكنه وثيابه وخادمه ، ومركبه وسلاحه ...... ويجوز دفعها إلى من يملك أقل من النصاب ، وإن كان صحيحا مكتسبا كذا في الزاهدي . (الفتاوى الهندية: ۱/ ۱۸۹). والله تعالیٰ اعلم.

لېوني یا بې هوښه ته دزکات ورکولو حکم

سوال: که چیري یو سړی لېوني یا بې هوښه وي او هغه مسکین هم وي نو هغه ته باید څنګه زکات ورکول سي حال دا چې هغه قبضه نه پېژني؟

الجواب: په دې صورت کي دي د هغه ولي یا وصي ته دي زکات ورکړل سي او که چیري هغه نه وي نو بیا دي نګران ته ورکړل سي.

په فتاوی شامي کي راځي:

قوله تمليكا وفي التمليك إشارة إلى أنه لا يصرف إلى مجنون وصبي غير مراهق إلا إذا قبض لهما من يجوز له قبضه كالأب والوصي وغيرهما . (شامی:۲/ ۳٤٤، سعید).

په بدائع الصنائع کي راځي:

وكذا لو دفع زكاة ماله إلى صبي فقير أو مجنون فقير وقبض له وليه أبوه أو جده أو وصيهما جاز ؛ لأن الولي يملك قبض الصدقة عنه . (بدائع الصنائع:۲/ ۳۹، سعید – وكذا فی الهندية:۱/ ۱۹۰). والله ﷻ اعلم.

د علاج له پاره دزکات د پیسو ورکولو حکم

سوال: زموږ په سیمه کي د بهرني هیواد مسلمان او سیږي او هغوی مزدوري کوي ډېر ځله د علاج له پاره هغوی ډېرو پیسو ته ضرورت لري او له هغوی سره دومره پیسې وجود نه لري نو ایا هغوی ته دعلاج له پاره پیسې ورکول روا دي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي تنخوا لرونکی لاس تنګی مریض ته دعلاج له پاره دزکات پیسې ورکول روا دي.

په فتاوی تاتار خانیه کي راځي:

وإن كانت عليها لاتكفى لنفقته ونفقة عياله سنة، قال محمد رحمه الله: يحل له أخذ الزكاة. وإن كانت قيمتها يبلغ ألوفا، وفى الفتاوى العتابية: وعليه الفتاوى. (الفتاوى التاتار خانية:۲/ ۲۷۷، من توضع الزكاة فيه، ادارة القران).

په البحر الرائق کي راځي:

يجوز دفع الزكاة إلى من يملك ما دون النصاب أو قدر نصاب غير تام، وهو مستغرق في الحاجة. (البحر الرائق:۲/ ۲٤۰، كوئته).

په درمختار کي راځي:

مصرف الزكاة ..... هو فقير، من له أدنى شيء أى دون نصاب أو قدر نصاب غير نام مستغرق فى الحاجة، وفى الشامى: دون نصاب أي نام فاضل عن الدين، فلو مديونا فهو مصرف، قوله مستغرق في الحاجة كدار السكني عبيد الخدمة وثياب البذلة وآلات الحرفة وكتب العلم للمحتاج إليها تدريسا أو حفظا أو تصحيحا..... والحاصل أن النصاب قسمان: موجب للزكاة وهو النامي الخالي عن الدين، وغير موجب لها وهو غيره فإن كان مستغرقا بالحاجة لمالكه أباح أخذها وإلا حرمه . (الشامى:۲/ ۳۳۹، سعيد). **همدا رنګه وګورئ:** (فتاوى قاضيخان على هامشى الهندية:۱/ ۲٦٦، فصل فيمن توضع فيه الزكاة – والفتاوى الهندية:۱/ ۱۸۹ – وفتاوی محموديه:۹/ ۵۱۷، مبوب ومرتب – وبهشتى زيور:۳/ ۲٤۷). والله ﷻ اعلم

د مؤکل د رايې خلاف د زکات د پیسو د مصرفولو حکم

سوال: یوه سړي په کندهار کي وبل سړي ته د زکات پیسې ورکړي چي دا په کابل کي مستحقینو ته ورکړه نو دغه سړی دلته په کندهار کي یو څه یا ټولي پیسې فقیرانو ته ورکولای سي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي هغه د دې بل جانب نفي نه وه کړي بلکي دا يې ورېل چي په کابل کي يې خرڅ کړه نو اوس دغه وکيل په کندهار کي يې هم فقيرانو ته ورکولای سي مګر که چيري مؤکل

د دې بل جانب نفي کړې وه مثلا دا يې ورته ووېل چې يوازې په کابل کې مصرفول دي او په کندهار کې يې مه مصرفوه نو اوس د کندهار پر فقيرانو مصرفول روا نه دي.

په الاشباه والنظائر کې راځي:

الأصل أن الموكل إذا قيد على وكيله فإن كان مفيدا اعتبره مطلقا وإلا لا ،وإن كان نافعا من وجه. ضارا من وجه ، فإن أكده بالنفي اعتبر وإلا لا ، وفى حاشية الحموى: قوله : وإن كان نافعا من وجه ضارا من وجه، كمالو قال: بعه في سوق كذا فباع في غير ذلک السوق جاز. لأن هذا شرط قد ينفعه وقد لاينفعه. (الأشباه والنظائر مع حاشية الحموى:۲/ ۲۷۹، كتاب الوكالة، إدارة القرآن).

که مؤکل وکيل جوړ کړي او امر ورته وکړي چې معلوم سړي ته ورکړه يعنی فلاني ته يې ورکړه او وکيل بل چا ته ورکړي نو وکيل به ضامن وي.

په الفتاوی شامي کې راځي:

الوكيل إنما يستفيد التصرف من المؤكل وقد أمره بالدفع إلى فلان فلا يملك الدفع إلى غيره. كما لو أوصى لزيد بكذا ليس للوصي الدفع إلى غيره . (شامى۲/ ۲۶۹، سعيد).

په فتاوی تاتار خانيه کې راځي:

سئل عمر الحافظ عن رجل دفع إلى الآخر مالا فقال له هذا زكاة ما لى فادفعها إلى فلان فدفعها الوكيل إلى الآخر هل يضمن؟ فقال: نعم، له التعيين. (الفتاوى التاتار خانية:۲/ ۲۸٤، إدارة القرآن). والله تعالى اعلم.

ښځي ته د ميراث نه رسېدلو په صورت کي د زکات اخيستلو حکم

سوال: د يوې ښځي د پلار ډېر جائداد دئ او د پلار تر مرګ وروسته هغه د پلار وارثه او حتداره جوړه سوه مګر ورونه هغې ته حصه نه ورکوي او ښځه د نصاب مالکه هم نه ده نو ايا د زکات پيسې اخيستلای سي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي دغه ښځه د زکات مستحقه ده او د زکات پيسې اخيستلای سي.

په الدرالمختار کي راځي:

ولو دفعها لأخته ولها على زوجها مهر يبلغ نصابا وهو مليء مقر ولو طلبت لا يمتنع عن الأداء لا تجوز وإلا جاز . (الدر المختار:٢/ ٣٥٦، سعيد).

وفي الشامي: وفي الفتح: دفع إلى فقيرة لها مهر دين على زوجها يبلغ نصابا ووهو موسر بحيث لو طلب أعطاها لايجوز وإن كان لايعطى لوطلبت جاز. (الشامي:٢/ ٣٤٤، باب المصرف، سعيد).

په فتاوى ولوالجيه کي راځي:

رجل دفع زكاة ماله إلى أخته، وهي تحت زوج، إن كان مهرها دون مأتي درهم، أو كان أكثر لكن المعجل أقل من مأتي درهم، أو أكثر لكن لزوج معسر جاز الدفع إليها، وهو أعظم الأجر، لأنها فقيرة قريبة. (فتاوى الولو الجية:١/ ١٧٧، الفصل الاول فيمن تحل له الزكاة، بيروت). والله تعالى اعلم

د زکات او ربوا د مصارفو تر منځ فرق

سوال: د زکات او د ربوا د مصارفو تر منځ فرق سته او که نه؟ که چيري فرق وي نو مهرباني وکړئ واضح يې کړي؟

الجواب: د زکات او د ربوا دواړو مصارف محتاج او مسکينان خلک دي مګر فرق دا دئ چي د زکات پيسې کافر فقير ته نه ورکول کيږي او د ربوا پيسې وکافر فقير ته هم ورکول کيږي.

په قرآن کي راځي: ﴿ إنما الصدقات للفقراء والمساكين والعاملين عليها ﴾. (سورة التوبة: الآية: ٦٠)

په درمختار کي راځي:

ولا تدفع إلى ذمي لحديث معاذ رضي الله عنه وجاز دفع غيرها وغير العشر والخراج إليه أي الذمي ولو واجبا كنذر وكفارة وفطرة، خلافا للثانى، وبقوله يفتى، حاوى القدسى، وفى الشامى: قوله « وبقوله يفتى» الذى فى حاشية الخير الرملى عن الحاوى: وبقوله نأخذ، قلت: لكن كلام صاحب الهداية يفيد ترجيح قولهما. وعليه المتون. (الدر المختار مع الشامى:٢/ ٢٥١، سعيد).

په فتاوى شامي کي راځي:

ويردونها على أربابها إن عرفوهم وإلا تصدقوا بها، لأن سبيل الكسب الخبيث التصدق إذا تعذر الرد على صاحبه . (شامى:٦/ ٣٨٥، سعيد).

په معارف السنن کي راځي:

قال شيخنا: ويستفاد من كتب فقهائنا كالهداية وغيرها أن من ملک بملک خبيث ولم يمكنه الرد إلى المالک، فسبيله التصدق. (معارف السنن:١/ ٣٤، سعيد).

په فتاوى رحيميه کي راځي:

د سود پيسې دي حاجت مند ته ورکړي او خپله دې نه استعمالوي. (فتاوى رحيميه:٢/ ١٩٢).

په فتاوى محموديه کي راځي:

د سود پيسې دي وغريبانو ته ورکړي خو د ثواب نيت دې نه کوي. (فتاوى محموديه:١٦/ ٣٨٣، مبوب ومرتب).

په فتاوى رحيميه کي راځي:

دغه پیسې وفقیر ته ورکولای سي او هغه یې په خپل کار کي استعمالولای سي، غریب مسلمان ته گټه رسول په کار ده او هغه د کافر په نسبت زیات حقدار دئ.(فتاوی رحیمیه:٦/ ٢١). والله تعالیٰ اعلم.

بني هاشم او سیدانو ته د زکات ورکولو حکم

سوال: بنی هاشم او سیدانو ته د زکات ورکول څه حکم دئ؟

الجواب: د احنافو پر مذهب بنی هاشم او سیدانو ته د زکات د پیسو ورکولو په اړه مختلف اقوال دي:

۱_ مشهور قول دا دئ چي زکات او واجب صدقات ورکول روا نه دي (دا قول د فقهي په عامو کتابو کي ذکر دئ).

۲_ د دوی په خپل منځ کي یو بل ته زکات ورکول روا دي خو د بل چا څخه اخیستل ورته روا نه دي. (فتح القدير: ٢/ ٢٧٣، دار الفكر، والبنايه: ٤/ ٢٠٣).

۳_ هیڅ ډول صدقه که هغه واجبه وي او که نفلي او که وقفي وي ورکول یې روا نه دي. په لاندي کتابو کي یې وگورئ: (فتح القدير: ٢/ ٢٧٣، دار الفكر، معارف السنن: ٥/ ٢٦٦).

علامه طحطاوي رحمة الله عليه وايي:

وقد اختلف عن أبي حنيفة رحمه الله في ذلك: فروي عنه أنه قال : لا بأس بالصدقات كلها على بني هاشم، وذهب في ذلك عندنا إلى أن الصدقات إنما كانت حرمت عليهم من أجل ما جعل لهم في الخمس من سهم ذوي القربى . فلما انقطع ذلك عنهم ورجع إلى غيرهم بموت رسول الله ﷺ حل لهم بذلك ما قد كان محرما عليهم من أجل ما قد كان أحل لهم، وقد حدثني سليمان بن شعيب عن أبيه عن محمد عن أبي يوسف عن أبي حنيفة رحمهم الله في ذلك مثل قول أبي يوسف رحمه الله فبهذا نأخذ . (شرح معانی الآثار: ١/ ٣٣٣، كتاب الزكاة، باب الصدقة على بني هاشم).

په فيض الباري کې راځي:

ونقل الطحاوي عن «أمالي أبي يوسف رحمه الله: أنه جاز دفع الزكاة إلى آل النبي ﷺ عند فقدان الخمس، فإن في الخمس حقهم، فإذا لم يوجد، صح صرفها إليهم. وفي «البحر» عن محمد بن شجاع الثلجي عن أبي حنيفة رحمه الله أيضا جوازه، وفي «عقد الجيد»: أن الرازي أيضا أفتى بجوازه، قلت: وأخذ الزكاة عندي أسهل من السؤال، فأفتي به أيضا. (فيض الباری:۳/ ۵۲، باب مایذکر فی الصدقة للنبی ﷺ واله).

د هدايې په شرحه بنايه کې راځي:

وروى أبو عصمة عن أبى حنيفة رحمه الله أنه يجوز دفع الزكاة إلى الهاشمى وإنما كان لايجوز فى ذلک الوقت، لسقوط خمس الخمس. (البناية شرح الهداية:٤/ ٢٠٣).

په مجمع الانهر کې راځي:

« ولا تدفع إلى هاشمي » قيل بخلاف التطوع .... وعن الإمام : « لابأس بصرف الكل إليهم، وعنه: جواز دفع الزكاة إليهم، وفى الآثار: وعن الإمام روايتان، وبالجواز نأخذ، لأن الحرمة مخصوصة بزمانه عليه الصلاة والسلام. (مجمع الانهر شرح ملتقى الابحر:١/ ٣٣١، بيان احكام المصرف).

په تبيين الحقائق کې راځي:

وروى أبو عصمة عن أبي حنيفة رحمه الله جواز دفع الزكاة إلى الهاشمي في زمانه، وروي عن أبي حنيفة رحمه الله: أن الهاشمي يجوز له أن يدفع زكاته إلى الهاشمي. وفى حاشية الشيخ الشلبى على تبيين الحقائق: (قوله، وروى أبو عصمة عن أبي حنيفة رحمه الله جواز دفع الزكاة) قال الطحطاوي رحمه الله هذه الرواية عن أبي حنيفة رحمه الله ليست بالمشهورة اهـ . غاية وفي

شرح الآثار عن أبي حنيفة رحمه الله: لا بأس بالصدقات كلها على بني هاشم، والحرمة للعوض، وهو خمس الخمس، فلما سقط ذلك بموته عليه الصلاة والسلام حلت لهم الصدقة، قال الطحطاوي رحمه الله: وبه نأخذ، وفي النتف: يجوز الصرف الزكاة إلى بني هاشم في قوله خلافا لهما .اهـ . كاكي .(تبيين الحقائق مع الحاشية:۱/ ۳۰۳، باب المصرف، مكتبة امدادية ملتان).

وقال الشيخ الشرنبلالي رحمه الله في حاشيته على الدرر: وقال في شرح الآثار عن أبي حنيفة رحمه الله: أن الصدقات كلها جائزة على بني هاشم والحرمة كانت في عهد النبي ﷺ لوصول خمس الخمس إليهم، فلما حصل منعهم ظلما عن ذلك بموته ﷺ حلت لهم الصدقة، قال الطحاوي رحمه الله وبالجواز نأخذ كذا في شرح المجمع لابن الملك. (حاشية العلامة الشرنبلالي على درر الحكام في شرح غرر الاحكام:۱/ ۱۹۱ – وكذا في فتح باب العناية:۲/ ۱۳۹ - وحاشية الطحطاوي على الدر المختار:۱/ ۴۳۸ – ومراقي الفلاح:ص ۲۶۳ – معارف السنن:۵/ ۲۶۶).

دامت فقيه حضرت مفتي محمود احسن ګنګوهي رحمه الله ليكلي دي:

د سيدانو احترام لازم دئ ځكه نو د دوى په هكله حكم دا دئ چي زكوة او صدقات واجبه دي نه وركول كيږي، ځكه چي داسي مال ته او ساخ الناس ويل كيږي مګر كه چيري سيدان داسي مجبور وي چي د ګذارې له پاره سوال ته مجبوره وي نو د هغوى په حق كي له احنافو څخه امام طحطاوي رحمه الله او له شافعيه وو څخه امام رازي رحمه الله زكات وركول روا بللي دي چي په زكات اخيستلو كي ښومره د هغوى قدر ختميږي تر هغه زيات په سوال غوښتلو كي ختميږي او دا د ټولو په نظرو كي لويه ذلت دئ نو له دې لوى ذلت څخه د ساتلو له پاره كه چيري هغوى ته زكات وركول سي نو دا به ډېر ښه وي. (فتاوى محموديه:۹/ ۵۶۰، باب مصارف الزكات: ۱۶/ ۳۸۴، باب الربوا، مبوب ومرتب).

همدا ډول له نورو مذاهبو څخه هم ځيني حضرات يې د جواز قائل دي.

مالكيه مذهب وګورئ:

قال الأبهري المالكلي يحل لهم فرضها ونفلها. (عمدة القاري:٦/ ٥٣٧، دار الحديث، ملتان).

شافعي مذهب وګورئ:

وأفتى فخر الدين الرازي من الشافعية بالجواز في هذه الأزمنة حين منعوا أسهمهم من بيت المال وضربهم الفقر. (عقد الجيد:ص ٥٠).

په عمدة القاري کي راځي:

وقال الإصطخري: إن منعوا الخمس جاز صرف الزكاة إليهم. (عمدة القاري:٦/ ٥٣٦).

د حنابله وو مذهب وګورئ:

قال ابن القيم: قلت: وقد ذهب بعض الفقهاء إلى أنهم يجوزون لهم الإخذ من الزكاة مطلقا إذا منعوا حقهم من الخمس. (بدائع الفوائد:٣/ ٦٥٤).

شيخ الاسلام ابن تيميه رحمة الله عليه فرمايي:

وبنو هاشم إذا منعوا من خمس الخمس جاز لهم الأخذ من الزكاة وهو قول القاضي يعقوب وغيره من أصحابنا وقاله أبو يوسف والإصطخري من الشافعية لأنه محل حاجة وضرورة ويجوز لبني هاشم الأخذ من زكاة الهاشميين وهو محكي عن طائفة من أهل البيت. (الاختيارات العلمية:١/ ٩٣).

همدا ډول له متاخرينو څخه هم ځينو حضراتو د دې قول ته ترجيح ورکړې ده چي له هغو څخه د يو څو نومونه په لاندي ډول دي:

١ _ شيخ يوسف قرضاوي په فقه الزكات کي فرمايي:

ورجح شيخ الإسلام ابن تيمية رحمه الله: أنه يجوز لبني هاشم الأخذ من زكاة الهاشميين..... والذى أراه أن القول بإعطاء الزكاة لأقارب المصطفى ﷺ فى زماننا أرجح وأقوى، لحرمانهم من خمس الغنائم والفيء، الذى كان يعطى منه لذوى القربى فى عهد النبى ﷺ تعويضا من الله لهم عما حرم عليهم من الصدقة. (فقه الزكاة:۱/ ۱۸۱).

۲_ علامه دكتور وهبه زحيلى رحمه الله فرمايي: « وإعطاء هم حينئذ أفضل من إعطاء غيرهم. (الفقه الاسلامی وادلته:۲/ ۸۸٤، دار الفكر).

۳_ مولانا انور شاه كشميري رحمه الله په (فيض الباري: ۳ جلد ۵۲ صفحه كي فرمايي).

۴_ مولانا خالد سف الله وايي:

مكر په اوسني زمانه كي د نورو مخته د سوال د لاس د اوږدولو (كوم چي د سيدانو له پاره د زكات د حرمت اساسي مقصد دئ) څخه د ساتلو له پاره د سيدانو له پاره د زكات وركولو اجازه يو ضرورت دئ او پر دې بناء پر ضعيف قول هم فتوى وركول كيږي لكه څنګه چي د فقهاوو په دغه سلسله كي صراحة ذكر دئ. هذا ما عندى. **والله تعالى اعلم.** (اسلام د عشر نظام او زكات نظام، صـ ۱۲۹ - ۱۳۰).

۵_ حضرت مفتي محمد فريد په منهاج السنن كي فرمايي:

قال فى منهاج السنن: قلت: لواضطروا إلى السوال لكان ذل أخذ الزكاة أهون من ذل السوال، على أن الأوساخ ليست بأنجاس، فلو أفتى المفتى بنادر الرواية عند الضرورة لم يكن بعيدا عن الأصول. (منهاج السنن:۳/ ۱٦۹).

٦_ حضرت مولانا قاضي مجاهد الاسلام قاسمي رحمه الله فرمايي:

په هر حال د امام قول مختلف دئ، امام طحاوي رحمه الله او ځيني نورو علماوو دغه قول اختيار كړى دئ، اختلاف د دلائلو او براهينو نه دئ بلكي اختلاف د بدلي زمانې دئ نو ځكه د خپل دور د حالاتو په اعتبار پر دغه غير مشهور روايت فتوى وركول كېداى سي، اوسنى حالات دغه دي چي خمس

الخمس سیدانو ته د رسیدو سوال نه پیدا کیږي د عطایاوو او هدایاوو په ذریعه وسیدانو ته نه ورکول کیږي، نو ځکه زه د زړه په اطمنان سره دغه رایه لرم او فتوی ورکوم چي ضرورت مند سید ته زکات ورکولای سي. (مجله بحث ونظر بعنوان سیدانو ته زکات ورکول، صـ ۱۰۰-۱۰۲).

د امام ابو حنیفه رحمه الله علیه دغه د جواز روایت که څه هم ظاهر روایت نه دئ مګر د دغه د ثبوت نفی هیڅ چا نه ده کړې همدا ډول د ضرورت په وخت کي غیر ظاهر الروایت باندي فتوی ورکول د آئمه حضراتو په نزد رواج دئ.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

قوله: وقيل يفتى بقول محمد رحمه الله عليه إن أخره شهرا بلا عذر بطلت، وفى الجامع الخانى: الفتاوى اليوم على قول محمد رحمه الله عليه لتغير أحوال لناس فى قصد الإضرار، وبه ظهر أن إفتاء هم بخلاف ظاهر الرواية لتغير الزمان، فلا يرجح ظاهر الرواية عليه وإن كان مصححا أيضا كما مر فى الغصب فى صبغ الثوب بالسواد، وله نظائر كثيرة، بل قد أفتوا بما خالف رواية أئمتنا الثلاثة كا لمسائل المفتى فيها بقول زفر رحمه الله عليه، ومسئلة الاستيجار على التعليم ونحوه، فافهم. (الدر مع الشامى:٦/ ٢٢٦، باب طلب الشفعة، سعيد).

د دار العلوم حقانیې مفتي، مفتي مختار الله چي د عاجز بنده څخه د شاګردی نسبت هم لري هغه پر دغه مسئله یوه مفصله مقاله هم لیکلې ده او موږ د لوستونکو څخه دا هیله لري چي له هغې رسالي څخه استفاده وکړي.

سوال او جواب:

سوال: کوم حضرات چي د جواز قائل دي پر هغوی دغه سوال واردیږي چي د مسلم شریف په روایت کي راځي: إن هذه الصدقات إنما هى أو ساخ الناس، وأنها لاتحل لمحمد ﷺ ولا لآل محمد. (رواه مسلم:١/ ٣٤٥).

يعنى صدقې دخلكو خيري دي او محمد ﷺ او د هغه دآل له پاره حلال نه دي، د دې مخالفت لازميږي نو د دې جواب څه دئ؟

الجواب: د دې حديث تاويل د هغوی په نزد دا کېدلای سي چي حل کامل نه دئ يعنى مناسب نه دي په ډېرو ځايو کي د ((لاتحل)) مطلب علماوو نامناسب ليکلى دئ مثلا په سنن ابى داؤد او ترمذي او نورو کي دغه حديث ذکر دئ ((لاتحل لغنى ولا لذى مرة سوى)) علماوو په دې حديث کي د لا تحل د لفظ تاويل ويلی دئ چي دا مطلب يې نه دئ چي حلال نه دئ بلکي د دې معنى دا ده چي مناسب يا کامل حلال نه دي.

دابو داؤد شريف په حاشيه کي يې وګوري: ((لاتحل حلا كاملا)). (حاشيه ابو داؤد :۱/ ۲۳۱).

په مرقات کي راځي: ((فيه نفى كمال الحل لانفس الحل)). (مرقات:٤/ ١٦٩).

په شرح معاني الاثار کي راځي:

وذهبوا في تأويل هذه الآثار المتقدمة إلى أن قول النبيﷺ «لا تحل الصدقة لذي مرة أي إنها لا تحل له كما تحل للفقير الزمن الذي لا يقدر على غيرها، فيأخذها على الضرورة .... من ذلك ما روي عن رسول الله ﷺ أنه قال: ليس المسكين بالطواف ولا بالذي ترده التمرة والتمرتان. (شرح معانى الآثار:۱/ ۳۳۵).

همدا ډول په حديث شريف کي راځي: «الضيافة ثلاثة أيام فما بعد ذلک فهو صدقة لايحل له أن يثوى عنده حتى يحرجه».

يعنى د مېلمه له پاره له کوربه سره تر درو ورځو زيات پاتېدل حلال نه دي، د دې مطلب هم حرام کېدل نه دي بلکي نامناسب او مکروه دي.

همدا ډول کوم خلک چي خپل ځان ته بنو هاشم وايي هغه ډېر زيات دي او په هغوی کي بې حسابه حاجتمند فقيران دي او دخلکو عادت دا دئ چي نفلي صدقې ډېري کمي ورکوي نو پر دې

بناء علماوو بنو هاشم ته زکات ورکول روا بللي دي، که نه د سوال ذلت تر دې زیات دئ او د اهانت باعث دئ. والله ﷻ اعلم.

چي مور هاشمي وي او پلار هاشمي نه وي نو د زکات اخيستلو حکم

سوال: که چيري ديوه سړي مور هاشمي وي او پلار يې هاشمي نه وي نو دا سړی زکات اخيستلای سي او که نه او د شوافع او احنافو په نزد فرق سته او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي دغه سړی زکات اخيستلای سي، ځکه چي په نسب کي د پلار اعتبار کيږي.

په فتاوی شامي کي راځي:

و يؤخذ من هذا أن من كانت أمها علوية مثلا وأبوها عجمي يكون العجمي كفؤا لها، وإن كان لها شرف ما، لأن النسب للآباء، ولهذا جاز دفع الزكاة إليها فلا يعتبر التفاوت بينهما من جهة شرف الأم ولم، أر من صرح بهذا. (شامي:۳/ ۸۷، سعيد –واحسن الفتاوی:۴/ ۲۸۹).

په اعانة الطالبين کي راځي:

والعبرة في الانتساب بالنسب إلى الآباء، فلا يعطى أولاد البنات شيئا، لانهم ليسوا من الآل، ولذلك لم يعط ﷺ الزبير رضي الله عنه وعثمان رضي الله عنه مع أن أميهما هاشميتان. (اعانة الطالبين:۲/ ۲۳۳ – والبجيرمی على الخطيب:۵/ ۱۶۲ – وفتح الوهاب:۲/ ۴۰). والله ﷻ اعلم.



قال رسول الله ﷺ أدوا عن كل حر و عبد صغير وكبير نصف صاع من بر أو صاعا من شعير.

(رواه ابو داؤد).

پنځم .... باب

د صدقه الفطر بيان

د اکابرو علماوو اختيار کړل سوی د صدقه الفطر صحيح مقدار

سوال: دا خو متفق عليه دي چي صدقه الفطر له غنمو څخه نصف صاع (نيمه کاسه) او له اوربشو څخه يو صاع (بشپړه کاسه) ده مګر د کېلو په اعتبار سره نصف صاع څومره کيږي؟

الجواب: اکثره لويو علماوو دا ليکلي دي چي نصف صاع دانګرېزي تولې په اعتبار سره پاؤ کم دوه سېره کيږي.

حکيم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله په رساله ((الطرائف والظرائف)) کي ليکلي دي، چي يوه کاسه يا تول يا پيمانه له حضرت مولانا محمد يعقوب صاحب سره وه چي د هغه مسلسل سند له حضرت زيد بن ثابت رضي الله عنه تر پيماني پوري (چي هغه د نبي کريم ﷺ له پيمانې څخه ناپ کړې او جوړه کړې وه) رسيږي هغه حضرت مولانا تهانوي رحمه الله دوه واره ډکه کړه او وزن يې کړه (ځکه چي دوې پيمانې کيږي). له دې حسابه څخه د نصف صاع وزن يو سلو څلوېښت تولې او درې ماشي کيږي کوم چي د اتيا (۸۰) سېر څخه يو پاؤ کم دوه سېره کيږي.

حضرت مولانا مفتي محمد شفيع صاحب وايي:

احتياط په دې کي دئ چي د اتيا (۸۰) تولې د سير څخه يو پاؤ کم دوه سېره غنم په يوه صدقة الفطر کي ورکړل سي. (اوزان شرعية: صـ ۳۸).

مولانا خالد سيف الله وايي:

د هندوستان د اکثره مفتیانو رایه د مفتي محمد شفیع صاحب د رایي سره نژدې ده. (کتاب الفتاوی: دریمه حصه: صـ ۳۶۳، چاپ زمزم).

یعنی له نوې حساب شخه چې کله ۶۶۶۴ تولې له ۱۱ گرامو سره برابر دي نو ۱۴۰ تولې به ۹۶، ۶۳۲، ۱ کېلو گرامه وي.

مولانا نجیب الله ندوی رحمه الله په اسلامي فقه کي فرمایي:

په صدقه فطر کي که چیري غنم یا د هغه اوړه ورکړي نو له هغه شخه اتیا (۸۰) تولې له سیر شخه پاؤ کم دوو سیره غم ورکول په کار دي، په اوسنی زمانه کي بهتره دا ده چې په صدقه فطر کي د غلې پر ځای پاؤ کم دوه سېره غنم یا درې نیم سېره وربشو قیمت چې شومره وي وردې کړي. (اسلامی فقه: ۱/ ۴۲۲).

مولانا سید زوار حسین شاه صاحب چې یو محقق عالم تېر سوی دئ په عمدة الفقه کي وایي:

د انگرېزي سېر له وزن شخه یعنی کوم سېر چې اتیا (۸۰) تولې وي او پاکستان او هندوستان کي دغه رواج دئ له دغه حسابه شخه یوه صاع تقریبا درې نیم سېره ده او نصف صاع پاؤ کم دوه سېره ده، دغه مفتی به قول دئ. (عمدة الفقه: ۳/ ۱۷۰، مجددیه).

د حضرت تهانوي رحمه الله په خطبات الجمعة په اخر کي چې کوم د صدقه الفطر احکام لیکل سوي دي په هغه کي هم پاؤ کم دوه سېره غنم یا د هغه قیمت لیکلی دئ هلته یې وگوري، که چیري غنم ورکول سي نو بیا نصف صاع واجب ده، کوم چې د انگرېزي تول له حساب شخه پاؤ کم دوه سېره کېږي. (خطبات الاحکام الجمعات العام، صـ ۱۵۸، احکام صدقة الفطر).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کي مفتي عزیز الرحمن لیکلي دي:

صدقه فطر د اوو (۷) مثقال د وزن موافق شلور نیمه (۴/۵) ماشه بللې ده لکه شنگه چې له انگریزي وزن شخه تقریبا پاؤ کم دوه سېره غنم کیږي او د هغه حساب کړل سوی دئ او دغه احتیاط مند دئ. (فتاوی دار العلوم دیوبند: ۶/ ۳۰۴، مسائل صدقة الفطر: مدلل و مکمل).

په فتاوی محمود کي مفتي محمود پاکستانی وایي:

احتیاط په دې کې دئ چې له اتیا (۸۰) تولې سېر څخه پاو کم دوه سېره غنم په صدقه فطر وایستل سي. (فتاوی مفتی محمود وغیره من المفتین:۳/ ۳۱۵).

حضرت مفتي کفایت الله په کفایت المفتي کې وایي:

مطلب دا چې د درهم مقدار د ډهلي له تولې څخه د درو (۳) ماشو هغه صحیح دي او له هغه حساب څخه د نصف صاع وزن احتیاط مند دئ. د اتیا روپیو له سېر څخه تقریبا پاو کم دوه سېره کیږي او په صدقه فطر کې د اتیا پیسو له پوره سېر څخه پاو کم دوه سېره ورکول په کار دي. (کفایت المفتی:٤/ ٣١١).

په فتاوی رحیمیه کې راځي:

په صدقه الفطر کې د اتیا (۸۰) تولي سیر څخه پاؤ کم دوه سیره ورکول په کار دي نصف صاع یو کېلو وپنځه سوه پنځه اویا ګرامه کیږي. (فتاوی رحیمیه:٥/ ١٧٢، د صاع د وزن او صدقه فطر صحیح مقدار).

په یو بل ځای کې لیکلي دي:

که چیري خالص غنم وي نو پاو کم دوه کېلو دي ورکول سي نو صدقه فطر اداء کیږي. (فتاوی رحیمیه:٥/ ١٧٧).

په ایضاح المسائل کې راځي:

نصف صاع وزن یو سلو پنځه دېرش (۱۳۵) تولې کیږي. (فتاوی دار العلوم دیوبند:٦/ ٣٠٥-٣٢٧، او په جواهر الفقه:١/ ٤٢٤، فتاوی رحیمیه:٥/ ١٧٤).

او یوه توله یوولس ګرامه او ٦٦۴ ملي ګرامه کیږي.

مکمل نقشه وګورئ:

- یو رتي=۲/۱، ۱۲۱ ملي ګرام
- لس رتی =۱۲۱۵ ملي ګرام

● ۹٦، رتي=۱۱٦٦۴ ملي گرام =.۱۱ گرام ٦٦۴ ملي گرام قديم توله- ۹٦ .رتی يوه توله: اوسني زمانې دلس گرامه تولې څخه يوه توله گرام ٦٦۴ ملي گرام وي.

● يو ماشه =۹۷۲ ملي گرام.

● ۱۲، ماشه=۱۱٦٦۴ ملي گرام =يوولس گرام ٦٦۴ ملي گرام =يوه توله

● ۱۳۵، توله=۱٦۲۰، ماشه=۱۵۷۴ گرام ٦۴۰ ملي گرام

● يو نيم کلو ۷۴ گرام ٦۴۰ گرام= نصف صاع مقدار صدقه فطر.

(ايضاح المسائل: ۱۰۱، صدقه فطر اور نصف صاع کی حساب کی ليی بهترين نقشه، کتب خانه نعيميه).

لنډه دا چي د لويوو علماوو د تحقيق موافق د صدقه فطر مقدار تقريبا پاو کم دوه سېره جوړيږي يعنی له اتيا (۸۰) تولې سېر څخه يو سلو څلوېښت (۱۴۰) تولې او د نوي حساب سره سم شپږ نوي، (۹٦) گرامه او شپږ سوه دوه دېرش (٦۳۲) ملي گرامه او يو کېلو گرامه کيږي او د ايضاح المسائل په اخر کي مفتي شبير احمد (۱۳۵) تولې والا تحقيق له جواهر الفقه څخه نقل کړی دي له دې حساب څخه تقريبا يوه نيمه کېلو (۷۴) گرامه او (٦۴۰) ملي گرامه کيږي.

مطلب دا چي د احتياط له پاره پاو کم دوه کېلو يعنی (۷۵۰، ۱) يو کېلو گرام په صدقه فطر کي وايستل سي په دې کي د ډېرو لويو علماوو تحقيق شامليږي.

او د پاو کم دوه سيره پر ځای پاو کم دوه کېلو ياد ساتل ډېره آسانه دي او نن سبا په ډېرو هيوادو کي د سېر د نه موجود والی له کبله د پاو کم دوه سېره مقدار د خلکو په ذهن کي نه راځي يعنی هغوی يې نه پيژني، نو ځکه خلکو ته پاو کم دوه کېلو ويل په کار دي، ځيني لوی علماء لکه مفتي رشيد احمد الدهيانوي، د هغوی تحقيق د لوړ ذکر سوی تحقيق خلاف دئ، مگر موږ د اکثره لويو علماوو او مفتيانو قول ته ترجيح ورکړې ده او د اکثريت پر لاره تلل غوره او بهتره دي.

شيخ اسعد محمد سعيد الصاغرجي په الفقه الحنفي وادلته (۳۷۸/۱، مقدار الواجب) کي فرمايي:

وزنه نصف الصاع كيلو غرام ونصف، وثمان أجزاء من الألف من الغرام. والله أعلم.

یعنی صدقه فطر په نوې پیمانه کي یو کېلو او ۶۲۵ گرامه کیږي تقریبا پاو کم دوو کېلو کوم چي دلویو علماوو د تعین کړل سوی مقدار سره برابر دئ. والله ﷻ اعلم.

صدقهٔ فطر تر اختر د مخکي د اداء کولو حکم

سوال: سرسایه یا صدقه فطر تر کوچني اختر د مخه په روژه کي اداء کیږي او که نه؟ او دا د مستحب خلاف ده او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي صدقه فطر په اداء کولو سره اداء کیږي مګر مستحب دا ده چي د کوچني اختر په ورځ عیدګاه ته تر تللو مخکي اداء کړل سي، همدا ډول په روژه کي اداء کول هم روا دي، هو دیوه روایت له مخي تر روژې مخکي اداء کول هم روا دي.

په هدایه کي راځي:

والمستحب أن يخرج الناس الفطرة يوم الفطر قبل الخروج إلى المصلى فأن قدموها إلى المصلى جاز لأنه أدى بعد تقرر السبب فأشبه التعجيل فى الزكاة ولاتفصيل بين مدة ومدة هو الصحيح. (الهداية:۱/ ۲۱۱، ومثله فى الجوهرة:۱۶۵، الفتاوى الهندية:۱/ ۱۹۲).

په فتاوی شامي کي راځي:

ويستحب إخراجها قبل الخروج إلى المصلى بعد طلوع فجر الفط عملا بأمره وفعله صلى الله عليه وسلم وصح أداءها إذا قدمه على يوم الفطر أو أخره اعتبارا بالزكاة والسبب موجود إذا هو الرأس بشرط دخول رمضان فى الأول أى مسئلة التقديم هو الصحيح وبه يفتى جوهرة وبحر عن الظهيرية لكن عامة المتون والشروح على صحة التقديم مطلقا وصححه غير واحد ورجحه فى النهر ونقل عن الولو الجية أنه ظاهر الرواية، قلت: فكان هو المذهب. (شامى:۲/ ۳۶۷، سعيد، والبحر الرائق:۲/ ۲۵۵، كوئته – وتبيين الحقائق:۱/ ۳۱۱، امداديه

په فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

صدقه فطر یعنی سرسایه په روژه کي ورکول روا دي او په هره عشره (لسمه) کي چي وغواړي ور دې کړي. (فتاوی دار العلوم دیوبند:٦/ ٣٠٥). والله تعالیٰ اعلم.

په صدقه فطر کي د غیر منصوصو شیانو ورکولو حکم

سوال: په صدقه فطر کي غریبانو ته کالي ورکول کېدای سي او که نه؟ او همدا ډول له دې څخه پرته د غیر منصوصه شیانو څه حکم دئ؟

الجواب: چي د منصوصه شیانو قیمت اندازه سي او په هغو پیسو باندي غیر منصوصه شیان واخیستل سي نو دا ورکول روا دي، همدا ډول غریبانو ته کالي اخیستل او جوړول هم روا دي او صدقه فطر هم اداء کېږي.

په درمختار کي راځي:

ومالم ينص عليه كذرة وخبز يعتبر فيه القيمة. (الدر المختار:٢/ ٣٦٤، باب الصدقة الفطر، سعيد).

په البحر الرائق کي راځي:

أن الصحيح في الخبزانه لا يجوز إلا باعتبار القيمة لعدم ورود النص به فكان كالزكاة وكالذرة وغيرها من الحبوب التي لم يرد بها النص. (البحر الرائق:٢/ ٢٥٤، باب صدقة الفطر، كوئته).

په بدائع الصنائع کي راځي:

وأما الأقط فتعتبر فيه القيمة لا يجزئ إلا باعتبار القيمة ...... لأنه غير منصوص عليه من وجه يوثق به وجواز ما ليس بمنصوص عليه لا يكون إلا باعتبار القيمة كسائر الأعيان التي لم يقع التنصيص عليها من النبي ﷺ. (بدائع الصنائع:٢/ ٧٢، بيان جنس الواجب، سعيد).

په کفایت المفتي کي راځي:

د غير منصوصو شيانو حكم دا دئ چې صاع يا نصف صاع روا نه ده، بلكې د نصف صاع په قيمت كې چې خومره ورځې راځي دومره وركول دي. (كفايت المفتى: ٤/ ٣١٢).

په فتاوى محموديه كې راځي:

كه چيري يو سړى له غير منصوص شيانو څخه وركول غواړي نو د منصوص شى قيمت دې اندازه كړي، درهم يا دينار دې وركړي يا دې د هغه قيمت يو بل شى تو كړ يا داسې بل شى دې وركړي. (فتاوى محموديه: ٩/ ٦١٣، همداسې په كتاب الفتاوى: ٣/ ٣٦٥). والله تعالى اعلم.

د خارجي له پاره د صدقهٔ فطر د قيمت لګولو حكم

سوال: كه چيري يو سړي د پاكستان يا هندوستان اوسېدونكى وي او په افريقا كې اوسيږي نو هغه د خپل هيواد په حساب قيمت ولګوي او صدقه فطر اداء كړي نو دا صحيح ده او كه نه؟

الجواب: خارجي چې هغه په بل هيواد كې اوسيږي د خپل هيواد په اعتبار سره يعنى په هغه حساب سره صدقهٔ فطر اداء كول صحيح نه دي بلكې د هغه هيواد له حسابه څخه دې قيمت اندازه كوي چې دى پكښې اوسيږي او صدقه فطر دې اداء كړي.

په فتاوى شامي كې راځي:

وفى الفطرة مكان المؤدى عند محمد رحمه الله: أى لامكان الرأس الذى يؤدى عنه قوله وهو الأصح بل صرح في النهاية و العناية بأنه ظاهر الرواية كما في الشرنبلالية وهو المذهب كما في البحر فكان أولى مما في الفتح من تصحيح قولهما باعتبار مكان المؤدي عنه.

(الشامى: ٢/ ٣٥٥، سعيد).

په البحر الرائق كې راځي:

والمعتبر فى الزكاة مكان المال فى الروايات كلها وفى صدقة الفطر مكان الرأس المخرج عنه فى الصحيح. (البحر الرائق: ٢/ ٢٥٠، باب المصرف، كوئته - وكذا فى فتح التدير: ٢/ ٢٨٠، دار الفكر - والعناية على هامش فتح القدير: ٢/ ٢٨٠، دار الفكر).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

يعتبر قيمة البر فی صدقة الفطر بقدر ما يكون فی بلد المعطی لاما يكون فی المصر البعيد.

(فتاوی دار العلوم دیوبند:٦/ ٣٠٦، مدلل ومکمل).

په فتاوی محمودیه کي راځي:

ستاسو په نزد د اوړو رانیول او خرڅول ډېر زیات دي نو خپله اوړه یا د هغه قیمت باید ورکول سي که څه هم له غنمو څخه زیات سي که یې د هندوستان د غنمو قیمت یې معلوم کړي د هغه قیمت یې ورکړي دا کافي نه دي. (فتاوی محمودیه:٩/ ٦٢٤). والله تعالیٰ اعلم.

په بل هیواد کي د اوسېدونکي اولاد له پاره د صدقه فطر قیمت لګولو حکم

سوال: په افریقا کي اوسېدونکی سړی چي د هغه ښځه او زامن په پاکستان کي اوسیږي نو د دغه سړي صدقه فطر د پاکستان له حسابه څخه اداء کړي او که د افریقا د قیمت له اعتباره څخه؟

الجواب: د دې سړي له پاره لازمه ده چي هغه د خپلو زامنو صدقه فطر د افریقا د قیمت له اعتباره څخه اداء کړي او د پاکستان د قیمت له اعتبار څخه اداء کول صحیح نه دي.

په البحر الرائق کي راځي:

وصحح في المحيط أنه في صدقة الفطر يؤدي حيث هو، ولا يعتبر مكان الرأس من العبد والولد؛ لأن الواجب في ذمة المولى...... وحكى الخلاف في البدائع فعن محمد رحمه الله عليه يؤدي عن عبيده حيث هو، وهو الأصح. (البحر الرائق:٢/ ٣٥٥، باب المصرف، كوئته).

د هدایې په شرحه عنایه کي راځي:

أن وجوب الصدقة على المولى في ذمته عن رأسه فحيث كان رأسه وجبت عليه، ورأس مماليكه في حقه كرأسه في وجوب المؤنة التي هي سبب الصدقة فيجب حيثما كانت رءوسهم. (العناية على هامش فتح القدير:٢/ ٢٨٠، دار الفكر).

په فتاوی شامي کي راځي:

وفی الفطرة مکان المؤدی عند محمد رحمہ اللہ: أی لامکان الرأس الذی یؤدی عنه قوله وهو الأصح بل صرح في النهاية و العناية بأنه ظاهر الرواية کما في الشرنبلالية وهو المذهب کما في البحر فکان أولی مما في الفتح من تصحیح قولهما باعتبار مکان المؤدي عنه.... قلت: فی التاتار خانية: یؤدی عنهم حیث هو وعلیه الفتوی وهو قول محمد رحمہ اللہ ومثله قول أبی حنیفة رحمہ اللہ وهو الأصح. (الشامی:۲/ ۳۵۵، سعید). واللہ تعالیٰ اعلم.

د صدقه فطر په پیسو ډوډئ پخول او یو چا ته د ورکولو حکم

سوال: که چیري یو سړی د صدقه فطر پیسې جمع کړي او ډوډئ یې په رانیوله او په زندان کې یې وزندانیانو ته ورکړه نو ایا صدقه فطر اداء کیږي او که نه؟

الجواب: په صدقه فطر کې د زکات په ډول تملیک ضروري دئ او په یو ځای ورکولو کې تملیک نه سته بلکې دا مباح دي ځکه چې هغوی ته د خپلې رضا موافق د تصرف حق حاصل نه دئ، نو ځکه صدقه فطر نه اداء کیږي مګر که چیري د هریوه په غاب کې تملیکاً ورکول سي نو بیا صدقه فطر اداء کیږي. همدا ډول په زندان کې ځیني زندانیان د نصاب خاوند هم وي نو هغوی ته په ورکولو سره هم نه اداء کیږي.

په البحر الرائق کې راځي:

وأما رکنها فهو نفس الأداء إلی المصرف فهی التملیک کالزکاة فلاتتأدی بطعام الإباحة.

(البحر الرائق:۲/ ۲۵۲، باب صدقة الفطر، کوئتة)

په فتاوی شامي کې راځي:

واشتراط المتلیک فلا تکفی الإباحة کما فی البدائع هذا ما ظهر لی، تأمل. (شامی:۲/ ۳۶۹، باب صدقة الفطر، سعید).

په فتاوی محمودیه کې راځي:

د زکات ډوډۍ مستحق ته د تمليک په ډول ورکول لازم دي چي هغه په دې وپوهيږي چي دومره زما ملک دئ نور که يې زه خرڅوم او که يې خورم او که يې يو بل چا ته ورکوم او په يو ځای ورکولو کي دغه خبره نه سته. (فتاوی محموديه:۹/ ۶۰۲).

په عمدة القاري کي راځي:

د صدقه فطر کار کونکی بايد صدقه د هغه مصرف ته ورکړي او دغه ورکول بايد د تمليک په ډول وي لکه څنګه چي په زکات کي ډوډۍ په اباحت سره نه اداء کيږي. (عمدة الفقه:۳/ ۱۶۸، مجدديه).

والله ﷻ اعلم.



قال الله تعالی: ﴿ يا أيها الذين آمنوا كتب عليكم الصيام كما كتب على الذين من قبلكم لعلكم تتقون ﴾. (سورة البقرة: ۱۸۳).

وقال رسول الله ﷺ: «من صام رمضان إيمانا واحتسابا غفرله ماتقدم من ذنبه». (متفق عليه).

كتاب الصوم

قال رسول الله ﷺ: ﴿ اتقوا الله ربكم وصلوا خمسكم وصوموا شهركم وأدوا زكاة أموالكم وأطيعوا ذا أمركم تدخلوا جنة ربكم ﴾. (رواه الترمذی).



قال الله تعالی: ﴿ فمن شهد منكم الشهر فليصمه ﴾. (سورة البقرة: ۱۸۵).

وقال رسول الله ﷺ « صوموا الرؤيته وأفطرو الرؤيته فإن غم عليكم فعدوا ثلاثين ثم أفطروا». (رواه الترمذی).

وقال عليه الصلاة والسلام: « الشهر يكون تسعاو عشرين».

اول .... باب
د میاشت لیدلو او د راختلو د ځای د اختلاف بیان
له طیارې څخه د میاشتې د لیدلو حکم

سوال: که چیرې یو سړی له طیارې څخه میاشت ولیده او پر ځمکه چا ونه لیده نو یوازې له طیارې څخه لیدل معتبر دي او که نه؟

الجواب: که چیرې یوه سړي له طیارې څخه میاشت ولیده او پر ځمکه چا ونه لیده نو یوازې د طیارې څخه لیدل شرعاً معتبر نه دي، مګر که چیرې طیاره ډېره نه وه لوړه او یوه سړي میاشت ولیده نو بیا دا لیدل قبول دي، ځکه چې فقهاوو په دې سره تصریح کړې ده چې کوم سړی په خارج کې یا په یوه بل لوړ ځای کې وي او له هغه ځای څخه میاشت ووینې نو د دې سړی لیدل مقبول دي.

په فتاوی هندیه کې راځي:

وذكر الطحاوي أنه تقبل شهادة الواحد إذا جاء من خارج المصر ، وكذا إذا كان على مكان مرتفع كذا في الهداية، وعلى قول الطحاوي اعتمد الإمام المرغيناني وصاحب الأقضية والفتاوى الصغرى . (الفتاوى الهندية:١/ ١٩٨، الباب الثاني في رؤية الهلال).

په فتاوی قاضي خان کې راځي:

وإن جاء الواحد من خارج المصر وشهد برؤية الهلال ثمه روى أنه تقبل شهادته وإليه أشار في الأصل، وكذا لو شهد برؤية الهلال في المصر على مكان مرتفع. (فتاوى قاضى خان على هامش الهندية:١/ ١٩٦، الفصل الاول رؤية الهلال).

په درمختار کې راځي:

أو كان على مكان مرتفع واختاره ظهير الدين..... وفي الشامي: قلت:...... وفي المبسوط وإنما يرد الإمام شهادته إذا كانت السماء مصحية، وهو من أهل المصر فأما إذ كانت متغيمة أو جاء من خارج المصر أو كان في موضع مرتفع فإنه يقبل عندنا فقوله عندنا اه.فقوله عندنا

يدل على أنه قول أئمتنا الثلاثة وقد جزم به في المحيط وعبر عن مقابله بقيل، ثم قال وجه ظاهر الرواية أن الرؤية تختلف باختلاف صفو الهواء وكدرته وباختلاف انهباط المكان وارتفاعه، فإن هواء الصحراء أصفى من هواء المصر، وقد يرى الهلال من أعلى الأماكن ما لا يرى من الأسفل فلا يكون تفرده بالرؤية خلاف الظاهر بل على موافقة الظاهر ففيه التصريح بأنه ظاهر الرواية، وهو كذلك لأن المبسوط من كتب ظاهر الرواية أيضا . (الدر المختار مع الشامي: ۲/ ۳۸۸، کتاب الصوم، سعید – وکذا فی امداد الفتح: ص ۶۷۰، بیروت).

په اسلامي فقه نومي کتاب کي راځي:

کله چي د میاشتي د راختلو ځای صاف وي نو د میاشتي په لیدلو کي د هیڅ تکلیف ضرورت نه سته، البته که چیري اسمان وریځ وي یا داسي بنار وي چي هلته لس (۱۰) او یا شل (۲۰) منزله کورونه وي نو هلته د دوربین یا د طیارې په ذریعه د لیدلو په کوښښ کي هیڅ پروا نه سته، په دې شرط چي د دې انتظام اسلامي حکومت کړی وي یا باقاعده یوه باوري کس کړی وي، مګر دا ضروري ده چي پر کومه اندازه چي په عامه توګه د میاشتي لیدل کیږي تر هغه په ډېر لوړ والی نه وي لیدل سوی لکه څنګه چي طیاره ډېره لوړه نه وي ځکه چي خو نه لوېږي یو ځای خو خامخا لیدل کیږي، ځکه نو د دې خیال ساتل ډېر ضروري دي. (اسلامی فقه: ۱/ ۳۸۲).

په آلات جدیده نومي کتاب کي راځي:

شرط دا دئ چي د طیارې پروازه دومره لوړ نه وي تر کومه ځایه چي د مځکي د خلکو نظر نه رسیږي ځکه چي شرعا هغه لیدل معتبر دي چي د مځکي خلک هغه لیدلای سي نو له دې کبله که چیري دېرش یا شل (۳۰ یا ۲۰) زره فوټه لوړه وي او یو سړی هغه ووېني نو د هغه کلي له پاره هغه لیدل معتبر نه دي کوم چي عام انسان د صفا والي د مطلع نه سي لیدلای . (جدید الاتو شرعی احکام: صـ ۱۸۶).

په نظام الفتاوی کي راځي:

که چیري خبر ورکونکي شاهدان په موجبه طریقه میاشت له طیارې څخه ووینې چې د هغه تفصیل لوړ تېر سوی دئ که چیري یې خبر یا شهادت ورکړئ نو د شرعي ضابطې له مخې اعتبار کول کیږي همدا ډول هغه خبر یا شهادت معتبر او مقبول کېدلای سي.

په جدید فقهي مسائل نومي کتاب کي راځي:

که چیري اسمان وریځ وي نو غالب ګمان هم کافي دئ نو ځکه په داسې صورت کي طیاره یادوربین باید معتبر کړل سي په دې شرط چې د طیارې پرواز دومره لوړ نه وي چې د ختلو ځای بدل سي.

لکه څرنګه چې د ندوة العلماء د شرعي تحقیق اوم (۷) تجویز داسې دئ:

که چیري طیاره دومره لوړه وه چې د راختلو ځای متاثر سو دا لیدل معتبر نه دي او شریعت په دغه مکلف کړی هم نه دئ، د فقهې په کتابو کي چې کوم پر لوړ ځای د ختلو او د میاشتي لیدلو ذکر دئ له دې څخه مراد هغه لوړ والی دئ چې هغه عموما په ښارو کي وي تر څو چې د منزلو او د درختو لوړ والی د افق په لیدلو کي حائل نه وي که هغه له هري وجه څخه وي، نو ځکه که چیري طیاره دومره لوړه وه چې له هغه څخه د راختلو ځای بدل سي نو د هغي ملځکي د خلکو له پاره دغه لیدل معتبر نه دي.(جدید فقهی مسائل:۲/ ۲٤، نعیمیه).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (امداد المفتین:۲/ ٤٨١-٤٨٣ بذریعه هوائی جهاز رویت هلال کا حکم، دار الاشاعت، وایضاح المسائل:ص ٨٠، کتب خانه نعیمیه). والله ﷻ اعلم.

د میاشتي د ثبوت له پاره د نوي فلکي حساب حکم

سوال: په ځنیو هیوادو کي د روژې تر ختمېدو څو ورځي د مخه د اختر نېټه ټاکي او د هغه اعلان کوي او هغه دا وایي چې د نوي فلکیاتو په ذریعه حساب لګولای سي په شریعت کي د دې حساب څه حکم دئ؟

الجواب: د میاشتي د لیدلو په اړه د نجومي عالم خبره د منلو وړ نه ده، نو ځکه د هغوی د حساب پر بناء د میاشتي ثبوت نه کیږي، ځکه چې شریعت روژه او اختر دواړه پر لیدلو باندي تړلي دي، نو ځکه د نجومي عالم قول که څه هم پر ډېرو دقیقو نظرو مبني وي په هغه کي قطعیت موجود نه دئ

بلکې په ډېرو وختو کې د هغوی رايي سره مختلفې وي البته نوي فلکي حساب په نفی کې استعمالولای سي مګر په اثبات کې هيڅ ګنجائش نه سته، البته کوم چې يقيني دي له هغه څخه د مدد اخيستلو ګنجائش سته.

په الفقه علي المذاهب الاربعه کي راځي:

لا عبرة بقول المنجمين، فلا يجب عليهم الصوم بحاسبهم ولا على من وثق بقولهم، لأن الشارع علق الصوم على أمارة ثابتة لا تتغير أبدا، وهي رؤية الهلال أن إكمال العدة ثلاثين يوما، أما قول المنجمين فهو إن كان مبنيا على قواعد دقيقة فإنا نراه غير منضبط، بدليل اختلاف آرائهم في أغلب الأحيان وهذا هو رأي ثلاثة من الأئمة وخالف الشافعية، ..... قالوا: يعتبر قول المنجم في حق نفسه وحق من صدقه ولا يجب الصوم على عموم الناس بقوله على الراجح. (الفقه على المذاهب الاربعة:١/ ٣٤٤، هل يتعتبر قول المنجم، القاهرة).

په الفقه الحنفي فى ثوبه الجديد کي راځي:

ولا يعتد شرعا بقول الفلكيين الذى يعتمدون على الحساب ولو كانوا عدولا. (الفقه الحنفى فى ثواب الجديد:١/ ٤٠١، ثبوت رمضان وأحكام رؤية الهلال، دمشق).

په الفقه الاسلامي وادلته کي راځي:

ولا يعتمد على ما يخبر به أهل الميقات والحساب والتنجيم، لمخالفته شريعة نبينا عليه أفضل الصلاة والتسليم. (الفقه الإسلامى وأدلته:٢/ ٩٩٥، كيفية اثبات هلال رمضان وهلا شوال، دار الفكر).

په فتاوى شامي کي راځي:

(قوله ولا عبرة بقول المؤقتين) أي في وجوب الصوم على الناس بل في المعراج لا يعتبر قولهم بالإجماع، ولا يجوز للمنجم أن يعمل بحساب نفسه، وفي النهر فلا يلزم بقول

المؤقتين إنه أي الهلال يكون في السماء ليلة كذا وإن كانوا عدولا في الصحيح كما في الإيضاح . (شامى:٢/ ٣٨٧، مطلب لاعبرة بقول المؤقتين فى الصوم، سعيد).

په جديد فقهي مسائل نومي كتاب كي راځي:

دامام صاحب رحمة الله عليه، امام مالک رحمة الله عليه او امام احمد رحمة الله عليه او د عامو فقهاوو اتفاق دئ چي پر فلكي علومو او حساب باندي د اختر او روژې فيصله كول روا نه دي. (جديد فقهى مسائل:٢/ ٢٥).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (فتاوى فريديه:٤/ ٤٠، فتاوى دار العلوم ديوبند:٦/ ٣٦٧، مسائل رؤيت هلال، مدل و مكمل). والله تعالى اعلم.

د نوی آلاتو په ذريعه د مياشتي د ليدلو حكم

سوال: د دروبين او خوردبين او داسي نورو آلاتو په ذريعه د مياشتي ليدلو څه حكم دئ؟

الجواب: د دوربين خالي يو نكاه غټونكى آله ده لكه عينكي په هغه سره د ليدلو هيڅ حرج نه سته، مګر د نوي آلاتو په ذريعه د ليدلو حيثيت يوازي د كشف دئ يعنى داسي نه دئ چي يو شى موجود نه وي د هغو په ذريعه خامخا وليدل سي نو ځكه په دې نوي آلاتو سره مدد حاصلول روا دي.

په فتاوى شامي كي راځي:

(قلت:...... وفي المبسوط وإنما يرد الإمام شهادته إذا كانت السماء مصحية، وهو من أهل المصر فأما إذ كانت متغيمة أو جاء من خارج المصر أو كان في موضع مرتفع فإنه يقبل عندنا فقوله عندنا اه.فقوله عندنا يدل على أنه قول أئمتنا الثلاثة وقد جزم به في المحيط وعبر عن مقابله بقيل، ثم قال وجه ظاهر الرواية أن الرؤية تختلف باختلاف صفو الهواء وكدرته وباختلاف انهباط المكان وارتفاعه، فإن هواء الصحراء أصفى من هواء المصر، وقد يرى الهلال من أعلى الأماكن ما لا يرى من الأسفل فلا يكون تفرده بالرؤية خلاف الظاهر بل على موافقة الظاهر ففيه التصريح بأنه ظاهر الرواية، وهو كذلك لأن المبسوط من كتب ظاهر

الرواية أيضا . (الدر المختار مع الشامی:۲/ ۳۸۸، کتاب الصوم، سعيد – وکذا فی امداد الفتح:ص ٦٧٠، بيروت).

په اسلامي فقه کي رائې:

کله چي اسمان صاف وي نو د مياشتي په ليدلو کي د هيڅ تکليف ضرورت نه سته، البته کله چيري اسمان وريځ يا گرد وو يا داسي بنار وو چي هلته (۲۰ يا ۳۰) منزله کورونه وي خو هلته که چيري د دوربين په ذريعه وليدل سي نو هيڅ پروا نه لري. (اسلامی فقه:۱/ ۳۸۲، د نوی الاتو به ذريعه).

په ايضاح المسائل کي رائې:

د دوربين په ذريعه ليدل معتبر دي همدغه ډول د خورد بين په ذريعه ليدل هم صحيح او معتبر دي. (ايضاح المسائل: صـ ۸۰).

په جديد فقهي مسائل کي رائې:

که چيري اسمان وريځ وو نو بيا غالب گمان هم کافي دئ نو ځکه په داسي صورت کي د دوربين په ذريعه ليدل هم بايد معتبر کړل سي. (جديد فقهی مسائل:۲/ ۲٤، نعيميه).

په امداد الفتاوی کي رائې:

د دوربين او خوردبين په ذريعه د ليدلو جلا احکام نه دي کوم احکام چي د آلې څخه پرته د ليدلو دي هغه د دوی هم دي بيا که چيري پر اسمان وريځ وي بيا خو ليدل د عدم مانع په شرط د نورو له پاره کافي دي ټول دي عمل په وکړي او که چيري وريځ يا داسي بل شی نه وي نو د نورو له پاره عمل کول روا نه دي او په خپله هغوی ته هم عمل کول روا نه دي. (امداد الفتاوی:۲/ ۱۱۰). والله ﷻ اعلم.

د راډیو په خبر د میاشتي د ثابتولو حکم

سوال: ډېر ځله د علماوو فیصله د راډیو په ذریعه نشریږي نو په دې سره د میاشتي ثبوت کیږي او که نه؟

الجواب: د راډیو خبر دیو علان حیثیت لري او دا اعلان که چیري د میاشتي د لیدلو د کمیټې له طرفه د کوم شرعي شهادت موافق فیصله کوي او اعلان کونکی د کمیټي یو مسلمان معتمد نمائنده وي، نو پر دې باندي اعتماد کول روا دي.

په فتاوی محمودیه کي راځي:

که هغه محکمه د میاشتي لیدلو په شرعي ډول تحقیق کونکی هیواد ځخه وه د ټلیفون یا د راډیو په ذریعه د میاشتي د لیدلو اعلان وکړی نو خاص په دغه ښار کي او په هغو ځایو کي چي د دغه ښار تابع وي لکه د قرب او جوار قصبات د دې اعلان په اعتبار سره عمل کول شرعا روا دي. (فتاوی محمودیه: ۱۰/ ۵۵، باب رؤیت الهلال).

په ایضاح المسائل کي راځي:

یوازي د راډیو په خبر سره شرعا د میاشتي ثبوت نه کیږي بلکي د هغه له پاره لاندي شرطونه لازمي دي.

۱_ حاکم به مسلمان وي یا د هلال د ثبوت یوه شرعي کمیټه وروسته تر شرعي ثبوت پر راډیو اعلان وکړي.

۲_ داسي اعلان وکړي چي مونږ شاهدي اخیستې ده او په شرعي شاهدۍ سره د لیدلو ثبوت سوی دئ.

۳_ ذمه دار دي په خپله خپل پېژندنه هم وکړي چي فلاني د فلاني زوی یم، فلاني حاکم یا د فلانۍ کمیټې ذمه دار یم.

۴_ د راډیو د اعلان تفصیل دي د ذمه دارو علماوو مخته کېښودل سي او هغه دي په تحقیق او تفتیش سره اطمنان ورکړي د هغوی پر هدایاتو عمل وکړئ.

۵_ د راډیو اعلان تر دومر لیري پوري معتبر دئ چي د هغه د منلو څخه ستاسي میاشت (۲۸ یا ۳۱) ورځي هیڅ کله نه کېده.

٦_ د دې لیدلو په وخت کي ستاسي د سیمي اسمان به صاف نه وي که نه نو بیا د دې اعلان هیڅ اعتبار نه سته، د دې شرائط سره سره د راډیو اعلان معتبر دئ او که دا شرائط نه وي نو بیا معتبر نه دئ.

په فتاوی رحیمیه کي راځي:

راډیو، شرعي قاضي، د علماوو مستند مجلس او هغه د میاشتي کمیټي چي د هغوی فیصله مسلمانان مني دا خلک دي باقاعده شاهدي واخلي او د میاشتي د لیدلو فیصله دي وکړي نو دا فیصله دي یا شرعي قاضي یا د علماوو مجلس یا د میاشتي کمیټي مشر یا د هغوی یوه معتمد نمائده د راډیو په ذریعه نشر کړي او د نورو ځایو علماء دي همدغه منظور کړي نو پر دې عمل کول روا دي. (فتاوی رحیمیه: ۵/ ۱۸۵).

په فتاوی فریدیه کي راځي:

د هلال کمیټه او د اخبار په ذریعه اعلان واجب الاعتماد دئ کله چي خبر تفصیلي وي په هغه کي حکم ورکونکی او د حکم سبب ذکر سي چي غالب گمان حاصل سي. (فتاوی فریدیه: ٤/ ٥٧).

د زیات تفصیل له پاره وگورئ: (جدید فقهی مسائل: ۲/ ۲۲، د راډیو او ټي وي خبر، امداد المفتین: ۲/ ٤٧٧ - ٤٨٠). والله ﷻ اعلم.

د ټلیفون په خبر د میاشتي د ثابتولو حکم

سوال: د ټلیفون په خبر د میاشتي د لیدلو ثبوت کېدلای سي او که نه؟

الجواب: که چیري په ټلیفون کي خبري کونکی شناخته سړی وو او په هغه کي هیڅ شک هم نه وي او د هغه د صداقت گمان هم غالب وي او له خپل طرفه څخه د شرعي لیدلو خبر درکوي نو دا منل او په شخصي توگه عمل کول روا دي ولي واجب نه دي او که چیري له هر طرفه څخه متواتر د ټلیفون خبرونه راغلو او ډېر خلک خبر درکړي او د شهرت تر حده پوري ورسیږي، نو دغه خبر ته د شرعي شاهدۍ درجه حاصلیږي او پر دغه عمل کول لازمیږي.

په کتاب الفتاوی کي راځي:

که چیري اسمان صاف وو نو که داختر د میاشتي مسئله وي او که د روژې د میاشتي یعنی دومره خلکو خبر مطلوب وي چي د هغوی پر درواغو جمع کېدل عادتا منع او محال وي او که چیري اسمان وریځ وي او مسئله د روژې د میاشتي وي نو د یوه معتبر سړي خبر هم کافي دئ ګویا په دې دواړو صورتو کي د میاشتي د ثابتولو مدار پر خبر باندي دئ، نو ځکه که چیري پر ټلیفون خبر ورکول سو او دا معلومه سوه چي خبر ورکونکی یو د اطمنان سړی دئ او هغه چي خپل کوم تعارف کړی دئ هغه صحیح دئ نو د ټلیفون همداسي خبرونه د قبول وړ دي. (کتاب الفتاوی:۳/ ۳۷٦).

د زیات تفصیل له پاره وګورئ: (احسن الفتاوی:٤/ ٤٠٧-٤١٢، فتاوی رحیمیه:٥/ ١٨٧، جدید فقهی مسائل:٢/ ٢١، کفایت المفتی:٤/ ٢١٦). والله ﷻ اعلم.

د فاسق پر شاهدۍ چي قاضي فیصله وکړي نو د میاشتي د ثابتولو حکم

سوال: ایا قاضي د میاشتي په لیدلو کي د فاسق قول یا شاهدۍ قبلولای سي او که نه؟ که چیري یې قبول کړي نو پر هغه بنیاد سوې فیصله درسته ده او که نه؟

الجواب: د فاسق د شاهدۍ قبلونکی قاضي ګناه ګار دئ مګر که چیري د هغه د ښه شهرت او امانت داري په سبب که چیري قاضي د هغه شاهدي قبوله کړي نو فیصله نافذیږي بلکي د امام ابو یوسف رحمه الله په نزد کوم فاسق چي په شرافت مشهور وي د هغه شاهدي قبلول لازمي دي او داسي سړی قاضي ټاکل هم ګناه نه لري، مګر صحیح قول دا دئ چي د داسي سړي شاهدۍ قبلول ګناه ده مګر فیصله نافذیږي.

په درمختار کي راځي:

(والفاسق أهلها فيكون أهله لكنه لا يقلد) وجوبا ويأثم مقلده كقابل شهادته به يفتى وقيده في القاعدية بما إذا غلب على ظنه صدقه فليحفظ، درر واستثنى الثاني الفاسق ذا الجاهة والمروءة فإنه يجب قبول شهادته بزازية، قال في النهر: وعليه فلا يأثم أيضا بتوليته القضاء حيث كان كذلك إلا أن يفرق بينهما . انتهى.

وفی الشامية (لكنه لا يقلد وجوبا) قال في البحر وفي غير موضع ذكر الأولوية يعني الأولى أن لا تقبل شهادته وإن قبل جاز وفي الفتح ومقتضى الدليل أن لا يحل أن يقضي بها فإن قضى جاز ونفذ ومقتضاه الإثم .... وصرح ابن الكمال بأن من قلد فاسقا يأثم وإذا قبل القاضي شهادته يأثم . (قوله واستثنى الثاني) أي أبو يوسف رحمه الله من الفاسق الذي يأثم القاضي بقبول شهادته، والظاهر أن هذا مما يغلب على ظن القاضي صدقه، فيكون داخلا تحت كلام القاعدية فلا حاجة إلى استثنائه على ما استظهرناه آنفا تأمل. (الدر المختار مع الشامي:٥/ ٣٥٦، كتاب القضاء، مطلب فی حکم القاضی الدرزی والنصرانی، سعید).

حضرت مفتي محمد شفيع صاحب وايي:

دعلماوو په اتفاق سره د فاسق شاهدئ قبلول او د هغه موافق فيصله كول دا ده قاضي پر ذمه واجب نه دي مگر كه چيري قاضي ته د قرائنو په ذريعه معلومه سي چي دغه سړى درواغ نه وايي نو پر دې بناء كه چيري هغه د فاسق پر شاهدئ فيصله وكړي نو دا فيصله به صحيح وي او نافذيږي.
دا د هدايې، شرح وقايې، درمختار، شامي، عالمگيري او داسي نورو څخه را اخيستل سوي دي (د مياشتي ليدلو او عكسونو احكام، ص ۵۳). والله تعالى اعلم.

د فاسق قاضي په فيصله د مياشتي د ليدلو حكم

سوال: كه چيري يو قاضي دعقيدې په اعتبار فاسق وو نو د هغه قضاء او فيصله معتبره ده او كه نه؟

الجواب: يو فاسق هم بايد قاضي جوړ نه كړل سي كه هغه د عمل په اعتبار سره فاسق وي او كه د عقيدې په اعتبار سره وي مگر كه چيري امير المؤمنين يا اعلى حاكم دى قاضي وټاكي نو بيا د ده قضاء او فيصله صحيح ده نو ځكه مسلمانان بايد د هغه خبره ومني.

په فتاوي شامي كي راځي:

(قوله والفاسق أهلها) وأفصح بهذه الجملة دفعا لتوهم من قال إن الفاسق ليس بأهل للقضاء فلا يصح قضاؤه، لأنه لا يؤمن عليه لفسقه، وهو قول الثلاثة واختاره الطحاوي، قال

العيني رحمه الله: وينبغي أن يفتى به خصوصا في هذا الزمان. أقول: لو اعتبر هذا لا نسد باب القضاء خصوصا في زماننا فلذا كان ما جرى عليه المصنف هو الأصح كما في الخلاصة، وهو أصح الأقاويل كما في العمادية، نهر وفي الفتح: والوجه تنفيذ قضاء كل من ولاه سلطان ذو شوكة وإن كان جاهلا فاسقا وهو ظاهر المذهب عندنا وحينئذ فيحكم بفتوى غيره.

(فتاوى الشامي: ٥/ ٣٥٥، كتاب القضاء، سعيد). والله تعالى اعلم.

كه چيرې اسمان صاف وو نو ديوه غټ جماعت شاهدئ ضروري ده

سوال: كه چيرې اسمان صاف وو نو قاضي د دوو يا درو شاهدانو په شاهدئ سره د اختر يا روژې حكم كولاى سي او كه نه؟

الجواب: د احنافو په مذهب كي متون او شرحي پر دې موافقي دي چي د ظاهري رواياتو سره سم د اسمان د صاف كېدو په صورت كي يو لوى جماعت ضروري دئ او د لږو خلكو په شاهدئ سره د مياشتي ثبوت نه متحققه كيږي او دا خبره په دې زمانه كي متحققه نه ده چي وايي خلك د مياشتي په ليدلو كي سستي كوي بلكي د دې كار له پاره حكومتونو او عامو خلكو كميټې جوړې كړې دي همدا ډول په دې دور كي درواغ او غلط فهمي عامه ده او پر ظاهر روايت باندي عمل كول لازم او ضروري دي.

په مبسوط كي راځي:

فأما إذا لم يكن بالسماء علة فلا تقبل شهادة الواحد والمثنى حتى يكون أمرا مشهودا ظاهرا في هلال رمضان، وهكذا في هلال الفطر في رواية هذا الكتاب، وفي رواية الحسن عن أبي حنيفة رحمه الله قال: تقبل فيه شهادة رجلين أو رجل وامرأتين بمنزلة حقوق العباد، والأصح ما ذكر هنا فإن في حقوق العباد إنما تقبل شهادة رجلين إذا لم يكن هناك ظاهر يكذبهما، وهنا الظاهر يكذبهما في هلال رمضان، وفي هلال شوال جميعا؛ لأنهما أسوة سائر الناس في

الموقف والمنظر وحدة البصر وموضع القمر فلا تقبل فيه الشهادة إلا أن يكون أمرا مشهورا ظاهرا . (المبسوط للإمام السرخسى:٣/ ١٤٠، دار الفكر).

په امداد الفتاوى كې راځي:

وإذا لم يكن بالسماء علة فلا بد للثبوت من شهادة جمع عظيم لرمضان والفطر وغيرهما لأن المطلع متحد في ذلك المحل، والموانع منتفية، والأبصار سليمة، والهمم في طلب رؤية الهلال مستقيمة، فالتفرد في مثل هذه الحالة لوهم الغلط فوجب التوقف في رؤية القليل حتى يراه الجمع الكثير . (امداد الفتاح:ص ٦٧٠، بيروت).

په كنز الدقائق كې راځي:

وقبل بعلة خبر عدل ولو قنا أو أنثى لرمضان وحرين أو حرو حرتين للفطر وإلا فجمع عظيم لهما . (كنز الدقائق:ص ٦٧، كتاب الصوم، مكتبة امداديه ملتان).

په درالمختار كې راځي:

وإن لم يكن بالسماء علة لم تقبل إلا شهادة جمع يقع العلم بخبرهم. (الدر المختار:١٢٩، كتاب الصوم – وكذا فى الهداية:١/ ٢١٥).

همدا ډول په دې زمانه كې درواغ او غلط فهمي عامه ده نو ځكه پر ظاهري روايت باندي عمل كول ضروري دي لكه څنګه چې علامه خير الدين رحمه الله ويلي وي:

قال العلامة الشامي: ظاهر الرواية هو اشتراط العدد لا الجمع العظيم ، والعدد يصدق باثنين ..... ونازعه محشيه الرملي بأن ظاهر المذهب اشتراط الجمع العظيم ، فيتعين العمل به لغلبة الفسق والافتراء على الشهر . (فتاوى الشامى:٢/ ٣٨٨، سعيد). والله تعالى اعلم.

په دوهمه ورځ د میاشتي ږ نه لیدلو د شاهدۍ ورکولو حکم

سوال: که چیري نن ورځ د میاشتي شاهدۍ ورکړل سوه او سبا هم دلمر لوېدو په طرف کي میاشت ونه لیدله سوه حال دا چي اسمان هم صاف وو نو ایا د پرون شاهدۍ مردوده سوه او که نه؟ یا په دوهم ورځ سره له صاف والي د مطلع لیدل عام نه سو؟

الجواب: دا مسئله په عربي کتابو او فتاواو کي نه ستهء البته په فتاوی واحدی کي لیکلي دي چي که چیري دوهمه ورځ میاشت ونه لیدل سوه نو بیا هم مخکنۍ فیصله صحیح ده مګر فتاوی واحدي د زړو کتابو حواله نه ورکړې، نو ځکه د هغې دغه فتوی د ظاهر خلاف ده او نن سبا د خلکو ظاهر ته په کتلو سره دا فتوی باید ورکړل سي چي مخکي اختر او روژه صحیح نه وه او شاهدانو ته باید سزا ورکول سي.

د فتاوی واحدي عبارت په لاندي ډول دئ:

سوال: ما قولهم: اندر آنچه هلال فطر را گواهان درد يهي ديدند قاضي قسم دا ده حكم بدان نمودو شب دويم درد يه وديگر بعضي مردم بسيار نظر بستند نديد ند دران صورت حكم ماضي نافذ است يا نه وكذب شهود رؤيت ظاهر شديانه وگواهي نديدن مقبول است يا نه؟

جواب: الظاهر أن حكم القاضي نافذ وإن لم يروا الهلال في الليلة الثانية، كما يستفاد من جواهر الفتاوی حيث قال: قاض شهد عنده شاهدان برؤية هلال رمضان وقضى به ثم أتموا ثلاثين يوما ولم يروا هلال العيد والسماء مصحية فإنهم يفطرون لأنهم عقدوا ثلاثين يوما كما أمروا به ولا يظهر بذلک كذب الشهود لأن قولهما وإن كان متحملا فقد صار حجة لاتصال القضاء به، انتهى، وكما لايظهر كذب الشهود في الصورة المذكورة لاتصال القضاء بالشهادة فكذلک فيما نحن فيه كما لايخفى على أن الأصل قبول شهادة الإثبات دون النفي.

(فتاوی واحدی: للعلامة عبد الواحد سيوستاني سندهي رحمه اللهف جدل اول،ص ۳۳۱).

همدا ډول که چيري اسمان صاف وي او دوه يا درې سړي شاهدي ورکړي نو دا د خلاف ظاهر کېدلو په سبب نه قبليږي چي لکه له اولي ورځي تر ليدلو وروسته دوهمه ورځ ونه ليدل سي دا خو ښکاره درواغ دي او د ظاهر خلاف دي نو ځکه که چيري دوهمه ورځ ونه ليدل سي نو د اولي ورځي بايد لکه نه شاهدې يعني مردود کړل سي ځکه چي د فقهي په کتابو کي دغه مسئله ذکر سوې ده چي که چيري د يوه شي په اړه شاهدي ورکول سي او په ظاهر کي د هغه مخالفت ثابت سي نو دغه شاهدي مردوده ګرځول کيږي.

په هدايه کي راځي:

وإذا تنازعا في دابة وأقام كل واحد منهما بينة أنها نتجت عنده وذكرا تاريخا وسن الدابة يوافق أحد التاريخين فهو أولى، لأن الحال يشهد له فيترجح ..... وإن خالف سن الدابة الوقتين بطلت البينتان، كذا ذكره الحاكم الشهيد، لأنه ظهر كذب الفريقين فتترك في يد من كانت في يده. (الهداية:٣/ ٢٢٤).

لنډه دا چي په ظاهره د ليدلو مخالفت ثابت سي نو ليدنه په خپله باطليږي يعني د هغوی شاهدي مردوده ده.

په فتح القدير کي راځي:

بطلت البينتان ، كذا ذكره الحاكم لأنه ظهر كذب الفريقين وذلك مانع عن قول الشهادة حالة الانفراد فيمنع حالة الاجتماع أيضا . (فتح القدير:٨/ ٢٧٩، دار الفكر). والله ﷻ اعلم.

سهار په مشرق کي او ماښام په مغرب کي مياشت ليدل ممکن دي؟

د پمپ په ذریعه د دوا اجزاوي د حلق تر لاندي پوري ته رسیږي یا دا په ګیس بدل سي او تر حلق لاندي ځي نو ځکه د راقم الحروف (لیکونکی) دغه رایه ورکوي چي د پمپ سره سره روژه دي هم ونیسي چي د خپل طاقت او صلاحیت مطابق د الله ﷻ د حکم اطاعت وسي او کوم خلک چي

استطاعت خاوندان وي هغه دي فديه هم اداء کړي که چيري روژه کافي نه وي نو په دې فديه سره د دې کمی پوره والي وسي. د خولي له لاري تر حلق لاندي د يو شی په رسېدلو سره روژه ماتيږي همدا ډول د پزي له لاري که يو شي ورسيږي دا هم مفسد دئ نو ځکه د پمپ د دواړو صورتو حکم يو دئ. (کتاب الفتاوی: دريم حصه: ٣٩٤).

پاملرنه: دا چي په دې مسئلو کي د پمپ ذکر وسو ودې ته په اردو کي انهيلو وايي دا يو ډول پمپ دئ چي په هغه کي دوا وي په خوله کي اينبول کيږي او کښېکښل کيږي نو د دې په ذريعه دوا د گيس په توگه ومعدې ته رسيږي او په څو دقيقو کي سکون راولي.

په امداد الفتاوی کي راځي:

سوال: د شيخ فاني (کوم چا ته چي روژه معاف ده) څه تعريف يې دئ يعني په کوم حالت کي او پر کوم عمر هغه شيخ فاني بلل کيږي؟

الجواب: في الدر المختار: وللشيخ الفاني العاجز من الصوم الفطر ويفدى الخ، وفي رد المحتار: أي الذي فنيت قوته أو أشرف على الفناء ولذا عرفوه بأنه الذي كل يوم نقص إلى أن يموت نهر ومثله ما في قهستاني عن الكرماني: المريض إذا تحقق اليأس من الصحة فعليه الفدية لكل يوم من المرض، وكذا في البحر: لو نذر صوم الأبد فضعف عن الصوم الاشتغاله بالمعيشة له أن يطعم ويفطر لأنه استيقن أنه لايقدر على القضاء. (الدر المختار مع الشامي: ٢/ ١٩١).

له دې رواياتو څخه د شيخ فاني مفهوم دا را ووتئ چي د هغه له موجوده حالت څخه دا معلومه سي چي د هغه نه في الحال پر روژه قدرت لري او نه په ائنده کي د روژې نيولو اميد ورته دئ او د دې نه قدرت سبب که د سپين بږيرتوب تاثير وي او که مرض وي. (امداد الفتاوی: ٢/ ١٥١). والله تعالی اعلم.

که چیري د دوا پر ته ګزاره نه کېده نو د داسي مریض له پاره د روژې حکم

سوال: یو سړی مریض دئ، ډاکټر هغه ته وویل په ورځ کي دوه دري واره دوا خوړل ضروري دي نو د دې سړي له پاره روژه نه نیول روا ده او که نه؟

الجواب: که چیري یو دیندار ډاکټر دغه فیصله وکړي چي د دې سړي له پاره روژه نیول ضرر دئ که چیري په ورځ کي دوا ونه خوري نو مرض یې سختیږي نو د داسي سړي له پاره روژه نه نیول روا ده او تر صحت وروسته قضاء پر واجب ده.

وګورئ په بدائع الصنائع کي راځي:

أما المرض فالمرخص منه هو الذي يخاف أن يزداد بالصوم وإليه وقعت الإشارة في الجامع الصغير، فإنه قال: في رجل خاف إن لم يفطر أن تزداد عيناه وجعا ، أو حماه شدة أفطر ، وذكر الكرخي في مختصره : أن المرض الذي يبيح الإفطار هو ما يخاف منه الموت ، أو زيادة العلة كائنا ما كانت العلة . (بدائع الصنائع:۲/ ۹٤، سعيد، فصل فی حکم فساد الصوم).

په فتاوی هندیه کي راځي:

ومنها المرض: ـ المريض إذا خاف على نفسه التلف أو ذهاب عضو يفطر بالإجماع ، وإن خاف زيادة العلة وامتدادها فكذلك عندنا ، وعليه القضاء إذا أفطر كذا في المحيط، ثم معرفة ذلك باجتهاد المريض والاجتهاد غير مجرد الوهم بل هو غلبة ظن عن أمارة أو تجربة أو بإخبار طبيب مسلم غير ظاهر الفسق كذا في فتح القدير والصحيح الذي يخشى أن يمرض بالصوم فهو كالمريض هكذا في التبيين . (الفتاوی الهندية:۱/ ۲۰۷، الباب الخامس فی الاعذار التی تبيح الافطار).

په طحطاوي کي راځي:

ولمن خاف وهو مريض زيادة المرض بكم أو كيف لو صام، أفاد أن الصحيح الذي غلب على ظنه المرض بصومه ليس له أن يفطر وأفاد السيد أن ذلك خلافا، فالزيلعى على إباحة الفطر له والعلامة المسكين على عدمه، وقد تبع فيه صاحب الذخيرة، وجرى على إباحة الفطر في الدر، وذكر في القهستاني أن الممرض ملحق بالمريض. (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح :ص ٦٨٤، فصل فى العوارض، قديمى). والله ﷻ اعلم.

د حقنې لګولو څخه د روژې حکم

سوال: په روژه کې حقنه ((د شا د لارې څخه دوا داخلول)) د دې څه حکم دئ؟

الجواب: د حقنې په لګولو سره روژه فاسدېږي او قضاء لازم ده خو کفاره لازمه نه ده.

وګورئ په هدایه کې راځي:

ومن احتقن أو استعط أو أقطر في أذنه أفطر لقوله ﷺ الفطر مما دخل، ولوجود معنى الفطر .وهو وصول ما فيه صلاح البدن إلى الجوف ولا كفارة عليه لانعدامه صورة.

(الهداية: ١/ ٢٢٠، باب مايوجب القضاء والكفارة).

په بدائع الصنائع کې راځي:

وما وصل إلى الجوف أو إلى الدماغ عن المخارق الأصلية، كالأنف والأذن والدبر بأن استعط أو احتقن أو أقطر في أذنه فوصل إلى الجوف أو إلى الدماغ فسد صومه .(بدائع الصنائع: ٢/ ٩٣، سعيد). **همدا دول وګورئ:** (البحر الرائق: ٢/ ٢٧٨، كوئته – والدر المختار مع الشامى: ٢/ ٤٠٢، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د روژې په حالت کي د سګرېټ څکولو او د څکونکی سره د کښېنستلو حکم

سوال: د روژې په حالت کي د سګرېټ څکولو څه حکم دئ؟ همدا ډول د څکونکي سره د کښېنستلو څه حکم دئ؟

الجواب: ډېر ځله سګرېټ څکونکي سګرېټ ګټور بولي نو ځکه قضاء وکفار دواړه لازم دي او د هغه سره کښېنستونکی که چیري دود کش کي او حلق ته داخل سي نو روژه فاسدیږي او قضاء واجبیږي.

وګورئ په درمختار کي راځي:

دخل حلقه غبار أو ذباب أو دخان ولو ذاكرا استحسانا لعدم إمكان التحرز عنه، ومفاده أنه لو أدخل حلقه الدخان أفطر أي دخان كان ولو عودا أو عنبرا لو ذاكرا لإمكان التحرز عنه فليتنبه له، كما بسطه الشرنبلالي. وفي الشامي: قوله إنه لو أدخل حلقه الدخان، أي بأي صورة كان الإدخال، حتى لو تبخر بخور و آواه إلى نفسه واشتمه ذاكرا لصومه أفطر لإمكان التحرز عنه وهذا مما يغفل عنه كثيرا من الناس، ولا يتوهم أنه كشم الورد ومائه والمسك لوضوح الفرق بين هواء تطيب بريح المسك وشبهه وبين جوهر دخان وصل إلى جوفه بفعله، إمداد، وبه علم حكم شرب الدخان ونظمه الشرنبلالي في شرحه على الوهبانية بقوله:

ويمنع من بيع الدخان وشربه ۞ وشاربه في الصوم لا شك يفطر

ويلزمه التكفير لو ظن نافعا ۞ كذا دافعا شهوات بطن فقرروا.

(الدر المختار مع رد المحتار: ۲/ ۳۹۵، باب مايفسد الصوم ومالايفسده، سعيد).

په حاشيه الطحطاوي على مراقي الفلاح كي راځي:

واختلفوا في معنى التغذي قال بعضهم: أن يميل الطبع إلى أكله وتنقضي شهوة البطن به، وقال بعضهم هو ما يعود نفعه إلى إصلاح البدن. قوله (هو ما يعود نفعه الخ) هذا تفسير

للغداء لا للتغذي فيحتاج إلى تقدير مضاف أي تناول ما يعود نفعه قوله إلى إصلاح البدن، أي وإن لم يمل إليه الطبع، وعلى هذا البدعة التي ظهرت الآن وهو الدخان إذا شربه في الزوم الكفارة..... فمن قال: إن التغذی ما يميل الطبع إليه وتنقضی به شهوة البطن ألزم به الكفارة.

(مراقي الفلاح مع حاشية الطحطاوی: ٦٦٥، باب ما يفسد به الصوم وتجب به الكفارة مع القضاء، قديمی – ودرر الحاكم شرح غرر الاحكام:١/ ٢٠٢ – وكذا فی الطحطاوی علی الدر :١/ ٤٥٠، كوئته).

په امداد الاحکام کي راځي:

هو که چیري داګربتی دود کش کړي او په حلق کي یې داخل کړي نو روژه فاسدیږي. (امداد الفتاوی:٢/ ١٣٥).

په فتاوی دار العلوم دیوبند کي راځي:

د چلم په څکولو سره روژه ماتیږي او قضاء لازمیږي او په ځیني صورتو کي کفاره هم لازمیږي یعني که یې چیري هغه ګټور وګڼي نو قضاء او کفاره دواړه لازمیږي، که داسي نه وي یوازي قضاء لازم ده. (فتاوی دار العلوم دیوبند:٦/ ٤١٩). والله ﷻ اعلم.

د روژې په حالت کي د لمبېدلو حکم

سوال: د روژې په حالت کي په اوبو کي د لمبېدلو څخه روژه ماتیږي او که نه؟

الجواب: د روژې په حالت کي د لمبیدلو څخه روژه نه فاسدیږي، البته دا خیال ساتل په کار دي چي وحلق کي ته اوبه ونه رسیږي که داسي نه وي روژه ماتیږي.

وګورئ په فتاوی هندیه کي راځي:

وإن تمضمض أو استنشق فدخل الماء جوفه إن كان ذاكرا لصومه فسد صومه وعليه القضاء ، وإن لم يكن ذاكرا لا يفسد صومه كذا في الخلاصة وعليه الاعتماد . (الفتاوی الهندية:١/ ٢٠٢).

په فتاوي دار العلوم دیوبند کي راځي:

په تالاب کې په غسل کولو سره او په غوټه خوړلو سره روژه نه ماتیږي. (فتاوی دار العلوم دیوبند:۶/ ۱۱۴).

په احسن الفتاوی کې راځي:

غوږونو ته داوبو په تللو سره روژه نه ماتیږي که یې په قصده اوبه پکښې واچولي اختلاف دئ عدم فساد راجح او فساد احوط دئ. لما فی العلائیة: أو دخل الماء فی أذنه وإن کان بفعله علی المختار إلی قوله لم یفطر. وفی الشامیة: قوله وإنه کان بفعله اختاره فی الهندیة والتبیین وصححه فی المحیط وفی الولوالجیة أن المختار، وفصل فی الخانیة بأنه إن دخل لایفسد وإن أدخله یفسد فی الصحیح لأنه وصل إلی الجوف بفعله فلا یعتبر فیه صلاح البدن، ومثله فی البزازیة واستظهره فی الفتح والبرهان شرنبلالیة ملخصا والحاصل الاتفاق علی الفطر بصب الدهن وعلی عدمه بدخول الماء . واختلف التصحیح فی إدخاله . رد المحتار:۲/ ۳۹۶، سعید – وفی الهندیة: ولو أقطر فی أذنه الماء لایفسد صومه کذا فی الهدایة، وهو الصحیح هکذا فی محیط السرخسی. عالمگیری:۱/ ۲۰۴. (احسن الفتاوی:۴/ ۴۲۱). والله تعالیٰ اعلم.

په روژه کې د وینې کښلو حکم

سوال: په روژه کې د وینې کښلو (blood extraction test or donor) **څه حکم دئ؟**

الجواب: د روژې په حالت کې د وینې کښلو څخه روژه نه فاسدیږي البته که چیرې د کمزورۍ کېدو بېره وه نو وینه کښل مکروه دي.

وګورئ په حدیث شریف کې راځي:

عن ابن عباس رضی الله عنهما أن النبي ﷺ احتجم وهو محرم واحتجم وهو صائم. وعن شعبةَ قال : سمعت ثابتا البناني قال: یسأل أنس بن مالك رضی الله عنه: أکنتم تکرهون الحجامة للصائم ؟ قال : لا ، إلا من أجل الضعف. (بخاری شریف:۱/ ۲۶۰، ۱۸۹۸، باب الحجامة والقیء للصائم).

په هدایه کې راځي:

ولو ادهن لم يفطر لعدم المنافى وكذا إذا احتجم لهذا، ولما روينا. (الهداية:١/ ٢١٧، باب مايوجب القضاء والكفارة).

په تبيين الحقائق کې راځي:

قال رحمه الله تعالى: فإن أكل الصائم أو شرب أو جامع ناسيا أو احتلم أو أنزل بنظر أو ادهن أو احتجم ..... لم يفطر ...... وأما الاحتجام فلما روينا ولعدم المنافي وهو قول جمهور العلماء ..... ولأن الحجامة ليس فيها إلا إخراج الدم فصارت كالافتصاد والجرح.

(تبيين الحقائق:١/ ٢٢٣، باب مايفسد الصوم ومالايفسد).

په احسن الفتاوی کې راځي:

سوال: د روژې په حالت کې د پیچکاری په ذریعه وینه کښل د روژې فاسدونکي یا مکروه کونکي نه ده؟

الجواب: مفسد نه دئ، البته که چیري د داسي ضعف خطره وه چې د روژې طاقت به پاتي نه سي نو بیا مکروه دي. (احسن الفتاوی:٤/ ٤٢٥). (ايضاح المسائل:صـ ٨٧). والله ﷻ اعلم.

ايضاح المسائل کې راځي:

د روژې په حالت کې د وینو په کښلو سره روژه نه فاسدیږي او که د داسې ضعف بیره وه چې د روژې طاقت به پاته نه سي نو مکروه ده. (احسن الفتاوی:٤/ ٤٢٥، (ايضاح المسائل:ص ٨٧). والله ﷻ اعلم.

د روژې په حالت کي د ويني ورکولو حکم

سوال: يوه مريض و ويني ته ضرورت دئ نو د روژې په حالت کي د ويني ورکولو څخه روژه فاسديږي او که نه؟

الجواب: د روژې په حالت کي د ويني ورکولو څخه روژه نه فاسديږي هو که د داسي کمزورۍ خطره وي چي د روژې طاقت به نه سي پاته نو مکروه دي.

عن ابن عباس رضي الله عنهما أن النبي ﷺ احتجم وهو محرم واحتجم وهو صائم. وعن شعبة قال : سمعت ثابتا البناني قال: يسأل أنس بن مالك رضي الله عنه: أكنتم تكرهون الحجامة للصائم؟ قال : لا ، إلا من أجل الضعف. (بخارى شريف:۱/ ۲۶۰، ۱۸۹۸، باب الحجامة والقئ للصائم).

په هدايه کي راځي:

ولو ادهن لم يفطر لعدم المنافى وكذا إذا احتجم لهذا، ولما روينا. (الهداية:۱/ ۲۱۷، باب مايوجب القضاء والكفارة).

په تبيين الحقائق کي راځي:

قال رحمه الله تعالى: فإن أكل الصائم أو شرب أو جامع ناسيا أو احتلم أو أنزل بنظر أو ادهن أو احتجم ..... لم يفطر ...... وأما الاحتجام فلما روينا ولعدم المنافي وهو قول جمهور العلماء ..... ولأن الحجامة ليس فيها إلا إخراج الدم فصارت كالافتصاد والجرح. (تبيين الحقائق:۱/ ۲۲۳، باب مايفسد الصوم ومالايفسد).

په کتاب الفتاوی کي راځي:

روژه په داسي شيانو ماتيږي کوم چي په جسم کي داخل سي نه په داسي شيانو سره چي هغه له جسم څخه خارج سي له دې څخه يوازي د قي صورت مستثنی دئ چي د هغه ځيني صورتونه د روژې ماتونکي دي نو ځکه په وينه ورکولو سره روژه نه ماتيږي له رسول الله ﷺ څخه په خپله د روژې په حالت کي ښکر لګول ثابت سوي دي، نو ځکه په وينه ورکولو کي هيڅ پروا نه سته هغه که

د تہسټ (معایناتو) له پاره وي او که دیوه مریض له پاره وي او که چیري دا خطره وه چي د وینې په ورکولو سره روژه نه پاتیږي او د مجبورۍ په حالت کي هم نه وو نو وینه ورکول مکروه ده، د احتیاط په خاطر نبي کریم ﷺ د روژې په حالت کي ښکر لګول ښه نه دي ګڼلي ځکه چي په ټولو خلکو کي د دې برداشت نه سته او خطره ده چي هغه خپله روژه نه سي قائمولای. (کتاب الفتاوی: دریمه حصه: صـ ۴۰۰). والله تعالیٰ اعلم.

د قي کولو شخه د روژې حکم

سوال: د روژې په حالت کي د قي په کولو سره روژه ماتیږي او که نه؟

الجواب: له قي شخه روژه خالي په دوو صورتو کي ماتیږي:

۱_ خپله په ډک خوله قی راسي او قصدا د روژې د یاد په حالت کي قي تېر کړي او تر حلق کښته سي.

۲_ چي په قصد په ډکه خوله قی وکړي.

د دې صورتو شخه پرته روژه نه فاسدیږي.

وګورئ په شامي کي راځي:

قوله وإن ذرعه القيء أي غلبه وسبقه قاموس، والمسألة تتفرع إلى أربع وعشرين صورة، لأنه إما أن يقيء أو يستقيء وفي كل إما أن يملأ الفم أو دونه، وكل من الأربعة إما أن خرج أو عاد أو أعاده وكل إما ذاكر لصومه أو لا، ولا فطر في الكل على الأصح إلا في الإعادة والإستقاء بشرط الملء مع التذكر شرح المنتقى. (الشامي: ۲/ ٤١٤، مطلب فى الكفارة، سعيد).

په البحر الرائق کي راځي:

فالحاصل أن صور المسائل اثناعشر، ..... وأن صومه لايفسد على الأصح فى الجميع إلا فى مسألتين فى الإعادة بشرط ملء الفم، وفى الاستقاء بشرط ملء الفم. (البحر الرائق: ۲/ ۲۷٤، باب ما يفسد الصوم وما لايفسد، كوئته).

همدا ډول وګورئ: (تبيين الحقائق، باب ما يفسد الصوم ومالايفسد – والعناية شرح الهداية: باب ما يوجب القضاء والكفارة – والجوهرة النيرة: كتاب الصوم – وفتح القدير: باب مايوجب القضاء والكفارة – ودرر الحكام فى شرح غور الحكام: باب مايوجب الافساد فى الصوم – والفتاوى الهندية: الباب الرابع فى ما يفسد وفى مالايفسد).

په كتاب الفتاوى كي راځي:

كه چيري بيله ارادې په خپله په ډكه خوله قی يا اوبه راسي كوم چي د قي يو صورت دئ نو په دې سره روژه نه ماتيږي هو كه چيري **انسان په قصده قی تېر كړي يا په قصد قی وكړي او هغه په ډكه خوله سره وي نو په دې صورت كي روژه ماتيږي.** (كتاب الفتاوى: ۳/ ۳۹۱). والله ﷻ اعلم.

د روژې په حالت كي د ستني لګلول حكم

سوال: يو سړی د روژې په حالت كي د ستنی (پيچكاری) په ذريعه يا د سېروم په ذريعه دوا استعمالوي په دې سره روژه ماتيږي او كه نه؟ كه چيري له دوا څخه د معدې اصلاح مقصد وه نو په دې مسئله كي فرق راځي او كه نه؟

الجواب: د روژې په حالت كي د پيچكاری (ستني يا د سېروم) په ذريعه جسم ته دوا رسول روژه نه فاسده وي مګر كوم ستن چي د بدن د قوت ذريعه وي او سړی د هغه په سبب د خوړلو او چيښلو څخه مستغنی وي نو د دې استعمال له كراهت څخه خالي نه دئ، البته هغه ستن چي هغه په خاص ډول په نس كي اينبودل كيږي مثلاً د سپي د خوړلو يعنی چي سړي سپی وخوري د هغه ستني خاص په نس كي لګيږي نو دا بايد مفسد سي ځكه چي دوا خاص نس ته ورسول كيږي نو ځكه بايد له دې څخه اجتناب او پرهيز وكړل سي.

وګورئ په درمختار كي راځي:

ادهن أو اكتحل أو احتجم وإن وجد طعمه في حلقه. وفى الشامي: أي طعم الكحل أو الدهن كما في السراج، وكذا لو بزق فوجد لونه في الأصح، بحر، قال في النهر: لأن الموجود في حلقه أثر داخل من المسام الذي هو خلل البدن والمفطر إنما هو الداخل من المنافذ

للاتفاق على أن من اغتسل في ماء فوجد برده في باطنه أنه لا يفطر وإنما كره الإمام الدخول في الماء والتلفف بالثوب المبلول لما فيه من إظهار الضجر في إقامة العبادة لا لأنه منطر. (الدر المختار مع الشامی:۲/ ۳۹۵، باب مالایفسد الصوم ومالایفسده، سعید).

په فتاوی هندیه کي راځي:

ولو دخل حلقه غبار الطاحونة أو طعم الأدوية أو غبار الهرس وأشباهه.... لم يفطره كذا فی السراج والوهاب. (الفتاوی الهندية:۱/ ۲۰۳، فيما يفسد ومالا يفسد).

په کتاب الفتاوی کي راځي:

د ستني او سپروم په ذريعه دوا معدې ته نه رسيږي بلکي دوا رګو ته رسيږي او د رګو په ذريعه جسم ته رسيږي نو ځکه ستني او سپروم ته دوا خوړل او چيښل نه ويل کيږي نو په دې سبب په سپروم او ستن سره روژه نه ماتيږي.

روژه د اصل شی په رسيدو سره ماتيږي نه د شی په اثر سره، البته که چيري يو سړی د تقويت له پاره د روژې په حالت کي داسي کوي دا د کراهت څخه خالي نه دئ، نو ځکه له دې څخه بايد ځان وساتل سي. (کتاب الفتاوی:۳/ ۳۹۲).

په فتاوی محموديه کي راځي:

په ستن سره روژه نه فاسديږي مګر که چيري يې دوا د معدې وه منځ ته ورسول نو بيا د روژې مفسده ده. (فتاوی محمودیہ:۱۰/ ۱۵٤).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (امداد الفتاوی:۲/ ۱٤۵ – وامداد الاحکام:۲/ ۱۳۰ – وکفایت المفتی:٤/ ۲۵۳ – واحسن الفتاوی:٤/ ٤۲۲ – وایضاح المسائل:ص ۸٤ – وفتاوی رحیمیه:۲.۳۸ – وآلات جدیده کی شرعی احکام:ص ۱۶۲-۱۶۸). والله تعالى اعلم.

د ستني په اړه نور معلومات او تحقيق

سوال: ستن چي په رګ کي وي او که په غوښه کي وي، د طاقت له پاره وي او که د مرض له پاره وي د روژې فاسدونکې ده او که نه؟

الجواب: د روژې فاسدونکی هغه شی دئ چي هغه تر اصلي منافذو (سوري) مثلا خوله، پزه، دبر، قبل په ذريعه د دماغ منځ يا د نس منځ ته ورسيږي يا د عارضي منافذو په ذريعه لکه د نس په ژور زخم کي دوا اچول او کوم شيان چي د مساماتو او رګو په ذريعه ورسيږي هغه مفسد نه دي.

وګورئ په فتح المعين کي راځي:

لأن المفطر إنما هو الداخل من المنافذ ولهذا اتفقوا على أن من اغتسل فوجد برد الماء فی باطنه لايفطر. (فتح المعين:۱/ ۴۳۱).

په مبسوط سرخي کي راځي:

وإن وصل عين الكحل إلى باطنه فذلك من قبل المسام، لا من قبل المسالك إذ ليس من العين إلى الحلق مسلك فهو نظير الصائم يشرع في الماء فيجد برودة الماء في كبده. (المبسوط للامام السرخسی:۳/ ۶۷).

په هدايه کي راځي:

والداخل من المسام لاينافي كمالو اغتسل بالماء البارد. (الهداية:۱/ ۲۱۷، باب مايوجب القضاء والكفارة).

وفی البدائع: تحت مسئلة الاكتحال: وما يوجد من طعمه فذاک أثره لاعينه. (بدائع الصنائع:۲/ ۹۳، سعيد).

همدا ډول کله چي دوا رګ ته ورسيده نو له ويني سره د ګډيدو په سبب وينه پر غالبه سوه او د دوا حقيقت په وينه بدل سو نو کله چي نس ته ورسيده نو هغه وينه وه او بهرنی شی بدل سو لکه څنګه چي ناړي پر وينه غالب وي نو چي کله روژه دار هغه تيري کړي نو روژه نه ماتيږي.

په فتاوی شامي کي راځي:

فإن غلب الدم أو تساويا فسد وإلا لا، إلا إذا وجد طعمه بزازيه واستحسنه المصنف وهو ما عليه الأكثر. (شامی:۲/ ۳۹۶، باب مایفسد الصوم ومالا یفسده، سعید). والله تعالیٰ اعلم.

په کار کي که چيري روژه په طاقت کي نه وه نو د افطار حکم

سوال: يو ملازم ملازمت کوي او په روژه کي د سختي گرمی په سبب روژه نيول ډېر مشکل دي بلکي د ډېري تندي په سبب د توان څخه وتلي دي او رخصتي هم نه ورته رسيږي نو د داسي مزدور له پاره د افطار حق سته او که نه؟

الجواب: د داسي ملازم له پاره ضروري ده چي هغه بايد په روژه کي رخصتي واخلي که چيري رخصتي ورکول سي نو روژه دي ونيسي او که چيري رختصي نه ورته ورسيږي او د ملازمت څخه پرته د هغه گذاره نه کيږي نو د خپل طاقت موافق دي روژه ونيسي بيا چي يې کله طاقت نه وي نو استغفار دي ووايي او اوبه دي وڅيښي او وروسته دي د دې قضاء راوړي خو له شروع څخه روژه نيول ضروري دي.

وگورئ په فتاوی تاتار خانيه کي راځي:

والخادم الحر الذي ذهب لكرى النهر فاشتد وخاف على نفسه الهلاک ينبغي أن لاتجب الكفارة لو أفطر. (الفتاوی التاتار خانية:۲/ ۳۸۵، إدارة القرآن).

په فتاوی هنديه کي راځي:

المحترف المحتاج إلى نفقته علم أنه لو اشتغل بحرفته يلحقه ضرر مبيح للفطر يحرم عليه الفطر قبل أن يمرض كذا في القنية. (الفتاوی الهندية:۱/ ۲۰۸).

قال ابن عابدين الشامی رحمه الله:

قال الرملي: قال في جامع الفتاوى: ولو ضعف عن الصوم لاشتغاله بالمعيشة فله أن يفطر ويطعم لكل يومٍ نصف صاعٍ، وأقول: هذا إذا لم يدرك عدةً من أيامٍ أخر يمكنه الصوم فيها، أما إذا أمكنه يجب القضاء. (منحة الخالق على هامش البحر الرائق: ٢/ ٢٨١، كوئته).

په فتاوى هنديه كي راځي:

والصحيح الذى يخشى أن يمرض بالصوم فهو كالمريض فكذا فى التبيين. (الفتاوى الهندية: ١/ ٢٠٧).

په آپ كي مسائل نومي كتاب كي راځي:

د كار په سبب د روژې د پرېښودلو اجازه نه ښته نو ځكه روژه خو دي ونيسي نو كله چي يې حالت نازك سو بيا دې روژه ماته كړي په دې صورت كي قضاء واجب ده او كفاره نه لازميږي. (آپ كى مسائل اور ان كا حل: ٣/ ٢٧٤). والله تعالى اعلم.

په اشپز خانه كي د مختليفو خوړو او مسالو څخه د روژې حكم

سوال: بنځي په اشپز خانه كي خواړه پخه وي نو د خوړو او مختليفو مسالو بوئ او د هغوى دماغ ته رسيږي له دې څخه پر روژه څه اثر لوېږي او كه نه؟

الجواب: ځيني شيان داسي وي چي هغه نه د غذائيت فائده وركوي او نه د دوا، له هغوى څخه پرهيز كول ډېر سخت او آن كله كله ناممكن وي مثلا دود او دوړي او د ښځو له پاره د مختلفو خوړو او مسالو بوئ او دود د دې په اړه د شريعت حكم دا دئ كه چيري دا شيان غير اختياري وي نو په دې سره روژه نه فاسديږي او نه مكروه كيږي او نه د دې په سبب پر روژه څه اثر لوېږي.

وګورئ په درمختار كي راځي: دخل حلقه غبار أو ذباب أو دخان ولو ذاكراً استحساناً لعدم إمكان التحرز عنه ومفاده أنه لو أدخل حلقه الدخان أفطر أي دخان كان ولو عوداً أو عنبرا لو ذاكرا لإمكان التحرز عنه. (الدر المختار: ٢/ ٣٩٥، سعيد – وكذا فى مراقى الفلاح: ٢٣٩، بيروت – وفتاوى قاضى خان على هامش الهندية: ١/ ٢٠٨).

په عمدة الفقه کي راځي:

که چيري ديوه سړي په حلق کي داوړو غبار يا خوند (يوه سړي دوا جوړوله او د هغه خوند په خپل حلق کي محسوس کړي) يا د هغه غبار يا دود يا د خاورو غبار يا د حيوانانو د پښو دوړي وحلق ته داخلي سي دا ټول شی چي حلق ته داخل سي نو په دې سره روژه نه فاسديږي، که څه هم هغه ته روژه په ياد وي او که نه وي، ځکه چي له دې څخه ځان ساتل ممکن نه دي او دا حکم هغه وخت دئ چي هغه شی د روژه دار د فعله څخه پرته په خپله داخل سي او که چيري هغه ته روژه په ياد وي او په خپل فعل سره يو شی داخل کړي نو روژه يې فاسديږي ځکه هغه کله چي خوله بنده کړي نو له دې څخه ځان ساتلای سي او خلک له دې خبري څخه غافل دي. (عمدة الفقه:۳/ ۲٦٤). والله ﷻ اعلم.

د ښځي په شرمګاه (فرج) کي د ګوتي په اچولو سره د روژې حکم

سوال: که چيري ښځه په خپله شرمګاه کي ګوته داخله يا ډاکټر ګوته ورننه کړي نو روژه ماتيږي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي که چيري ګوته وچه وه نو روژه نه فاسديږي مګر که چيري ګوته لنده وه نو روژه فاسده سوه او قضاء لازم ده.

په فتاوی هنديه کي يې وګورئ:

ولو أدخل أصبعه في استه أو المرأة في فرجها لا يفسد، وهو المختار إلا إذا كانت مبتلةً بالماء أو الدهن فحينئذ يفسد لوصول الماء أو الدهن هكذا في الظهيرية. (الفتاوى الهندية:۱/ ۲۰٤).

په درمختار کي راځي:

أدخل أصبعه اليابسة فيه أي دبره أو فرجها ولو مبتلة فسد. وفي الشامي: لبقاء شيء من البلة في الداخل. (الدر المختار مع الشامي:۲/ ۳۹۷، سعيد). همدا ډول دغه کتابونه وګورئ: (جديد فقهي مسائل:۱/ ۱۸۳، فتاوی محموديه:۱۰/ ۱٤۳). والله ﷻ اعلم.

د ښځي په شرمګاه کي د دوا په اچولو سره د روژې حکم

سوال: که چیري یوه ښځي د روژې په حالت کي په خپله شرمګاه کي دوا واچوله نو روژه ماتیږي او که نه؟

الجواب: روژه ماتیږي او قضاء لازم ده.

وګورئ په درمختار کي راځي:

أقطر فی إحلیله ماء أودهناً وإن وصل إلی المثانة علی المذهب وأما فی قبلها فمفسد إجماعا لأنه کا لحقنة. وفی الشامی: قوله: فمفسد إجماعاً، وقیل علی الخلاف، والأول أصح فتح عن للمبسوط. (الدر المختار مع الشامی:۲/ ۳۹۹-۴۰۰، سعید).

په البحر الرائق کي راځي:

الإقطار فی قبل المرأة یفسد الصوم بلاخلاف علی الصحیح، کذا فی غایة البیان وفی الولو الجیة: أنه یفسد بالإجماع. (البحر الرائق:۲/ ۲۷۹، کتاب الصوم، کوئته).

په مراقي الفلاح کي راځي:

أو أقطرت فی فرجها علی الأصح لشبهه بالحقنة. (مراقی الفلاح:۲۴۷، باب ما یفسد الصوم،بیرو).

په جدید فقهي مسائل نومي کتاب کي راځي:

د ښځو په شرمګاه کي هر ډول دوا اچول د روژې مفسد دي.

په فتاوی عالمګیري کي راځي:

وفی الإقطار فی إقبال النساء یفسد بلاخلاف وهو الصحیح.الفتاوی الهندیة:۱/ ۲۰۴ (جدید فقهی مسائل:۱/ ۱۸۳). والله تعالی اعلم.

د ښځې په شرمګاه کې که چیرې ډاکټر ګوته دننه کړه نو د روژې حکم

سوال: د ولادت ته د نژدې ښځې په شرمګاه کې که چیرې ډاکټر ګوته دننه کړه نو روژه فاسدیږي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کې که چیرې ګوته په دوا لنده وه نو روژه فاسدیږي او قضاء واجب ده او که چیرې ګوته لنده نه وه نو روژه نه فاسدیږي، دا خبره په پورتنیو دلائلو کې تېره سوه هلته یې وګورئ. والله ﷻ اعلم.

د وریو وینې ونس ته د تللو څخه د روژې حکم

سوال: که چیرې د یوه سړي ورې وینې کیږي او د غفلت یا د خوب په حالت کې د ناړو سره ونس ته شوه کیږي نو روژه ماتیږي او که نه؟

الجواب: چې له وریو څخه وینې راووزي او حلق ته ورسیږي د دې دوه صورتونه دي:

۱_ دا چې د وینې مقدار کم وي او د ناړو مقدار غالب وي نو روژه نه فاسدیږي.

۲_ چې د وینې مقدار زیات وي یعنی پر ناړو غالبې وي نو روژه فاسدیږي مګر علامه شامي رحمة الله علیه فرمایي، که چیرې د وینې کیفیت داسې وو چې له هغو څخه ځان ساتل ممکن نه وي نو په داسې صورت کې روژه نه فاسدیږي مثلاً قی چې په خپله وحلق وګرځي.

وګورئ په درمختار کې راځي:

خرج الدم من بين أسنانه ودخل حلقه يعنى ولم يصلى إلى جوفه أما إذا وصل فإن غلب الدم أو تساويا فسد وإلا لا..... وفى الشامى: قلت ومن هذا يعلم حكم من قلع ضرسه في رمضان ودخل الدم إلى جوفه في النهار ولو نائما فيجب عليه القضاء إلا أن يفرق بعدم إمكان التحرز عنه فيكون كالقيء الذي عاد بنفسه فليراجع (الدر المختار مع الشامى:۲/ ۳۹۶، باب مايفسد الصوم ومالا يفسده، سعيد).

په حاشیه الطحطاوي کې راځي:

وفی السراج عن الوجيز لوكان الدم غالباً لايفطر وهو الصحيح إلحاقاً له بمابين الأسنان بجامع عدم الاحتراز عنه، نهر. (حاشية الطحطاوى على الدر المختار:۱/ ۴۵۱، كوئته).

په النهر الفائق کي راځي:

ولو خرج دم من أسنانه فدخل حلقه فإن غلب الريق أفطره وكذا إن ساواه استحساناً وإلالا، هذا ما عليه أكثر المشايخ، وفى السراج عن الوجيز: لو كان الدم غالباً لايفطر وهو الصحيح إلحاقاً بما بين الأسنان بجامع عدم الاحتراز عنه. (النهر الفائق:۲/ ۱۸، باب مايفسد الصوم، قديمى).

لنډه دا چي د نهر له عبارت څخه معلوميږي که څه هم وينې غالبه وي د صحيح قول مطابق بيا هم روژه نه ماتيږي ځکه له دې څخه ځان ساتل مشکل دي مګر هو که چيري هغه دغه ويني زيبنلې نو بيا روژه ماتيږي. والله ﷻ اعلم.

د روژې په حالت کي د غاښ کښلو حکم

سوال: که چيري ديوه سړي پر غاښ درد وو نو د روژې په حالت کي يې کښل روا دي او که نه او په دې سره روژه ماتيږي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي که چيري پر غاښ ډېر درد وي نو کښل يې روا دي مګر د دې خبري خيال کول ضروري دي چي ويني تر حلق لاندي ولاړي نه سي، البته د ضرورت څخه پرته د روژې په حالت کي يې کښل مکروه دي.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

قلت: ومن هذا يعلم حكم من قلع ضرسه في رمضان ودخل الدم إلى جوفه في النهار ولو نائما فيجب عليه القضاء إلا أن يفرق بعدم إمكان التحرز عنه فيكون كالقيء الذي عاد بنفسه فليراجع (الدر المختار مع الشامى:۲/ ۳۹۶، باب مايفسد الصوم ومالا يفسده، سعيد).

په النهر الفائق کي راځي:

ولو خرج دم من أسنانه فدخل حلقه فإن غلب الريق أفطره وكذا إن ساواه استحساناً وإلالا، هذا ما عليه أكثر المشايخ، وفي السراج عن الوجيز: لو كان الدم غالباً لايفطر وهو الصحيح إلحاقاً بما بين الأسنان بجامع عدم الاحتراز عنه. (النهر الفائق:۲/ ۱۸، باب مايفسد الصوم، قديمی).

په احسن الفتاوی کي راځي:

په روژه کي غاښ کښل یا دوا لګول د سخت ضرورت په وخت کي روا دي او بېله ضرورته مکروه دي او که چیري دوا یا وینه نس ته شوه سوه او پر ناړو غالبه وه یا ور سره برابر وه یا یې خوند محسوس کړي نو روژه ماتیږي. (احسن الفتاوی:٤/ ٤٢٦).

په کتاب الفتاوی کي راځي:

په خپل ذات کي په غاښ کښلو کي هیڅ پروانه سته مګر ډېر ځله د غاښ کښلو په وخت کي له وریو څخه یو څه وینه راځي او دا امکان هم لري چي وینه تر حلق کښته ولاړي سي او په داسي صورت کي روژه ماتیږي نو ځکه که چیري ډېر سخت مجبوره نه وي نو بهتره دا ده چي په روژه کي غاښ ونه کاږي او بېله سخت عذره په روژه کي غاښ کښل مکروه دي. (کتاب الفتاوی:۳/ ٤٠٠، ایضاح المسائل:صـ ۸۷). والله ﷻ اعلم.

په إستمناء بالید (مټ وهلو) سره د روژې حکم

سوال: که چیري یو سړی په روژه کي په لاس سره شهوت پوره کړي (مټ ووهي) نو روژه فاسدیږي او که نه؟ په هدایه کي د دې خلاف لیکلي دي؟

الجواب: په دې صورت کي راجح او مفتی به قول همدا دئ چي روژه فاسدیږي او قضاء هم لازم ده.

وګورئ په هدایه کي راځي:

فإن نام فاحتلم يفطر .... وكذا إذا نظر إلى امرأة فأمنى .... وصار كالمتفكر إذا أمنى وكالمستمني بالكف على ما قالوا (الهداية:۱/ ۲۱۷).

محقق ابن همام رحمه الله د هدايې د دې عبارت په تشريح کې وايي: چې مصنف ((على ماقالوا)) د قول څخه ضعف ته اشاره کړې ده چې د استمناء باليد څخه د عدم فساد قول ضعيف دئ او د مختار قول طرف ته ابن همام رحمه الله اشاره کړې ده. وګورئ:

قوله على ما قالوا: عادته في مثله إفادة الضعف مع الخلاف وعامة المشايخ على الإفطار، وقال المصنف رحمه الله في التجنيس: أنه المختار كأنه اعتبرت المباشرة المأخوذة في معنى الجماع أعم من كونها مباشرة الغير أولا، بأن يراد مباشرة هي سبب الإنزال. (فتح القدير: ۲/ ۳۲۰، دار الفكر).

په فتاوى ولو الجيه کې راځي:

الصائم إذا عالج ذكره حتى أمنى يجب عليه القضاء هو المختار، لأنه وجد الجماع معنى...... لقوله صلى الله عليه وسلم: « ناكح اليد ملعونه». (الفتاوى الولو الجية: ۱/ ۲۱۸، كتاب الصوم، الفصل الاول، بيروت).

په البحر الرائق کې راځي:

قالوا: الصائم إذا عالج ذكره حتى أمنى، يجب عليه القضاء، وهو المختار، كذا في التجنيس والولوالجية، وبه قال عامة المشايخ كذا في النهاية (البحر الرائق: ۲/ ۲۷۲، كوئته). والله تعالى اعلم.

له ښځې سره د ساتيرې په وخت کې د انزال څخه د روژې د فساد حکم

سوال: يو سړى د روژې په حالت کې حملې وهي او د هغه څخه انزال سو نو روژه يې فاسده سوه او که نه؟

الجواب: په دې صورت کې روژه فاسده سوه او قضاء واجب ده.

وګورئ په هدايه کې راځي:

ولو أنزل بقبلة أو لمس فعليه القضاء، دون الكفارة لوجود معنى الجماع، ووجود المنافي صورة أو معنى يكفي لإيجاب القضاء احتياطاً. (الهداية:١/ ٢١٧).

په درمختار كي راځي:

او وطیء .....فخذ أو بطناً أو قبل ولو قبلة فاحشة بأن يدغدغ أو يمص شفتيها، أو لمس ولو بحائل لايمنع الحرارة.... فأنزل قيد الكل حتى لولم ينزل لم يفطر كما مر ... قضى في الصور كلها.(الدر المختار:٢/ ٤٠٤-٤٠٦، سيعد).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (البحر الرائق:٢/ ٢٧٨، كوئته – ومراقي الفلاح:٢٤٧ – وفتاوى خموديه:١٠/ ١٤٥).و الله ﷻ اعلم.

د روژې په حالت كي پان په خوله كي ايښودلو څخه د روژې د فساد حكم

سوال: كه چيري يوه سړي د تمباكو پان په خوله كي كښېښودل او د هغه اوبه يې نه تېره ولې نو په دې سره روژه ماتيږي او كه نه؟

الجواب: په دې صورت كي كه چيري يې پان په خوله كي كښېښودل او د هغو خوندېې په حلق كي محسوس سو او تر حلق كښته ولاړې نو روژه فاسده سوه مګر كه چيري حلق ته ورسېدې او تر حلق كښته نه ولاړې نو بيا مفسده نه ده، البته مكروه تحريمي ضرور ده، مګر ډېر ځله تر حلق كښته ځي.

وګورئ په شامي كي راځي:

و كره مضغ علكٍ أبيض ممضوغٍ ملتئمٍ ، وإلا فيفطر ..... قوله أبيض قيده بذلك ؛ لأن الأسود وغير الممضوغ وغير الملتئم ، يصل منه شيء إلى الجوف ، وأطلق محمد المسألة وحملها الكمال تبعًا للمتأخرين على ذلك قال للقطع بأنه معلل بعدم الوصول ، فإن كان مما يصل عادةً حكم بالفساد ؛ لأنه كالمتيقن . (الشامي:٢/ ٤١٦، مطلب فيما يكره للصائم، سعيد).

پہ منهاج السنن کي راځي:

فائدة: استعمال سفوف التتن موجب للقضاء، فإنه يدخل الباطن بدليل وجود طعمه فی الحلق كما يشير إليه كلام در المختار حيث قال: وأكل مثل سمسمة من خارج يفطر، يكفر فی الأصح إذا مضغ بحيث تلاشت فی فمه إلا أن يجد الطعم فی حلقه، والعوام لو أفتوا بعدم الفساد عند عدم الوصول إلى الحلق والبطن لبلغوا إلى الآفاق أن النشوق غير مفسد كما هو عادة العوام فی كل زمان. (منهاج السنن: ٤/ ٦٣).

پہ فتاوی شامي کي راځي:

وفی البزازية: قيد عدم الفساد فی صورة غلبة البصاق بما إذا لم يجد طعمه وهو حسن.

(الشامی: ۲/ ۳۹۶، باب مايفسد الصوم ومالايفسده، سعيد).

پہ جواهر الفتاوی کي راځي:

پان او نسوار کوم چي ديوه مقصد له پاره په خوله کي کښېښودل کيږي د دې اثرات حلق ته رسيږي نو په دې سره روژه فاسديږي او که چيري د اثر نه تللو پابندي وکړي نو بيا هم د شک په سبب مکروه ده. (جواهر الفتاوی: ۱/ ۲۸).

پہ امدا الاحکام کي راځي:

د روژې په حالت کي د تمباکو پوډر په خوله کي ايښودل.

قال فی العالمكيرية: ولو مص الهليلج فدخل البزاق حلقه لم يفسد مالم يدخل عينه كذا فی الظهيرية. الفتاوی الهندية: ۱/ ۱۳۱.

له دې څخه معلومه سوه چي د تمباکو پوډر په داسي ډول په غاښو کي په ايښودلو سره چي حلق ته يقينا نه ورسيږي د روژې مفسد نه دئ او که لږ تر حلق کښته سول روژه فاسديږي او د دې پوډر

استعمال د روژې په حالت کې بېله ضرورته مکروه دئ ځکه چې ضرورت وي نو تر مانبام وروسته يې هم استعمالولای سي. (امداد الاحكام:۲/ ۱۲۸). والله تعالى اعلم.

سهار وختي له ښځي څخه پر جلاکېدلو د روژې حکم

سوال: يوه سړي د پېشلمي په وخت کي جماع وکړه او په دغه حالت کي ښځه او خاوند دواړه بېده سول او تر صبح صادق وروسته دواړو وېښ سول ژر سره جلا سول نو اوس يې د روژه فاسده سوه او که نه او پر هغوی قضاء او کفاره سته او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي د دواړو روژه نه فاسدېږي ځکه تر صبح صادق وروسته جماع نه ده سوې او پر هغوی قضاء او کفاره نه سته.

وګورئ په هدايه کي راځي:

الجماع إدخال الفرج بالفرج ولا دوام للإدخال بخلاف ما إذا أخرج ثم أولج.

(الهداية:۲/ ۳۸۹، كتاب الطلاق).

په البحر الرائق کي راځي:

الجماع هو إدخال الفرج بالفرج ، وليس له دوام حتى يكون لدوامه حكم ابتدائه، كمن حلف لا يدخل هذه الدار وهو فيها لا يحنث باللبث. (البحر الرائق:٤/ ٣٥، باب التعليق، كوئته).

ولو جامع عامدًا قبل الفجر وطلع وجب النزع في الحال فإن حرك نفسه فهعليه الكفارة.

(البحر الرائق:۲/ ۲۷۱، كوئته).

د بحر له عبارت څخه معلومه سوه که چيري يې فی الحال خاص عضو راوکښه نو قضاء لازمه نه ده.

ولو بدأ بالجماع ناسيًا فتذكر إن نزع من ساعته لم يفطر ، وإن دام على ذلك حتى أنزل فعليه القضاء (لبحر الرائق:۲/ ۲۷۱، كوئته).

څنګه چې دلته په هېره سره جماع کول تر صبح صادق مخکې جماع سره مشابه ده او دواړه د مفسد نه دي ځکه د هېرې په حالت کې چې ژر سره جلا سي نو قضاء نه سته ځکه نو په ادخال قبل الفجر کې هم باید قضاء نه وي.

په فتاوی هندیه کې راځي:

وإن بدأ بالجماع ناسيًا أو أولج قبل طلوع الفجر أو الناسي تذكر إن نزع في فوره لا يفسد صومه في الصحيح. (الفتاوى الهندية:۱/ ۲۰٤).

له دې عبارت څخه معلومه سوه چې دخول قبل الفجر او إخراج وروسته تر فجر د نسیان په صورت کې روژه نه فاسدیږي یعنی قضاء نه سته، مګر د مراقي الفلاح له عبارت څخه معلومه سوه چې بیده د هیرې په حکم کې نه دئ.

قال: أو صب أحد في جوفه ماء وهو أي صائم نائم لوصول المفطر إلى جوفه كما لو شرب وهو نائم وليس كالنامي لأنه تؤكل ذبيحته وذاهب العقل والنائم لا تؤكل ذبيحتهما. (مراقي الفلاح:ص ۲٤٥، باب مايفسد الصوم من غير كفارة، بيروت).

مګر د دې له سیاق او سباق څخه معلومیږي چې د خوراک او چیښاک په اړه کې بیده د ناستي په ډول نه دئ ځکه چې د خوراک دوام د ابتداء په حکم کې دئ، په خلاف د جماع چې د هغې دوام دا د خال حکم نه دئ. همدا ډول په فتاوی واحدی کې همدغه مسئله لیکل سوې ده نو په دې صورت کې قضاء او کفاره واجب نه ده.

الظاهر أنه لاكفارة عليه لعدم تحقق الجماع وهو إدخال الفرج بالفرج بعد طلوع الفجر، قال فى الهداية: الجماع إدخال الفرج بالفجر وليس له دوام حتى يكون لدوامه حكم ابتدائه..... فذلك لايجب القضاء بالنزع بعد الانتباه من النوم لأن المفسد هو الجماع ولم يوجود فى النزع بعد الانتباه. (فتاوى الواحدى: جلد اول:۳۲٤، كتاب الصوم). والله ﷻ اعلم.

د روژې په حالت کي د غاښو د دوا د استعمالولو حکم

سوال: د روژې په حالت کي د غاښو د دوا په استعمالولو سره روژه فاسدیږي او که نه؟

الجواب: د روژې په حالت کي د غاښو د دوا بیله ضرورته استعمالول مکروه ده، البته تر څو چي تر حلق کښته نه سي روژه نه فاسدیږي مګر د ضرورت په وخت کي روا ده.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

وكره له ذوق كل شيء وكذا مضغه بلا عذر.... والظاهر أن الكراهة في هذه الأشياء تنزيهية. (الشامي: ٢/ ٤١٦، سعيد).

په آپ کی مسائل نومي کتاب کي راځي:

د غاښو د دوا استعمال د روژې په حالت کي مکروه دئ که چیري حلق ته نه ورسېده نو روژه نه فاسدیږي. (آپ کی مسائل اور ان کا حل: ٣/ ١٩١).

په کتاب الفتاوی کي راځي:

په دوا کي خوند وي او د روژې په حالت کي د هر شی خوند کتل مکروه دي نو ځکه د روژې په حالت کي د غاښو د دوا څخه ځان ساتل په کار دي ځکه چي دا له کراهت څخه خالي نه دي ذکره ذوق شي ومغضه بلا عذر. (بحر: ٢/ ٢٧٩). (کتاب الفتاوی: ٣/ ٣٩٩).

همدا ډول وګورئ (اسلامی فقه: ١/ ٣٨٨، روزه کی مکروهات – وفتاوی دار العلوم: ٦/ ٤٠٤).

مګر څنګه چي د دې خوند د مسواک په ډول د زړه او معدې له پاره راغب نه دئ بلکي دا د غاښو د پاکوالي له پاره ذریعه ده ځکه نو د دې پر استعمال ډېر انکار په کار نه دئ، زما په خیال دا د مسواک د خوند په ډول دئ او دې ته مکروه ویل د غور قابل ده.

په فتاوی الجنة الدائمة المبحوث العلمية والافتاء کي لیکل سوی دي:

حكم استعمال معجون الأسنان للصائم:

س: هل يجوز للصائم أن يستعمل معجون الأسنان وهو صائم في نهار رمضان؟

ج: لاحرج فی ذلک مع التحفظ عن ابتلاع شیء منه، كما يشرع استعمال السواک للصائم فی أول النهار وآخره. (مأخوذ من « مجلة المجمع الفقهی الاسلامی »: ٢٧٢، سنة ١٤٢٤هـ).



قال الله تعالى: ﴿ فمن كان منكم مريضًا أو على سفرٍ فعدة من أيامٍ أخر ﴾. (سورة البقرة: ١٨٤).

وعن عائشة رضي الله عنها قالت « كنانحيض عند النبی ﷺ فيأمر نابقضاء الصوم». (رواه ابن ماجه).

څلورم......... باب

د قضاء او کفارې بیان

د پیشلمي په وخت کي په خوله کي پان ایښودل او پر بیده کېدلو څخه د قضاء او کفارې حکم

سوال: یوه سړي د پیشلمي پر وخت په خوله کي پان کښېښودل او پر بیده سوه او بیا تر صبح صادق وروسته راپورته سو نو پر هغه قضاء او کفاره سته او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي روژه فاسده سوه او یوازي قضاء واجب ده ځکه چي څه ناڅه خوند خو به حلق ته ضرور رسېدلي وي او د خوب په حالت کي له خوړلو او چیښلو څخه یوازي قضاء سته او کفاره نه سته.

وګورئ په درمختار کي راځي:

وإن أفطر خطأً كان تمضمض فسقه الماء أو شرب نائماً. (الدر المختار:١/ ٤٠١، باب مايفسد الصوم ومالايفسده، سعيد).

په فتاوی هندیه کي راځي:

النائم إذا شرب فسد صومه. (الفتاوی الهندية:١/ ٢٠٣).

په مراقي الفلاح کي راځي:

باب ما يفسد الصوم ويوجب القضاء من غير كفارة ..... أو صب أحد في جوفه ماء وهو أي صائم نائم لوصول المفطر إلى جوفه كما لو شرب وهو نائم وليس كالنامي لأنه تؤكل ذبيحته وذاهب العقل والنائم لا تؤكل ذبيحتهما . (مراقي الفلاح:ص ٢٤٥، باب ما يفسد الصوم من غير كفارة).

په امداد الفتاوی کي راځي:

که چیري یوه سړي د بیدېدلو په حالت کي په خوله کي پان کېښېنودل او تر سهاره یې په خوله کي وه نو روژه یې ماتیږي. (امداد الفتاوی:۳/ ۲۰۳).

په بهشتي زېور کي راځي:

که چیري یو سړي په خوله کي پان کېښېنودل او بیده سو تر سهار وروسته راوېښ سو نو روژه یې نه سته، قضاء لازم ده او کفاره لازم نه ده. (بهشتی زیور:۳ حصه:۱۲). والله تعالی اعلم.

په خوراک یا جماع سره د افطار کولو څخه د کفارې حکم

سوال: د بهشتي زېور د مضمون لنډیز دا دئ چي په دوو روژو کي که یو ځل دوډۍ وخوړه نو یوه کفاره لازم ده او که یې په دوو روژو کي دوې جماعي وکړې نو دوې کفارې لازمي دي او علامه شامي رحمه الله **د دې سبب دا بیان کړی دئ چي دا دروند جنایت دئ ایا د جماع او خوراک فرق سته او که د دواړو حکم یو دئ؟**

الجواب: ځیني محقیقینو دا هم لیکلي دي چي په دواړو صورتو کي یوه کفار لازم ده هغه که جماع وي او که خوراک وي او د دواړو تر منځ فرق نه سته.

وګورئ په فتاوی واحدی کي فرمایي:

الظاهر أن الأصح ما في مختصر الأجناس ويؤيده ما في السراجية إذا أفطر في رمضان مراراً يكفيه كفارة واحدة وكذا لو أفطر في رمضانين وهو الأصح. والإفطار كما تكون بسائر

المفطرات فكذا بالجماعف فيدخل فى قوله إذا أفطر كما لايخفى...... وصحح فى متن مواهب الرحمن التداخل فى صورة وجود الجماع فى رمضانين أيضا حيث قال: وكفت عندنا كفارة واحدة عن وطيات فى أيام لم يتخلل بينهما تكفير ولو فى رمضانين ودن غيره على ما اختاره البعض للفتوى.

اوس مصنف رحمه الله د فرق کونکو قول ذکر کوي:

وأما ما فى الأشباه والعيني من الفرق بوجوب الكفارتين في صورة وجود الجماع فى رمضانين فمتفرع على ما اختاره بعض من التداخل فى غير الجماع فقط كما يستفاد من الدر المختار، بزازية، مجتبى وغيرهما، واختار بعضهم للفتوى أن الفطر بغير الجماع تداخل وإلا، لا، انتهى. (فتاوى واحدى:۳۲۳، باب ما يوجب الكفارة).

حاصل د خبري دا دئ چي په دوو روژو کي که قصداً خوراک وکړي او که جماع وکړي یو کفاره لازم ده مګر که چیري یې د اول جنایت کفاره اداء کړه او په دوهم رمضان کي یې بیا هغه جنایت وکړ نو دوهم وار کفاره لازم نه ده. والله تعالی اعلم.

په مچه سره د قضاء او کفارې حکم

سوال: که چیري یو سړي د روژې په حالت کي یوې ښځي ته مچه ورکړه نو ایا قضاء او کفاره لازم ده؟ له مچي څخه دا مراد دئ چي یعنی ((ادخال اللسان فى فم الغير مع ابتلاع بزاق الغير)) دېر ځل پر داسي طریقه وي چي ژبه ژبېښل کیږي چي د هغه په سبب د بل ناړي تر حلق کښته ځي؟

الجواب: په دې صورت کي که چیري ناړي تر حلق نه وي کښته سوي او نه انزال سوی وو نو دا صورت مکروه دئ او که چیري انزال وسو نو دا بیا قضاء واجب ده او که چیري د ښځي ناړي هم تر حلق کښته ولاړې نو بیا کفاره هم لازم ده که انزال سوی وي او که نه.

وګورئ په فتاوی شامي کي راځي:

(قوله وكره قبلة إلخ) جزم في السراج بأن القبلة الفاحشة بأن يمضغ شفتيها تكره على الإطلاق أي سواء أمن أو لا . (ردالمحتار:٢/ ٤١٧، سعيد، وهكذا فى الفتاوى الهندية:١/ ٢٠٠).

په البحر الرائق كي راځي:

لو ابتلع الصائم ريق غيره فإن كان بزاق صديقه يجب عليه الكفارة وإن لم يكن صديقه يجب عليه القضاء دون الكافرة لأن الريق تعافه النفس وتستقذره إذا كان من غير صديقه فصار كالعجين ونحوه مما تعافه النفس وإن كان من صديقه لا تعافه فصار كالخبز ونحو ذلك مما تشتهيه الأنفس . (البحر الرائق:٨/ ٤٨٠، مسائل شتى، كوئته – وكذا فى الفتاوى الهندية:١/ ٢٠٣ – والشامى:٢/ ١٤).

په فتاوى محموديه كي راځي:

كه چيري يو روژه دار سړى د خپلي ښځي ناړي تيري كړي نو پر هغه قضاء او كفاره دواړه لازم دي. ومنه ابتلاع بزاق زوجته أو صديقه لأنه يتلذذ به ولا تلزم الكفارة ببزاق غيرهما لأنه يعافه. مراقى الفلاح. (فتاوى محموديه:١٠/ ١٧١، باب قضاء الصوم، مبوب ومرتب). والله ﷻ اعلم.

مزدور كه د مجبورۍ په حالت كي افطار وكړي نو د هغه د قضاء او كفارې حكم

سوال: يو سړى په روژه كي د سخت كار مزدورى كوي او مالک رخصتي هم نه وركوله نو دومره تږى سو چي زغمل يې نه سواى كولاى چي په هغه كي د هلاكت يا د لېونتوب خطره وه، هغه روژه ماته كړه نو اوس پر ده قضاء او كفاره سته او كه نه؟

الجواب: په دې صورت كي پر دغه سړي يوازي قضاء واجب ده او كفاره واجب نه ده ځكه چي سخت مجبور وو او د مجبورۍ په حالت كي په افطار سره كفاره نه لازميږي.

وګورئ په فتاوى عالمكيري كي راځي:

الأعذار التي تبيح الإفطار..... ومنها العطش والجوع كذلك، إذا خيف منهما الهلاك أو نقصان العقل كالأمة إذا ضعفت عن العمل وخشيت الهلاك بالصوم، وكذا الذي ذهب به موكل السلطان إلى العمارة في الأيام الحارة إذا خشي الهلاك أو نقصان العقل. (الفتاوى الهندية: ۱/ ۲۰۷ – وكذا في فتح القدير: ۲/ ۲۷۲، دار الفكر).

ددې عبارت مطلب دا دئ که چیري دیو چا د هلاکت یا د لېونتوب خطره وه یا مینځه کار کوي او د هلاکت بېره وي نو د دې له پاره د افطار حق سته او وروسته دي قضاء راوړي.

همدا ډول په عالمګیري کي راځي:

ومنها المرض ـ المريض إذا خاف على نفسه التلف أو ذهاب عضوٍ يفطر بالإجماع، وإن خاف زيادة العلة وامتدادها فكذلك عندنا، وعليه القضاء إذا أفطر كذا في المحيط. (الفتاوى الهندية: ۱/ ۲۰۷).

په بهشتي زېور کي راځي:

که چیري داسي تږی یا وږی سو چي د هلاکت بېره وي نو بیا روژه ماتول هم روا دي. (بهشتي زيور: حصه ۳/ صـ ۱۷). والله ﷻ اعلم.

د نفلي روژو په منځ کي د حیض د راتللو څخه د قضاء حکم

سوال: یوې ښځي نفلي روژه ونیوله او په منځ کي یې حیض ورته راغلئ نو د دې روژې قضاء واجب ده او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي قضاء واجب ده.

وګورئ په فتاوى هندیه کي راځي:

ومن دخل فی صوم التطوع ثم أفسده قضاه..... سواء حصل الفساد بصنعه أو بغير صنعه حتى إذا حاضت الصائمة المتطوعة يجب القضاء في أصح الروايتين. (الفتاوى الهندية:۱/ ۲۱۵).

په درمختار کي راځي:

ولو شرعت تطوعاً فيهما أي في الصلاة والصوم ... فحاضت أي في اثنائهما قولـه قضتهما للزومهما بالشروع. (الدر المختار مع الشامی:۱/ ۲۹۱، باب الحیض، سعید).

په احسن الفتاوی کي راځي:

د دې روژې قضاء واجب ده. (احسن الفتاوی:٤/ ٤٣٨). والله تعالیٰ اعلم.

د کفارې د روژو په منځ کي د حيض د راتللو څخه د کفارې حکم

سوال: که چیري یوې ښځي ته د کفارې د روژو په منځ کي حيض راغلئ نو بیا به د سر څخه شروع کوي او که نه؟

الجواب: د کفارې د روژو په منځ کي د حيض د شروع کېدلو څخه په روژو کي جلا والی مضر نه دئ، ځنکه چي حيض ختم سي نو فورا دې روژه شروع کي مګر که چیرې حيض ختم سو او یوه ورځ يې جلا والی وکئ نو بیا د سر څخه روژه نیول لازم دي.

وګورئ په فتاوی ولوالجيه کي راځي:

وإذا كان على الرجل صيام شهرين متتابعين بقتل، أو ظهار، أو كفارة فطر، فصامها وأفطر يوماً للمرض فعليه الاستقبال، فرق بين هذا وبينما إذا كانت امرأة فأفطرت فيما بين ذلك للحيض لم يكن عليها الاستقبال، والفرق وهو أن المرأة لاتجد شهرين في العادة لاحيض فيها، فلو انقطع التتابع بالحيض لم تقدر على الأداء فلم ينقطع التتابع بخلاف المريض والمريضة لأنهما يجدان شهرين لايمرض فيهما عادة، لكن إذا طهرت تصل بما مضى

لأنها قدرت على الأصل، فإن لم يصل استقبلت لأن الأصل هو الوصل وإنما تركت البعض بحكم الحيض ولاعذر فيما وراء الحيض. (الفتاوى الولو الجية:١/ ٢٢٦، فى كيفية الكفارة وترتيبها، بيروت).

دزيات تفصيل له پاره وګورئ: (شامي:٢/ ٤١٢، سعيد – وحاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح، ص ٦٧٠، فصل فى الكفارة، قديمى – واحسن الفتاوى:٤/ ٤٤١). والله ﷻ اعلم.

د نفلي روژې د ماتولو ښخه د قضاء حکم

سوال: که چيري يوه سړي نفلي روژه تر زوال د مخه ماته کړه نو قضاء لازمه ده او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي قضاء لازم ده.؛

وګورئ په النهر الفائق کي راځي:

وللمتطوع الفطر أيضاً .... ويقضى يوماً مكان قال فى الفتح لاخلاف بين أصحابنا فى وجوب القضاء إذا أفسد عن قصد أو غير قصد. (النهر الفائق:٢/ ٣٣).

په البحر الرائق کي راځي:

قوله وللمتطوع بغير عذر فى رواية ويقضى أى له الفطر بعذر وبغيره وإذا أفطر قضى. (البحر الرائق:٢/ ٢٨٧، فصل فى العوارض كوئته). والله ﷻ اعلم.



قال رسول الله ﷺ «من صام من كل شهر ثلاثة أيام فذلك صيام الدهر فأنزل الله تبارك وتعالى تصديق ذلك في كتابه: ﴿من جاء بالحسنة فله عشر أمثالها اليوم بعشرة أيام﴾. (رواه الترمذي).

پنځم ...... باب

د نفلي روژو بيان

قال رسول الله ﷺ «تعرض الأعمال يوم الإثنين ويوم الخميس فأحب أن يعرض عملي وأنا صائم». (رواه الترمذی).

د شوال د شپږو روژو حکم

سوال: له نبي كريم ﷺ څخه د شوال د شپږو روژو د ثبوت حكم سته او كه نه؟ كه چيري نه وي نو كوم كار چي نبي كريم ﷺ نه وي كړی نو هغه زموږ له پاره څنګه مستحب دئ؟

الجواب: د احنافو پر مذهب د شوال شپږ روژې مستحب دي او د استحباب د ثبوت له پاره فعلي روايات ضروري نه دي، قولي روايات هم كافي دي، د دې ډېر مثالونه موجود دي مثلا اذان سنت مؤكده دئ مګر فعلا ثابت نه دئ بلكي يوازي قولا ثابت دئ، د داودي روژې فضيلت هم يوازي قولا ثابت دئ . د روژې په مياشت كي د عمرې فضيلت هم قولا ثابت دئ، مګر نبي كريم ﷺ هيڅكله په روژه كي عمر كړې نه ده، بلكي كله كله فعلي امور د نبي كريم ﷺ له خصوصياتو څخه دي لكه بيله مهر څخه نكاح، تر څلورو زياتي نكاح او داسي نور، دا يوازي د نبي كريم ﷺ خصوصيات دي د امت د نورو افرادو له پاره روا نه دئ د دې پر خلاف قولي امور د امت له پاره وي او په دې كي هيڅ شك نه سته.

حضرت شاه صاحب فرمايي:

فاعلم أن الفضائل والرغائب لا تنحصر فيما ثبت فيه فعله ﷺ فقط، فإن النبي ﷺ كان يخص لنفسه أمورًا تكون أليق بشأنه، وأحرى لمنصبه. وإذ لم يستوعب الفضائل كلها عملا وجب أن يرغب فيها قولًا لتعمل بها الأمة، فمنها: صلاة الضحى، فإنه إذا لم يعمل بها بمعنى أنه لم يجعلها وظيفةً له دل على فضلها قولا لتعمل بها أمته وتحرز الأجر. ألا ترى أنهم تكلموا في ثبوت الأذان من النبي ﷺ فعلا مع كونه من أفضل الأعمال فالفضل لا ينحصر فيما ثبت فعله منه، فإن كلا يختار لنفسه ما ناسب شأنه، ومن هذا الباب رفع اليدين بعد الصلوات للدعاء قل ثبوته فعلا، وكثر فضله قولا، فلا يكون بدعةً أصلا، فمن ظن أن الفضل فيما ثبت عمله ﷺ به فقط، فقد حاد عن طريق الصواب، وبنى أصلا فاسدًا. (فيض الباري:۲/ ۴۳۱، باب صلاة الضحى فی السفر مطبعه حجازی بالقاهرة).

شيخ عبد الفتاح ابو غده هم د حضرت شاه صاحب له دې عبارت څخه استدلال کړی دئ لکه څنګه چې د عبارت تر ذکر کېدو وروسته فرمايي:

قال: فی حديث المطلب بن أبی وداعة المذكور برقم ۱۵ ص ۳۲، وإن لم يثبت بعد المكتوبة، من فعله، نظراً إلى عامة الأحاديث الواردة بعد الصلوات المكتوبة، فقد سكتت عن ذكر الرفع، ولكن حديث عبد الله بن الزبير رضي الله عنه الآتی فی ص ۱۳۸، يكفی لإثبات أن الرفع فی الدعاء بعد الصلوات المكتوبة كان من هدى النبی ﷺ أيضاً فإذ ثبت جنسه لم يكن بدعة أصلا، مع رورد القولية فی فضله عامة. (حاشية الشيخ عبد الفتاح على رسالة «سنية رفع اليدين فی الدعاء بعد الصلوات المكتوبة» ص ۱۳۰، حلب).

د دې عبارت لنډيز دا دئ که څه هم تر فرض لمانځه وروسته دعاء کول له نبي کريم ﷺ څخه عملا ثابته نه ده مګر عموما د قولي رواياتو څخه د لاس پورته کولو ثبوت راغلی دئ، نو څکه قولي

روايات هم كافي دي، (مكر د عبدالله بن زبير رضي الله عنه ځخه عملاً هم دعاء تر لمانځه وروسته د لاسو په پورته كولو ثابت ده) په روژه كي د عمرې فضيلت قولا ثابت دئ.

عن أم معقل عن النبى ﷺ أنه قال: عمرة فى رمضان تعدل حجة. (رواه الترمذى:۱/ ۱۸۶).

والله ﷻ اعلم.

د احاديثو او د فقهي د كتابو او د فتاوا وو په رڼا كي د شوال د شپږو روژو تحقيق

سوال: د شوال د شپږو روژو تحقيق د احاديثو او فقهي د كتابو ځخه وكړئ؟

الجواب: د شوال د شپږو روژو فضيلت له احاديثو ځخه ثابت دئ. ځو احاديث وګورئ:

۱_ عن أبى أيوب الأنصارى رضي الله عنه أنه حدثه أن رسول الله ﷺ قال: « من صام رمضان ثم أتبعه ستا من شوالٍ كان كصيام الدهر ».(رواه مسلم:۱/ ۳۶۹، باب استحباب صوم من ستة شوال – والترمذى:۱/ ۱۵۸، باب ماجاء فى صيام ستة ايام من شوال – وابو داؤد:۱/ ۳۳۰، باب فى صوم ستة ايام من شوال – وابن ماجة:۱/ ۱۲۳).

۲_ عن ثوبان، مولى رسول الله ﷺ، عن رسول الله ﷺ أنه قال: « من صام ستة أيامٍ بعد الفطر كان تمام السنة، من جاء بالحسنة فله عشر أمثالها.(رواه ابن ماجة:۱/ ۱۲۳، باب ستة ايام من شوال).

۳_ عن ابن عمر رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: « من صام رمضان وأتبعه ستاً من شوال، خرج من ذنوبه كيوم ولدته أمه. (أخرجه الطبرانى فى الاوسط:۸/ ۸۶۲۲)

واخرجه البيهقى فى سننه الكبرى:۴/ ۲۹۲ – والنسائى فى الكبرى:۲/ ۱۶۳ – والطبرانى فى الكبير:۲/ ۱۲۵ – والبيهقى فى شعب الايمان:۸۲۴۵ – وابو عوانة:۶/ ۳۶، باب بيان ثواب من صام رمضان – وابن خزيمة:۷/ ۴۸۰، جماع ابواب صوم التطوع – وابو داؤد الطيالسى:۲/ ۱۲۵ – واحمد:۵/ ۲۹۷، حديث ابى ايوب الانصارى – والدارمى:۵/ ۲۹۷، باب فى صيام الستة من شوال).

همدا ډول فقهاوو هم دغه روژې مستحب بللي دي:

وګورئ په مراقي الفلاح کي راځي:

وأما القسم الرابع وهو المندوب.... ومنه صوم ست من شهر شوال...... (مراقى الفلاح: ۲۳۰، كتاب الصوم، بيروت).

په فتاوى شامي کي راځي:

قال صاحب الهداية في كتابه التجنيس: إن صوم الستة بعد الفطر متتابعة منهم من كرهه، والمختار أنه لا بأس لأن الكراهة إنما كانت لأنه لا يؤمن من أن يعد ذلك من رمضان فيكون تشبها بالنصارى والآن زال ذاك المعنى، ومثله في كتاب النوازل لأبي الليث، و الواقعات للحسام الشهيد، و المحيط البرهاني، و الذخيرة، وفي الغاية عن الحسن بن زياد: أنه كان لا يرى بصومها بأسا ويقول كفى بيوم الفطر مفرقا بينهن وبين رمضان، وفيها أيضا عامة المتأخرين لم يروا به بأسا..... وتمام ذلك في رسالة « تحرير الأقوال في صوم الست من شوال » للعلامة قاسم وقد رد فيها على ما في منظومة التباني وشرحها من عزوه الكراهة مطلقا إلى أبي حنيفة رحمه الله وأنه الأصح بأنه على غير رواية الأصول وأنه صحح ما لم يسبقه أحد إلى تصحيحه وأنه صحح الضعيف وعمد إلى تعطيل ما فيه الثواب الجزيل بدعوى كاذبة بلا دليل ثم ساق كثيرا من نصوص كتب المذهب فراجعها فافهم (الدر المختار مع الشامى: ۲/ ۴۳۵، مطلب فى صوم الست من شوال، سعيد).

په بدائع الصنائع کي راځي:

والإتباع المكروه هو : أن يصوم يوم الفطر ، ويصوم بعده خمسة أيامٍ، فأما إذا أفطر يوم العيد ثم صام بعده ستة أيامٍ : فليس بمكروهٍ بل هو مستحب وسنة . (بدائع الصنائع:۲/ ۷۸، سعيد).

په فتاوی هنديه کي راځي:

عامة المتأخرين لم يروا به بأسًا هكذا في البحر الرائق، والأصح أنه لا بأس به كذا في محيط السرخسي، وتستحب الستة متفرقةً كل أسبوعٍ يومان كذا في الظهيرية . (الفتاوى الهندية:۱/ ۲۰۱ – وكذا فی فتاوی قاضی خان علی هامش الهندية:۱/ ۲۰۶ – والبحر الرائق:۲/ ۲۵۸).

په فتاوی دار العلوم ديوبند کي راځي:

د شوال شپږ روژې داختر په نامه سره مشهوره دي، په درمختار کي ليکلي دي چي متفرقي روژې نيول بهتره او مستحب دي او پر له پسې نيول هم مکروه نه دي. (فتاوی دار العلوم ديوبند:۶/ ۴۹۱).

په اسلامي فقه کي راځي:

د شوال په مياشت کي شپږ روژې نيول هم سنت دي. (اسلامی فقه:۱/ ۴۱۷).

حضرت مولانا ظفر احمد عثماني رحمه الله په خپل مشهور کتاب اعلاء السنن (۱۷۷/۹) کي دغه شپږ روژې مستحب بللي دي او يو باب ((باب استحباب صيام ستة من شوال)) **يې قائم کړي او حديث يې ذکر کړي دي.**

د اوسني زماني مشهور محقق او فقيه الدکتور وهبة الزحيلي په خپل کتاب الفقه الاسلامي وادلته کي د هغو روژو کومي چي بالاتفاق مستحب دي په څلورم لمبر کي د شوال شپږ روژې ذکر کړي دي چي د هغه ښکاره مطلب دا دئ چي د دغو روژو پر استحباب څلور سره مذاهب متفق دي. د کتاب عبارت وګورئ: وأيام صوم التطوع بالاتفاق ما يلى:۱ ......۲ ...... ۳...... ۴ـــ صوم ستة أيام من شوال، ولو متفرقة. (الفقه الاسلام وادلته:۲/ ۵۸۸ - ۵۸۹، النوع الرابع، صوم التطوع، دار الفكر).

دزیات تفصیل له پاره وګورئ: (فتاوی رحیمیه:۲/ ۱٦، شوال کی چهه روز هی – وبهشتی زیور:۳/ ۱۰، نفل روزی کا بیان – وعمدة الفقه:۳/ ۱۸٦، مستحب روز هی – کتاب الفتاوی:۳/ ٤٤۲، شوال کی چه روزون کی حکم). والله ﷻ اعلم.

د امام صاحب رحمه الله وطرف ته د کراهیت د نسبت مطلب

سوال: د امام صاحب رحمه الله طرف ته د کراهت نسبت سوی دئ او دا خبره هم منل سوې ده چې په عباداتو کې امام صاحب رحمه الله قول اخیستل په کار دي د دې څه جواب دئ؟

الجواب: محقیقینو علماوو د کراهت تردید کړی دئ او له امام صاحب رحمه الله څخه یې د کراهت قول غیر ثابت بللی دئ.

لکه څنګه چې علامه شامي رحمه الله تر ډېر تفصیل وروسته لیکلي دي:

..... وتمام ذلك في رسالة « تحرير الأقوال في صوم الست من شوال » للعلامة قاسم وقد رد فيها على ما في منظومة التباني وشرحها من عزوه الكراهة مطلقا إلى أبي حنيفة رحمه الله وأنه الأصح بأنه على غير رواية الأصول وأنه صحح ما لم يسبقه أحد إلى تصحيحه وأنه صحح الضعيف وعمد إلى تعطيل ما فيه الثواب الجزيل بدعوى كاذبة بلا دليل ثم ساق كثيرا من نصوص كتب المذهب فراجعها فافهم (الدر المختار مع الشامی:۲/ ٤۳۵، مطلب فی صوم الست من شوال، سعید).

همدا ډول علامه یوسف بنوري هم دکراهت قول د ضعف په صیغه سره بیان کړی دئ.

په معارف السنن کي راځي:

نسب إلى أبي حنيفة رحمه الله ومالك رحمه الله كراهتها، وإلى الشافعي رحمه الله، وأحمد استحبابها، والنقول التي حكاها المتأخرون من ابن نجيم رحمه الله والكمال رحمه الله وابن الكمال رحمه الله، وغيرهم من علمائنا مضطربة، ولكن أفرد هذا الموضوع المحقق العلامة

قاسم بن قطلوبغا برسالة خاصة سماها «تحرير الأقوال في صوم الست من شوال» وحقق من نصوص المذهب استحبابها عند أبي حنيفة رحمه الله وأبي يوسف رحمه الله. (معارف السنن:٥/ ٤٤٣، سعيد – وكذا في اعلاء السنن:٧/ ١٧٧ -١٧٨، إدارة القرآن).

پاته سوه دا خبره چي په عباداتو کي د امام صاحب رحمه الله قول اخيستل په کار دي دا په هر ځای کي متعين نه دئ بلکي کوم چي د حديث موافق وي هغه اخيستل په کار دي لکه څنګه چي د فقهاوو په مکتوباتو کي همدغه خبره موجوده ده چي يو فقهي مسئله د حديث موافقه وي نو له هغه څخه عدول په کار نه دئ يعني د فتوی له پاره بايد دغه قول اختيار کړل سي.

وګورئ علامه شامي رحمه الله ليکلي دي:

قال في شرح المنية: أنه لا ينبغي أن يعدل عن الدراية أي الدليل إذا وافقتها رواية على ما تقدم عن فتاوى قاضيخان، ومثله ما ذكر في القنية من قوله: وقد شدد القاضي الصدر في شرحه في تعديل الأركان جميعها تشديداً بليغا فقال: وإكمال كل ركن واجب عند أبي حنيفة رحمه الله ومحمد رحمه الله . وعند أبي يوسف رحمه الله والشافعي رحمه الله فريضة، فيمكث في الركوع والسجود وفي القومة بينهما حتى يطمئن كل عضو منه، هذا هو الواجب عند أبي حنيفة رحمه الله ومحمد رحمه الله حتى لو تركها أو شيئا منها ساهيا يلزمه السهو ولو عمدا يكره أشد الكراهة ......والحاصل أن الأصح رواية ودراية وجوب تعديل الأركان وأما القومة والجلسة وتعديلهما فالمشهور في المذهب السنية، وروي وجوبها وهو الموافق للأدلة وعليه الكمال من بعده من المتأخرين وقد علمت قول تلميذه إنه الصواب . (شامی:١/ ٤٦٤، مطلب لاينبغی ان يعدل عن الدراية اذاو افقتها رواية، سعيد).

همدا ډول د دې ډېر زیات مثالونه سته چې د تفصیل له پاره یې لاندې کتابونه وګورئ: (فتاوی دار العلوم ذکریا: جلد ۲). والله تعالیٰ اعلم.

په عالمګیرې او نورو کې ((لابأس)) مطلب

سوال: په عالمګیرې او نورو کې ((لابأس)) ویل سوی دئ کوم چې د خلاف اولی له پاره ویل کیږي نو معلومه سوه چې خلاف اولی یعنې مکروه دئ د دې څه جواب دئ؟

الجواب: په عالمګیرې او نورو کې د ((لابأس)) مطلب کراهت او خلاف اولی نه دئ بلکې په ډېرو ځایو کې ((لابأس)) د مندوباتو له پاره هم استعمالیږي، علامه ابن نجیم رحمة الله علیه او علامه شامي رحمة الله علیه په متعددو ځایو کې د دې صراحت کړی دئ.

وګورئ په فتاوی شامي کې راځي:

كلمة «لابأس» قد تستعمل فى المندوب، كما فى البحر من الجنائز والجهاد.

(شامی:۲/ ۱۸۰، سعید – و۱۱۹:۱، سعید – والبحر الرائق:۵/ ۱۹۲، کوئته). والله تعالیٰ اعلم.

امام مالک رحمة الله علیه هم مکروه بللې دي د دې مطلب

سوال: امام مالک رحمة الله علیه هم د شوال شپږ روژې مکروه بللې دي د دې څه مطلب دئ؟

الجواب: علامه ابن عبد البر رحمة الله علیه دغه سبب بیان کړی دئ چې امام مالک رحمة الله علیه مکروه څکه ورته ویلي دي چې جاهلان خلک دا لازم ونه بولي، که نه د مالکیه وو په فروعو کې د شوال شپږ روژې یې له مستحباتو شخه لیکلي دي مګر که یې چیرې تر اختر وروسته متصل ونیولې نو بیا مکروه دي.

وګورئ په الاستذکار کې راځي:

وأما صيام الستة الأيام من شوال على طلب الفضل وعلى التأويل الذي جاء به ثوبان رضي الله عنه فإن مالكا لا يكره ذلك إن شاء الله، لأن الصوم جنة وفضله معلوم ...... ومالك لا يجهل شيئا

من هذا، ولم يكره من ذلك إلا ما خافه على أهل الجهالة والجفاء إذا استمر ذلك، وخشي أن يعدوه من فرائض الصيام مضافا إلى رمضان، وما أظن مالكا جهل الحديث، والله أعلم.

(الاستذكار:۳/ ۳۸۰، باب جامع الصيام، دار الكتب لعلمية، بيروت).

په الدر الثمين کي راځي:

والمستحب: الأشهر الحرم، وصيام شعبان، وعشر ذى الحجة.... وستة من شوال لفضلها. (الدر الثمين لابن عاشر:۳۲٤، دار الفكر – وبداية المجتهد:۲۲۵، كتاب الصيام الثانى، وهو المندوب اليه). والله ﷻ اعلم.

د محرم د لسمي سره د يوولسمي روژې حکم

سوال: که څيري يو څا د محرم په نهمه ورځ روژه ونه نيوله بلکې لسمه او يوولسمه روژه يې ونيوله نو څه حکم يې دئ؟

الجواب: د محرم په لسمه يوازي روژه نيول مکروه دي مګر که څيري يې له هغه سره نهمه او يا يوولسمه ونيوله نو کراهت ختميږي ځکه په دې صورت کي بېله کراهته سنت اداء سو.

وګورئ په مراقي الفلاح کي راځي:

وأما القسم الثالث: وهو المسنون فهو صوم عاشوراء فإنه يكفر السنة الماضية مع صوم التاسع لصومه صلى الله عليه و سلم، وقال: لئن بقيت إلى قابل لأصومن التاسع، وفي الطحطاوي: قوله مع صوم التاسع، أي أو الحادي عشر لما يأتي للمصنف فتنتفي الكراهة بضم يوم قبله أو بعده. (مراقى الفلاح مع حاشية الطحطاوى:ص ٦۳۹، قديمى).

په مرقات کي راځي:

قال التوربيشتي: قيل: أريد بذلك أن يضم إليه يوماً آخر ليكون هديه مخالفاً لأهل الكتاب وهذا هو الوجه، لأنه وقع موقع الجواب لقولهم إنه يوم يعظمه اليهود.... وقال ابن الهمام

رحمه الله: يستحب صوم يوم عاشوراء ويستحب أن يصوم قبله يوماً أو بعده يوما فإن أفرده فهو مكروه للتشبه باليهود وروى أحمد خبراً « صوموا يوم عاشوراء وخالفوا اليهود وصوموا قبله يوماً وبعده يوماً » وظاهره أن الواو بمعنى أو لأن المخالفة تحصل بأحدهما.

(مرقات:٤/ ٢٨٨، باب صيام التطوع، ملتان).

په درمختار کي راځي:

والمكروه تنزيها كعاشوراء وحده.... وفي الشامي: أي مفرداً عن التاسع أو عن الحادي عشر، إمداد، لأنه تشبه باليهود، محيط. (الدر المختار مع الشامي:٢/ ٣٧٥، سعيد). والله تعالى اعلم.

يوازي د محرم د لسم د روژې حکم

سوال: که چيري سړی يوازي د عاشوراء (د محرم د لسم) روژه ونيوله نو د دې څه حکم دئ؟

الجواب: يوازي د محرم لسم روژه نيول مکروه تنزيهي دي مګر له دې سره ثواب لري او علامه ابو بکر کاساني رحمه الله فرمايي، چي عامو حضراتو بيله کراهته څخه روا بللې ده.

وګورئ په بدائع الصنائع کي راځي:

وكره بعضهم صوم يوم عاشوراء وحده، لمكان التشبه باليهود، ولم يكرهه عامتهم، لأنه من الأيام الفاضلة فيستحب استدراك فضيلتها بالصوم. (بدائع الصنائع:٢/ ٧٩، سعيد).

په فتح القدير کي راځي:

والمكروه تنزيهاً عاشوراء مفرداً عن التاسع. (فتح القدير:٢/ ٣٠٣، دار الفكر – وكذا في امداد الفتاح:ص ٦٥٦، بيروت – والدر المختار مع الشامي:٢/ ٣٧٥، سعيد).

په فتاوی محموديه کي راځي:

د عاشوره پر يوه روژه کفايت کول مکروه دي، مګر ثواب دغه هم لري. (فتاوی محموديه:١٠/ ١٩٣، مبوب، مرتب). والله تعالى اعلم.

د دوشنبې او پنجشنبې د روژې فضيلت او حکم

سوال: د دوشنبې او پنجشنبې د روژې څه فضيلت او حکم دئ؟

الجواب: د دوشنبې او پنجشنبې د روژې فضيلت په حديث سره ثابت سوی دئ نو ځکه دا مستحب دئ له حضرات ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي نبي کريم ﷺ وفرمايل: د دوشنبې او پنجشنبې په ورځ د انسانانو عملونه د الله جل جلاله حضور ته وړاندي کيږي نو زه دا غواړم چي د روژې په حالت کي زما اعمال وړاندي کړل سي.

وګورئ په ترمذي شريف کي راځي:

عن أبي هريرة رضي الله عنه: أن رسول الله ﷺ قال: تعرض الأعمال يوم الإثنين والخميس فأحب أن يعرض عملي وأنا صائم. قال أبو عيسى: حديث أبي هريرة رضي الله عنه في هذا الباب حديث حسن غريب. (ترمذی شريف:۱/ ۱۵۷، باب ماجاء فی صوم يوم الاثنين والخميس).

وأيضاً روی ابن ماجط عن أبی هريرة ص:۱۲٤، وابو داؤد عن اسامة بن زيد:۱/ ۳۳۱، والطبرانی عن جابر . (الترغيب والترهيب:۲/ ۱۲۵).

په يوه بل حديث شريف کي راځي چي د دوشنبې په ورځ د نبي کريم ﷺ ولادت سوی دئ.

وګورئ په ابو داؤد شريف کي راځي:

عن أبی قتادة رضي الله عنه قال: يا رسول الله أرأيت صوم يوم الاثنين ويوم الخميس قال « فيه ولدت وفيه أنزل علي القرآن ». (رواه ابو داؤد:۱/ ۳۲۹ – وكذا فی مسند احمد:۵/ ۲۹۶/ ۲۲۵۹۰).

په مسلم شريف کي راځي:

قال: سئل عن صوم الإثنين قال: « ذاک يوم ولدت فيه ويوم بعثت أو أنزل علي فيه». (رواه مسلم:۳/ ۱٦۷/ ۲۸۰٤ – وكذا فی مسندا احمد:۵/ ۲۹٤/ ۲۲۵۹٤).

لنډه دا چي د دوشنبې او پنجشنبې روژه مستحب ده ځکه چي د نبي کريم ﷺ معمول وو او له ځيني صحابه وو څخه هم دغه عمل ثابت سوی دئ. والله تعالی اعلم.

د ايام بيض د روژو فضيلت او حکم

سوال: د ايام بيض د روژو څه فضيلت او حکم دئ؟

الجواب: د ايام بيض يعنى د هري قمري مياشتي درې ورځي (۱۳-۱۴-۱۵) تاريخ روژې دي، د دغو تاريخو د شپو د مياشتي د کامل والي په سبب او د ډېر روښان والي په سبب و دغه ورځو ته ايام بيض يعنى ايام ليالئ بيض وايي. نبي کريم ﷺ فرمايلي دي، چي د هري مياشتي درې روژې صيام الدهر سره مشابه دي همدا ډول په هغه کي دوه سنتونه جمع کيږي يو خو د هري مياشتي درې روژې دي د کوم چي ذکر په رواياتو کي راغلي دئ او دغه روژې په ايام بيض کي نيول.

وګورئ په حديث شريف کي راځي:

عن موسى بن طلحة قال: سمعت أبا ذر ﷜ يقول: قال رسول الله ﷺ: « يا أبا ذر ! إذا صمت من الشهر ثلاثة أيام فصم ثلاث عشرة وأربع عشرة وخمس عشرة، قال أبو عيسى: حديث أبي ذر ﷜ حديث حسن وقد روى في بعض الحديث أن من صام ثلاثة أيام من كل شهر كان كمن صام الدهر حدثنا هناد ..... عن أبي ذر ﷜: قال: قال رسول الله ﷺ « من صام من كل شهر ثلاثة أيام فذلك صيام الدهر، فأنزل الله عز و جل تصديق ذلك في كتابه ﴿ من جاء بالحسنة فله عشر أمثالها ﴾ اليوم بعشرة أيام » قال أبو عيسى: هذا حديث حسن. (ترمذى شريف: ۱/ ۱۵۹، باب ماجاء فى صوم ثلاثة من كل شهر – ورواه النسائى: برقم ۲٤۲۱ – وابن ماجة: برقم ۱۷۷۹).

همدا ډول فقهاوو هم مستحب بللى دي.

وګورئ په امداد الفتاوى کي راځي:

وأما القسم الرابع وهو المندوب فهو صوم ثلاثة أيام من كل شهر ليكون كصيام جميعه من جاء بالحسنة فله عشر أمثالها، كان رسول الله ﷺ « يصوم ثلاثة أيام من الشهر الإثنين

والخميس والإثنين من الجمعة الأخرى» رواه أبو داود، ويندب كونها أي: الثلاثة، الإيام البيض وهي الثالث عشر والرابع عشر والخامس عشر سميت بذلك لتكامل ضوء الهلال، وشدة البياض فيها لما في أبي داود كان رسول الله ﷺ « يأمرنا أن نصوم البيض ثلاث عشرة وأربع عشرة وخمس عشرة قال: وقال: هو كهيئة الدهر كصيام الدهر. (اخرجه ابو داود في الصيام باب: في صوم الثلاث من كل شهر (۲۴۴۹) وفي « النسائي» كان رسول الله ﷺ لايفطر الأيام البيض لافي حضر ولافي سفر. (اخرجه النسائي في الصيام، باب:(۷۰) (۲۳۴۴) – (امداد الفتاح مع الحاشية:ص ۶۵۵، اقسام الصوم، بيروت – وكذا في حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح:ص ۶۳۹، فصل في صفة الصوم، قديمي). والله ﷻ اعلم.

يوازي د جمعې په ورځ د روژې نيولو حکم

سوال: که چيري يو سړی د جمعې د ورځې روژه ونيسي او نوري نه نيسي نو ددې څه حکم دئ؟

الجواب: په ځينې احاديثو کې راځي چې نبي کريم ﷺ يوازي د جمعې د روژې څخه منع کړې ده نو ځکه فقهاوو يوازي د جمعې په ورځ روژه نيول مکروه تنزيهي بللې ده.

وګورئ په ترمذي شريف کي راځي:

عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: « لا يصوم أحدكم يوم الجمعة إلا أن يصوم قبله أو يصوم بعده» قال أبو عيسى: حديث أبي هريرة رضي الله عنه حديث حسن صحيح. (ترمذی شريف:۱/ ۱۵۷، باب ماجاء في كراهية صوم يوم الجمعة وحده).

وعلى هامش الترمذي: قال الشيخ في اللمعات: نهى عن صومه لئلا يحصل له ضعف يمنعه عن إقامته وظائف الجمعة وأورادها وهذا الوجه اختاره النووي رحمه الله انتهى، وقيل:

علة النهي ترک موافقة اليهود في يوم واحد من أيام الأسبوع يعنى عظمت اليهود السبت فلا تعظموا الجمعة خاصة بصيام وقيام وقيل: غير ذلک. (رقم الحاشية: ۳).

په مسند احمد کي راځي:

عن زياد الحارثي قال: سمعت أبا هريرة ﷺ قال له رجل: أنت الذي تنهى الناس عن صوم يوم الجمعة قال: فقال: ها ورب هذه الكعبة ها ورب هذه الكعبة ثلاثاً لقد سمعت محمدا ﷺ يقول: « لا يصوم أحدكم يوم الجمعة وحده الا في أيام معه» . (مسند الامام احمد: مسند أبى هريرة، رقم ۱۱۰۹۲).

په حاشيه الطحطاوي کي راځي:

قوله وكره إفراد يوم الجمعة إلا أن يضم إليه يوماً قبله، أو بعده كما في الحديث، واعلم أنه ثبت بالسنة طلب صومه، والنهي عنه والأخير منهما النهي كما وضحه شرح الجامع الصغير للسيوطي، وذلك لأن فيه وظائف فلعله إذا صامه ضعف عن فعلها، وعد في الدر صومه من المندوب، والمعتمد ما هنا قوله لا تخصوا ليلة الجمعة ..... النهي للتنزيه. (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح:ص ٦٤٠، فصل فى صفة الصوم وتقسيمه، قديمى ـ وكذا فى امداد الفتاح:ص ٦٥٧، اقسام الصوم، بيروت، وحاشية الطحطاوى على الدر المختار:١/ ٤٤١، كوئته ـ والشامى:٢/ ٣٧٥، سعيد). والله ﷻ اعلم.

د شعبان (برات) پنځلسمي (۱۵) د روژې حکم

سوال: د شعبان پنځلسمي (۱۵) روژه مستحب ده او که نه؟ که چيري وي نو له کوم ځای څخه ثابتېدلای سي؟

الجواب: د شعبان د پنځلسمي (۱۵) روژه نيول مستحب ده او له حديث څخه ثابت ده که څه هم حديث ضعيف دئ مگر په فضائلو کي بېله د سنت اعتقاد څخه عمل کول په روا دي، پر ضعيف

حدیث باندي د عمل کولو شرایطو تفصیل په رساله ((الجزء اللطیف فی الاستدلال بالحدیث الضعیف)) کي کتلای سي.

وګورئ په حدیث شریف کي راځي:

عن علي بن أبي طالب ﷺ، قال : قال رسول الله ﷺ : « إذا كانت ليلة النصف من شعبان ، فقوموا ليلها وصوموا نهارها ، فإن الله ينزل فيها لغروب الشمس إلى سماء الدنيا ، فيقول : ألا من مستغفرٍ لي فأغفر له، ألا مسترزق فأرزقه، ألا مبتلًى فأعافيه ألا كذا ألا كذا ، حتى يطلع الفجر. (رواه ابن ماجة:ص ۹۹، باب ماجاء في ليلة النصف من شعبان – والبيهقي في شعب الايمان:۳/ ۳۷۸/ ۳۸۲۲، ماجاء في ليلة النصف من شعبان).

د احادیثو په ذخیره کي یو حدیث موجود دئ چي له هغه څخه د شعبان د پنځلسمي (۱۵) د روژې ثبوت سوی دئ، مګر پر هغه حدیث د محدثینو ډېر کلام سته، مستقلې رسالې یې هم لیکلي دي او د دې سره سره ودې ته موضوعي حدیث نه ویل کیږي، محدث جلیل حضرت مولانا حبیب الرحمن الاعظمي فرمايي:

د شبعان د پنځلسمي (۱۵) د روژې په اړه چي کوم حدیث په ابن ماجه کي راغلی دئ هغه موضوعي نه دئ او د حدیثو یوه ماهر هم وهمدغه ته موضوعي نه دي ویلي د ((تحفة الاحوذي)) له عبارت څخه د دغه حدیثو پر موضوعي کېدو استدلال کول جهالت دئ، د دې حدیث په راویانو کي ابو بکر بن ابی سبره ضرور سته او د هغه نسبت بیله شکه دا ویل کیږي چي هغه حدیثونه جوړول، مګر له دې خبري څخه دا نه معلومیږي چي تر بحث لاندي حدیث د هغه جوړ سوی حدیث دئ، محض پر دې بناء چي په سند کي داسي یو راوي موجود دئ چي هغه حدیثونه جوړول یوه حدیث ته هم موضوعي ویل روا نه دي له دې څخه خو بس دومره لازمیږي چي دا حدیث سندا ضعیف دئ.

(مجله المآثر:صـ ۶۹/ ۱۹۹۵ م).

همدا ډول د موضوع ویلو والا یې ډېر سخت رد کړي دئ د تفصیل له پاره وګورئ: (مجله المآثر: صـ ۶۸-۷۴ / ۱۹۹۵ م).

وګورئ په فتاوی هندیه کي راځي:

المرغوبات من الصيام أنواع أولها صوم المحرم، والثاني صوم رجب، والثالث صوم شعبان. (الفتاوى الهندية: ۱/ ۲۰۲).

په اسلامي فقه کي راځي:

د شعبان پنځلسم تاریخ او د شوال په میاشت کي شپږ روژې نیول هم سنت دي، د شعبان د پنځلسم تاریخ روژې نیولو او د شپې عبادت کولو او هدېرې ته تلل او د مغفرت دعاء کولو ثبوت هم په حدیث کي راغلی دئ. (اسلامي فقه: ۱/ ٤١٦).

مفتي محمد تقی عثماني لیکلي دي:

د د شعبان پنځلسم د روژې پر استحباب د علماوو تصریحات.

حنیفي علماء:

۞ حکیم الامت مجد الملت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي قدس سره فرمایي، د شعبان پر پنځلسم تاریخ روژه نیول مستحب ده. (زوال السنة: صـ ۱۰).

۞ د پاکستان مفتي اعظم مفتي محمد شفیع همدغه د شعبان د پنځلسم په مسنوناتو کي داخل کړې ده یعنی په دغه ورځ روژه نیول مستحب ده.

۞ علامه قطب الدین محدث دهلوي د مشکوة شریف په شرح مظاهر الحق کي: ۳۶۴/۲، په باب صیام التطوع کی د شعبان پنځلسمي روژه هم شمار کړې ده.

مالکي علماء:

وندب صوم يوم النصف من شعبان (كذا فى شرح الصغير على أقرب المسالك للشيخ الدردير المالكى. (۱/ ٦٩٢، باب الصوم).

یعني شیخ دردیر مالکي رحمه الله هم د شعبان د پنځلسمي روژه مستحب کړې ده.

حنبلي علماء:

۞ شیخ مرداوي حنبلي په خپل کتاب ((الانصاف)) کې لیکلي دي چې شیخ ابن جوزي رحمه الله په ((المستوعب)) کې لیکلي دي چې د شعبان په روژو کې د پنځلسم روژه ډېره مؤکده ده.

۞ همدا ډول ابن رجب حنبلي رحمه الله هم فرمایلي دي چې د د شعبان د پنځلسم د روژې حکم هم په خصوصیت سره راغلی دئ. (مخلص از رساله شب براءت کی حقیقت: صـ ۷۴-۷۷، از مفتی محمد تقی عثمانی).

۞ همدا ډول په هره میاشت کې د درو ورځو (ایام بیض) په اړه صحیح روایات موجود دي د هغو په سبب هم د شعبان د پنځلسم روژه مستحب بللې ده.

۞ علامه شرنبلالي رحمه الله په مراقي الفلاح کې فرمایي:

هر هغه روژه کوم چې په شریعت کې مطلوب وي او پر هغه د ثواب وعده وي هغه هم مستحب ده لکه څنګه چې د شعبان د پنځلسمي د روژې په اړه هم روایت موجود دئ نو ځکه دا مستحب ده.

وګورئ په مراقي الفلاح کې راځي:

ومنه (المندوبات) کل صوم ثبت طلبه والوعد علیه بالسنة الشریفة. (مراقی الفلاح: ص ۲۳۰، بیروت). والله تعالی اعلم.



قال الله تعالى: ﴿ ولا تباشروهن وأنتم عاكفون في المساجد ﴾. (سورة البقرة:۱۸۷)

عن عائشة أن النبي ﷺ " كان يعتكف العشر الأواخر من رمضان حتى توفاه الله". (متفق عليه)

شپږم ..... باب

د عتكاف بيان

په مسنون اعتكاف كي د درسونو او نورو د استثناء حكم

سوال: زيد يو طالب العلم دئ هغه له خپل شيخ سره په مسجد كي اعتكاف وكړ او هغه په يو بل مسجد كي له استاذ سره سبق وايي نو ايا هغه د خپل سبقه استثناء كولاى سي او كه نه؟ اوربلل سوي دي چي په اعتكاف كي يو څه شيان مستثنى كول صحيح دي، په حواله سره يې بيان كړئ؟

الجواب: په مسنونه اعتكاف كي بېله شرعي او طبعيي حاجتو له مسجد څخه د وتلو اجازه نه سته كه نه اعتكاف فاسديږي نو ځكه په دې صورت كي هم له مسجد څخه د سبق له پاره وتل روا نه دي او استثناء كول هم صحيح نه دي، مسنون اعتكاف په استثناء سره نفلي ګرځي مګر كه چيري اعتكاف د نذر وي نو استثناء روا او درسته ده.

وګورئ په ترمذي شريف كي راځي:

عن عائشة رضي الله عنها: أنها قالت: كان رسول الله ﷺ إذا اعتكف أدنى إلى رأسه فأرجله، وكان لا يدخل البيت إلا لحاجة الإنسان. (رواه الترمذي:۱/ ۱۶۵، باب المعتكف يخرج لحاجة ام لا).

په معارف السنن كي راځي:

لايخرج المعتكف من معتكفه إلا لحاجة شرعية أو طبعية. (معارف السنن:۵/ ۵۳۹، سعيد)

په درمختار كي راځي:

قال: طبيعية كبول وغائط وغسل لو احتلم.... (أو) شرعية كعيد وأذان. (الدر المختار: ۲/ ٤٤٥، باب الاعتكاف، سعيد).

په احسن الفتاوی کي راځي:

په مسنون اعتکاف کي که چیري د جنازې د لمانځه او د مریض د پوښتني او د علم په مجلس کي د حاضري نو هغه نفل گرځي او سنت نه اداء کیږي . مسنون اعتکاف یوازي هغه دئ چي په هغه کي هيڅ استثناء نه وي او له دې اعتکاف څخه بېله عذر وتل مفسد دي. (احسن الفتاوی: ٤/ ٤٩٩).

په درس ترمذي کي راځي:

په مسنون اعتکاف کي څنګه چي له نبي کريم ﷺ څخه هيڅ استثناء نه ده ثابته سوې، نو ځکه په مسنون اعتکاف کي د استثناء د صحت له پاره دليل په کار دئ کوم چي دلته مفقود دي، نو ځکه اعتکاف مسنون پر مسنون وجه اداء کولو له پاره د استثناء اجازه معلومه سوې نه ده، ظاهر هم دغه دئ چي که چيري يو سړی د مسنون اعتکاف د شروع کولو په وخت کي دغه نيت وکړي نو اعتکاف مسنون پاته نه سو، بلکي نفلي کرځي او څومره چي له مسجد څخه دباندي اوسيږي د غوندي وخت په اعتکاف کي نه حسابيږي. (درس ترمذی: ۲/ ٦٥٠).

مګر هو په نذري اعتکاف کي استثناء صحيح ده.

وګورئ په فتاوی هنديه کي راځي:

ولو شرط وقت النذر الالتزام أن يخرج إلى عيادة المريض وصلاة الجنازة وحضور مجلس العلم يجوز له ذلك . (الفتاوى الهندية: ۱/ ۲۱۲ – ومثله في الدر المختار: ۲/ ٤٤٨، سعيد – وفي الفتاوى التاتار خانية: ۲/ ۱۲، الفصل الثاني عشر في الاعتكاف، إدارة القرآن). والله ﷻ اعلم.

د هر کلي په مسجد کي د اعتکاف حکم

سوال: **د يوه لوی کلي په يوه مسجد کي اعتکاف کافي دئ او که په هره مسجد کي سنت دئ؟**

الجواب: **اعتکاف کفايي سنت دئ نو ځکه په هره محله کي بايد وسي که څه هم يو صريح عبارت ليدل سوی نه دئ مګر پر تراويح باندي په قياس کولو سره دا ويل کيږي لکه څنګه چي تراويح په**

هره محله کي په مسجد کي مسنون دي همدا ډول اعتکاف هم د هري محلې په مسجد کي مسنون دئ.

وګورئ په درمختار کي راځي:

الاعتكاف وسنة مؤكدة في العشر الأخير من رمضان أي سنة كفاية كما في البرهان . وفى الشامي: قوله سنة كفاية، نظيرها إقامة التراويح بالجماعة فإذا قام بها البعض سقط الطلب عن الباقين، فلم يأثموا بالمواظبة على الترك بلاعذر. (الدر المختار مع الشامي:٢/ ٤٤٢، سعيد).

او دتراويح بالجماعت په اړه ليکلي دي:

والجماعة فيها سنة على الكفاية، أفاد أن أصل التراويح سنة عين، فلو تركها واحد كره، بخلاف صلاتها بالجماعة، فإنها سنة كفاية، فلو تركها الكل أساءوا، أما لو تخلف عنها رجل من أفراد الناس، وصلى في بيته، فقد ترك الفضيلة . (فتاوى الشامي:٢/ ٤٥، سعيد).

په احسن الفتاوی کي راځي:

د دې متعلق هيڅ صريحي جزئيه ليدل سوې نه ده، البته په فتاوی شامي کي يې سنت اعتکاف د تراويحو نظير بللي دئ او د تراويح په باب کي يې درې قولونه نقل کړي دي او دغه ته يې ترجيح ورکړې ده چي د هري محلې په يوه مسجد کي د تراويح له اقامت څخه کفايي سنت اداء کيږي له دې څخه معلوميږي چي د اعتکاف هم دغه حکم دئ. (احسن الفتاوی:٤/ ٤٩٨).

زيات تفصيل وګورئ: (کتاب الفتاوی:٣/ ٤٥١). والله ﷻ اعلم.

د معتکفي له پاره له خپلي مخصوصي کوټې څخه د دباندي تللو حکم

سوال: که چيري يوې ښځې د اعتکاف له پاره کوټه خاصه کړه نو اوس د دباندي وتلو اجازه ورته سته او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي د ښځې مخصوص کړل سوې کوټه د اعتکاف ځای جوړ سو نو اوس له دې کوټې څخه بېله ضرورته دباندي اجازه ورته نه سته، که نه اعتکاف يې فاسديږي.

وګورئ په عالمګیري کي راځي:

والمرأة تعتكف في مسجد بيتها إذا اعتكفت في مسجد بيتها فتلك البقعة في حقها كمسجد الجماعة في حق الرجل لا تخرج منه إلا لحاجة الإنسان كذا في شرح المبسوط للإمام السرخسي . (الفتاوى الهندية:١/ ٢١١).

په حاشيه الطحطاوي على مراقي الفلاح کي راځي:

وللمرأة الاعتكاف في مسجد بيتها وهو محل عينته المرأة للصلاة فيه ولاتخرج منه إذا اعتكفت فلو خرجت لغير عذر يفسد واجبه وينتهي نفله. (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح: ص ٦٩٩، باب الاعتكاف، قديمى). والله تعالی اعلم.

د معتکف له پاره د تبرید (ځان یخولو) د غسل حکم

سوال: ایا د اعتکاف په حالت کي د ګرمۍ په سبب یخنۍ حاصلولو له پاره غسل روا دئ او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي د تبرید د غسل له پاره له مسجد څخه د وتلو اجازه نه سته، که نه اعتکاف فاسدیږي.

په ترمذي شریف کي راځي:

عن عائشة رضي الله عنها : أنها قالت: كان رسول الله ﷺ إذا اعتكف أدنى إلى رأسه فأرجله، وكان لا يدخل البيت إلا لحاجة الإنسان. (رواه الترمذى:١/ ١٦٥، باب المعتكف يخرج لحاجة ام لا).

په فتاوی شامي کي راځي:

وحرم عليه الخروج إلا لحاجة الإنسان طبيعية كبول وغائط وغسل لو احتلم ولا يمكنه الاغتسال في المسجد فلو أمكنه من غير أن يلوث المسجد فلا بأس به، بدائع، أي بأن كان فيه بركة ماء أو موضع معد للطهارة أو اغتسل فى إناه بحيث لا يصيب المسجد الماء المستعمل، قال فى البدائع: فإن كان بحيث يتلوث بالماء المستعمل يمنع منه لأن تنظيف

37B المسجد واجب، والتقييد بعدم الإمكان يفيد أنه لو أمكن كما قلنا فخرج أنه يفسد..... لكن قول البدائع لابأس به ربما يفيد الجواز، فتأمل. (الدر المختار مع الشامی:۲/ ٤٤٥، سعید).

په احسن الفتاوی کي راځي: د «لو احتلم» له قید څخه معلومیږي چي د ځان یخولو له پاره وتل روانه دي (احسن الفتاوی:٤/ ٤٩٧ – وفتاوی رحیمیه:۳/ ۲۲۰).

مګر که چیري د حاجت له پاره ووتلی وو او تبرید غسل یې هم وکړ نو بیا روا دئ.

په فتاوی شامي کي راځي:

وليس كالمكث بعدها ما لو خرج لها ثم ذهب لعيادة مريض أو صلاة جنازة من غير أن يكون خرج لذلك قصدا فإنه جائز كما في البحر عن البدائع. (شامی:۲/ ٤٤٥، سعید). والله ﷻ اعلم.

د يو ويشتم (۲۱) په شپه د څو ساعتو تر تېرېدو وروسته د اعتکاف د شروع کولو حکم

سوال: یوه سړي د سنت اعتکاف اراده کړې ده مګر د روژې د یوویشتم (۲۱) د یو څو ساعتو تر تېرېدو وروسته مسجد ته ورسېدئ نو مسنون اعتکاف صحیح دئ او که نه؟

الجواب: سنت اعتکاف د پوره عشري (د لسو ورځو وي) یعني د روژې د شل تر غروب د مخه مسجد ته حاضرېدل او داختر د میاشتي تر لیدلو پوري په مسجد کي د اعتکاف په نیت اوسېدل ضروري دي او په دې صورت کي که یو څو ساعته وروسته و مسجد ته حاضر سو نو ځکه اعتکاف اداء نه سو مګر خو د نفلي اعتکاف ثواب ورته رسیږي.

وګورئ په مرقات کي راځي:

وعند الأئمة الأربعة أنه يدخل قبل غروب الشمس إن أراد اعتكاف شهر أو عشر. (مرقات المفاتیح:٤/ ۳۲۹، ملتان).

په البحر الرائق کي راځي:

وفي الكافي ومتى دخل في اعتكافه الليل والنهار فابتداؤه من الليل ؛ لأن الأصل أن كل ليلةٍ تتبع اليوم الذي بعدها ألا ترى أنه يصلي التراويح في أول ليلةٍ من رمضان ولا يفعل ذلك في أول

ليلةٍ من شوالٍ ..... فعلى هذا يدخل المسجد قبل الغروب ويخرج بعد الغروب من آخر يوم .... كما صرح قاضى خان فى فتاواه. (البحر الرائق:٢/ ٣٠٥، كوئته).

په بهشتي زېور كي راځي:

د روژې د شلم تاريخ د ورځي تر پټېدو د مخه د روژې نه ويشت يا دېرش تاريخ يعني په كومه ورځ چي د اختر مياشت معلومه سي د هغه تاريخ د ورځي تر پټېدلو پوري په مسجد كي په پابندى سره اوسېدلو ته اعتكاف وايي. (بهشتى زيور:٣ حصه: صـ٢٢).

وفى حاشية بهشتى زيور: والمشهور عند مشائخنا أن يدخل المعتكيف بعد العصر قبل غروب الشمس من اليوم العشرين من شهر رمضان ليدخل الليلة الحادية وعشرين فى الاعتكاف. (رسائل الاركان:ص ٢٣١، حاشية بهشتي زيور).

په فتاوى دار العلوم ديوبند كي راځي:

د شلم د شپې د يو څه حصې تر تېرېدو وروسته يې اعتكاف شروع كړ نو د پوره اخيري لسمي اعتكاف نه پوره كيږي او هغه پوره اداء نه سو. (فتاوى دار العلوم ديوبند:٦/ ٥٠٦). والله ﷻ اعلم.

په مسنون اعتكاف كي د روژې د فاسدېدو څخه د اعتكاف حكم

سوال: يوه سړي مسنون اعتكاف وكړئ او يو ورځ په غلطى سره هغه تر لمر لوېدو د مخه افطار وكړئ دا خبره خو واضحه ده چي د روژې قضاء لازم ده مګر د دې ورځي د اعتكاف قضاء لازمه ده او كه نه؟

الجواب: د اعتكاف سره روژه شرط ده نو كله چي روژه ماته سوه نو اعتكاف هم فاسد سو ځكه په دې صورت كي هم اعتكاف فاسد سو او د دې ورځي قضاء لازم ده.

وګورئ په فتاوى شامي كي راځي:

ومقتضى ذلك أن الصوم شرط أيضاً في الاعتكاف المسنون لأنه مقدر بالعشر الأخير حتى لو اعتكفه بلا صومٍ لمرضٍ أو سفرٍ ، ينبغي أن لا يصح عنه، بل يكون نفلًا فلا تحصل به إقامة سنة الكفاية . (الشامي:٢/ ٤٤٢، باب الاعتكاف، سعيد).

په فتاوی هنديه کي راځي:

وإذا فسد الاعتكاف الواجب وجب قضاؤه فإن كان اعتكاف شهر بعينه إذا أفطر يوماً يقضي ذلک اليوم.... (الفتاوی الهندية:١/ ٢١٣).

په بدائع الصنائع کي راځي:

ولو أكل أو شرب في النهار عامداً فسد صومه وفسد اعتكافه لفساد الصوم. (بدائع لصنائع:٢/ ١١٦، سعيد).

په فتاوی محموديه کي راځي:

داخيري عشري اعتکاف سنت مؤکده علی الکفايه دئ که يو سړی بېله روژې دغه اعتکاف وکړي نو دا اعتکاف مسنون نه سو بلکي نفل جوړېږي، البته که چيري يې يوه ورځ روژه نه ونيوله نو يوازي د يوې ورځي قضاء لازمېږي. (فتاوی محموديه:١٠/ ٢٢٠).

زيات تفصيل له پاره وګورئ: (احسن الفتاوی:٤/ ٥٠١، فتاوی حقانيه:٤/ ١٩٦). والله تعالیٰ اعلم.

بېله روژې د مسنون اعتکاف حکم

سوال: يو سپين ږيري سړي چي د کمزورۍ په سبب يا د سخت مرض په سبب روژه نه سي نيولای نو د ده مسنون اعتکاف صحيح دئ او که نه؟

الجواب: د مسنون اعتکاف له پاره روژه شرط ده، نو ځکه په دې صورت کي د دې سپين ږيري سړی اعتکاف نفلي ګرځي او مسنون نه اداء کيږي.

په فتاوی شامي کي راځي:

ومقتضى ذلك أن الصوم شرط أيضًا في الاعتكاف المسنون لأنه مقدر بالعشر الأخير حتى لو اعتكفه بلا صومٍ لمرضٍ أو سفرٍ ، ينبغي أن لا يصح عنه، بل يكون نفلًا فلا تحصل به إقامة سنة الكفاية . (الشامي:٢/ ٤٤٢، باب الاعتكاف، سعيد).

په فتاوی رحیمیه کي راځي:

سوال: زما داخيري عشري داعتکاف قصد دئ مګر روژو نيولو توان نه لرم نو بيله روژې اعتکاف صحيح دئ او که نه؟

الجواب: د مسنون اعتکاف له پاره روژه شرط ده نو ځکه د روژې پرته هغه اعتکاف نفلي دئ او مسنون نه دئ. (فتاوی رحيميه:٣/ ١١٠). والله ﷻ اعلم.

معتکف ته د نفلي اوداسه له پاره د مسجد څخه د وتلو حکم

سوال: زيد د روژې په مياشت کي په مسنون اعتکاف مشغول دئ او تر اوسه يې د ځانبست لمونځ کړی نه دئ چي د هغه اودس مات سو نو د نفلي اوداسه يا د اودسه د دوام له پاره د مسجد څخه وتلای سي او که نه؟ په ظاهره خو دا اودس ضروري نه دئ، نو ځکه د مسجد څخه وتل دا محل د نظر دي د فقه کتابونه د دې مسئلي په اړه څه وايي؟

الجواب: په دې صورت کي د زيد له پاره د نفلي اوداسه له پاره د مسجد څخه وتل روا دي.

په منحة الخالق کي راځي:

وفي حاشية الرملي عن خط المقدسي: لا شك أن صلاة تحية المسجد والسنة بالاستقلال أفضل من الإتيان بها في ضمن فرضٍ يؤدى ولا يخفى أن من يعتكف ويلازم باب الكريم إنما يروم ما يوجب له مزيد التنفضيل والتكريم. (منحة الخالق على البحر الرائق:٢/ ٣٠٢، کوئته).

د رملی په حاشيه کي راځي:

تحية المسجد او سنت مستقل کول د فرضويه ضمن کي د کولو څخه افضل او د معتکف کريم پر دروازه د فضائلو او ثوابو د تر لاسه کولو له پاره کښېني.

په البحرائق کي راځي:

والصحيح أن هذا قول الكل في حق الكل لأنه خرج لإقامة سنة الصلاة وسنتها تقام في موضعها فلا تعتبر خارجًا .(البحر الرائق:۲/ ۳۰۳، كوئته).

شاه عبد الحق دهلوى په اشعة اللمعات کي د مستحب غسل له پاره وتل روا بللي دي. (اشعة اللمعات:۲/ ۱۲۰).

او په متانه کي د فتاوى حجه په حواله ((والوضوء والاغتسال فرضا كان او نفلا **)) صراحت موجود دئ نو ځکه معتکف نفلي اوداسه او د نفلي لمانځه اوداسه دواړو ته وتلاى سي.** (المتانة فى مرمة الخزانة:صـ ۳۷۸). والله تعالى اعلم.

معتکف ته د جمعې د غسل له پاره د وتلو حکم

سوال: يو سړى معتکف دئ نو ايا هغه سړى د جمعې د غسل له پاره د مسجد څخه وتلاى سي او که نه؟

الجواب: په دې مسئله کي د لويو علماوو دوې ډلي دي، د ځينو په نزد وتل يې صحيح نه دي مثلا مولانا ظفر احمد تهانوي رحمه الله، مفتي محمود حسن گنگوهي رحمه الله، مفتي فريد صاحب او داسي نور د هغه حضراتو دلائل په فتاوى شامي، بدائع او نورو کي وگورئ:

وگورئ په بدائع کي راځي:

وما روي عن النبي ﷺ من الرخصة في عيادة المريض وصلاة الجنازة .... ويجوز أن تحمل الرخصة على ما إذا كان خرج المعتكف لوجهٍ مباحٍ كحاجة الإنسان أو للجمعة ، ثم عاد مريضًا أو صلى على جنازةٍ من غير أن كان خروجه لذلك قصدًا وذلك جائز . (بدائع الصنائع:۲/ ۱۱۴، سعيد – وكذا فى شامى:۲/ ۴۴۵، سعيد – وامداد الاحكام:۲/ ۱۴۲ – وفتاوى محموديه:۱۰/ ۲۴۳، مبوب ومرتب – وفتاوى فريديه:۴/ ۱۹۷).

د نورو حضراتو په نزد د سنت غسل له پاره وتل روا دي لکه شيخ عبد الحق محدث دهلوي رحمه الله، مفتي رشيد احمد لدهيانوی رحمه الله، مولانا خالد سيف الله او نور.

وګورئ په اشعة اللمعات کي راځي:

وکان لايدخل البيت إلا لحاجة الإنسان..... اما غسل جمعه، روايتی صريح دران از اصول نمي يا بم، جز آنکه در شرح امداد گفته است که: بيرون می آيد برائی غسل، فرض باشد يا نفل. (اشعة اللمعات:۲/ ۱۲۰، مجدديه).

د دې عبارت مطلب دا دئ چي د جمعې د غسل په اړه هيڅ صريح روايت د فقهي په کتابو کي ليدل سوی نه دئ پرته د دې چي په شرح امداد کي ليکلي دي چي معتکف دباندي د غسل له پاره وتلای سي که هغه غسل فرض وي او که نفل.

په احسن الفتاوی کي راځي:

د اوداسه او غسل له پاره که فرض وي او که نفل له مسجد څخه د وتلو د جواز دلائل په لاندي ډول دئ:

۱_ نقل فی المتانة عن فتاوی الحجة: ويجوز لمعتكف أن يخرج من المسجد فی سبعة أشياء: لبول، والغائط، والوضوء، والاغتسال، فرضاً كان أو نفلاً، والجمعة، يخرج أيضاً لحاجة السلطان، ويخرج أيضاً لأمر لابد، ثم يرجع بعد ما فرغ من ذلک الأمر سريعاً. (المتانة فی مرمة الخزائة:۳۷۸).

۲_ نقل الرواية المذكورة عن فتاوی الحجة: المخدوم محمد قاسم التتوی رحمه الله تعالى فی بياضه المعروف بالبياض الهاشمی.

۳_ ونقلها العلامة العثمانی رحمه الله عن الإكليل عن الخزانة عن فتاوی الحجة. (احكام القرآن:۱/ ۱۹۰).

٤_ قال المخدوم التتوی رحمه الله فی حیاة الصائمین: دهم: از حاجت شرعیه وضوء واغتسال است، پس جائز است معتکلف را خروج از مسجد برائی آن، اگر چی فرض باشد یا نفل، کذا فی المضمرات، والفتاوی الحجة، والتاتار خانية وکنز العباد ومتانة الروایات. (الفتاوی المحمدیه:۲/۸۰، للمفتی محمد الهالانی السندی).

٥_ وفی مضمرات الأنوار: يجوز للمعتكف الخروج للبول والغائط والوضوء والاغتسال فرضا كان أو نفلاً. (الفتاوی المحمدیه:۲/۸۰، للمفتی محمد الهالانی السندی).

٦_ داشعة اللمعات عبارت کوم چي ذکر سوی دئ، په فتاوی الحجه، فتاوی متانه، فتاوی خزانه، بیاض هاشمي، الاکلیل، احکام القرآن، حیات الصائمین، مضمرات، فتاوی تاتار خانیه، کنز العباد، فتاوی محمودیه، مظهر الانوار او اشعة اللمعات (۱۳) کتابو کي دا مسئله بیله شکه او تردیده منقول ده که څه هم ځیني کتابونه غیر معروف دي او خزانة الروایات او کنز العباد مولانا عبد الحي رحمه الله په النافع الکبیر کي ضعف ګڼلي دئ، مګر هغه نور کتابونه مشهور او معتبر دي، بیا دومره علماء او اهل فتوی چي په هغوی کي مخدوم ټهټوي رحمه الله جلیل القدر فقیه هم سته د دغو ټولو بیله انکاره او بیله اختلافه نقل کول مستقل دلیل دئ، له دې څخه پرته د الدرالمختار قول دئ ((وحرم علیه الخروج إلالحاجة الإنسان)) تر دې قول لاندي علامه شامي رحمه الله فرمایي:

((ولایمکث بعد فراغه من الطهور)) (فتاوی شامی:۲/ ٤٤٥).

دلته له طهور څخه نفلي اودس متبارد دئ او غالبا د دې څخه د جواز خروج څخه مخالف هم انکار نه دئ ځیني د وضو للصلاة النافله او د نفل اوداسه تر منځ فرق کړی دئ داول له پاره یې د وتلو جواز او د دوهم له پاره یې د نه وتلو جواز اختیار کړی دئ، دغه فرق د غیر معقول کېدلو څخه پرته د شامي د مسئلې سره هم خلاف دئ نو د نفل اودس په حوائج اصلیه کي د شمارلو او د نفل غسل نه شمارلو هیڅ وجه نه سته. (مخلص از احسن الفتاوی:٤/ ٥٠٣).

لنډه دا چي معتکف د جمعې د غسل له پاره وتلای سي. والله تعالیٰ اعلم.

اووم .... باب

د روژې متفرق مسائل

د سزا په ډول په یو چا د روژې نیولو حکم

سوال: که چیري استاذ د سزا په ډول په یوه طالب ورژه ونیسي نو دا صحیح ده او که نه؟ او د دې روژې ثواب سته او که نه؟

الجواب: په مدرسو کي په طالبانو د سزا په ډول روژه نیول صحیح دي او په دې کي هیڅ خرابي نه سته او د دې روژې ثواب هم سته لکه څنګه چي نبي کریم ﷺ د کوچنیانو په اړه ویلي دي، چي کله د شپږو کالو سي نو هغوی ته د لمانځه حکم وکړئ او تر لسو کالو وروسته هغوی پر لمانځه ووهئ چي د لمانځه سره عادت سي که څه هم د شرعي احکامو مخاطب نه دي بیا هم د لمانځه ثواب هغوی ته رسیږي.

وګورئ په حدیث شریف کي راځي:

عن عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده قال: قال رسول الله ﷺ: « مروا أولادكم بالصلاة وهم أبناء سبع سنين واضربوهم عليها وهم أبناء عشر سنين وفرقوا بينهم في المضاجع ». قال الألباني: حسن صحيح. (سنن ابی داود: ٧٠، باب متی یؤمر الغلام بالصلاة).

همدا ډول د خلکو په مخ کي بیله وخته لمونځ کول هم د مصلحت په سبب په روایت کي ذکر سوی دئ او په ریا کي داخل نه دئ بلکي پر دې ثواب هم سته.

وګورئ په حدیث شریف کي راځي:

عن أيوب عن أبي قلابة أن مالك بن الحويرث قال: « ألا أنبئكم صلاة رسول الله ﷺ قال وذاك في غير حين صلاةٍ، فقام، ثم ركع فكبر، ثم رفع رأسه فقام هنيةً ثم سجد، ثم رفع رأسه هنيةً، فصلى صلاة عمرو بن سلمة شيخنا هذا، قال أيوب: كان يفعل شيئًا لم أرهم يفعلونه كان يقعد في الثالثة والرابعة. فأتينا النبي ﷺ فأقمنا عنده . (رواه البخاري:١/ ١١٣).

همدا ډول نبي کريم ﷺ د شهوت د کمولو له پاره روژه نيول فرمايلې ده او په دې کې کسرت شهوت هم دئ او ثواب هم لري.

وګورئ په حديث شريف کې راځي:

عن عبد الله بن مسعود رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ « يا معشر الشباب من استطاع منكم الباءة فليتزوج فإنه أغض للبصر، وأحصن للفرج ، ومن لم يستطع فعليه بالصوم فإنه له وجاء.

(رواه البخاري: ۲/ ۷۵۸).

ښکاره خبره ده چې دغه روژه دالله جل جلاله درضا له پاره نه ده بلکې ځان له زنا څخه د ساتلو له پاره يې نيسي او دلته هم روژه نيول خپل نفس ته د سزا ورکول له پاره ده او د مدرسې د احکامو پر ځای کولو له پاره ده، د دې څخه پرته په شريعت کې داسې ډېر مثالونه موجود دي چې په هغه کې عبادات د سزا په توګه مقرر کړي دي، لکه د يمين (قسم) کفاره، د ظهار کفاره او داسې نور او ښکاره خبر ده چې له دې څخه د عباداتو ثواب نه کميږي. والله تعالى اعلم.

په هغو سيمو کې چې ورځې يې غير معتدلې وي د روژې حکم

سوال: په ځينې سيمو کې ورځې اوږديږي چې د هغه په سبب روژه نيول مشکل کيږي مثلا ورځ (۲۲–۲۳) ساعته کيږي يا تر دې زيات نو په داسې صورت کې د روژې څه حکم دئ؟

الجواب: په داسې سيمو کې کوم حضرات چې بالکل د روژې طاقت نه لري ځکه چې ورځې ډېرې وږدې دي نو هغه دې يا قضاء راوړي يا دې د نژدې ښار د روژو مطابق روژه ونيسي مګر که چيرې يې پر روژه قدرت وي نو روژه نيول ضروري دي.

علامه شامي رحمة الله عليه فرمايي:

تتمة: لم أر من تعرض عندنا لحكم صومهم فيما إذا كا ن يطلع الفجر عندهم كما تغيب الشمس، أو بعده بزمان لا يقدر فيها لصائم على أكل ما يقيم بنيته، ولا يمكن أن يقال: بوجوب موالاة الصوم عليهم لأنه يؤدي إلى الهلاك، فإن قلنا بوجوب الصوم يلزم القول بالتقدير، وهل

يقدر ليلهم بأقرب البلاد إليهم، كما قاله الشافعية هنا أيضاً أم يقدر لهم بما يسع الأكل والشرب، أم يجب عليهم القضاء فقط دون الأداء؟ كل محتمل، فليتأمل، ولا يمكن القول هنا بعدم الوجوب أصلًا، كالعشاء عند القائل به فيها لأن علة عدم الوجوب فيها عند القائل به عدم السبب وفي الصوم قد وجد السبب وهو شهود جزء من الشهر وطلوع فجر كل يوم، هذا ما ظهر لي، والله تعالى أعلم. (فتاوى الشامي: ١/ ٣٦٦، مطلب فى طلوع الشمس من مغربها، سعيد – وكذا فى حاشية الطحطاوي على الدر المختار: ١/ ١٧٥، كوئته).

په جديد فقهي مسائل کي راځي:

که چيري په وختو کي فرق پيدا سو مثلا ورځ د (٢٠ – ٢٢) ساعتونه سي او شپه څلور ساعته پاته سي نو بيا هم د قرآن او حديث د عمومي احکامو تقاضا دا ده چي روژه د صبح صادق څخه تر لمر لوېدو پوري وي او پر دغه قول فتوى ده، البته څنګه چي په ډېرو وختو کي د دې په سبب غير معمولي مشقت پيدا کيږي او د سپن ږيرو او کمزورو خلکو له پاره روژه نيول مشکل جوړيږي وهغوى ته خصوصي سهولت ورکولای سو چي هغوى په روژه کي روژه ونه نيسي او وروسته کله چي ورځي لنډې سي نو بيا دې قضاء راوړي. (جديد فقهى مسائل: ١/ ١٧٨).

د زيات تفصيل له پاره وګورئ: (بوادر النوادر: صـ ٢٣٩، واحسن الفتاوى: ٢/ ١١٣، وجديد مسائل شرعى حل: صـ ٤٧ – ٥٠). والله ﷻ اعلم.

د يو څو ساعتو د روژې حکم

سوال: ايا په محمدي دين کي د څلورو يا پنځو ساعتو له پاره روژه نيول روا ده او که نه؟ د دې مسئلې د پوښتنلو ضرورت ځکه پيښ سو چي زمونږ په سيمه کي ځيني خلک د لوى اختر په ورځ سهار خوراک او چيښاک پرېږدي او د روژ دار په توګه اوسيږي او وايي چي زما روژه ده بيا د اختر تر لمانځه وروسته افطار کوي او ځيني له خپلي قرباني څخه څه خوري نو داسي کول روا دي او که نه؟ نو ايا سهار چاى يې او نور چيښلاى سي او که نه؟

الجواب: په محمدي دين کي روژه له سهار څخه تر لمر لوېدو غروب پوري ده او د يو څه ساعتو روژه نه سته مگر په لوی اختر کي چي کوم خلک قرباني کوي د هغوی له پاره مستحب دا ده چي هغه سهار څه ونه خوري او د اختر تر لمانځه وروسته له خپلي قرباني څخه دي شروع وکړي دا له حديث شريف څخه ثابته سوې ده او دې ته امساک ويل په کار دي، همدا ډول دا واجب هم نه ده بلکي خالي مستحب ده نو ځکه که څوک سهار چاي يا يو بل شی خوړل غواړي نو ممنوع هم نه ده، بېله کراهته روا دي او کوم خلک چي قرباني نه لري يا په يوه بل ځای کي قرباني کوي نو د هغه له پاره هم امساک بهتره دئ.

وګورئ په ترمذي شريف کي راځي:

عن عبد الله بن بريدة عن أبيه قال: كان النبي ﷺ لا يخرج يوم الفطر حتى يطعم ولا يطعم يوم الأضحى حتى يصلي. قال أبو عيسى: وقد استحب قوم من أهل العلم أن لايطعم يوم الأضحى حتى يرجع. (رواه الترمذی:۱/ ۱۲۰، فیصل).

په مراقي الفلاح کي راځي:

(لصوم) هو الإمساك نهاراً ضد الليل من الفجر الصادق إلى الغروب. (مراقی الفلاح: ص۲۲۸، بیروت – وکذا فی الهندیة:۱/ ۱۹٤).

په فتاوی شامي کي راځي:

قوله ويندب تأخير أكله عنهما أي يندب الإمساك عما يفطر الصائم من صبحه إلى أن يصلي وإن لم يضح في الأصح..... قوله فی الأصح، وقيل لايستحب التاخير فی حق من لم يضح، بحر. (فتاوی الشامی:۲/ ۱۷٦، سعید).

وفي حاشية الامع للشيخ زكريا رحمه الله: والتعليل ببداية الأكل من أضحيته يؤيد تقيد الندب بمن له أضحية والتعليل بموافقة المساكين أو اتباع فعله صلى الله عليه وسلم أو إطلاق لفظ الصوم على هذا اليوم في بعض الروايات يؤيد العمول. (حاشية اللامع:۲/ ۳۹). والله ﷻ اعلم.

په لوی اختر کي و امساک ته د روژې ويلو حکم

سوال: کوم خلک چي په لوی اختر کي تر څانښت پوري امساک کوي او هغه ته روژه وايي نو ايا دغه امساک ته روژه ويل صحيح دي او که نه؟

الجواب: په دې صورت کي ودې امساک ته روژه ويل صحيح دي.

وګورئ په معارف السنن کي راځي:

قال الشيخ: وهذا القدر من الإمساك أسميه أيضاً بالصوم لما يدل به حديث صيام عشرة، فإنه على اعتبار الإمساك في اليوم العاشر سماه صوماً، وهو الإمساك إلى الصلاة أقول: فيه حديث حفصة رضي الله عنها عند النسائي قالت: « أربع لم يكن يدعهن النبي ﷺ صيام عاشوراء. والعشر، وثلاثة أيام من كل شهرف وركعتان قبل الفجر». (معارف السنن:٤/ ٤٥١، سعيد).

په اوجز المسالک کي راځي:

تعليل موافقة الفقراء مؤيد لمن قال: لا يأكل في الأضحى وإن لم يضح، ويؤيد أيضاً إطلاق الصوم عليه في بعض الأحاديث، فقد روي عن حفصة رضي الله عنها قالت: « أربع لم يكن يدعهن النبي ﷺ صيام عاشوراء، والعشر، وثلاثة أيام من كل شهر، وركعتان قبل الفجر» . فإطلاق الصوم على العشر مؤول بوجوه: منها: أن صوم العشر باعتبار بعض الأوقات، وعلى هذا فينبغي أن لايذوق شيئاً لا الطعام ولاغيره. (اوجز المسالک الى موطا مالک:۳/ ۴۲۰).

قال الشیخ أحمد الدردیر المالکی فی الشرح الکبیر: ندب فطر قبل ذهابه فی عید الفطر، تأخیره فی عید النحر. (فصل فی احکام صلاۃ العید الجزء الاول).

وقال الشوکانی: والحکمة فی تأخیر الفطر یوم الأضحی أنه یوم تشرع فیه الأضحیة والأکل منها فشرع أن یکون فطره علی شیء منها، قال ابن قدامة. (نیل الاوطار شرح منتقی الاخبار:۳/ ۳۰۸، باب استحباب الاکل قبل الخروج فی الفطر دون الاضحی).

یہ بدایۃ المجتہد کی رائے:

قال ابن رشد: أجمعوا علی أنه یستحب أن یفطر في عید الفطر قبل الغدو إلی المصلی وأن لا یفطر یوم الأضحی إلا بعد الانصراف من الصلاۃ. (بدایة المجتهد ونهایة المقتصد:۱/ ۱۶۱، الباب الثامن فی صلاۃ العیدین).

هذا ملخص من «الیواقیت الغالیة فی تحقیق الأحادیث العالیة: ۱:۲۲۴-۲۲۵، للشیخ محمد یونس الجونفوری، السهارنفوری.

وانظر المزید من البحث: مصنف ابن أبی شیبة:۲/ ۱۶۰، مسند أحمد :۳/ ۲۸، ترمذی:۷۱، فتح الباری:۴/ ۳۷۳، عمدۃ القاری:۳/ ۳۶۴، شرح طیبی:۲/ ۲۰۲، مرقات المفاتیح:۲/ ۲۵۰، مراقی الفلاح:۳۱۸، الدرر شرح الغرر:۱/ ۱۴۲).

وانظر أیضا مزید التفصیل فی الیواقیت الغالیة فی تحقیق الأحادیث العالیة:۱/ ۲۲۴-۲۲۵، للشیخ محمد یونس الجونفوری، السهار نفوری. والله ﷻ اعلم.

په مسجد کي د اختر د لمانځه د مکرر کولو حکم

سوال: ځيني وخت په امريکا او اورپا کي په يوه وخت کي د اختر لمونځ کول مشکل وي نو تر يوه او بل وروسته څو واره د اختر لمونځ په يوه مسجد کي کوي، نو داسي کول صحيح دي او که نه؟ او په دغه مسجد او بل ځاى فرق سته او که نه؟

الجواب: د اختر لمونځ په اورپا او امريکا کي د ډېر ځله په درې ډوله ځايو کي اداء کيږي.

۱_ په جماعت خانه کي يعني په کوم ځاى کي چي پنځه وخته لمونځ اداء کيږي او د جمعې لمونځ او نور کيږي مگر هغه يې د شرعي مسجد په نيت نه وي رانيولى (مځکه د وقف نه وي) او خلک خپل خپل لمونځ کوي او ځى د دې حکم دا دئ چي په دې کي د جماعت تکرار مکروه نه دئ.

۲_ عيدگاه يعني په غټ ميدان کي د اختر لمونځ اداء کيږي يا په ځيني ځايو کي د لمانځه له پاره غټ هال او صالون په کرايه نيول کيږي د دې همدغه حکم دئ چي په دې کي د جماعت تکرار مکروه نه دئ.

۳_ شرعي مسجد د دې عمومي حکم دا دئ چي دوهم جماعت مکروه دئ مگر د امام ابو يوسف رحمه الله په نزد د اول هيئت په بدلولو سره بېله کراهته روا دئ.

په درمختار کي راځي:

ويكره تكرار الجماعة بأذان وإقامة في مسجد محلة لا في مسجد طريق ومسجد لا إمام له ولامؤذن . وفي الشامية: عبارته في الخزائن ... أو كان مسجد طريق جاز إجماعا كما في مسجد ليس له مام ولا مؤذن ويصلي الناس فيه فوجاً فوجاً والمراد بمسجد المحلة ما له إمام وجماعة معلومون كما في الدرر وغيرها. (الدر المختار مع الشامي:۱/ ۵۵۳، سعيد).

همدا ډول ذکر سوى دي:

وقدمنا في باب الأذان عن آخر شرح المنية عن أبي يوسف رحمه الله أنه إذا لم تكن الجماعة على الهيئة الأولى لا تكره، وإلا تكره وهو الصحيح، وبالعدول عن المحراب تختلف الهيئة كذا في البزازية، انتهى، وفي التاترخانية: عن الولوالجية: وبه نأخذ. (شامي:۱/ ۵۵۳، سعيد).

په شرح منية المصلي کي راځي:

وأما من حيث جواز التعدد وعدمه فالأولى هو الاحتياط لأن الخلاف فيه أقوى إذا الجمعة جامعة للجماعات (وهكذا العيد) ولم تكن في زمن السلف تصلى إلا في موضع واحد من المصر وكون الصحيح جواز التعدد للضرورة للفتوى لايمنع شرعية الاحتياط للتقوى. (شرح منية المصلي:۵۵۲، سهيل).

لنډیز په بهشتي زیور کي دئ:

همدا ډول مکروه تحریمي دئ د هر فرض دوهم جماعت په دغو څلورو شرائطو:

۱_ مسجد به د محلې وي، عامه لار به نه وي او د محلې د مسجد یې داسي تعریف کړی دئ چي د هغه امام او لمونځ کونکي معلوم وي.

۲_ چي د اول جماعت لهه پاره په لوړ اواز سره اذان او اقامت ووایي.

۳_ چي اول جماعت هغو خلکو کړی وي کوم چي په دغه محله کي اوسیږي او کوم چا ته چي د دغه مسجد د انتظام اختیار حاصل وي.

۴_ چي دوهم جماعت په هغه هیئت او اهتمام اداء کړل سي چي په کوم هیئت سره اول جماعت اداء سوی دئ.

دا څلور شرطونه د امام ابو یوسف رحمه الله په نزد دي یعني دوهم جماعت به په داسي هیئت سره نه وي په کوم هیئت چي اول جماعت اداء سوی دئ نو بیا دوهم جماعت مکروه نه دئ. (دین کی باتین: صـ ۱۱۰).

په معلم الفقه کي راځي:

سوال: دجمعې د جماعت تر کولو وروسته لس یا پنځلس نفره راځلل نو دغه خلک جمعه سره له خطباتو وکړي او که په جماعت سره د ماپښین لمونځ وکړي؟

الجواب: څرنګه چي تعدد د جمعې د جماعت په صحیح مذهب روا دئ او د جمعې په ورځ چي پر چا جمعه واجب ده د هغه له پاره د ماپښین لمونځ کول صحیح نه دي، ځکه چي هغوی باید د جمعې لمونځ په جماعت سره له خطبې اداء کړي . که په هغه مسجد کي وي هیڅ پروا نه لري او بهتره دا ده چي په بل مسجد کي وي. (معلم الفقه: ترجمه مجموعة الفتاوی: صـ ۳۷۲).

مګر په ((الوصیلة الاخوانیة فی حکم الجماعة الثانیة)) کي مفتي رشید احمد صاحب و عدم جواز ته ترجیح ورکړې ده او نو حدیث شریف یې نقل کړی دئ. «عن خرشة بن الحر أن عمر رضي الله عنه كان يكره أن يصلى بعد صلاة الجمعة مثلها» (رواه الطحطاوی بسند صحیح: ۱/ ۲۳۴، باب التطوع بعد الجمعة کیف هو). چي پر اول هیئت باندي دوهم وار لمونځ کول مکروه دي.

بیا د یادي رسالې په اخر کي لیکي:

د دوهم جماعت عام رواج جوړ سوی دئ او په دې کي په لاندي ډول قباحتونه موجود دي:

۱_ د نبي کریم ﷺ او صحابه له طریقې څخه مخالفت دئ.

۲_ د جماعت کمبوت او سپکوالی دئ.

۳_ په اصلي جماعت کي د شریک کېدلو سستي او د دې د عادت جوړېدلو سبب دئ.

۴_ د افتراق صورت او د هغه سبب دئ (په خاص ډول د اختر د لمانځه چي هغه د اعلام الدین څخه دئ او د ټولو مسلمانانو د اتفاق او اتحاد مظهر دئ). (احسن الفتاوی: ۳/ ۳۲۵-۳۲۸).

لنډه دا چي د تکلیف د پوره کولو له پاره مثلاً که مسجد کوچنی وي او خلک ډېر وي او یو بل انتظام هم نه وي نو د اختر لمونځ مکرر کول صحیح دي هغه که په مسجد کي وي او که په عیدګاه کي وي مګر د تساهل او سستی په خاطر هره لحظه لمونځ کول لکه څرنګه چي د اروپا په مسجدو کي کیږي دا صحیح نه دي. والله تعالیٰ اعلم.

تمت